# بازان ماتیږي

جاسوسي ناول




ليکوال: امير عشيري

ژباړن: جبار فراز


Download from: www.aghalibrary.com

# بازان ماتيږي

جاسوسي ناول

ليکوال

امير عشيري

ژباړن

جبار فراز

@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

Download from: www.aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# بازان ماتيږي


لیکوال: امیر عشیري

ژباړن: جبار فراز

د خپرونو لړ: ۵

شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ کال: ۱۳۹۷/۲۰۱۸م

عمار کتاب پلورنځی

پښتونسان واټ، عمران شګیوال پلازه، دویم پوړ، جلال آباد ښار

اړیکشمېره: ۰۷۷۱۵۸۲۹۱۴ - ۰۷۸۸۵۵۵۱۹۹



د دې کتاب د چاپ او پر ویب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

## مننه!

د یوه سمندر زړه ښبنتن او پښتوپال ملګري نعیم افغان یې میلیون واره کور اباد چې دا جالب اثر یې د کمپیوټر له زندانه راوایست او د چاپ لګښت ته یې په خورا اخلاص اوږه ورکړه. جار سم افغان ګله!

ژباړن

Download from: www.aghalibrary.com

ډالی:

د مرحوم امیر عشیري پنځوونکې اروا ته!

Download from: www.aghalibrary.com

•••

د ۱۹۴۲م د اکتوبر میاشتې د ۲۴مې نېټې سپېده چاود مهال د متحدینو اتم غونډ په العلمین کې هغه چوېتیا ماته کړه چې د افریقا په شمال کې د جگړې د نسبي کرارېدو له امله واکمنه وه. د دغه غونډ سرتېرو د مارشال اروین رومل تر قوماندې لاندې د جرمني او ایټالوي پوځیانو پر وړاندې لېوني جگړه ونښلوله.

د جنگ په هماغو لومړیو ساعتونو کې د جرمني او ایټالوي ځواکونو مقاومت اوبه شو او په دفاعي کرښو کې یې درزونه ولوېدل. څومره چې د دوښمنو قومندانانو په زړونو کې د ماتې احساس ځای نیاوه، په هماغه اندازه په اتم غونډ کې د بریا هیله غوړېده.

د مارشال ټول امید د پانز په نوم خپلې یوې مورچې ته وو، مگر د متحدینو د اتم غونډ ځیرک مشرتابه د جرمنیانو هیلې ور مړاوې کړې. د بېلابېلو کچو یونیم زر توپونو د غلیم سنگرونه تر اور لاندې نیولي ول او هغوی ته یې د خپلو وارخطا شویو پوځیانو د بېرته منظمولو او غښتلي کولو هېڅ وخت نه ورکاوه. پر دغه اورني باران سربېره د ټانک ضد توپونو پرله پسې گوزارونو هم د غلیم ټانکونه له دې راگرځولي ول چې د خپلو پلیو ځواکونو مخې ته ځان ورسوي او حالات بدل کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

بالاخره د دوښمن مورچې سره وپاشل شوې او په جرمني و ایټالوي سرتېرو کې نهيلي د اور غونډې خپره شوه. لږ وروسته يې ماته يقيني او پرشاتګ ته اړ شول.
(د دوښمن پر وړاندې درېدنه بې ګټې ده!) هغه عبارت وو چې د ورځې په نيمايي کې د رومل له خوا برلين ته مخابره شو. مخکې تر دې چې له مرکزه د مقاومت کولو امر ورته وشي، جرمني او ايټالوي ځواکونو د العلمين سنګرونه خوشې کړي، يو عالم وسلې او جګړه ييز وسايل يې پرې ايښې او پر شا روان ول.
د متحدينو دغه بريد د نازي دولت بنسټونه ور وربېږدول او نېغ يې د نړېدو پر پوله ودراوه. د افريقا په شمال کې د جرمني ځواکونو دغه چټک پرشاتګ د اتم غونډ مشرتابه ته په ډنکرک Dunkerk کې د متحدينو د ماتې د غچ اخيستنې خيال ور ولاړ کړ او ويې غوښتل د مرګونو حملو په زور يې تر سمندره وڅغلوي او له هرې خوا کړۍ پر راتنګه کړي.
دغه جګړه د ۱۹۴۳م د مې مياشتې پر ۱۲مه پای ته ورسېده او ټولې سيمې له دوښمنه پاکې شوې. دوښمنان سيسيل جزيرې او له هغه ځايه ايټاليا ته پر شا شول. جرمنيانو تر دغې ماتې وروسته ځان په دې ډاډه کاوه چې په اروپا کې به د متحدينو مخه نيسي او د همدې جګړې کسات به ترې اخلي.
پر لندن نور د ۱۹۴۱ او ۱۹۴۲م کلونو غونډې بمبارۍ نه کېدې، ځکه جرمنيان په ايټاليا-په تېره د دې هيواد په سهيلي غاړو کې-د خپلو ځواکونو پر را غونډولو لګيا ول. هغوی هڅه کوله په ايټاليا کې خپلو پرتو دفاعي کرښو ته د تازه دمه پوځيانو او نورو اکمالاتو پر لېږلو سربېره د هوايي ځواکونو ملاتړ هم چمتو کړي.
پر لندن د جرمنيانو د هوايي بريدونو د کمښت بل لامل دا وو چې غليم خپلې زياتره جنګي الوتکې ايټاليا او د ختيځې اروپا مورچلونو ته لېږدولې وې او د پخوا غونډې ځواکمن عمليات يې له وسه نه کېدل. د افريقا په شمال کې ماتې پر نازي ځواکونو يو داسې کاري ګوزار وو چې هغوی يې د ځمکنيو او هوايي قوتونو

Download from: www.aghalibrary.com

انتقالولو ته اړ کړي ول.

البته د لندن تیاره شپې، د خطر زنګونه او د خلکو منډې-ترړې یومخ هم له منځه نه وې تللې، خو د هوایي بریدونو پام وړ کموالي د نارامۍ کچه تر ښخوا ډېره راکښته کړې وه.

د شمالي افریقا د جګړې دا لنډکي مالومات مې په دې خاطر ونه لیکل چې ګواکې د یادې سیمې یو جګړه ییز انځور وکاږم، ځکه زه نه یو پوځي وم او نه هم د جګړې په الف و بې پوهېدم. د دغې سریزې د راوړلو دوې وجې دي؛ یوه دا چې له جرمني څخه تر تښتېدو وروسته یې زما له لومړي ماموریت سره اړه درلوده او دویم دا چې غوښتل مې د خپلو ماموریتونو د یادښتونو دویمه برخه په همدغسې خبرو راپیل کړم.

● ● ●

د ۱۹۴۳م د مې میاشتې دوه ویشتمه شپه وه. پر لندن د جرمني الوتکو پر وروستي برید دوې شپې اوښتې. شاوخوا نهه بجې وې چې د لندن په شمال کې د امریکایي افسرانو یوه کلب ته ولاړم. لږ ناوخته ور ورسېدم. د جګړن ارنسټ د واده د لسمې کلیزې مراسم یو ساعت مخکې پیل شوي ول. زما او یوه بل مېلمه پرته چې هغه هم مجرد وو، نور ټول له خپلو جوړو سره وخته لا هلته موجود ول.

جګړن ارنسټ د ځمکنیو ځواکونو افسر او د .O.S.S سازمان د یوې څانګې مشر وو. مېرمنې یې پاتریشیا، هم همالته د فرانسوي ژبې د ژباړنې په توګه کار ورسره کاوه.

ارنسټ مې په لیدو خوا ته راغی او لاس یې راکړ. مبارکي مې ورکړه او پر خپل ناوخته راتګ مې بخښنه څنې وغوښته.

راته ویې ویل: همدا چې تر دې ځایه دې ځان راورساو، زما لپاره غټه خبره ده،

Download from: www.aghalibrary.com

منئه. چندانې مراسم مو هم نه دي نیولي. ارمان چې ارامي وای بیا به دې لیدلای
چې ستا څنګه هرکلی مې کاوه.

ورته ومې ویل: په هغه صورت کې دې نو بیا باید پروګرام په امریکا کې
جوړولای.

ویې ویل: هو، او اوس باید په دې خوشحاله شو چې په داسې بمباریو کې مو بیا
هم یو کوچنوټی محفل جوړ کړی دی.

- ربښتیا پاتریشیا چیرې ده؟

- همدلته شاوخوا به کوم ځای وي.

د هغه او پاتریشیا په سلامتۍ مې جام پر سر واړاوه او ومې ویل: په داسې
تنګلاسیو کې شراب برابرول سخت کار دی.

په خندا یې وویل: د ملګرو غم دې نه وي، ټولو د خپلې برخې ویسکي لګښت
پخپله پرې کړ.

- نو یوازې زه لکه چې تش لاس راغلی یم؟

- ستا کیسه بېله ده.

- ولې؟ په دې خاطر چې ماینه نه لرم؟

- نه، ستا د وضعیت په خاطر.

ومې ویل: دې دلیل خوند رانکړ... موږ ټول برلاسي و بریالي خلک یو، بریالیتوب
د هېچا شخصي ملکیت نه دی.

ارنسټ وویل: خو بریالي کېدل چندانې اسان کار هم نه دی.

پاتریشیا مې ولیده چې زموږ خوا ته راروانه وه. پر ما یې د سترګو له لګېدو سره
سم شونډې موسکۍ شوې. ومې ویل: دا یې هم ښکلې او خوشحاله پاتریشیا!

ارنسټ شا ته وکتل او په داسې ډول یې وویل چې مېرمنه یې هم واوري: زما
غونډې مېره چې لري خود به خوشحاله وي.

Download from: www.aghalibrary.com

پاتریشیا زما خوا ته راغله. پر انګې مې ښکل کړه او ورته ومې ویل: تاسې ډېره نېکمرغه جوړه یاست.

ویې پوښتل: یوازې راغلی یې؟

ومې ویل: ولې، باید یو بل څوک هم راسره وای؟!

ویې خندل او ویې ویل: ستا مجردی ته مې هېڅ پام نه وو.

ارنسټ وویل: طاهر خو نېکمرغه سړی دی چې تر اوسه یې واده ګرځې.

پاتریشیا ته مې یو نظر وکتل، وروسته مې ارنسټ ته کړل: که زه نېکمرغه یم، نو تا بیا ولې د خپل واده لسمه کلیزه جوړه کړې ده! لکه چې تر اوسه دې ربښتینې نېکمرغي نه ده موندلې که څه بلا؟

پاتریشیا مېړه ته مخ کړ او ویې ویل: ما هم غوښتل همدا خبره وکړم.

ارنسټ وویل: خو اخر موږ یوه جوړه....

خبرې مې یې ورغوڅې کړې او ومې ویل: هو پوهېږم یوه استثنایي جوړه یاست.

ارنسټ وویل: ولې نه یې منې؟

ومې ویل: د جګړې تر پای ته رسېدو وروسته بیا دا پوښتنه راڅخه وکړه.

پاتریشیا تر لاس ونیولم او ویې ویل: راځه چې د یوازېتوب چاره دې دروکړم.

ارنسټ وویل: طاهر ته د ښځې موندلو هڅه مه کوه، دی له اروپايي مېرمنو سره واده نه کوي.

ارنسټ ته مې سترګک وواهه او ومې وویل: د پاتریشیا مطلب د همدې ځای له یوازېتوب څخه دی.

پاتریشیا تر لاس نیولی د مېلمنو منځ ته بوتلم. شاوخوا یې وکتل او ویې ویل: پیدا مې کړه هغه ده هلته ولاړه ده. ورته وګوره ښایسته ښځه ده. یوه فرانسوۍ کونډه ده. پولت نومېږي. مېړه یې په جګړه کې مړ شوی او دا د دوو کالو راهیسې دلته لندن کې اوسي. اولاد هم نه لري. یوه ستا پر زړه جوړه خپلواکه مېرمن ده.

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته يې يوې ښځې ته چې د سالون په يوه گوښه کې يې له دوو تر ځان مشرو مېرمنو سره خبرې کولې، اشاره وکړه او ويې پوښتل:
- څنگه ده؟

ومې ويل: هوښياره ښځه مالومېږي.

ويې خندل او ويې ويل: دا څه وايې؟ زما مطلب د هغې هوښياري و پوهه نه وه.

وروسته يې هغوی ته وروستم او درېيو واړو ته يې ورو پېژندم. دوو نورو زړو ښځو چې وليدل د ځوانانو پله درنه شوه، په يوه پلمه يې ځانونه وکښل او موږ يې سره پرېښودو. پاتريشيا وخندل او ويې ويل: اوس نو زما وار دی چې تاسې دوه يوازې سره پرېږدم.

پولت په تمامه مانا يوه پاريسۍ ښځه وه؛ ځوانه، زړه وړونکې، جگه نرۍ او د شنو سترگو و ژړو وېښتانو څښتنه. څو شېبې غلي وو او يو و بل ته مو سره کتل. اخير ما د خبرو سر ونښلاوه او ترې ومې پوښتل:
- نڅا ته دې هوا کېږي؟

هماغسې چې سترگې يې راپکې گنډلې وې، موسکۍ شوه او ويې ويل: اخير بايد په يو نه يو ډول ځانونه سره اخته کړو.

راسره جام مې پر يوه مېز کېښېښود او د نڅېدونکو مېلمنو په ډله ورگډ شوو. بيا يو څو شېبې سره چوپ و غرپ وو. ومې پوښتل: تاسې د خپلواکې فرانسې غورځنگ لپاره کار کوئ؟

ويې ويل: هو، له خپلې دندې راضي يم.

تر يوه لنډ ځنډ وروسته يې وويل: او ته زما په خيال انگرېز نه يې!

ومې ويل: بالکل دې سهي وويل. خو ډېر وخت کېږي انگلستان کې اوسم.
- اجازه ده وپوښتم چې دلته څه کار کوې؟
- ښه به دا وي چې ډېر تشريفاتي ونه ږغېږو.

Download from: www.aghalibrary.com

- زما ځواب دې رانکړ.
په خندا مې ورته وویل: ډېر نور شیان شته چې سره پر ږغېدلای شو.
ویې خندل او ویې ویل: یانې د خپل کار په باره کې دې له پوښتنو سره نه ده جوړه کنه؟
ومې ویل: ستا په اړه مې حدس سم وخوت.
په حیرانتیا یې وپوښتل: هغه څنګه؟
ومې ویل: هغه دا چې ته یوه هوښیاره او ځیرکه مېرمن یې.
- ته همداسې انګېرې؟
- څرګنده ده!
- چې ستا د کار او دندې په اړه باید پوښتنه درڅخه ونکړم.
- او ډېر نور شیان.
- مثلاً کوم شیان؟
ومې ویل: ته داسې یوه ښځه ښکارې چې په هر حالت کې له عقل او منطق څخه کار اخلې.
غوښتل یې یو څه ووایي چې د نڅا موسیقي بنده شوه... د رقص په دویم پړاو کې مو ترمنځ واټن لا پسې تنګ شو. د هغې د بدن تودوخه چې د یو ډول عطرو نرم بوی په ګډ وو، مې حسوله. کله چې مې یې لاس لږ ورکښېکښی، راته موسکۍ شوه او بې سریزې یې وویل: ته ما ته جاسوس ښکارې!
لنډه خندا مې وکړه او ومې ویل: او بیا هم هماغې خبرې ته دربېرو چې ته یوه هوښیاره او پلتونکې مېرمن یې.
- د کوم ځای یې؟
- د ایران!
ویې خندل او ویې ویل: یوازنی شی چې ما یې تصور هم نه کاوه همدا ستا

Download from: www.aghalibrary.com

ایرانیتوب وو.
ومې پوښتل: نو تا چې ویل د کوم ځای یم؟
ویې ویل: ما ته د شمالي افریقا یا هم منځني ختیځ د کوم هیواد اوسېدونکې ښکارېدې.
نابېره ګروپونه مړه شول او ورسره جوخت د هوایي بریدونو د خبرداري زنګونه په چیغو شول.
په مېلمنو زوږ ګډ شو. یوه یې وویل: ژر تر ژره باید ځانونه تکاویو ته ورسوو.
بل وویل: اوس نه کېږي، باید همدلته پاته شو.
زه بېخاره او ارام ولاړ وم. پولت ورو غوندې وپوښتل: ته نه دارېږې؟
ومې ویل: نه، څه لومړی وار خو نه دی چې د خطر زنګ اورم.
ویې ویل: دا رغونه ټولو ته شناخته دي. اوس به ښه دا وي چې له دې ځایه ووزو.
ومې ویل: همدا تر ټولو ځایونو غوره دی.
د لندن اسمان ته د رارسېدلو جرمني الوتکو غړمبهار د هغو خلکو لپاره په رښتیا سخت وېروونکی وو چې د ارام، بې سرخوږي او سوله ییز ژوند ارمان یې درلود. ډار او اضطراب هغه وخت لا زور پسې واخیست چې بمباري پیل شوه او د هواضد توپونو و بمونو کنوونکې رمباړې سره ګډې شوې. سمدم قیامت یې جوړ کړی وو. له کړکۍ څخه د هغو څراغونو نخښېدونکې رڼاوې لیدل کېدې چې په اسمان کې یې الوتکې لټولې.
پر سالون یوه وژونکې چوپتیا خپره وه. د هېچا تر خوله بونګ هم نه راوت. خو احساسېده چې ځیني له غوسې او ځینې له ډاره سره چوي. هره شېبه شونې وه پر لندن له را اورېدونکو بې هدفه بمونو یو زموږ پر سالون راپرېوزي او هدیره ځنې جوړه کړي.
پولت کلکه راپورې نښتې او مخ یې پر ځیګر را ایښی وو. له ډېرې وېرې سره

Download from: www.aghalibrary.com

لړزېده. زما په لاس کې پروت لاس یې هماغه څو دقیقې وړاندنۍ گرمي بایللې وه. ناڅاپه یوه ښځینه اواز واکمنه وژونکې چوپتیا ماته کړه، هغې په ژړغوني انداز وویل: اف خدایه پر هغوی به څه راغلي وي؟!
د یوه نارینه بږغ واورېدل شو چې ورو یې دلاسایي ورکوله. ښځه په ژړا وه... یوازې هغه نه وه چې د اولادونو غم ورسره وو، بلکې ډېری په دې اندېښنه کې راگیر ول. خو د قتل عام په دې محشر کې مو هېڅ مرسته له وسه نه وه ورسره پوره. مجبوراً مو باید د بمبارۍ تر پایه صبر کولای.
یوې ښځې له ډېرې غوسې چیغه کړه او ویې ویل: دا لانتي جگړه به لا تر کله روانه وي؟
پولت کرار راته وویل: ډارېږم!
نابېره موږ ته نژدې د یوې لویې چاودنې دروند بږغ پورته شو، ودانۍ تینگه-تینگه وښورېده او د اکثرو کړکیو هنداري ماتې شوې. یوه نارینه بږغ کړل: دا ځای ډېر خطرناک دی، باید دباندې ووزو.
د ارنسټ اواز مې واورېد چې ویې ویل: تر ټولو نژدې تکاوي له دې ځایه ډېره لیرې ده. ځانونه نشو ور رسولای، همدا ځای مو په خیر دی، حوصله وکړئ.
په هغو وېرووونکو شېبو کې مې جگړن ارنسټ او د هغه مهرمن فکر ته راغلل، زړه مې پر وسوځېد. د واده لسمه کلیزه یې په ډېره بېخوندۍ پای ته رسېدلې وه. نور یې د شمو لگولو فرصت نشوای موندلای، خواشینوونکې وه. پاټریشیا هیله لرله چې مېره یې د گډ لس کلن ژوند په یاد لس دانې شمې روښانه او بېرته گل کړي. وروسته کیک غوځ کړي او وړې-وړې ټوټې یې پر مېلمنو ووېشي.
د نوموړې ارمان په اوبو لاهو شوی وو، ان ښایي نور یې له مېړه سره یوازې هم د واده کلیزه نه وای لمانځلې؛ ځکه د هغې شپې خاطره ډېره ترخه او ترهوونکې وه. هغوی دوه نور د هغه جشن او نیمگړو مراسمو د پای ته رسولو غم نه ول

Download from: www.aghalibrary.com

اخيستي. ډېری مېلمانه همدغسې يوې وېرې او اندېښنې په مخه کړي ول. پر لندن د تېرېدونکي حالت له اصليته هېڅوک هم نه وو خبر، يوازې دومره پوهېدو چې پر ياد ښار بې شمېره رانده جرمني بمونه اوري او په دوږخ اوښتی دی.

د هغو مېندو او بچيانو د زړه د حالت تصور چې له يو او بله ليرې ول، پر سړي لړزه راوستله. هلته شته ډېرو مېرمنو يوازې همدا غوښتل چې لېونيو غونډې له سالونه په منډه ووزي او په يو نه يو ډول ځانونه کورونو ته ورسوي. مګر ما سره له دې چې نه مې مايئه درلوده نه هم اولادونه، بيا مې هم د هغوی اروايي حالت درک کولای شوای.

د الوتکو غورمبهار، د بمونو درزهار او هواضد توپونو دربهار تمام نه درلود. له بلې خوا بيا د ځواکمنو او لويو څراغو رڼاګانو د لندن په اسمان کې الوتکې لټولې تر څو په هواضد توپونو يې وولي.

يو بل بم زموږ له ځای سره نژدې پر ځمکه راپرېووت. د چاودنې اواز يو ځل بيا ودانۍ سره ورېږدوله او پاته هنداري يې هم ور ريچې-ريچې کړې. په ټولو واويلا ګډه وه. د يوې ښځې ږغ مې واورېد چې ويل يې: يا سپېڅلې مريمې راورسېږې!

ستاسې ښايي زړه ته ونه لوېږي، مګر زه په رښتيا يوه ذره هم نه ډارېدم، يوازې مې د ملګرو او همکارانو په اولادونو چورت بند وو او له ځانه مې پرله پسې همدا پوښتنه کوله چې ايا هغوی خواران به له دې قيامته ژوندي راووزي کنه؟ د هغو پلرونو او مېندو د زړونو حالت مې ډېر ښه احساساوه چې په هغه سالون کې يې له يو عالم اندېښنو او وېرو ډکې شېبې تېرولې.

د لندن مېشتو لپاره جرمنۍ الوتکې چې په اوونۍ کې يې څو شپې پر دغه ښار اور بلاوه، څه نوې خبره نه وه. له درېيو کلونو راهيسې يې همدا حال وو؛ مګر له وحشت سره روږدېدنه او ساعتونه-ساعتونه تر غرونه-غرونه عذاب لاندې تېرول په رښتيا چې يوه وژونکې تجربه وه. په تېره بيا دا چې په هر بمبار کې ګڼ شمېر

Download from: www.aghalibrary.com

انسانانو هم ژوند له لاسه ورکاوه.

زه يوې بلې او هغې اندېښنې ارام ته نه پرېښودم چې له جرمنې څخه مې له ځان سره راوړې او زما له ورور طالب سره يې اړه لرله. څو مياشتې کېدې چې له مړي و ژوندي يې خبر نه وم. خو له دې سره يې هم له خپلې دندې نه راګرځولم. کله ناکله چې به يې ډېر زور راباندې وکړ، نو به مې د جګړې د قربانيانو په ډله کې شمېرلی وباله او ځان ته به مې په همدې سوچ قناعت ورکړ.

پولت مې لا هماغسې په غېږ کې وه. ورو مې ترې وپوښتل: اوس هم وېرېږې؟

په داسې حال کې چې مخ يې لا هم په ځيگر پورې رانښلولی وو، ويې ويل:

بېخي وحشتناکه کيسه ده ولا!

-په کوم چا دې چورت بند دی؟

- نه، د خپل ځان غم اخيستې يم. ته څنګه؟

ومې ويل: زه اوس په دې کيسو کې پوخ شوی يم. نه ترې وېرېږم. زما او ډار اندېوالي ډېره زړه ده.

په اغېزمن انداز يې وويل: کاشکې زه هم نه وېرېدای. غواړم ژوند وکړم او د ارامۍ و سولې خوند وڅکم.

- ارامي او سوله! د نړۍ ټول اوسېدونکي همدا ارمان لري.

- دا چې کله به مو دا ارمان پوره کېږي، هېڅ مالومه نه ده.

- ډېر چورت مه خرابوه پولت!

په هواضد توپونو د څو لګېدلو جرمنيو الوتکو سغهاری واورېدل شو چې په تېزۍ سره مخ پر ځمکه راروانې وې.

پولت وپوښتل: دا څنګه ږغ دی؟

ومې ويل: دوښمنانو څو الوتکې وبايللې.

په وېره يې وويل: که يوه يې پر دې ځای راپرېوزي، هېڅوک به ژوندی راپکې پاته

Download from: www.aghalibrary.com

نشي.
کرار مې پر اوږه کښېکښېښله او ورته ومې ویل: له ږغه یې ښکاري چې له دې ځایه ډېرې لیرې دي. ان ښایي د لوېدو اواز یې هم وانورو. ډېر بختور یو چې د ښار په منځ کې نه یو.
- ولې هغوی انسانان نه دي؟
- جرمني پیلوټان ښیې؟
ویې ویل: نه، هغوی چې د نن شپې بمباریو یې ژوند واخیست.
ومې ویل: زما په خیال دې ته دې پام نه دی چې دا د انسانانو جګړه ده او دومره په یوه اسانه، نه ختمېږي.
ویې ویل: ښه به دا وي چې هېڅ پر ونه ږغېږو.
ومې ویل: داسې یې فرض کړه چې هېڅ پېښه نه ده شوې.
یوه ترخه خندا یې وکړه او ویې ویل: کاشکې مې کولای شوای. همدااوس چې ستا سره ږغېږم ټول فکر و ذکر مې له مور، پلار او خور سره دی. هغوی پاریس کې اوسي، څو میاشتې کېږي هېڅ حال نه په لرم.
یوه ښځینه اواز مو پام ور واړاوه. هغې په وېرېدلې لهجه وویل: تر کومه به دلته منتظر یو؟
ارنسټ د سالون له بله سره وویل: تر څو د خطر زنګ نه وي غلی شوی له دې ځایه نشو وتلای.
بېرته یوه وژونکې چوپتیا خپره شوه....
اخیر داسې وخت راورسېد چې نور د الوتکو د بمونو ږغ نه وو، خو هواضد توپونه لا درزېدل. د جرمنیو الوتکو له سغهارې داسې وبرېښېده لکه بېرته چې مخ پر خپلو اډو ستنې شوي وي. ورو-ورو یې غرهاری کمېدی. ګړی وروسته هواضد توپونه هم ودرېدل. ښار لا هماغسې په تیاره کې ورک وو. سرې کولای

Download from: www.aghalibrary.com

شوای د بمبونو له امله په اور کې سوځېدونکي ځایونه مجسم کړي. د اطفایو چیغ و پیغ له لیرې او نژدې څخه تر غوږو کېدی.
یوه وویل: مخ یې پرته شو، ولاړل....
بل وویل: کاشکې یې د تل لپاره مخ پرته شوی وای.
د لندن له گوټ گوټه د خطر د ختمېدو زنگونه پورته شول چې وگړو ته یې له پټنځایونو څخه د راوتلو ویرژلی خبر ورکاوه. د څراغونو له روښانېدو سره سم مې ساعت ته وکتل؛ شل باندې یوولس بجې وې. داسې ښکارېده چې شاوخوا دوه ساعته بمبار شوی وو.
د حاضرانو رنگ الوتو او نارامو څېرو ته مې وکتل. هماغه کسان چې د بمباریو پر مهال یې له هغه ځایه د وتلو نارې وهلې، اوس مېخ ولاړ ول او یو و بل ته یې وارخطا-وارخطا کتل. ته وا زړه ته یې نه لوېده چې د دوښمن الوتکې تللي او بمونه درېدلي دي.
د پاتریشیا مخ ته مې وکتل د نورو له هغو سره ورته وو، یوازې په دې توپیر چې د دې چورت بیا د کلیزې په کیک کې بند وو. ارنسټ په یوه زورکي خندا وویل: ولې غلي یاست؟... د کیک ماتېدل لا پاته دي.
نابېره تول سره په ښور کې شول او له نارامۍ څخه په راپارېدلي تلوار یې د سالون پر دروازه ور هېږ کړل؛ ته وا له سره یې د ارنسټ خبره اورېدلې نه وه. هغوی په یوه دونیا اندېښنو کې ورک ول او غوښتل یې ژر تر ژره د خپلو عزیزانو له حاله ځانونه خبر کړي. یو څو داسې کسان هم ول چې له هغه ځایه په وتلو کې یې چندانې له تادي کار نه اخیست؛ له هغو څخه یو زه او پولت وو.
یوه ځوان چې نه مې پېژاند، ارنسټ ته مخ کړ او ورته ویې ویل: پاته مراسم موږ تاسې پای ته رسوو، ونیسئ شمې ولگوئ!
ارنسټ په اندېښنه وویل: ښه به دا وي چې موږ هم ولاړ شو.

Download from: www.aghalibrary.com

ناڅاپه د پاتریشیا زړه راډک شو او پرېنګ په ژړا شوه. ارنسټ يې د دلاسا کولو هڅه وکړه، خو هغې ځان څنې اړخ ته کړ او په داسې حال کې چې مخ ته يې لاسونه نیولي ول، ویې ویل: هېڅکله داسې نه وو شوي.

ارنسټ وویل: خو دا د دې مانا نه لري چې ګنې ما و تا نو نېکمرغه نه یو.

پاتریشیا له مخه لاسونه ایسته کړل، څو شېبې موږ ته څير شوه، يودم مخ پر هغه مېز ور روانه شوه چې کيک پر پروت وو. کيک يې پورته کړ، له ځمکې يې وویشت او ویې ویل: اوس سهي شو!

او بیا يې پر ژړا لرګی کنېښنود... ارنسټ راته مخ کړ او ویې ویل: ودې لیدل چې جشن مو څومره خوندور وو؟

ورته ومې ویل: تاسې واقعاً یوه نېکمرغه جوړه یاست. دا شیان باید پر بدشګونی ونه نیسئ.

پاتریشیا یوه شېبه غلې شوه، وروسته يې راته مخ کړ او ویې ویل: خو ستا هېڅ سات تېر نشو.

ومې خندل او ومې ویل: سرچپه، ښېخي ډېر سات مې تېر شو، ځکه بمباري زما و پولت د نژدې کېدو ډېره ښه وسیله شوه.

پولت هغې ته مخ کړ او ورته ویې ویل: تا و ارنسټ باید په دې ډېر خوشحاله شئ چې اولادونه مو دلته نشته، کنه تر مېلمنو مخکې به له دې ځایه وتلي وای.

ارنسټ وویل: هو، له دې اړخه ښېخي ډېر خوشحاله یو.

پولت تر بازو نیولی وم. ترې ومې پوښتل: شرابو ته دې هوا کېږي؟

په پزه کې يې وخندل او ویې ویل: نه، نه يې کوم.

ومې ویل: لږ تر لږه نن شپه هغه شر و شور بیا نه تکرارېږي.

- ایا کولای شم کور ته مې د رسولو هیله درڅخه وکړم؟

- ښېخي. وګورو چې ارنسټ او مېرمن يې څه پلان لري.

Download from: www.aghalibrary.com

پولت په خندا وویل: د هغوی وروستی پلان خو د کیک خرابول ول!

ارنسټ رانژدې شو او ویې ویل: لکه چې د جرمني الوتکو بېرته راګرځېدو ته منتظر یاست که څه بلا!

ومې ویل: تاسې ته ګورو چې څه کوئ!

ویې خندل او ویې ویل: موږ څه کوو؟ هېڅ، نور داسې څه نه دي پاته چې ویې کړو.

پاتریشیا وویل: شکر چې تاسې دوه خو له یوازېتوبه خلاص شوئ.

پولت وویل: په ظاهر نه یمه خبره، مګر زه خپله تل یوازې یم.

څو دقیقې وروسته یوازې موږ څلور سره پاته وو. یوځای له سالونه راووتو.

پاتریشیا پولت ته مخ کړ او ورته ویې ویل: فکر کوم تا به ظاهر ورسوي.

پولت وویل: همداسې خو ښکاري.

هغوی مخه ښه راسره وکړه... لږ وروسته موږ دوه هم وخوځېدو... پر لارې مې له پولت څخه وپوښتل: چیرې ځې؟

ویې ویل: چالتن واټ ته.

- یوازې اوسې؟

- هو، وړاندې مې هم درته وویل.

- پوهېږم، مطلب مې دا وو چې کوم هم اطاقي هم لرې کنه؟

ویې ویل: نه، یو دوې خونې والا پارتمان مې کرایه کړی دی. ته چیرې اوسې؟

ومې ویل: زه ثابت ټاټوبی نه لرم.

په خارجن انداز یې وویل: معمولاً باید جاسوسان یو ثابت ځای وهم نه لري.

- ستا په فکر همداسې ده؟

- هو او فکر مې حقیقت ته ډېر نژدې هم دی.

- البته که حقیقت شتون ولري.

Download from: www.aghalibrary.com

- هلته وګوره، پر هغه ودانۍ څه بده بمباري شوې ده.

په داسې حال کې چې هغې تر نیمايي زیاتې نړېدلې څلورپوړیزې ودانۍ ته مې کتل، ومې ویل: څه نوې خبره نه ده. دا وحشتناکه لوبه به د جګړې تر پایه روانه وي.

وېې ویل: او هره ورځ و هره شپه به د دغې وحشتناکې لوبې د قربانیانو شمېر لا پسې لوړېږي.

زیاته یې کړه:

- ښايي یو وخت یې زه هم په ډله کې وشمېرل شم.

- بېخي دې زړه نه دی اچولی؟

- ډېر وخت کېږي له نهیلۍ او وېرې سره مې ګوزاره ده.

- کوم ځانګړی لامل لري؟

وېې ویل: تر دې نو بل څه لوی لامل کېدای شي چې مېړه مې له لاسه ورکړ او د مور و پلار له حاله ناخبره یمه. ستا په اند همدا بسنه نه کوي؟ کاشکې مې د جګړې لومړۍ کرښې ته ولېږي چې همالته پسې مړه شم.

ومې ویل: زړه ته مې نه لوېده چې تر دې بریده دې له ژونده بېزاره یې، څکه څو دقیقې مخکې دې د سولې او ارام ژوند لرلو ارمان کاوه.

په یوه ترخه خندا یې وویل: خپله مې هم سر نه خلاصېږي چې څه غواړم.

د نهیلوونکو فکرونو له منګولو څخه د هغې د راایستلو لپاره مې بحث واړاوه، د متحدینو د بریالیتوب او فرانسې د خپلواکېدو خبرې مې ورته راواخیستې او هڅه مې وکړه د یوه رښتیني راتلونکي په توګه یې په ومنم.

وېې ویل: تر دې دمه مې له هېچا سره دوه په دوه داسې خبرې نه وې کړې.

ومې ویل: کوښښ به وکړو چې بیا هم دوه په دوه سره کښېنو.

- هیله منه دې کړمه!

Download from: www.aghalibrary.com

- هغه مخکني سوچونه باید له ذهنه وباسې.

- هڅه کوم.

چالتېن واټ ته ورسېدو. ویې ویل: همدلته یې ودروه!

وروسته یې د سړک پر بله غاړه یوې درې پوړیزې ودانۍ ته لاس ونیو او ویې ویل:

- زه هلته اوسم.

څو شېبې سره غلي وو... ومې ویل: شپه په خیر!

ویې ویل: نه غواړې کور مې ووینې؟

ومې ویل: وي دې یوې بلې شپې یا ورځې ته.

- همدا نن شپه، ولې تا نه ویل چې ثابت ټاټوبی نه لرې؟

- هو، خو بېخي نوي سره شناخته شوي یو.

ویې ویل: خو زه بیا داسې انګېرم لکه له ډېره وخته چې سره پېژنو. ته هم باید همداسې احساس ولرې.

ومې ویل: ځینې انډیوالۍ پر همدې احساس پیلېږي او دواړې خواوې په هماغه لومړي شناخت کې یو و بل داسې بېخکي سره پېژني لکه کلونه-کلونه چې یې سره تېر کړي وي.

- نو زما بلنه دې ومنله؟

- فکر کوم بله لار شته هم نه.

دواړه له موټره کښته شوو او د هغې کور ته ولاړو... ویې ویل: شراب نه لرم، قهوې ته دې زړه کېږي؟

ومې ویل: بده نه ده. خو ډېر ناوخته دی.

- پروا نه لري.

- نو ژر کوه، ځکه زه باید بېرته ولاړ شم.

- نن شپه دې همدلته ده.

Download from: www.aghalibrary.com

د قهوې جوړولو لپاره پخلنځي ته ولاړه. نور مې څه ونه ویل، ځکه هغې هغه څه ویلي ول چې زه یې د اورېدو په تمه وم. پر یوه پسته سوفه کېناستم، سگرېټ مې ولگاو. څو دقیقې وروسته پولت له دوه گېلاسه قهوې سره راغله او کېناسته. د مېره په اړه مې وپوښتله... ویې ویل چې هغه د یوې جنگي الوتکې پیلوټ وو او الوتکه یې په یوه جگړه کې د مانش کانال له پاسه ولگېده او سمندر ته ولوېده.
خپله خواشیني مې ورته ښکاره کړه. د قهوې له خلاصېدو سره سم د تگ په نیت پاڅېدم، خو د هغې زیات ټینگار پرېکړې بدلولو ته اړ کړم. غوښتل مې یو څه ووایم چې یودم یې پر خوله شونډې راکښېښودې.
تازه مې سترگې سره ورغلې وې چې د دروازې زنگ وکړنگېد او دواړه یې را کښېنولو. پولت د کټ اړخ ته پروت گروپ ولگاوه او په حیرانتیا یې وپوښتل: ستا په خیال څوک به وي؟
ومې ویل: ستا کور دی، دا پوښتنه باید ته ځواب کړې.
- هر څوک چې دی خامخا یې کور غلط کړی دی.
- زه به دروازه ورخلاصه کړم.
له کټه راکښته شوم، پتلون مې واغوست او د وره پرانیستلو لپاره وخوځېدم... د دروازې له خلاصېدو سره سم مې زموږ د ادارې پر مامور بریدمل ډورسلي سترگې ولگېدې. په حیرانتیا مې ځنې وپوښتل: دلته څه کوې؟
ویې ویل: یو ساعت کېږي درپسې گرځم.
ترې ومې پوښتل: خیریت دی؟
- جگړن برټن درته منتظر دی.
- څه پوه شوې چې زه دلته یم؟
- جگړن ارنسټ د دې ځای پته راکړه.
- ډېر ښه، همدلته اوسه چې زه جامې واغوندم.

Download from: www.aghalibrary.com

د خوب خونې ته ستون شوم. پولت پر کټ ناسته وه، ورته ومې ویل: له بده مرغه پیدا یې کړم او باید ورشم.
ویې ویل: اوس خو به دې سر خلاص شوی وي چې زه ولې تل یوازې یم؟
ورورواندې شوم، پر لوڅه اوږه مې ښکل کړه او ومې ویل: انډیوالي مو ډېره نوې ده، سبا شپه سره وینو.
- چیرې درته منتظره شم؟
- هر ځای چې دې خوښه وي.
- همدلته راشه.
- همڅه به وکړم.
په تلوار مې جامې واغوستې... پولت وپوښتل: چا غوښتی یې؟
ومې ویل: هغوی چې د ثابت ځای لرلو ته مې نه پرېږدي. هیله ده بله پوښتنه ونکړې.
وروسته مې هماغسې په ناسته مچ کړه او ورته ومې ویل: تر سبا شپې د خدای پامان!
- درته گورم!
- کوښښ کوم سبا شپه یوځای ډوډۍ سره وخورو.
له خونې راووتم. بریدمل ډورسلي د کور د دروازې مخې ته قدم واهه. ورته ومې ویل: درڅه چې ځو!
یوځای سره روان شوو. شل دقیقې وروسته د جگړن برتن په دفتر کې وم...
نوموړی د خپل مېز تر شا ناست وو، ویې پوښتل: چیرې وې؟
ومې ویل: له یوې فرانسوۍ مېرمنې سره وم. برایي مو سره وپېژندل.
- څه کاره ده؟
- مېړه یې د جنگي الوتکې پیلوټ وو.

Download from: www.aghalibrary.com

- د هغې په اړه مې پوښتنه درځخه وکړه.

- د خپلواکې فرانسې له غورځنګ سره کومه دنده لري. پولت نومېږي.

ویې ویل: پولت مارسل، پېژنم یې. وبخښه چې نقشې مې درګډې وډې کړې.

ومې ویل: زه تر تا لا خواشینی یم، ښه څه کار دې وو راسره؟

ویې ویل: باید قاهرې ته والوزې. نور مالومات به زموږ د هغه ځای مامور درکړي.

ومې پوښتل: ایا دا له شمالي افریقا سره تړلی کوم ماموریت دی؟

- همداسې یې وبوله.

- مګر هلته خو اوس کراره کراري ده؟!

برتې وویل: شمالي افریقا په ښکاره د دوښمن له شتونه پاکه شوې برېښي، مګر په اصل کې داسې نه ده. د نازیانو ډېر ورانکاري پټ-پټ په ډېرو خطرناکو کارونو اخته دي. د هغوی د څارګرو موخه دا ده چې د متحدینو پر وړاندې یوه سیمه ییزه قبیله راوپاروي.

ومې ویل: جرمني څارګر نو هسې جک وهي.

ویې ویل: ستا په خیال په منځنې ختیځ کې به د هغوی څارګر لاس تر زنې ناست وي؟ زموږ و د هغوی دا پټه جګړه به د جنګ تر پایه روانه وي.

- کله باید والوزم؟

- یو ساعت وروسته.

- خو سبا شپه مې له پولت سره د ډوډۍ خوړلو ژمنه کړې ده؟

په خندا یې وویل: که ستا پر ځای زه ډوډۍ ورسره وخورم، نو اسمان به راونړېږي؟

ومې ویل: د پولت لپاره ستر ویاړ دی، څکه کټمټ به داسې انګېري لکه له پلار سره چې ډوډۍ خوري.

- زما په سپینو وېښتانو تېروتې؟

Download from: www.aghalibrary.com

- نه، د مخ گونځو ته دې گورم!

ويې ويل: ته ورشه له کوره دې اړين شيان راواخله او چټک بېرته دلته راشه. پر درې بجې دې الوتنه ده.

روان شوم. برټن راته وويل: پام دې وي چې له پولت سره د مخه ښې لپاره ونه وينې. دا کار ما ته راپرېږده. اوس ژر کوه چې وخت ډېر کم دی.

د شپې پر لس باندې دوې بجې د برټن له کارځايه راووتم. زما کور پر کرانلي گارډنز واټ په يوه بلاک کې وو، درې خونې او د هوسا ژوند ټول وسايل يې لرل. اړين شيان مې په لاسي بيک کې تخته کړل او په چټکۍ سره مې ځان د برټن دفتر ته ورساوه. شاوخوا شل کم درې بجې وې. هغه راته منتظر وو.

له کارځايه سره راووتو او د هغه په موټر کې مو د لندن د شمال په پنځه ويشت کېلومترۍ کې يوه پراته پوځي هوايي ډگر پر خوا حرکت وکړ. برټن موټر ډېر گړندی ځغلاوه، غوښتل يې پر وخت ورسېږو.

پر لارې يې وپوښتل: سټرانفورډ خو به پېژنې؟

ومې ويل: هو، پېژنم يې. هغه هم راسره ملگری دی؟

- نه، هغه په قاهره کې درته منتظر دی.

- نو نور مالومات هغه راکوي؟

ويې ويل: همداسې ده، د دې ماموريت په اړه ټول اړين مالومات به هغه درکړي.

ومې پوښتل: د دې ماموريت ټاکلې موخه څه ده؟

برټن وويل: په شمالي افريقا کې د دوښمنې څارگرې شبکې موندنه او له منځه وړنه.

- زما دنده پکې څه ده؟

- د هغوی وژنه.

- څومره په زړه پورې دنده.

Download from: www.aghalibrary.com

ويې ويل: البته ستا د وژل کېدو له خبر سره مې نه ده جوړه.

ومې ويل: نو د يوه قاتل رول بايد ولوبوم کنه؟

د سترګو تر ګوټو يې راوکتل او ويې ويل: البته نه، د يوه مسلکي قاتل رول!

- د هغوی څارګره شبکه چېرې ده؟

- بايد په تونس کې وي.

- څو تنه دي؟

ويې ويل: يوازې دومره خبر يم چې مشهور او ماهر څارګر مکس پفلونک يې مشر دی. نوموړی د فن پاڼن مرستيال دی او په عربي روان ږغېږي. دغه راز د شمالي افريقا له ولسي دودونو سره بشپړ بلد دی او د خپلو بې اندازې پيسو په زور له ځايي قبيلو سره هم ډېرې ښې اړيکې لري.

ومې ويل: او اوس تاسې غواړئ چې زه مکس پفلونک ووژنم او د هغه د څارګرو د فعاليت مخه ونيسم کنه؟

- فکر نه کوم دومره ګران کار دې وي.

- خدای دې وکړي چې دا خبره دې په ټوکو کړې وي.

- پوهېږم چې دا ماموريت تا ته سخت نه دی.

ومې ويل: ستا په اند خو سخت ماموريت بېخي شته نه.

ويې ويل: ستا د جرمني تر ماموريت يې خطر ډېر کم دی.

- په هغه ماموريت کې مې ورور له لاسه ورکړ، په دې يوه کې لکه چې زما کار غرکه کېږي.

- تر اوسه خو لا نه ده مالومه چې ورور دې مړ دی کنه.

- څه مالومه ده چې ژوندی به وي؟

ويې ويل: زموږ مامورين په سويس او نورو هيوادونو کې پسې ګرځي. ژمنه درکوم چې پيدا به يې کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې پوښتل: مکس پفلونک څنګه سړی دی؟
لنډ يې وخندل او ويې ويل: تصوير او نورې ځانګړنې يې له سټراتفورډ سره شته.
يوه شېبه چوپ شو او وروسته يې پسې زياته کړه: ښه دا دی راورسېدو.
هوايي ډګر په تياره کې ډوب وو. د ميدان پر يوه پوړيزه ودانۍ راوڅرخېدو. د يوې کوچنۍ دروازې مخې ته مو بريک وواهه. کښته شوو او په ودانۍ ننوتو. پر کړکيو يې پنډې پردې په داسې ښه راځوړندې وې چې له دباندې څخه يوه ذره رڼا هم نه تر سترګو کېده.
درېيو بجو ته دوې درې دقيقې پاته وې. برټن وويل: همدلته بايد منتظر شو.
ومې ويل: ډګر کې ښځي زياته ارامي ده.
ويې ويل: همداسې خو ښکاري.
يوه د منځنې عمر ځښتنه ښځه چې د هوايي ځواک جامې يې په تن وې، خونې ته راننوته. تر پوځي سلام اچولو وروسته يې جګړن برټن ته وويل: له بده مرغه الوتنه امکان نه لري.
برټن وروځې سره ننه ايستې او ويې پوښتل: کومه پېښه شوې ده؟
ښځې چې په رتبه بريدمله وه، وويل: د هواپېژندنې ادارې په حواله په مانش کانال او جبل الطارق کې هوا توپاني ده. د موسم نقشه هم کتلای شئ. توپان شېبه په شېبه لا زور پسې اخلي.
جګړن په خلق تنګۍ وويل: خو دغه الوتنه بېحده مهمه وه.
بريدملې وويل: هو پوهېږم. الوتکه مو هم چمتو کړې او د الوتنې پر کرښه ولاړه ده.
برټن ترې وپوښتل: ټليفون چيرې دی؟ غواړم د هواپېژندنې له ادارې سره ورږغېږم.
بريدمله اړخ ته شوه او ويې ويل: په ما پسې راځئ!
دواړه يو په بل پسې له خونې څخه ووتل. ما د ارام ساه واخيسته، ځکه سر مې

Download from: www.aghalibrary.com

خلاص وو چې د هوا تر روښانېدو وړاندې موسم نه سمبږي. هماغه شېبه پولت راياده شوه. دغه راز په عين حال کې د برتن سرتمبگي هم رامالومه وه، ممکن سبا بې د ورځې استولی وای.

څو دقيقې وروسته جگړن برتن تروش مخ راستون شو. ترې ومې پوښتل: موسم څنگه دی؟

- خوند يې نشته.

- د بريدملې خبرې دې لکه چې زړه ته نه لوېدې؟

ويې ويل: نه پوهېږم چې د هوا خرابي ستا نېکمرغي وبولم که زما بدمرغي.

ومې ويل: په دې چورتونو ځان مه پازابوه. پاته شوه د هوا خرابي، هغه به د پولت نېکمرغي وبولو.

په ځير-ځير يې راوکتل او ويې ويل: ستا خو هم ټول فکر و ذکر په هغې فرانسوۍ کې دی. هسې نه له ښوی مخلوق سره ستا دومره لېوالتيا کار در کړوپ کړي.

ومې ويل: له دې اړخه بېغمه اوسه. له ناپېژاندو ښځو سره يومخ بل ډول چلند کوم او ان کله ناکله خو د بلا په سترگو ورته گورم.

تر يوه لنډکي ځنډ وروسته مې ترې وپوښتل: ښه، اوس بايد څه وکړو؟

- همدلته کښېنو، ښايي هوا سمه شي.

- ډېر سرزوره انسان يې.

مخامخ راته ودرېد او په داسې حال کې چې لاس يې راته ښوراوه، ويې ويل: گوره دا ماموريت بېخي زيات اړين دی. همدا نن شپه بايد والوزې.

ومې ويل: سهار ته ډېر لږ وخت پاته دی.

پر يوه اوږده څوکۍ کښېناست او ويې ويل: ممکن تر څلورو بجو پورې توپان ودرېږي.

- زړه ته مې نه لوېږي.

Download from www.aghalibrary.com

- تر هغه وخته ورته ګورو.
دغه وخت بریدمله خونې ته راننوته او ویې پوښتل: قهوه څښئ؟
جګړن وویل: هو، دواړو ته یې راوړه.
ومې ویل: مننه، زه یې نه څښم.
مېرمن ووته... برتن سګرېټ راته ونیو او ویې ویل: پر څلور بجې درته اجازه ده چې ولاړ شې.
له سګرېټه مې لوخړه پورته کړه او ومې ویل: ښه به دا وای چې د الوتنې وخت دې تر دریو بجو لږ رامخکې کړی وای.
په داسې حال کې چې د سګرېټ ایره یې ټکوهله، ویې ویل: ټاکلې وه پر یوولس بجې والوزي، خو د جرمنیانو بمبار ټولې کیسې ګډې وډې کړې.
سر مې دېوال ته تکیه کړ، پښې مې وغځولې او ومې ویل: سخت ستړی یم.
ویې ویل: پوهېږم، غوښتل مې په الوتکه کې یو څو ساعته ویده شې.
بریدمله له یو ګیلاس قهوې سره راستنه شوه او له جګړن څخه یې وپوښتل: بل شی خو به نه غواړئ؟
جګړن ورته وویل: نه، مننه. که نوی حال راغی، خبر مې کړه.
هغه له خونې څخه ووته....
جګړن د قهوې په څښلو اخته شو. نیمایي ته رسېدلی سګرېټ مې ګل کړ. کرار-کرار هغه تنګ و تروش خاموش ځای راباندې غمېدی او اخیر مجبور شوم چې د یوه عادي کس د ژوند په ارمان شم. نه پوهېږم ولې مې دغسې چورتونو سر ته لار وکړه، ښایي د ډېرې ستړیا له لاسه.
څلور بجې شوې. د هواپېژندنې ادارې لا هماغسې د موسم د خرابۍ خبر ورکاوه.
څو باندې څلور بجې جګړن برتن پاڅېد او ویې ویل: درځه چې ځو!
په وچ زور له اوږدې څوکۍ څخه ولاړ شوم. زړه مې غوښت همالته یو څو

Download from: www.aghalibrary.com

ساعته ویده شم. له هوایي ډګره له روانېدو سره سم برتن راته وویل: سیده دې کور ته ولاړ شه. وروسته بیا سره وینو، خو پولت او سبا شپه یومخ هېر کړه.

څه مې ونه ویل. دی هم غلی شو... تر اداري پورې دواړه چوپ وو. له کښته کېدو سره سم نېغ خپل موټر ته ولاړم او کور ته روان شوم....

د سهار نژدې یوولس بجې له خوبه راویښ شوم. جګړن ارنسټ ته مې زنګ وواهه او د پولت د کارځای شمېره مې ترې واخیسته. غوښتل مې د غرمنۍ بلنه ورکړم. ټلیفون مې وروکړ. یوې ښځې غوږۍ پورته کړه او راته ویې ویل چې پولت لږ ناسازه وه او بېرته کور ته ولاړه.

د غوږۍ له ایښودلو سره سم مې په تلوار جامې بدلې کړې او له کوره ووتم... د پولت استوګنځای د لندن په شمال کې وو او زما له کوره شاوخوا نیم ساعت د موټر لار وه. ځان مې ور ورساوه، خو هغه لا نه وه راغلې. د ودانۍ له څښتنې ښځه مې چې په لومړي پوړ کې اوسېده، پوښتنه وکړه. هغې اوږې پورته واچولې او ویې ویل: نن مې مېرمن پولت بېخي په سترګه شوې نه ده.

کسب و کار مې د دغې معما بېخ ته د ځان رسولو امر راته کاوه او د ښکلې و له ژونده بېزارې پولت سم پېژندلو ته یې هڅولم. موټر مې داسې ځای ودراوه چې که هغه له هرې خوا راتلای لیدلای مې شوه. په عین حال کې مې د بس تمځای هم تر څار لاندې وو. د ماپښین څه باندې یوه بجه مهال د مطلوبې ودانۍ مخې ته یوه ټېکسي ودرېده او پولت ځنې راکښته شوه. ټېکسي چې روانه شوه زه هم تر شا په پسې شوم. تر لومړي څلورلارې چې تېر شوو، موټر مې ورسره پر اړخ کړ او چلوونکي ته مې د درېدو اشاره وکړه.

هغه هم د سړک پر غاړه ودرېد. زه یې شا ته ودرېدم، کوز شوم او موټروان ته ورغلم... ویې پوښتل: خیریت وو؟

ومې ویل: هغه مېرمن دې له کومه ځایه راوسته؟

Download from: www.aghalibrary.com

ببله څنډه يې وويل: له پيکاډيلي ميدان څخه.

- يوازې وه؟

- هو!

- مننه، بله پوښتنه نه لرم.

ټېکسي روانه شوه او زه بېرته خپل موټر ته وختم. حيران وم له کومه ځايه يې راپيل کړم. پر پولت شکمن شوی وم. بايد خوله مې يې ورخلاصولای. پر تللې لار راستون شوم، د پولت د کور مخې ته مې موټر ودراوه او په زينو کې پورته شوم.

پولت مې په ليدو ټکان وخوړ. هېڅ يې زړه ته نه لوېده چې د ورځې په هغه وخت کې مې دې هلته ويني. په يوه ساختگي خندا يې وويل: زما و ستا ژمنه خو نن ماخستن وه!

ومې ويل: د همدې لپاره دلته راغلی يم. دفتر ته مې دې ټليفون وکړ، غوښتل مې د ماخستن پر ځای دې غرمنۍ ته راوبولم؛ مگر ته هلته نه وې.

- لږ سره بېخونده وم، ځکه نو بېرته کور ته راغلم.

- هغې ښځې هم همدا راته وويل. اوس څنگه يې؟

- تر اوسه ويده وم.

ومې ويل: له ښې سمه نه ښکارې.

ويې پوښتل: کومه پېښه شوې؟

- ولې؟

- تا وويل چې نن ماخستن نشې راتلای؟!

- هو، يو اړين کار دی.

- ډېره بده شوه ولا.

- سرچپه، ډېر ښه کار وشو.

په حيرانتيا يې وويل: څه؟ ته هماغه د تېرې شپې سړی يې؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: هو، مګر ته هماغه د برايي پولت نه يې.

- دا څه وايې طاهره؟!

- له دفتره سيده دلته رانغلې. ووايه چيرې تللې وې؟

د مخ رنګ يې والووت او په وارخطايي يې وويل: نه، سيده دلته راغلم!

ومې ویل: دروغ وايې پولت! د يو چا ليدو ته تللې وې. بيا په پيکاډيلي ميدان کې ټېکسي ته وختې او همدا څو دقيقې مخکې دلته راورسېدې. له پيکاډيلي څخه مې څارلې. ښه، اوس دا راته ووايه چې د چا ليدو ته ورغلې وې؟ او څه کار دې ورسره درلود؟ خامخا بايد يو نارينه وي هغه هم پردی.

د نارينتوب خبره مې هسې له ځانه پکې وروغورځوله، ځکه غوښتل مې راګير يې کړم چې پر خبرو راشي. هغه په يو عالم اندېښنو او نارامۍ کې ډوبه ناسته وه او راته کتل يې. ته وا د ويلو لپاره يې هېڅ نه لرل... کراره د سوفې خوا ته روانه شوه او پر کښېناسته.

ورته ومې ويل: ولې چوپه يې؟... ځواب راکړه!

- هيله کوم کار مه رالره.

- کار نه درلرم؟... نه، خامخا بايد ټول حال راته ووايې.

- ولې داسې شله يې؟

- همدا مې د کسب و کار غوښتنه ده.

- هېڅ شی نشته، څشي درته ووايم؟

بې سريزې مې ورته وويل: ووايه چې له يوه جرمني څارګر سره اړيکه لرې او نن سهار يې ليدو ته ورغلې وې.

سر په وځړېد او ويې ويل: مجبوره يم چې اړيکه ورسره ولرم!

- چا مجبوره کړې يې؟

- هغوی چې تېره شپه يې لندن بمبار کړ.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې پوښتل: څومره وخت کېږي د هغوی لپاره کار کوې؟
په داسې حال کې چې له ډېرې وېرې يې اندامونه رېږدېدل، ويې ويل: يو کال کېږي!
بيا مې ترې وپوښتل: کوم مالومات دې ورکړي دي؟
- د خپلواکې فرانسې غورځنګ او د ملي مقاومت ډلې په اړه مالومات.
- ښې غټې پيسې به دې هم ځنې اخيستي وي.
سر يې را اوچت کړ او په داسې حال کې چې د اوښکو درولو هڅه يې کوله، ويې ويل: پوهېږې؟ له هغوی څخه مې کرکه کېږي... خو اړه يم د خپل پلار د سر د سلامتۍ لپاره يې هره خبره ومنم. هغه د ملي مقاومت ډلې غړی وو، خو ونيول شو. وروسته ګشتاپو زما استوګنځای پيدا کړ. يو کال مخکې يوه شپه د همدې کور د دروازې زنګ وکړنګېد. د وره له پرانيستلو سره سم يو سړی راننووت. هغه جرمنی څارګر وو. هماغه شپه يې د خپلو امرونو منلو ته مجبوره کړم. ويې ګواښلم چې که سرغړونه وکړم، نو پلار به مې په زندان او ما به دلته ووژني.
په ژړا شوه او خبرې يې وغځولې: اوس دې سر خلاص شو چې ولې له ځان او ژوندانه بېزاره يم؟ تېره شپه مې ډېره هڅه وکړه له دې موضوع دې خبر کړم، مګر وېرېدم.
په نرمۍ مې ورته وويل: څه خبره يې چې پلار به دې تر اوسه ژوندی وي؟... برايې خو دې ويل چې له څو مياشتو راهيسې په مور و پلار هېڅ حال نه لرې. نو هغه خبره دې هم دروغ وه!
- نه، باور وکړه په پلار مې هېڅ حال نه لرم.
- د پلار ليکونه دې هم هماغه جرمنی څارګر درته راوړي؟
- هو، خو څو مياشتې کېږي نوی ليک يې نه دی راغلی.
ومې ويل: او ته هم اړه يې خپلې جاسوسۍ ته ادامه ورکړې، ځکه بله لار نشته.

Download from: www.aghalibrary.com

اوښلنې سترګې يې راپکې وګنډلې او ويې ويل: ته مرسته راسره کوې، کنه؟
دېوال ته مې ډډه ووهله او هماغسې چې د هغې له اوښکو ډکو او نارامو سترګو ته مې کتل، ورته ومې ويل: نه پوهېږم چې د مرستې توان به ولرم کنه!
په نارامۍ يې وويل: نه، ته مرسته راسره کولای شې. له ټولو سره پېژنې. هغوی ستا خبره اوري. هيله کوم! زه نه غواړم د دې ځای فرانسويان مې د يوې خايينې په توګه وپېژني. په هېڅ وجه بايد دا بد نوم راپورې نشي.
په سړه سينه مې ورته وويل: دا ګړی ته غليم ته په جاسوسۍ تورنه يې، د دغه ډول جرم سزا پانسۍ ده.
په داسې حال کې چې بږغ يې له اندېښنې او ډاره لړزېد، په يو څه لوړ اواز يې وويل: نه، زه بايد پانسي نشم!
وروسته په سلګيو شوه، مخ ته يې لاسونه ونيول او پسې زياته يې کړه: ان ته هم پوهېږې چې زه بېګناه او د هغه څارګر تر ګواښ لاندې يم.
ومې ويل: دا موضوع بايد ستا خپله څارګره اداره وڅېړي. څه وړه خبره خو نه ده. ستا خپله هم سر خلاصېږي.
ويې ويل: هو، پوهېږم. حتا پانسۍ ته هم غاړه ږدم، مګر په هېڅ وجه مې بايد مور و پلار راخبر نشي. هېڅکله به مې ونه بخښي.
ومې ويل: ژړا ګټه نه لري.
لاسونه يې له مخه راکښته کړل او ويې پوښتل: زما څخه دې کرکه کېږي؟
- نه، هڅه کوم مرسته درسره وکړم.
- نو درباندې ګرانه يم؟
- ګوره پولت اوس د دې خبرو وخت نه دی.
- خو ته بايد ما ته د خپل هيواد پر وړاندې د خايينې په سترګه ونه ګورې.
ومې ويل: زه تا ته د خايينې په سترګه نه ګورم، اوس لږ ارامه شه او پوښتنې مې

Download from: www.aghalibrary.com

راڅواب کړه.

په ډېر اخلاص يې وويل: د پيښې تکي په تکي کيسه به درته وکړم.

ومې ويل: دا يو دوستانه تحقيق دی، يوازې مې پوښتنې راځواب کړه بس.

ويې ويل: ستا په خيال هغوی به هم تحقيق راڅخه وکړي؟

- له هغوی څخه دې مطلب ستاسې څارګري ضد اداره ده؟

- هو، دا کيسه خو اخير د هغوی تر غوږونو رسېږي.

- مالومداره چې تحقيق درڅخه کوي، مګر دوستانه نه.

- بېخي خطرناکه کيسه ده.

ومې ويل: کوښښ وکړه هر څه رښتيا-رښتيا راته ووايې.

ويې ويل: سوګند کوم چې رښتيا به درته وايم.

ومې پوښتل: دا جرمنی څارګر چې ته ورسره په اړيکه کې يې، څه نومېږي؟

مخ يې سره وغوړېد او ويې ويل: نه پوهېږم. ان په دې هم نه يم خبره چې چيرې اوسي او څه کار کوي. ياد ته مې راځي چې هماغه لومړۍ شپه مې د نامه او کار په اړه پوښتنه ځنې وکړه، خو له دې ډول سوالونو يې په کلکه منعه کړم.

ومې ويل: نو همداسې په پټو سترګو دې يې امرونه منل؟

سوړ اسوېلی يې وکيښ او ويې ويل: بله څه چاره مې درلوده؟ بايد منلای مې. بله هېڅ لار نه وه. پلار مې د ګشتاپو په زندان کې پروت وو او مور و ورور مې پاريس کې. که مې غاړه ځنې غړولې وای، دغو ظالمانو هغوی وژل. ان خپله زما ژوند هم له ګواښ سره مخ وو. دا تريخ حقيقت بايد راسره ومنې.

ومې ويل: هېڅ مجبوره نه وې. ستاسې څارګري ضد شبکه به هم همدا درته ووايي.

په نارامۍ يې وپوښتل: په کوم دليل دا خبره کوې؟

ومې ويل: په دې دليل چې له جرمني څارګر سره تر لومړۍ ليدنې وروسته دې

Download from: www.aghalibrary.com

باید خپله ځارګري ضد اداره له کیسې خبرولای او ځان دې د وجدان له نارامۍ ژغورلای. هغوی د دغه ځارګر کار ډېر اسانه ورکولای شوای. لنډه دا چې باید همداسې دې کړې وای.

ویې ویل: هغه مهال ستا غوندې انسان نه وو رابانده پېښ شوی.

په پزه کې مې وخندل او ومې ویل: که زه هم پېښکي (تصادفاً) نه وای درخبر شوی، نو له جرمني ځارګر سره دې انډیوالي هېڅکله نه شکوله.

- نه، غوښتل مې درته ووایم.

- دا اوس دا خبره کوې.

- نه، تېره شپه مې لا دا پرېکړه وکړه.

- خو بیا دې نظر واوښت.

- داسې خبرې مه راسره کوه.

ومې ویل: او اوس هم نه مني چې یوه ډېره لویه تېروتنه درځخه شوې ده.

په اوښلنو سترګو یې وویل: منم چې تېروتنه مې کړې ده، خو فکر نه کوې چې که مې زموږ ځارګري ضد اداره خبره کړې وای، نو ګشتاپو مې پلار، مور او خور راوژل؟

ومې ویل: ستاسې او زموږ ځارګري ضد ادارو په ګډه د دغې کیسې ریښې وروچولای شوې. په هر صورت داسې به نه وای لکه اوس چې یې. تر هر څه لومړی دې باید د فرانسې په اړه سوچ کولای او خپل هر څه دې ترې قربانولای.

ویې ویل: او اوس چمتو یم چې خپل ټول تېروني خپلوان او ان خپل ځان هم ترې ځار کړم.

ومې ویل: مګر اوس لږ ناوخته شوی دی.

په نارامۍ یې وویل: نه، نه دی ناوخته شوی. ته له خپل مقام څخه په ګټه اخیستنه ما له دې مردار ډنډه ایستلای شې.

Download from: www.aghalibrary.com

- مالومه نه ده چې وبه کولای شم کنه.
- زارۍ درته کوم طاهره، لطفاً د خپلواکۍ په پار مرسته راسره وکړه.
ومې ویل: اوس مې دغې پوښتنې ته ځواب راکړه: له دغه جرمني جاسوس سره دې چیرې لیدل؟
ویې ویل: ټاکلی ځای یې نه درلود.
ومې ویل: پوهېږم، مطلب مې دا وو چې ځای تا ټاکی که هغه؟
نارې یې تېرې کړې او ویې ویل: هغه. په هره لیدنه کې به یې د بل ملاقات وخت او ځای انتخاباوه.
خوا ته یې لږ ورنژدې شوم او ورته ومې ویل: په دا دومره وخت کې دې هېڅکله دا ذهن ته نشوه درتېره چې په پسې شې او د ادرس و کار پته یې ولګوې؟
په داسې حال کې چې له ډېرې خلق تنګۍ یې لاسونه سره مروړل، ویې ویل: ته پوهېږې چې زه یوه روزل شوې ماموره نه یم.
- خو د هغه مالومات دې بیا ور پیدا کولای شوای.
- هو، هغه هم په یو عالم ډار او زحمت.
- راتلونکې ملاقات مو چیرې دی؟
- د لېورپول سټریټ په تمځای کې.
له ډېرې غوسې مې پزه کې وخندل او ومې ویل: ډېر تکړه او کارپوه څارګر ښکارې، ځکه د میټرو تر ټولو له ګڼې ګونې ډک تمځای یې ټاکلی دی.
په ځانګړې تلوار یې وویل: دا ځای هغه انتخاب کړ.
بېرته خپل ځای ته ستون شوم، شا مې دېوال ته تکیه کړه او ومې ویل: دا دې مخکې هم وویل، خو دا دې ونه ویل چې کله او پر څو بجې سره وینئ؟
- سبا، د ماپښین پر څلور بجې.
- یانې له دفتره تر راوتلو وروسته نېغه باید لېورپول تمځای ته ولاړه شې؟

Download from: www.aghalibrary.com

پولت وویل: هو، هغه مهال به هغه هلته راته ولاړ وي.
ومې ویل: وروسته دواړه میټرو ته خېژئ او کوښښ کوئ چې په ولاړې ودرېږئ، ځکه په ولاړه اسانه شیان سره تبادله کولای شئ. مسافر هم دومره زیات دي چې ناسې ته هډو د چا پامېږي نه.
پولت غوښتل یو څه ووایي، په خوله کې یې ورولوېدم او ومې ویل: زما خبرې نه دي خلاصې!
زیاته مې کړه: تا هغه مالومات چې ښایي د یوه مایکرو فلم یا هم یاداښت په بڼه وي، د یوې مجلې په منځ کې ایښي دي؛ ته دا مجله ورکوې او هغه هم ورته یوه بله مجله یا هم ورځپانه درسپاري. ته مخکې له مخکې لا خبره یې چې د راتلونکي لپاره د څارګر لارښوونې د هغې مجلې یا ورځپانې پر کوم مخ لیکلي دي. په بله ژبه، وختي یې لا په دې اړه ملا کړې یې.
په داسې حال کې چې رډ-رډ یې راکتل، ویې ویل: ته په دې شیانو څه خبر شوې؟
- ښه، یانې سم مې وویل!
- بالکل، خو اوس دا راته ووایه چې ته څنګه خبر شوی یې؟
- اوس زما څخه ستا د پوښتنو کولو وار شو؟
- یوازې مې غوښتل پوهه شم.
ومې ویل: معمولاً همداسې وي.
ساه یې واخیسته او ویې ویل: همداسې ده چې دا ودې ویل. هغه True Story مجله د دغې راکړې ورکړې لپاره انتخاب کړې ده.
ومې پوښتل: هغه څه ډول سړی دی؟
ویې ویل: د منځني عمر ځښتن دی، میانه ونه لري او ګڼ سپین وېښتان یې دي.
- ځانګړنې یې راته بیان کړه!
- تروش، بې رحمه او کم ړغېدونکی سړی دی. ان تر ننه مې یې یوه نرۍ موسکا

Download from: www.aghalibrary.com

هم نه ده ليدلې.

- کومه ځانګړې نښه نه لري؟

- نه، يوازې دا چې سګرېټ په کيڼ لاس نيسي.

- دا خو کومه ځانګړې نښه نشوه.

پولت وويل: انګليسي يې ډېره روانه او ښه زده ده.

يوه وچه خندا مې وکړه او ومې ويل: ياني ستا په خيال انګليسې يې هم نه واى زده؟

- زموږ ژبه يې هم زده ده.

- بايد زده يې وي.

بيا مې ترې وپوښتل: نور څه حال په لرې؟

ويې ويل: ټول مالومات مې همدا ول.

ومې پوښتل: ايا د ګوتو او لاسونو له جوړښته يې نه ده درته ښکاره شوې چې څه کار به کوي؟

اوږې يې پورته واچولې او ويې ويل: دا شی مې تر اوسه په ذهن کې هم نه وو راګرځېدلی.

بيا مې وپوښتل: د هغه لپاره دې مالومات څنګه تر ګوتو کول؟

ويې ويل: د پټې غوږنيونې له لارې او يا به هم-که موقع وه-د هغه له خوا په يوه راکړل شوې کوچنۍ کامره به مې له هغو ليکونو څخه عکسونه اخيستل چې زما تر لاس به وتل. کله ناکله به مې بيا خپل مالومات د يوه يادښت په بڼه ورکول.

- هغه کامره چيرې ده؟

- همدلته زما په دسکول کې. له ورايه يو لب شيرين دی.

- د جوړښت وړاندوينه مې يې کړې وه.

پولت پاڅېده او له خپل لاسي دسکوله يې هغه لب شيرين شکله وړه کامره

Download from: www.aghalibrary.com

راوايسته، ما ته يې راکړه او ويې ويل: نور مې نه ده په کار.
په داسې حال کې چې سترګې مې په کامره کې وې، ومې ويل: د اوس لپاره بايد ستا سره وي.
- خطرناکه ده!
- اوس ولې دا انديښنه درولوېده؟
- ځکه اوس مې تا غوندې سړی وموند چې د زړه حال ورته ويلای شم.
ومې ويل: ايا په دې هکله دې هم فکر کړی چې که ستا د ادارې مشران له دې رازه خبر شي، نو څه به پېښ شي؟... هغوی په هېڅ وجه دا نه مني چې د خپلواکې فرانسې غورځنګ د پوځ د دويمې ادارې کارکوونکې پولت مارسل د خپل مور و پلار يا هم حتا ځان ژغورلو لپاره دوښمنانو ته ځارګري کوله او بده يې لا دا چې هېڅ بله انګېزه يې هم نه لرله.
نه، نه، بالکل دې خبرې زړه ته نه اچوي او تر يوه ډېر سخت تحقيق وروسته دې پوځي محکمې ته سپاري.
په داسې حال کې چې د ژړا درولو هڅه يې کوله، ويې ويل: مګر ستا خو زما خبرې زړه ته لوېږي!
ومې ويل: پر ما ببخي حساب مه کوه، پرېکړه د هغوی په لاس کې ده.
په داسې انداز چې هم غوسه او هم نارامې په ګډه وه، موسکۍ شوه او ويې ويل: د هغوی پرېکړه خو لمر غوندې مالومه ده؛ راځروي مې.
وروسته يې سر ځوړند کړ او زياته يې کړه: منم چې پر کومه لار چې زه تللې يم، بېرته ستنېدنه نه لري.
لاس مې تر زنه ورلاندې کړ، سر مې يې راپورته کړ او ترې ومې پوښتل: دغه جرمني ځارګر سبا کوم ځانګړي مالومات درڅخه غوښتي دي؟
په ټيټ اواز يې وويل: وېرېږم چې زما ځواب به خښم درولي.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: خواب چې هر څه وي، ستا تر تور نشي درنېدای.
پر څېره يې د پښېمانۍ خړ گرز کښېناست او ویې ویل: فکر مې نه کاوه چې داسې خبره دې راته وکړې.
ومې ویل: دا گړی دوښمن ته په ځارگرۍ تورنه يې او د ملي غرور و هیوادپالنې د احساساتو دعوې ښې نه درسره ښکاري. په دې ټولو ارزښتونو کې دې لغتې ووهلې او هېڅ دې پکې پرې نښودل.
ویې ویل: نو نه غواړې چې زما ملي غرور او د هیوادپالنې احساسات مې بېرته راته راستانه کړې؟
یو څه توند شوم او ورته ومې ویل: زما د پوښتنې ځواب راکړه، هغه کوم مالومات درڅخه غوښتي دي؟
ولاړه پر خپل ځای کښېناسته او ویې ویل: ستا په هکله!
یوه شېبه چوپه وه، وروسته يې وپوښتل: حیران شوې؟
په سړه سینه مې وویل: حیران دې ته یم چې هغه زما و ستا په شناخت څه خبر وو. ښه خیر، زما په اړه دې هغه ته څه ویلي دي؟
- یوازې دومره چې ستا سره شناخته شوم.
- اړتیا څه وه چې زما سره له شناخته يې خبر کړې؟
- ولې ولاړ يې، کښېنه!
- همداسې ولاړ ښه یم او په عین حال کې تا هم سمه وینم.
سگرېټ يې په شونډو کې ونیو. ور وړاندې شوم او لېټر مې ورته وواهه. د سگرېټ له پرله پسې او لنډ-لنډ کشولو څخه يې لا څرگنده وه چې نارامه او اندېښمنه ده. سترگې يې راپکې وگنډلې او ویې ویل:
- تېره شپه چې پاتریشیا راوپېژندلې، درسره شناخته شوم او که مې کولای شوای، همالته مې وژلې.

Download from: www.aghalibrary.com

- نو کرکه دې راڅخه کېده؟

- بېخي ډېر او په لوی لاس مې باندار درسره ګرم او ځان در خوشې کړ.

- ښه، نو بیا چې دې کله کور ته راغلم، هم دې وژلای شوم، ولې دې دا کار ونکړ؟

- اجازه نه وه.

- د چا اجازه، د هغه جرمني څارګر؟

ویې ویل: هو. هغه یوازې ستا څخه د ځینو مالوماتو اخیستلو دا راته ویلي ول؛ د بېلګې په توګه: چیرې اوسې او کوم ماموریت لرې.

ومې ویل: له سره یې راپیل کړه چې زه دې له کومه پېژندلم او ولې دې کرکه راڅخه کوله؟

ویې ویل: شاوخوا دوې میاشتې مخکې هغه جرمني څارګر ستا تصویر راوښود او راته ویې ویل چې دغه کس لندن ته راننوتلی او بېحده خطرناک دی. هغه دا هم راته وویل چې ته دوه اړخیز جاسوس یې او د پیسو لپاره هر څه کوې.

- او تا هم ورسره ومنله؟

- یو څه شکمنه وم.

- نو شک دې بیا څنګه لیرې شو؟

ویې ویل: بیا یې ستا یو بل تصویر راوښود چې له څو ګشتاپو مامورانو سره یوه مېز ته ناست وې او د شرابو جام دې په لاس کې وو. وروسته یې راته وویل چې د فرانسې د ملي مقاومت د ډېرو غړو نومونه دې ګشتاپو ته ورکړي دي. هماغه شېبه مې ستا د موندلو قسم وکړ، ځکه داسې مې انګېرله چې زما د پلار نوم هم تا ګشتاپو ته ورکړی دی.

په پزه کې مې وخندل او ومې ویل: او بیا دې هماغه دوه اړخیز څارګر چې پسې سرګردانه وې، ناڅاپه پیدا کړ، ورسره شناخته شوې او وروسته دې شیدې هم

Download from: www.aghalibrary.com

ورسره ایله کړې [۱]. ایا هېڅ دا په زړه کې درونه گرځېده چې دا دویم عکس به جوړ شوی وي؟

- نه، هغه وخت مې دې خبرې ته هډو پام هم نشو.

- دا په دې چې هغه تجربه کار او تکړه جرمني څارگر دې عقل او ټول حواس درڅخه ولکه کړي ول.

- هو، او اوس پوهېږم چې ستا په باره کې خبرې مې یې باید زړه ته نه وای اچولې.

ومې ویل: نو زما څخه د کرکې او غچ اخیستنې له وجې دې زموږ د شناخت خبره هغه جاسوس ته وکړه، کنه؟

ویې ویل: همداسې ده. او کله چې مې ځنې وپوښتل چې اوس نو څه وکړم؟ ویې ویل چې باید یوازې ستا د استوگنځای او ماموریت پته ولگوم بس.

- وسله لرې؟

- نه، هېڅکله مې نه ده لرلې.

ومې ویل: او که دې لرلای هماغه پرون شپه دې ویشتلم.

د تایید په نښه یې سر وښوراوه او ویې ویل: هو، وژلې مې.

- یانې د جرمني څارگر له امره دې غاړه غړوله؟

- د هغه د امر پروا مې نه کوله. ما ته مهمه دا وه چې ستا په وژلو مې د گڼو کسانو غچ درڅخه اخیست.

- شکر خدایه چې بې وسلې وې!

ویې پوښتل: ایا ستا په هکله د هغه خبرې رښتیا دي؟

په خندا مې ترې وپوښتل: ته څه فکر کوې؟

ویې ویل: نه پوهېږم، ډېره سربدالوونکې کیسه ده.

---

(۱) شیدې ایله کول – له یو چا سره ډېر ژر شناخت اچول.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: البته ستا لپاره. له یوې خوا دې ومنله چې د فرانسې د ملي مقاومت د ډلې او دغه راز له فرانسې سره د دغې ډلې د اړیکو د ډول په باب مالومات دې جرمني څارگر ته ورکول او پر بل سر دې بیا دا هم وویل چې زه یې دوه اړخیز جاسوس دروپېژندلم او درته ویې ویل چې د پیسو لپاره مې هر څه کول او بل مې د ملي مقاومت د غړو نومونه هم گشتاپو ته ورکړي دي. مگر دا په اصل کې ته وې چې د هغوی نومونه دې د جرمني څارگر په وسیله گشتاپو ته ورکول.

پولت چوپ شوه. په داسې حال کې چې د سلگیو له زوره یې زامې کړپېدې، سترگې یې راپورې وگنډلې.

ومې ویل: خبرې وکړه، ولې غلې یې؟

په ژړا یې وویل: باور وکړه اصلاً نه پوهېدم چې څه کوم. اوس دې په واک کې یم، ان که مې له فرانسې سره د خیانت په تور تورنوې هم پروا نه لري. بېخي مې دې په همدې جرم پانسی کړې، مگر دا ژمنه راسره وکړه چې تر مرگ وروسته به مې مور و خور په دې کیسه نه خبرېږي، ځکه هېڅکله به مې ونه بخښي. حتا د پلار تر غوږه مې هم باید دا خبره ونه رسېږي هغه کس چې په خاطر یې ما دغه خیانت وکړ.

لاسونه یې مخ ته ونیول او په وورو-وورو [1] یې وژړل...هغه مهال چې پر اننگو یې اوښکې رغړېدې په سترگو کې یې بېگناهي له ورایه ځلېده. داډه وم چې له جرمني څارگر سره د همکارۍ انگېزه یې له هغه څه پرته بل شی نشي کېدای چې دې خپله راته وویل. پر خیانت یې پخپله اعتراف کړی وو او اوس یې باید ما په اړه پرېکړه کولای. دوې لارې مې درلودې: یا مې باید هغه خپل څارگري ضد سازمان ته سپارلای او یا مې دا قضیه خپله ختمولای.

---

(۱) په وورو-وورو ژړل – د زړه له تله ژړل.

Download from: www.aghalibrary.com

ترې ومې وپوښتل: غرمنۍ دې خوړلې ده؟
له مخه يې لاسونه ايسته کړل او په حيرانتيا يې وپوښتل: څه دې وويل؟
- وايم غرمنۍ دې خوړلې ده؟
- نه، مگر خوا ته مې هم نه کېږي.
ومې ويل: مگر نن غرمه دې زه مېلمه يم.
يوه پيکه موسکا يې وکړه او ويې ويل: اوس ډرۍ هم راوهې؟
وړاندې ورغلم او ورته ومې ويل: نور د مخ پېزې او غمجن نيولو ته اړتيا نشته،
ځان تيار کړه چې غرمنۍ خوړلو ته ځو.
يوه له غمه ډکه خندا يې وکړه او ويې ويل: ته ولاړ شه، زه همدلته پاتېږم.
- ونيسه ځان تيار کړه.
- خوا ته مې نه کېږي.
- ولې نه غواړې چې مرسته درسره وکړم؟
په سترگو يې وپوهولم چې زما خبره يې زړه ته نه ده لوېدلې. تر څو شېبو چوپتيا
وروسته يې وويل:
- دا دې ټوکه وکړه!
ومې ويل: پرېکړه مې کړې چې ستا دغه قضيه زه خپله فيصله کړم.
په سترگو کې يې د خوښۍ اوښکې ډنډ شوې او ناڅاپه غاړې ته راولوېده، مخ يې
پر مخ راکښېښود او ويې ويل: زړه مې غواړي له ډېرې خوښۍ چيغې ووهم.
او وروسته يې هماغسې چې لاسونه يې زما تر غاړه راتاو ول او سترگو کې يې
اوښکې ځغلېدې، ويې ويل: د رښتياگو غواړې له دې مصيبته مې راوباسې؟...
زما خو هېڅ زړه ته نه لوېږي.
موسکې شوم او ومې ويل: هو، همداسې پرېکړه مې کړې ده.
لاسونه يې له غاړې راځخه ايسته کړل، د خونې پر منځ سره وڅرخېده او ويې

Download from: www.aghalibrary.com

ویل: څومره نېکمرغه یم!

ودرېده او زیاته یې کړه: همدااوس جامې بدلوم.

سملاسي په کالي الیشولو اخته شوه...په خپل موټر کې مې یوه رستوران ته بوتله... په ډېره خلاصه اشتها یې ډوډۍ خوړله، ورته ومې ویل: اشتها دې سخته برابره شوې ده!

په موسکا یې وویل: هېڅ تصور یې نشې کولای چې څومره خوشحاله یم.

وروسته یې جام پورته کړ او زیاته یې کړه: ستا په سلامتي یې څښم!

نژدې د ماپښین تر درېیو بجو همالته ناست وو. د بېرته راتلو پر مهال یې پر لارې راڅخه وپوښتل:

- دا زما قضیه څنګه راخلاصوې؟

ومې ویل: دا په ما پورې اړه لري. اوس نشم درته ویلای.

ویې پوښتل: زما اداره نه راخبروې؟

ورومې کتل او ومې ویل: که مې دا کار کولای، بیا مې نو غرمنی هم نه درسره خوړله.

- زه باید څه وکړم؟

- پر کوم برابر؟

- ولې هېر دې شول چې سبا ماپښین پر څلور بجې له هغه څارګر سره وینم؟

- نه، هېر شوي مې نه دي. پر ټاکلي وخت همالته ورشه او True Storyمجله وروسپاره.

- بیا چیرې ولاړه شم؟

- خپل کور ته.

ویې پوښتل: یانې بل هېڅ کار ونکړم؟

ومې ویل: د مجلو تر تبادلې وروسته ستا کار پای ته رسېږي. په ښکاره ګواکې د

Download from: www.aghalibrary.com

هغه له لاربنوونې سره سمه تللې يې. تر هغه وروسته زما کار شروع کېږي.
ويې پوښتل: نيسې يې؟
- ښايي، خو اوس څه نشم ويلای.
- نو ډېره هيله منه بايد ونه اوسم.
ومې ويل: دا کيسه نوره خلاصه وبوله!
اسوېلی يې وکيښ او ويې ويل: همدا يو ساعت وړاندې ځان د دونيا تر ټولو بدمرغه موجود راته ښکارېد او اوس دا دی د نېکمرغی احساس کوم.
په خندا مې وويل: او سبا ماپښين تر څلورو بجو وروسته به يوه بشپړه نېکمرغه ښځه شې. نور به د ځان يوازې او بېوزله بللو هېڅ دليل نه وي درپاته، په بېغمه زړه به يو نارينه ملگری ومومې او د مينې تار به ورسره وغځلوې.
ويې ويل: ستا پرته له بل هېڅ نارينه سره مينه نشم کولای.
ومې ويل: ستا د قضيې د فيصله کولو يو شرط دا دی چې زما څخه به لاس اخلې. زه ستا په درد نه خورم، البته د يوه ملگري په توگه لا حساب راباندې کولای شې. يوازې يو ملگری بس!
- زه دې نه خوښېږم؟
- ډېره ښکلې او خوندوره يې!
- د پوښتنې ځواب دې رانکړ!
لنډه خندا مې وکړه او ومې ويل: زما ټولې ښکلې او جذابې ښځې خوښېږي.
ويې ويل: ښه نو زه هم له هغو څخه يوه يم!
ومې ويل: زما ملگرتيا نوی ژوند نشي درکولای؛ دې ټکي ته دې بايد کلک پام وي.
- ستا سره ملگرتيا خپله يو نوی ژوند دی.
- ممم که ته په دې اند يې، نو زه څه نشم ويلای.

Download from: www.aghalibrary.com

د څووم ځل لپاره يې راځخه وپوښتل: آ ښه ته رښتيا مرسته راسره کوې؟

د سترګو تر کونجو مې وروکتل او ورته ومې ويل: په کومه ژبه يې درته ووايم، هو ستا د ژغورنې هوډ مې کړی دی.

ځان يې راپورې ونښلاوه، مخ يې راښکل کړ او ويې ويل: ستا جوړه نه پيدا کېږي!

ومې ويل: تېروتلې يې، که واقعاً بېګناه نه وای راته ښکاره شوې، نو د رستوران پر ځای مې نېغه خپلې ادارې ته په لاس ورکولې.

- څومره وېرورنکې!

- نور يې پسې ايله کوه.

د ماپښين درې نيمې بجې مهال مې يې د کور مخې ته موټر ودراوه، ويې پوښتل:

- تر سبا نه سره وينو؟

ومې ويل: فکر نه کوم. مګر ته به سبا لېورپول ميټرو ته ولاړه شې او ميټرو ته تر ختلو وروسته به جرمني څارګر ته مجله ورکړې. بل دا چې په دې خيال چې ښايي زه هم همالته واوسم، شاوخوا راپسې ونه ګورې. که دې زه په سترګه هم شوم پام چې په ښه کې بدلون رانولې، ځکه سيال دې يو ماهر جرمنی څارګر دی او د سترګو په رپ کې به د ګواښ شتون حس کړي. کټمټ د پخوا په شان چلند ورسره وکړه. داسې وانګېره لکه هېڅ نوې خبره چې نه وي پېښه شوې.

- پوهېږم.

- ښه، اوس کښېنه شه زه کار لرم.

پولت مخه ښه وکړه او کښته شوه... له دغه خطرناک حالته د هغې د راايستلو لپاره يوې بلې نقشې ته اړتيا وه او هغه دا چې بايد قاهرې ته مې خپله الوتنه څليرويشت ساعته نوره ځنډولای. البته له منونکې لامل پرته مې د خپل رييس جګړن برټن څخه غوښتنه نشوای کولای. سخت سرزوری سړی وو. په يوه اسانه يې نه راسره

Download from: www.aghalibrary.com

منله. خامخا مې باید پر ځان داسې یوه ټکه را ایله کولای چې برتن توافق ته مجبور شوی وای. دواړې نقشې هیله بخښونکې او ډاډمنې وې. د دواړو پلانونو په تېره بیا د پولت د ژغورنې د هغه لپاره مې ځینو شیانو ته اړتیا درلوده چې پیدا کول یې چندانې سخت نه وو.

لېورپول واټ ته ولاړم. وګرځېدم، وګرځېدم اخیر مې په یوه پلورنځي کې یوه جوړه استعمالي فرانسوي جامې پیدا کړې. وروسته مې یوه جوړه دویم لاس بوټونه رانیول هغه هم فرانسوي ول. بیا مې یو یخنکاک او یوه شپو خولۍ وپېرله. کور ته پر لار مې یوه درملتون کې دوه ډوله درمل رانیول چې یوه یې سرې ته خواګرځې او سرځرخي وراچوله او بل یې درملنه کوله.

کور ته له رسېدو سره سم مې جامې بدلې کړې او پر کټ وغځېدم. سخت ستړی وم، په استراحت پسې مې خوله وتلې وه.[1] څو دقیقې وروسته ټلیفون وکړنګېد. له کټ سره اړخ ته ولاړ مېز ته ور اوږد شوم، غوږۍ مې پورته کړه او په ستړي اواز مې وویل: هلو...

له هغې خوا مې د برتن ږغ واورېد چې په اعتراضیه انداز یې وویل: هلکه ته چیرې یې؟... له سهار راهیسې مې د خدای تر ابده زنګونه دروهلي دي.

ومې پوښتل: خبرې دې خلاصې شوې؟

- څه خبره ده؟

- هېڅ، لږ ناروغ یم.

- ناروغ یې؟ توکې خو به نه کوې؟

- کاشکې مې ټوکې کولای. خوا مې ګرځي او سر راباندې څرخي، هېڅ مې نه خوشې کوي.

---

(۱) خوله وتل – د لېونتوب تر بریده د یو څه د ترلاسه کولو هیله لرل.

Download from: www.aghalibrary.com

- تر اوسه چیرې وې؟ غرمه دې څشي وخوړل؟

ومې ویل: ساده خواړه!

لهجه یې نرمه شوه او ویې ویل: خو نن شپه دې الوتنه ده.

ومې ویل: په همدې ناروغ وجود؟

- ولې دې تلیفون نه راکاوه؟

- ویل مې ګوندې ښه شم، بیا به یې دروکړم.

- زما ټول پلانونه دې را غول په غوله کړل.

ومې ویل: زما څه ګناه ده؟ دې بدمرغې ناروغۍ زما و ستا دواړو کارونه را په چایو کړل. (۱)

ویې ویل: اوس دستې یو ډاکټر در استوم.

- نو ژر کوه.

- بل شی خو نه غواړې؟

- نه، مننه.

غوږۍ مې کېښېښوده. څو دقیقې وروسته، یانې د ډاکټر تر راتلو لږ مخکې، مې د خواګرځي او سرګرځي درمل وخوړل. لنډه شېبه وروسته مې حالت دومره خراب شو چې ډاکتر مې له لیدو سره سم راته وویل: زما په خیال مسموم شوی یې.

ومې ویل: تر هر څه وړاندې باید د دې لانتي سرګرځي او خواګرځي چاره وشي.

ویې ویل: درمل اوس دستي درته لیکم.

- خو د راوړلو سړی یې نشته.

- زما موټروان به یې درته راوړي. چورت مه خرابوه.

ومې پوښتل: تر څه وخته باید ارام وکړم؟

---

(۱) په چایو کول - خرابول، سبوتاژول، له خنډ سره مخامخول.

Download from: www.aghalibrary.com

لږ چورت يې وواهه بيا يې وويل: تر سهاره خو خامخا بايد ارام وکړې.
د نسخې تر ليکلو وروسته يې وويل: څو گولۍ او يو شربت مې درته وليکل. هر يو ساعت وروسته يوه گولۍ او څو دقيقې بعد يوه کاچوغه شربت خوره. که دې بيا هم فرق ورسره ونکړ، ښاغلي جگړن برېڼ ته خبر ورکړه.
ومې ويل: مننه!
ډاکټر وويل: موټروان درمل درته راوړي.
غوښتل مې يو څه ووايم چې يودم مې زړه راپورته شو. د ډاکټر له تلو سره جوخت مې د رالوېدلي حالت د مخنيوي گولۍ وخوړه او پر کټ پرېوتم. ورو-ورو لږ رابيداره شوم، خو گېډه مې لا هم خوږېده. موټروان چې درمل راوړل ومې ليدل چې ډاکټر هم هماغه زما گولۍ راته ليکلي وې.
جگړن برېڼ هر نيم ساعت وروسته زنگ راواهه او پوښتنه يې راباندې کوله. مگر زه بايد تر خپل مطلوب وخت مخکې نه واى ښه شوى. برېڼ چې له اندازه زما د نابېره ساختگي ناروغۍ له امله غوسه ښکارېد، وويل:
- تر اوسه داسې پسات نه وو راشوى.
ومې ويل: زما اوسنى حالت له ياده مه باسه چې بل ځل دغسې خبرې ته اړ نشې.
- کاشکې همدا نن شپه الوتلاى شواى.
- ډاکټر تر سبا پورې د ارام کولو سپارښتنه راته کړې ده. دوعا کوه چې سبا دې پر خپلو پښو ليدو درته شم.
- که مې وخت پيدا کړ زه دې پوښتنې ته درځم.
- نه ستا بوختياوې ډېرې دي، مه راځه.
ويې ويل: هر وخت چې ځان روغ درته ښکاره شو، دستې ټليفون راوکړه.
ومې ويل: ستا په خپلو کارونو اندېښنه ده، خو زه دلته په عذاب اخته يم.
برېڼ وويل: داسې گټه نه لري، بايد روغتون ته دې واستوم، هلته ژر جوړېږې.

Download from: www.aghalibrary.com

د خواګرځي تر یوه ساختګي اکټ وروسته مې وویل: نه، ارتیا یې نشته. له روغتونه مې کرکه کېږي. بل دا چې که یې ارتیا وای ډاکټر خپله راته ویل.
- نو به یو څوک درولېږم چې لږ تر لږه مرسته خو درسره وکړي.
- خوښه مې ده، په دې شرط چې ښایسته وي. سر خو به دې خلاص شوی وي؟
- هو، ولې مې نشو خلاص. په عین حال کې دا خبره هم مه هېروه چې ستا روغتیا بې اندازې راته مهمه ده.
- هېڅکله یې نه هېروم!
- بیا هم زنګ درته وهم.
- مننه!
غوږۍ مې کېښېښوده. یوه له سوبې ډکه موسکا مې پر شونډو کېښېناسته، لومړی پلان مې چې د دویم هغه بریا ورپورې تړلې وه، مخ پر کامیابېدو وو. ناروغي مې باید د هغې شپې تر سبا روانه او تر هغه وروسته ورو-ورو سمه شوې وای... هوډ مې کړی وو چې پولت مارسل به له هغه خطرناک حالته راباسم او دا راز به د تل لپاره له ځان سره ساتم.
څه باندې اته بجې وې چې د کور زنګ وکړنګېد. له کټه راکښېنته شوم. یو څه د خواګرځي او سرګرځي زیاتولو درمل مې وخوړل او بیا د دروازې پرانیستلو لپاره له خونې څخه ووتم. ومې پوښتل: څوک یې؟
د شارلوټ اواز مې واورېد چې ویې ویل: پردۍ نه یم.
ور مې پرانیست. ښکلې شارلوټ راننوته. په اندېښمن انداز یې وپوښتل: څه خبره ده؟... کله چې برټن ستا په ناروغۍ خبره کړم، اندېښنه مې شوه.
په بېخونده انداز مې وویل: خواګرځي او سرګرځي.
ویې ویل: ښایي لامل یې مسمومیت وي.
ومې ویل: هره بلا چې ده، خو زه یې تر پزې راوستلی یم.

Download from: www.aghalibrary.com

یوځای خونې ته سره ننوتو. ما پر کټ ځان واچاوه او ومې پوښتل: لندن ته کله راغلې؟

- نن سهار پنځه بجې.

- د جبل الطارق په اړه راته ووایه، باید ډېر ښکلی ځای وي.

هغه موسکی شوه او ویې ویل: هم ښکلی هم په زړه پورې، مګر نه زما و ستا غوندې خلکو لپاره.

ومې پوښتل: په اینګرېډ حال لرې؟

په لغاز یې وویل: فکر مې نه کاوه چې اینګرېډ به دې لا په یاد وي.

ومې ویل: یوازې مې د یوه ملګري او همکار په توګه پوښتنه وکړه.

په کنایه یې وویل: په هر صورت، یو څه وخت په کور کې ورسره وې، هغه هم تنها.

ومې ویل: کاشکې ته هم همالته وای او زه دې لیدلای چې پر څه حال وم.

- کیسه یې راته کړې ده.

- نو تکرار ته یې اړتیا نشته.

ویې پوښتل: څښې خورې چې درته راپې وړم؟

ومې ویل: اوس خو مې هېڅ شي ته هوا نه کېږي.

- یو ګیلاس شیدې څنګه دي؟

- نه، اوس یې نشم څښلای.

وروسته مې یوه ګولۍ وخوړه او ومې پوښتل: په هغه کڅوړه کې څشي دي؟

موسکی شوه او ویې ویل: دوه دبلې کنسروه او غوښې، یو څه وچه ډوډۍ، پنیر او یو څو دانې هګۍ.

- نو د ځان چاره دې کړې ده!

- ویل مې ښایي ته هم وږی یې.

Download from: www.aghalibrary.com

- که سم وای، دباندې مې دوډۍ درباندې وهله.
- وي دې يوې بلې شپې ته.
وروسته پاڅېده، راغله پر کټ مې اړخ ته کښېناسته، سر يې پر څيګر راکښېښود او وې ويل:
- سخت راباندې ګران يې.
په داسې حال کې چې په وېښتانو کې مې ګوتې ورتېرولې، ومې ويل: دوعا کوه چې ژر روغ شم.
- ياني ته هماغه د جرمني طاهر يې؟
- تر هغه ډېر غوره!
- ما چې ويل هېره کړې به دې يم!
- ناحقه دې داسې فکر کاوه.
- ګولۍ فايده درته وکړه؟
ومې ويل: سر مې لا هم ګنګس دی، خوب هم راځي.
وې ويل: نو ورته وغځېږه.
ومې ويل: که برټن زنګ راوواهه او زما پوښتنه يې درڅخه وکړه، ورته ووايه چې همدا څو دقيقې مخکې لا ښه نه وو.
- خدای دې وکړي چې تر راوېښېدو وروسته پوره روغ شې.
- ستا غوندې ښايستو مېرمنو دوعاوې ډېرې اغېزناکې وي.
شارلوټ يوازې پرېښودم. خوب دومره بد زور راباندې کړی وو چې سترګې مې لا نشوای پرانيستلای. د دې خوب لامل د تېرې شپې بې خوبي او ستړيا وه. لومړی پلان بريالی شوی وو او برټن نور قاهرې ته نشوای لېږلای، سر يې خلاص شوی وو چې زه مريض يم او د ډاکټر له لارښوونې سره سم بايد ارام وکړم.

Download from: www.aghalibrary.com

● ● ●

د ورځې پر رڼا د سترګو له لګېدو سره سم وپوهېدم چې دويم پلان مې پلی کولای شم، ځکه له انګلستانه دباندې د پټو مامورانو د ورلو الوتنې د شپې له خوا کېدې او زما ټول ناټک د هغې شپې د سبا ورځې لپاره وو.

شارلوټ وپوښتل: څنګه يې؟

په خندا مې وويل: اوس خو بد نه يم.

- خوب دې ښه وو؟

- تر دومره بد حالت وروسته بايد ښه واى.

- او اوس يوې ښې خوندورې سهارنۍ ته اړتيا لرې.

ومې ويل: ستا د لاس سهارنۍ سرې پر پښو جګ دروي.

له کټه کښته شوم، تر حمام کولو وروسته د سهارنۍ مېز ته کښېناستم او ومې پوښتل: برټن خو بيا زنګ ونه واهه؟

- دوه درې واره يې ټليفون راوکړ.

- ته چيرې ويده شوې؟

- پر سوفه!

- دا خو چنداني ارام ځای نه دی.

- سرچپه، تر هر وخت مې ډېر ښه خوب وکړ.

پر سهارنۍ بوخت وو چې ټليفون وکړنګېد. د شارلوټ په غوښتنه د ټليفون ځوابولو ته وروولاړ شوم او ومې ويل: ورځم، زما په خيال برټن دی.

حدس مې سهي وو. برټن وپوښتل: څنګه يې؟

ومې ويل: ښه يم.

- خوشحاله دې کړم.

Download from: www.aghalibrary.com

- زه تر تا لا زيات خوشحاله يم.

- نن ورځ پر ځان پام کوه. چې وس دې کېږي هغومره ارام وکړه.

- همداسې مې نيت دی.

ويې پوښتل: شارلوټ هورې ده؟

ومې ويل: هو، په کار دې ده؟

په خندا يې وويل: که دې د هغې غونډې ښايسته نرسې ته نوره اړتيا نه وي، نو رخصت يې کړه.

- فکر مې کاوه چې نن به غرمنۍ له هغې سره وخورم.

- گوره لږ سپک خواړه وخوره.

- پر سترگو، د مشرانو خبرې بايد ومنل شي.

- که دې کار وو زنگ راته ووهه.

- ډېر ښه!

غوږۍ مې کښېښوده او بېرته د سهارنۍ مېز ته ورغلم، شارلوټ وپوښتل: د برټن خو به نه وم په کار؟

په ټوکو مې ورته وويل: برټن ډېر حسود سړی دی. پر ما يې ستا ځارنه و پالنه نه لورېږي. چې زما د رغېدو يې واورېدل، سملاسي يې ته وغوښتې.

شاوخوا لس بجې وې چې تر يوې اوږدې او خوندورې مچې وروسته يې مخه ښه راسره وکړه او يوازې يې پرېښودم. دباندې مې کوم کار نه درلود، هماغه کور کې کښېناستم او پر خپل دويم پلان ياني د پولت مارسل پر ژغورنه مې کار پيل کړ او ټولې برخې مې يې تر کتنې لاندې ونيولې.

د غرمې پر دوولس نيمې بجې مې ډوډۍ وخوړه. تر هغه وخته مې برټن دوه درې واره ټليفوني پوښتنه وکړه او هر ځل چې به مې د جوړتيا خبر ورکاوه، سخت به خوشحالېدی. ملامت نه وو، يوه دنيا مسووليتونه يې لرل او بايد زما په ناځاپي

Download from: www.aghalibrary.com

ناروغۍ یې چورت خرابېدای.

د ماپښین پر یوه بجه مې خپل یوه ملګري ته چې جورج ستوني نومېد او د ارتور فلم جوړونې سټوډیو ډایرکټر وو، ټلیفون وکړ. په خپل کارځای کې نه وو. څو دقیقې وروسته مې د سټوډیو په رستوران کې وموند. تر روغبړ وروسته یې وپوښتل: کومه مهمه خبره وه؟

ومې ویل: تقریباً، مګر زما په اړه ده.

- ډېر ښه، همدااوس راتلای شې.

- څو دقیقې وروسته در روانېږم.

غوږۍ مې کښېښوده. اغوستې جامې مې وکښلې او په لیورپول واټ کې رانیولي استعمالي کالي مې واغوستل. هغه دویم لاس بوټونه مې هم په پښو کړل. څو کوتۍ فرانسوي سګرېټ راته پراته ول، هغه مې هم جېب ته واچول. له کور څخه تر وتلو مخکې مې برټن ته زنګ وواهه او ورته ومې ویل: ساعت دوه وروسته درځم دفتر ته.

- چیرې روان یې؟

- ځم چې یو څه پلی وګرځم.

- یوازې ګرځې؟

- هو، ولې څه خبره ده؟

ویې ویل: وېرېږم هسې نه بیا د برایې شپې په غضب اخته شې.

ومې ویل: نه، د هغې خوا بېغمه اوسه. اوس د خدای پامان.

- ورشه، ښه صحت ولرې!

- له پاملرنې څخه دې مننه.

غوږۍ مې کښېښوده او له کوره راووتم. څه باندې یوه بجه وه چې په خپل موټر کې مخ پر آرتور سټوډیو وخوځېدم. هلته پر پنځه ویشت کم دوې بجې ورسېدم.

Download from: www.aghalibrary.com

هغه ورځ مې هرې دقيقې او ثانيې ته حساب کاوه.

جورج په خپل کارځای کې راته منتظر وو. پر ما يې د سترګو له ننبتلو سره سم په حيرانتيا وپوښتل: دا دې څشي اغوستي دي طاهره؟

ومې ويل: عادي کالي!

- تر ننه مې په داسې جامو کې نه وې ليدلې.

- ځينې وختونه سړی له خپلو جامو څخه راوتلو ته مجبورېږي.

جورج خبر وو چې زه د متحدينو په استخباراتي څانګه کې کار کوم، له همدې امله يې وويل:

- ستا دنده سړی هر ډول جامو اغوستلو ته اړباسي.

ومې ويل: د دغو خبرو پر ځای دا راځخه وپوښته چې ولې راغلې يم؟

- غوښتل مې خپله راته ووايې.

- غواړم څېره مې واړوم.

ويې خندل او ويې ويل: ټوکې کوې؟

- ګوره جورجه ډېر وخت نه لرم.

- ډېر ښه، همداااوس يې چاره درکوم.

ومې ويل: يوازې يو ډېر برلاسی ميکپ والا کولای شي چې ما ته زما له خوښې سره سمه څېره راکښېږدي.

ويې ويل: په مطلب دې پوهېږم.

وروسته يې غوږۍ پورته کړه. د وهلو شويو نمبرو له شمېره يې ښکارېده چې مخاطب بايد دننه په سټوډيو کې وي. لږ وروسته يې وويل: سټيوارټه! يو نفر دراستوم، هر څه چې غواړي هغسې وکړه، لګښت يې هم په ما پسې وليکه.

وروسته يې غوږۍ کښېښوده او ويې ويل: اوس خوشحاله شوې؟

- چيرې ولاړ شم؟

Download from: www.aghalibrary.com

- ستیوارټ د سټوډیو تر ټولو برلاسی او تکړه میکپ والا دی. کارځای یې په پنځم نمبر ودانۍ کې دی.
- مننه. د کار تر خلاصېدو وروسته بېرته دلته راځم.
له دفتره یې راووتم او د پنځم نمبر ودانۍ پر خوا روان شوم. د ستیوارټ کارخونه په دویم پوړ کې وه. له ورننوتلو سره جوخت یې راته وکتل او په خندا یې وویل: جورج رالېږلی یې؟
ومې ویل: هو!
ویې پوښتل: ښه، څنګه څېره مو په کار ده؟
ومې ویل: د یوه پنځوس کلن فرانسوي نارینه څېره چې سپین وېښتان او ګونځې مخ ولري.
- مهرباني وکړه کښېنه!
- تر درې نیمو بجو کار خلاصولای شې؟
- فکر کوم وختي به لا خلاص شي.
پر ځانګړې څوکۍ کښېناستم. ستیوارټ یو سپین ټوکر تر غاړه راتاو کړ او ویې ویل: د کار تر پیلولو مخکې باید وپوهېږم چې د جورج په راروان فلم کې ستا رول څه دی؟
ومې ویل: پر ځای پوښتنه ده. د فلم کیسه خپله ما لیکلې ده. صحنې یې تر ډېره د پاریس پر اشغال راڅرخي او زه د فرانسې د مقاومت د ډلې د یوه مهم سړي په رول کې راڅرګندېږم. همدا لامل دی چې د څېرې په ټاکنه کې جورج خپل اختیار ته پرې اېښی یم.
ویې ویل: زه هم حیران وم. ایا په دغه رول کې کومه ځانګړې نښه هم باید ولرې کنه؟
ومې ویل: هو، پر کین بارخو یو ټپ.

Download from: www.aghalibrary.com

- اوس سهي شو.

- بله پوښتنه نه لرې؟

- د اوس لپاره نه. ستا په مطلوبه څېره مې سر خلاص شو.

ومې ویل: دوه شیان ډېر مهم دي؛ یو پر ورمېږ گونځې او بل پر مخ داسې کرښې چې تر اوسني حالت مې زوړ وایسوي.

په خندا یې وویل: ستیوارټ سم نه پېژني. له یوې اتیا کلنې ښځې څوانه نجلۍ جوړولای شي او سرچپه. داسې څېره به درکنبېږدم چې جورج به دې لا ونه پېژني.

- زه هم همدا غواړم چې نژدې ملګري مې لا ونه پېژندلای شي.

- همداسې به وشي، بېغمه اوسه.

او وروسته یې هنرمندې گوتې پر خوځېدو راغلې، تر څو مخ مې راداسې کړي چې زه خپله لا په تېر وزم. په دومره مهارت او چټکۍ لګیا وو چې زه ورته گوته په غاښ شوم. څو دقیقې وروسته مې ستیوارټ د یو شي لپاره شېبه قدر له مخه ایسته شو او ما ژر هنداره کې وکتل، څېره مې یومخ اوښتې وه.

ویې ویل: ستا دا کیسه باید ډېره په زړه پورې وي.

ومې ویل: دا نو بیا د ډایرکټر یانې جورج په مهارت پورې اړه لري.

- هغه په خپل کار کې ډېر بلا دی.

- او کیسې هم ډېر په سختۍ مني.

- مخکې دې هم ورسره پېژندل؟

- هو، په فرانسه کې سره شناخته شوو. البته د جګړې تر پیل لږ وړاندې.

ویې خندل او ویې ویل: نو ته فرانسوی یې؟

ومې ویل: تا چې ویل د کوم ځای یم؟

- چې رښتیا شي نه پوهېدم، خو په دې ډاډه وم چې اروپایي یې.

- عکاسي کله شروع کېږي؟

Download from: www.aghalibrary.com

- مالومه نه ده. د اوس لپاره جورج غواړي په دغه څېره کې یو څو عکسونه راځخه واخلي.
- ان ښايي یوه ازمايښتي عكاسي هم درڅخه وكړي.
ومې ویل: زه نور ډېر کارونه هم لرم، لطفاً لږ ژر-ژر لاس وښوروه.
ویې ویل: بېغمه اوسه تر درې نیمو بجو پورې کار خلاصېږي.
ستيوارټ د خبرو غار (۱) وو او لکه ماته راډیو پرله پسې ږغېد. خبرې یې هم سختې راباندې غمېدې. له بلې خوا مې بله چاره هم نه درلوده باید هم مې ښه ښه ورته لرلای او هم مې یې پوښتنو ته ځوابونه ورکولای. تر لاس یې لاندې وم.
بیا چالانه شو او ویې پوښتل: په فرانسه کې څه کار کوې؟
ومې ویل: مستند فلمونه جوړوم.
- نو د جورج هم مسلکه یې او اوس د خپلواکې فرانسې له ډلې سره یوځای شوی یې.
- هو، او د خپلواکۍ د ورځې په تمه یم.
- جګړه ډېره وېروونکې ده.
- همداسې ده.
غلی شو. د ارام ساه مې واخیسته. ټول فکر و ذکر مې په لېورپول تمځای کې وو. ستيوارټ ډېر ګړندی لګيا وو. هره شېبه یې د کار د پای ته رسولو اعلان ته په تمه وم. شل باندې درې بجې یې سپین ټوکر راځخه ایسته کړ او ویې پوښتل: ښه، اوس څه پکې وایې؟
هماغسې چې په هنداره کې مې ځان ته کتل، ومې ویل: زبردست!
له ځوکیه پاځېدم او زیاته مې کړه: ډېره مننه، کټمټ هماغه څېره ده چې ما غوښته.

---

(۱) د خبرو غار - هغه کس چې تر اړتیا زیات ږغېږي.

Download from: www.aghalibrary.com

بیا هم مننه.

ویې ویل: هیله ده جورج یې هم خوښه کړي. ربښتیا د نامه پوښتنه مې دې ونکړه.

ومې ویل: بیا یې له جورجه وپوښته!

وروسته مې لاس ورکړ او مخه ښه مې ورسره وکړه. له هغه ځایه سیده د جورج ستېوني دفتر ته ولاړم. کله چې ورننوتم، ویې پوښتل: تاسې څوک یاست؟

ومې ویل: وبخښئ منشي مو نه وو چې د ملاقات وخت مې ترې اخیستی وای.

پر اواز یې وپېژندم. په زوره-زوره یې وخندل، راوړاندې شو او ویې ویل: ببخي مې ونه پېژندې.

ومې ویل: ما هم همدا غوښتل چې خپل نژدې یاران مې ونه پېژني.

- ډېر ښه شو چې یو کار خو مې درته وکړ.

- د دغه خدمت له امله ډېره مننه.

- بل کار خو به دې نه وي؟

ومې ویل: نه غواړم د لیدنې ځای ته خپل ګاډي کې ولاړ شم، که کېدای شي...

خبرې یې راغوڅې کړې او ویې ویل: چې زه دې په خپل موټر کې ورسوم څنګه دی؟

- ته خو ډېر بوخت یې.

- ستا کار زما تر بوختیاوو خامخا اړین دی.

یوځای یې له کارځایه راووتو. پر شاتنۍ څوکۍ کښېناستم او ومې ویل: اوس نو درڅه له خیره!

جورج موټر روان کړ او له ستوډیو ووتو. ویې پوښتل: چیرې ځو؟

ومې ویل: له لېورپول تمځای سره نژدې.

ویې ویل: د جګړې په اوږدو کې د خفیه پولیسو فعالیتونه تر یوه پوره پوځي لښکر لا اغېزناک او ارزښتناک دي. په اصل کې خو پوځي جنرالان ټول جګړه ییز

Download from: www.aghalibrary.com

پلانونه ستا او ستا غونډې نورو مامورينو د راپورونو پر بنسټ جوړوي.
ومې ويل: ان د برتانيا لومړی وزير هم په همدې اند دی.
ويې ويل: ستيوارټ دې د کسب او هيواد په اړه پوښته ونکړه؟
لنډ مې وخندل او ومې ويل: که د سرخوږي ګولۍ راسره وای، خوړلې مې؛ په ډېرو خبرو يې ماغزه راوخوړل.
جورج خندا واخيست... ويې ويل: د ستيوارټ يوازنۍ نيمګړتيا بس همدا ده چې زيات رږغېږي، خو کار يې جوړه نه لري. ډېر هنرمن ميکپ کار دی. ښه، څشي يې درڅخه وپوښتل او تا څه ځواب ورکړ؟
زما و د هغه ترمنځ شوی ټول باندار مې جورج ته تېر کړ. ويې ويل:
- کله ناکله مې يې دغه عادت دومره پازاب کړي چې خوشکه ورته وکړم.
ومې پوښتل: سګرېټ څکوې؟
- نه، ته خو راخبر يې چې زه سګرېټ نه څکوم.
- هو رښتيا، هېر مې ول.
- ځای رانژدې شوی دی.
پر پنځه کم څلور بجې لېورپول تمځای ته ورسېدو... جورج وپوښتل:
- چيرې کوزېږې، له تمځای سره که لږ لوړ؟
ومې ويل: يو څه لوړ درڅه.
تر تمځای پنځوس متره ها پلو يې ګاډی ودراوه. مخه ښه مې ورسره وکړه او د شاوخوا له کلکې څارنې وروسته له ښی دروازې څخه کښته شوم. نېغ مخ پر لېورپول تمځای ور وخوځېدم، د زينو په خوله کې مې سګرېټ ولګاوه او کښته روان شوم.
د جېب ټول شيان مې فرانسوي ول: سګرېټ، اورلګيت، يو چاکو او يو څه فرانسوي فرانک. لنده دا چې په فرانسويتوب کې مې هېچا شک نشو کولای.

Download from: www.aghalibrary.com

سټيوارټ ډېر بلا او استاد مېکپ کار وو او داسې شی يې راڅخه جوړ کړی وو چې زه خپله لا په ځان تېر وتلم.
په زينو کې د کښته کېدو پر مهال مې وروستۍ زينې ته وکتل، هلته يو څه زوړ سړی ولاړ وو. له کړو وړو او جامو باروړونکی يا د فابريکې کاريگر ښکارېد. دې کې شک نه وو چې هغه د جعلي اسنادو په مټ ځان ته يو ځای کار موندلی وو. په هماغه يوه نظر مې يې د څېرې ټول جزيات د ذهن پر پرده ثبت کړل. خړه استعمالي کورتۍ او پتلون يې اغوستي ول. يوه خولۍ يې هم پر سر وه؛ ټيک يو دوديز انگرېز کاريگر يې له ځانه جوړ کړی وو. په دويم نظر مې لا ښه وپېژاند. ټولې هماغه نښې پکې وې چې پولت راته ويلې وې؛ سپين وېښتان يې تر شپو خولۍ لاندې په ښکاره تر سترگو کېدل او پر مخ يې کومه ځانگړې نښه نه درلوده.
له وروستۍ زينې څخه تر کښته کېدو وروسته ښی لاس ته تاو شوم. څو گامه وړاندې د يوې ورځپاڼې پلورونکې غرفې مخې ته ودرېدم. ورځپاڼې او مجلې مې سره اړولې مگر ټول پام مې په هغه سړي کې وو. د سترگو تر گوټو مې وروکتل. يوه مجله يې په لاس کې وه. خپله وو، هماغه جرمنی څارگر چې پولت يې په لومه بنده کړې وه. او اوس ما د هغه د په لومه بندولو نيت درلود. د هغه سترگې په هغو مسافرو کې وې چې په زينو کې راکښته کېدل.
يوه فرانسوي مجله مې رانيوله، ولاړم يوه گوښه کې ودرېدم او څارگر مې تر څار لاندې ونيو. شاوخوا لس باندې څلور بجې پولت په زينو کې راښکاره شوه. يوه مجله يې په لاس کې وه.
هغه د ميټرو د کرښې اړخ ته د ولاړ انتظارځای خوا ته ورغله، څارگر په څلورو سترگو پسې کتل. لږ وروسته روان او له پولت سره نژدې ودرېد. زه هم د مسافرو په ډله ورننوتم.
ميټرو تمځای ته راننوته. يوه غټه ډله خلک څنې راووتل او څو برابره نور ورپورته

Download from: www.aghalibrary.com

شول. د هغوی په منځ کې درې داسې کسان هم ول چې یو خطرناک ماموریت یې په مخه اخیستی وو یانې زه، پولت او هغه جرمنی څارګر.

میټرو د لوېدیځ لندن پر خوا روانه شوه. د ناستې ځای نه وو او ډېر کسان تخته سره ولاړ ول. جرمنی څارګر په پولت پورې نښتی ولاړ وو او یو څه ها پلو ما هغوی څارل.

څو شېبې وروسته مې په لوړ ږغ په فرانسوي وویل: ژوندۍ دې وي فرانسه!... ژوندي دې وي متحدین!....

ټولو شاوخوا ولاړو مسافرو راوکتل ان پولت او جرمني جاسوس هم. د نندارچیانو له سترګو ښکارېده چې زما له خولې د نورو شیانو د اورېدو تمه هم لري. یانې خپل شعار مې باید تکرار کړی وای. په هماغه انداز او له یو څه زیات ملي غرور سره ګډ مې وویل:

- ژوندۍ دې وي د فرانسې د ملي مقاومت ډله چې زه یې د جلادو جرمنیانو له منګولو وژغورلم او دغې خپلواکې خاورې ته یې راولېږلم!

یوه شېبه چوپ شوم، وروسته مې زیاته کړه: ښاغلو او اغلو! متحدین به خامخا بریالي کېږي. دوښمن په شمالي افریقا کې ماته خوړلې او ډېر ژر به اروپا د جرمنیانو له واکه ووزي. دوعا وکړئ چې تر هغې ورځې ژوندي پاته شئ تر څو د هغو خلکو د خوښۍ چیغې واورئ چې هیواد یې ازاد شوی او دا خوشحالي ورسره ولمانځئ!

یوه د منځني عمر ښځې سترګې راته مخ کړ او په فرانسوي یې راڅخه وپوښتل: له فرانسې راتښتېدلي یاست؟

یوه له جوشه ډکه خندا مې وکړه او ومې ویل:

- خوښ یم چې زما په ژبه خبرې کوئ. هو، ما د فرانسې د ملي مقاومت ډلې په مرسته ستاسې د هیواد تر غاړو ځان راورساوه.

Download from: www.aghalibrary.com

هغه سړي بیا وپوښتل: یوازې یاست؟
په لږ اغېزمن انداز مې وویل: دغې لانتې جګړې هر څه راڅخه وتروړل؛ ټول راباندې ګران خلک مې له لاسه ورکړل او اوس یوازې یم. مرګ پر جرمني!
هغه انګرېز وپوښتل: نو اوس مو څښې ته نیت دی؟
ومې ویل: هر څه چې مې له توانه کېدل کوم یې. د اوس لپاره د لویې پیرنه په نامه په خپل یوه ملګري پسې ګرځم.
هغه سړي وویل: انګلیسي مو زده ده؟
په هوډمن انداز مې ورته وویل: زه د خپلواکې فرانسې لپاره کار کوم، هغوی چې هر څه راته وایې هغه کوم.
بیا یې وپوښتل: انګلستان ته کله راغلې؟
ومې ویل: تېره شپه سهار ته نژدې وخت چې لا هوا نه وه روښانه شوې، هغوی د برتانیا پولو ته راورسولم.
انګرېز وویل: ستاسې د بریا په هیله!
نورې پوښتنې یې ونکړې او په ټېټن هام تمځای کې کښته شو. پولت او څو نور مسافر هم ووتل. جرمنی څارګر لا ولاړ وو. حدس مې وواهه چې په لوېدیځ لندن کې-چې کرایې پکې ټیټې دي-ژوند کوي. ځان مې په ورځپاڼه مصروف کړی وو، په عین حال کې مې هغه هم څاری.
ورو مې پر اوږه لاس کښېښودل شو او یو نارینه اواز مې واورېد چې په فرانسوي یې وپوښتل:
- ښاغلې ستاسې خبرې مې واورېدې.
مخ مې وراړاوه هماغه جرمنی څارګر وو. موسکی شوم او ومې ویل: ښه نو ستاسې هم زموږ ژبه زده ده؟
په خندا یې وویل: البته ډېره ښه نه.

Download from: www.aghalibrary.com

- خوشحاله دې کړم.

- ستاسې خبرو واقعاً اغېزمن کړم.

- زما د خبرو کومې برخې پر تاسې اغېز وکړ؟

ویې ویل: کله چې تاسې د خپلو خپلوانو د بایللو یادونه وکړه.

یوه ترخه موسکا مې وکړه او ومې ویل: بخښنه غواړم، هغه وخت مې د خپلو خبرو مخه نشوای نیولای. تاسې انګرېزان په فرانسه کې د جرمنیانو له ظلمونو خبر نه یاست. زه دا جنایتکاران ډېر ښه پېژنم. که د ملي مقاومت ډلې مرسته نه وای، ګشتاپو نیولم او خدای خبر چې څه تکه به یې راباندې اچولای.

ویې پوښتل: اوس مو کوم ځای ته نیت دی؟

ومې ویل: د لویې پیرنه په نامه یوه سړي پسې ګرځم. پته یې په فرانسه کې یو چا راکړه او راته ویې ویل چې په لوېدیځ لندن کې اوسي.

ویې ویل: د کور پته یې لرئ؟

ومې ویل: هو، خو نن سهار مې ډېر ولټاوه مګر پیدا مې نکړ. ستونزه دا ده چې ومې نه لیکله، بلکې په یاد مې کړه. دومره مې یاد دي چې کور یې پر ماسکو واټ پروت دی، مګر شمېره یې راڅخه هېره شوې ده. حافظې مې لاس ایله کړی دی [1]، نه یې شم رایادولای.

- خیر زه یې په موندلو کې مرسته درسره کوم.

- ډېره مننه ښاغلې.

- دا لویې پیرنه څه کاره دی؟

شاوخوا مې وکتل او په ټیټ اواز مې ورته وویل: د ملي مقاومت ډلې غړی دی، خو تر اوسه مې نه دي ورسره لیدلي.

---

(۱) لاس ایله کول - یانې پر مهم وخت له کاره لوېدل.

Download from: www.aghalibrary.com

جرمني ځارگر وپوښتل: کوټه دې چيرې نيولې ده؟

ومې ويل: غوښتل مې يو څو ورځې د لويي پيرنه کره تېرې کړم، مگر اوس اړ يم چې خپلې راسره کمې پيسې پر يوه ارزانه کوټه ورکړم.

جرمني ځارگر په مينه ناک انداز وويل: زما کره واوسېږه. ښه غټه کوټه مې کرايه کړې ده. يو څو شپې خو ښېخاره راسره تېرولای شې.

په موسکا مې ورته وويل: نه، ستاسې مزاحمت نه کوم. يوازې دومره وکړئ چې د يوې ارزانه کوټې په موندلو کې مرسته راسره وکړئ. همدومره خو به راسره کولای شئ، اخير دواړه د يوه مورچل خلک يو.

- ښېخي ښېخي!

- تاسې انگرېزان ډېر مهربان خلک ياست!

- ستاسې نوم څه دی؟

- دانيل کوتو.

ميټرو ودرېده... جرمني ځارگر وويل: همدا وروستی تمځای دی، درکښته شئ! يوځای له ميټرو کښته شوو... د تمځای په زينو کې د ختلو پر مهال مې ورته وويل: ملگرې تاسې خپل ځان راونه پېژاند!

ويې خندل او ويې ويل: بخښنه غواړم، زه سيډني سامر نومېږم او اصلاً د استراليا يم.

ومې ويل: خوښ يم چې درسره ومې پېژندل.

جرمني ځارگر چې ځان يې په سيډني سامر راپېژندلی وو، د بيدارۍ هڅه وکړه، ويې پوښتل: څومره وخت کېږي چې له لويي پيرنه سره مو نه دي ليدلي؟

ومې ويل: ښېخي مې تر اوسه ليدلی نه دی. پته يې ملگرو او همکارانو په پاريس کې راکړه.

ويې ويل: کوښښ کوم دا ښاغلی لويي پيرنه په يو نه يو ډول درپيدا کړم.

Download from: www.aghalibrary.com

- تاسې یې پېژنئ؟
- نه، مگر اخیر به یې دواړه وپېژنو.
له تمځای څخه چې راووتو، ترې ومې پوښتل: تاسې یوازې اوسئ؟
ویې ویل: مېرمن او اولادونه مې په استرالیا کې دي. زه دلته د مهاجر په توگه راغلی یم، غواړم یو څه خیشمرې [1] ټولې کړم.
ومې ویل: خو زه بیا هېڅ داسې څوک نه لرم چې خیشمرې ورته ټولې کړم.
ویې ویل: لومړی باید ځان ته یوه دنده وگورئ او بیا د یوازېتوب چاره وکړئ.
سره له دې چې په مطلب یې پوهېدلی وم، بیا مې هم څېره حیرانه ونیوله او ومې ویل: هدف مو څه دی؟!
په مانادارە انداز یې وویل: یوه د منځني عمر کونډه مو یوازېتوب درختمولای شي.
په لوړ اواز مې وخندل او ومې ویل: ستاسې هم عجیبو شیانو ته پام دی!
په خندا یې وویل: دا کار یې هم پر ما!
ومې ویل: ښځه دې اوس وي. اول باید لویې پیرنه ولټوم. د هغه لیدنه تر هر بل کار راته اړینه ده.
سیډني وپوښتل: تر یو گیلاس قهوې وروسته به یې په دواړو یوه چاره وسنجوو.
له جېبه مې د فرانسوي سگرېټو کوټۍ راوایسته، هغه ته مې ونیوله او ومې ویل: ونیسئ د فرانسوي سگرېټو خوند وگورئ!
په خندا یې وویل: تاسې ان سگرېټ هم درسره راوړي دي؟
ومې ویل: یوازې د یو څو کوټیو سگرېټو پر راوړلو وتوانېدم، ان د یوې اضافه جوړې جامو رااخیستلو وخت مې هم ونه موند.

---

(۱) خیشمرې – پیسې، روپۍ.

Download from: www.aghalibrary.com

دواړو سګرېټو ته تیلي ووهل... ومې پوښتل: کور مو ډېر لیرې دی؟

ویې ویل: ډېر نه، هغه درې پوړیزه ودانۍ وینۍ؟

- هو وینم یې!

- زما کوټه د هغې په دویم پوړ کې ده.

- ډېره زړه ودانۍ مالومېږي.

- خو کرایه یې بیا ارزانه ده.

- زه هم همدا غواړم.

ورو یې پر اوږه وټپولم او ویې ویل: ښه ګران ملګرې، کیسه وکړه! څنګه دې له فرانسې څخه ځان د انګلستان پولو ته راورساوه؟

سګرېټ مې کش کړ او ومې ویل: کیسه یې اوږده ده. تر یو ګیلاس قهوې وروسته به یې درته وکړم او د فرانسې د ملي مقاومت ډلې له زوره به دې خبر کړم.

ویې ویل: ببخي مې ورته تلوسه ده. په فرانسه کې مو څه کار کاوه؟

- په کرهڼه اخته وم.

- همدا کسب دې پر زړه جوړ وو؟

ومې ویل: مالومداره. زما د اوسېدو ځای پاریس ته نژدې یو کوچنی کلی دی. د هغه ځای ټول اوسېدونکي په کرهڼه بوخت دي، خو دې لانتي جګړې مو ګرده کیسې راګډې وډې کړې. ته نه یې خبر چې جرمنیان څومره ظالمه طایفه ده.

ویې ویل: څه ناڅه خبر یم.

ومې ویل: اخیر به ماتېږي.

یوه د خوراکي توکو پلورنځي ته ورسېدو، سیلډني وویل: ته همدلته ته ودرېږه، زه به لږ قهوه او بوره رانیسم.

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته پلورنځي ته ننووت. زما ګېډمختاره [1] کيسې اغېز پر کړی وو. د سيډني په پلان مې هم سر خلاص شوی وو.
هغه غوښتل د فرانسې د ملي مقاومت ډلې، د هغې د فعاليتونو او انګلستان ته زما د رارسېدو د وسيلې په اړه مالومات راټخه ترلاسه کړي. له همدې خاطره يې شيدې راسره ايله کړي وې، کور ته يې بېولم او ان د اړتيا پر مهال يې له ځان سره اړولم هم.
دغه راز مې د لويي پيرنه نامي سړي په اړه-چې له سره يې شتون نه درلود-هم قصداً ورته ووېل چې ليدلی مې نه دی، ځکه پوهېدم چې دلته به هم زما د غولولو په نيت خپل يو له فرانسوي ژبې سره بلد ملګری په پيرنه راباندې تېر کړي او-د ده په انګېرنه به-په دې وسيله د پورتنۍ ډلې په هکله مالومات راڅخه وباسي. تر دې دمه مې پلان بريالی وو او د پاته برخې پر بريا هم تقريباً ډاډه وم. ټولې پېښې هغسې وې لکه ما چې يې وړاندوينه کړې وه. سيډني له پلورنځي څخه راووت. يو څه قهوه او لږه بوره يې رانيولې وه. ويې ويل:
- ماخستن هم زما مېلمه يې.
ومې ويل: نه، مننه. کوښښ کوم چې همدا نن شپه د ويدېدو ځای پيدا کړم.
ويې ويل: کله چې دې زما خونه وليده، خپله به ومنې چې ته هم پکې ځايېدای شې.
ومې ويل: د کور د څښتن ځواب به څوک ورکړي؟
په خندا يې وويل: يوه شپه څه نه وايي.
درې پوړيزې ودانۍ ته ورسېدو. د هغې سيمې ټول کورونه درې منزله ول. د هغه ځای اوسېدونکي د لندن په غريبه پوړۍ کې شمېرل کېدل. په دې حساب نو

---

(۱) ګېډمختاره – له ګېډې يوه خبره کول، له ځانه جوړه شوې کيسه يا خبره.

Download from: www.aghalibrary.com

جرمني ځارګر د خپل فعالیت لپاره ډېر وړ ځای تاکلی وو، ځکه هلته څوک نه پر شکمنېدی.

په زینو کې د ختلو پر مهال مې ترې وپوښتل: ودې نه ویل چې چیرې کار کوې؟

ویې ویل: د ویلډینګ په یوه کارخانه کې.

ومې ویل: څومره به ښه وای که ما هم دغسې یو کار پیدا کړی وای.

- زه به د خپل مشر سره وږغېږم.

- ډېر نامي سړی یې.

- ستا غوندې خلکو سره باید نامي شم.

ویې ویل: د دې ودانۍ ښخښتن به هم ښې پیسې ګټي.

ویې ویل: هم ښې پیسې ګټې او هم ډېره بدچلنده ښځه ده.

اسوېلی مې وکیښ او ومې ویل: لوکس له هر څه ډک یوپوړیز کور مې پرېښود، راوتښتېدم او اوس باید دلته په دغسې کورونو کې واړوم.

لاس یې پر اوږه راکښېښود او ویې ویل: جګړه به ډېره ژر خلاصه شي او ته به بېرته خپل کور و ژوند ته ستون شې. چورت مه خرابوه.

دویم پوړ ته ورسېدو. سیډني د قهوې او بورې بستې راکړې او ویې ویل:

- زه به لومړی خپل ملګري ته زنګ ووهم او ترې وبه پوښتم چې د لویې پیرنه په نامه سړی پېژني که نه؟

- ملګری دې څه کاره دی؟

- زموږ د کارخانې د کاریګرانو مشر دی.

- خدای دې وکړي چې ویې پېژني.

سیډني په دالیز کې د موجود دېوالي تلیفون خوا ته ورغی، یوه سیکه یې ورواچوله او د خپل ملګري-چې هغه هم په اصل کې ځارګر وو-شمېره یې ووهله... څو شېبې وروسته په انګلیسي ګډ شو. اول یې زما سره د مخامخېدو کیسه ورته وکړه

Download from: www.aghalibrary.com

او ورته ويې ويل چې دغه فرانسوی ملګری باید سم وپېژنو. وروسته يې ترې وپوښتل چې د لويي پيرنه په نامه سړی پېژني کنه؟... څو شېبې ورته غوږ شو او وروسته يې په خندا وويل: ښه نو پېژني يې. که دې راپيدا کړ او دلته دې راولېږي نو ډېر به درڅخه خوشحاله شم. دغه فرانسوی ملګری ډېر پسې سرګردانه شوی دی. بايد مرسته ورسره وکړو.

د خبرو اترو په پای کې يې ورته وويل: ګوره ډېر انتظار چې راباندې ونکړې!

وروسته يې غوږۍ کښېښوده او په داسې حال کې چې سترګې يې راپکې ښخې وې، په خندا يې وويل: په بخت بيداره يې، زموږ مشر لويي پيرنه پېژني، خو د کور شمېره يې نه وه ورمالومه. ورته ومې ويل چې پيدا يې کړي او دلته يې راولېږي.

ومې ويل: ډېره مننه. نه پوهېږم چې څنګه به دې دا احسان در ادا کوم.

کوټې ته له ننوتلو سره سم يې قهوه او بوره راڅخه واخيسته او پر مېز يې کښېښوده. هلته يو يونفريز کټ، يو مېز، دوې څوکۍ او يوه د جامو الماری ولاړه وه. اړخ ته يو دابش هم ولاړ وو.

زه پر يوه څوکۍ کښېناستم. سيدني له پولت څخه اخيستې مجله له جېبه راوايسته، د الماری خوا ته ولاړ او په داسې حال کې چې ما ته يې شا وه د ځان دادمنولو لپاره يې مجله پرانيسته.

هماغه شېبه مې په انګليسي ژبه په ډېر محکم انداز ږغ پر وکړ: له ځايه ونه ښورې، پولت په مجله کې هېڅ شی نه دي ليکلي!

هغه همالته مېخ شو. ويې پوښتل: ته يې څوک؟

ومې ويل: لاسونه دې پورته کړه او ورو دې مخ زما خوا ته راواړوه.

مجله يې وغورځوله، لاسونه يې اوچت کړل او کرار زما خوا ته راتاو شو. سخت ترهېدلی وو. په ساختګي موسکا يې وويل: هر څوک چې يې، بايد ډېر بلا سړی يې.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: زه هماغه کس يم چې پولت ته دې يې عکس ورکړی وو، در ياد شو؟
- ته طاهر يې؟
- هو، زه خپله يم.
- غواړې سکاټلنډيارډ ته مې وسپارې؟
- البته ستا مړی.
وروسته مې د راسره توپنچې ماشه کش کړه او څو ډزې مې وويشت. سره وڅرخېد او همالته له الماری سره پر ځمکه ولوېد. له څوکۍ څخه پاڅېدم، ومې کوت، مړ شوی وو.
لاښ مې يې تر کټ لاندې کړ او پر ځمکه د وينو کش شوي کرښې مې په يوه ټوکر پاکې کړې. کار مې نه وو تمام شوی او بايد د هغه د ملګري تر راتلو مې کتلای... تر هغه مهاله مې د خونې تلاښۍ ته ملا وتړله، ځکه داسې مې انګېرله چې ښايي د پولت له خوا ورکړل شوي ياداښتونه يې له منځه نه وي وړي او کوم ځای يې ومومم... حدس مې سهي وو. په يوه پراته انجيل کې مې د پولت په لاس ليکلي څو کوچني ياداښتونه پيدا کړل. جېب ته مې واچول. زه لا اخته وم چې يودم د کوټې دروازه وټکېده، مجبوراً مې له پلټنې لاس واخيست.
په فرانسوي مې وويل: مهرباني وکړئ!
يو ځوان راښکاره شو. د دروازې له شا يې په خونه کې سترګې وغړولې. وروسته يې ما ته پام شو او په يوه ساختګي انداز يې په فرانسوي راڅخه وپوښتل:
- وبخښئ د سيډني سامر کوټه همدغه يوه ده؟
په فرانسوي مې ورته وويل: هو. هغه ښاغلی همدلته اوسي. دباندې وتلی او د کور له څښتنې سره خبرې کوي، اوس به راشي. راځئ مهرباني وکړئ!
ځوان چې له شکه خلاص يو جرمنی څارګر وو، هځه کوله ورسپارل شوی رول په مهارت سره ولوبوي. خونې ته راننووت او ويې پوښتل: تاسې ښاغلی دانيل

Download from: www.aghalibrary.com

کوتو یاست؟

په موسکو شونډو مې ورته وویل: هو، فکر کوم تاسې هم ښاغلی لویې پیرنه یاست کنه؟

ویې خندل او ویې ویل: هو، خپله یم!

لاس مې وراوږد کړ او په داسې حال کې چې د یو و بل لاسونه مو سره کښېکښل، ورته ومې ویل: په لیدلو مو واقعاً ډېر خوښ شوم، ټوله ورځ لی-بلی (۱) درپسې گرځېدم. له بده مرغه چې د کور شمېره دې راځخه هېره شوې وه.

خیالي لویي پیرنه چې د یوه جرمني جاسوس په پوست ننوتلی وو، وویل: د ښاغلي سیډني سامر یوه ملگري پیدا کړم او دلته یې ستاسې لیدو ته راولېږلم.

ومې ویل: درته سترگې پر لار وم!

ویې پوښتل: څو ورځې کېږي لندن ته راغلي یاست؟

ومې ویل: دومره وخت مې نه کېږي. مهرباني وکړئ کښېنئ. ډېرې خبرې درسره لرم.

یوه حق په جانب څېره یې ونیوله او ویې ویل: زما لپاره مو کوم پیغام درلود؟

له دې سره سم پر څوکۍ کښېناست. ما ورته وویل:

- هو، هغوی ستاسې لپاره یو ډېر مهم پیغام رالېږلی دی.

ویې پوښتل: څه پیغام؟

ومې ویل: یو لیک دی!

وروسته مې خپله کورتۍ وایستله او زیاته مې کړه: هغوی خپله دغه لیک زما د کورتۍ په استر کې پټ کړی دی.

جرمني څارگر وویل: کورتۍ مو راکړئ ما ته، لیک زه خپله ځنې راباسم.

---

(۱) لی-بلی – سرگردانه او بې هدفه گرځېدل.

Download from: www.aghalibrary.com

کورنۍ مې په لاس ورکړه. همدا چې ګواکې د لیک پیدا کولو په موخه یې پر لاس واچوله، ډېر چټک مې یو دروند سوک پر دا پزه ورخیر کړ. کورتۍ یې وغورځوله او چیغه یې کړه: دا څه کوې؟

غوښتل یې له څوکۍ پاڅي او راباندې راوغورځي، چې پر مخ مې یو بل سوک پسې ورحواله کړ. له پزې او خولې یې وینې روانې شوې. سره له دې چې ګوزارونه درانه ول او ګنګس کړی یې وو، بیا هم پر پښو ودرېد. مالومېدله چې بې وسلې دی. زما خوا ته راروان شو، خو زه لږ پر شا ځنې ولاړم تر څو لا مې ښه لاس ورته جوړ شي.

جرمني څارګر په هماغه ګنګس حالت کې د برید په نیت راباندې راوغورځېد. ځان مې یو څه شا ته کړ او د بغل له خوا مې پر خېټه په سوک وواهه. لاسونه یې پر نس ونیول او پر ملا لږ چوغ شو. د څټ له خوا مې تر کالر ونیو، لږ مې کش کړ، تندی مې یې له دېوال سره وروجنګاوه او خوشې مې کړ. ځان یې تینګ نکړای شوای، پښې یې سره سوستې شوې، ولوېد او په زګېروي یې وویل: نو دا هر څه یوه لومه وه!

ومې ویل: هغه هم څومره زبردسته لومه! ملګری مې دې هغې دونیا ته ولېږی، خو غواړم تا ژوندی سکاټلنډیارډ ته وسپارم.

- ته یې څوک؟

- زه یو فرانسوی یم، د ملي مقاومت ډلې غړی.

- حیران دې ته یم چې سیډنې څنګه درباندې پوه نشو؟

- دومره فکر کولو ته مې پرې نښود. لاښ یې هلته تر کټ لاندې پروت دی.

جرمنی څارګر سره وښورېد، کار مې په ونه درلود. همدا چې نیمه خېز ودرېد، یوه درنه لغته مې پر ځیګر وواهه. د شا پر تخته ولوېد، اه یې وخوت او بېهوښه شو.

د کوټې دروازه مې له دننه څخه کولپ کړه او خپله پر نیمایي پاته تلاښي مې بیا

Download from: www.aghalibrary.com

پیل کړه. په الماری کې مې د انګلستان یو پنډ ټوک تاریخ او څو کړی میکرو فلمونه وموندل. ډاډه وم چې هلته ډېر نور ارزښتناک شیان هم شته. د خونې ټول سامانونه مې پر بل مخ سره واړول. له ګرامافون څخه مې د هغو یوولسو تنو جرمني څارګرو د نومونو لړلیک راوایست چې په انګلستان کې یې پټ فعالیت کاوه. یو څو پاسپورټونه مې هم پیدا کړل چې درې داني یې سپین ول.
داسې بربښېده چې سیډني سامر نامی کس په انګلستان کې د جرمنی څارګرې شبکې مشري پر غاړه لرله. ډاډه وم چې خامخا به یوه مخابره هم کوم ځای پټه کړل شوې وي. اخیر مې د الماری له لاندې څخه راوایسته. یوه د لنډو څپو کوچنی خو ځواکمنه دستګاه وه... اوس مې نو ګواکې ټول هغه څه موندلي ول چې پسې ګرځېدم او باید خپل کار مې پای ته رسولای. دروازه مې پرانیسته او دالېز کې مې کښېنته پورته وکتل. هېڅوک نه ښکارېدل. راووتم، ور مې وتاړه او مخ پر ټلیفون ولاړم. یوه سیکه مې ورواچوله او د سکاټلنډیارډ د مرستیال چارلز کاډوګېن شمېره مې ووهله. نوموړی مې ښه ملګری هم وو. د اواز له اورېدلو سره سم مې په اوښتي ږغ په فرانسوي ورته وویل: ښاغلی کاډوګېن! ښه راته غوږ شئ یوه ډېره مهمه خبره درته کوم.
ویې پوښتل: تاسې څوک یاست؟
ومې ویل: ته ما پرېږده زه مهم نه یم، خبرو ته مې غوږ شه!
بیا یې وپوښتل: خبره څه ده؟
ومې ویل: نه ته او نه هم زه ډېر وخت لرو، غواړم د جرمنی څارګرې شبکې په اړه ډېر ارزښتناک مالومات درکړم. دوه تنه مې ځنې نیولي دي چې یو یې مړ او بل یې بېهوښه پروت دی.
چارلز وپوښتل: له کومه ځایه ږغېږئ؟
ومې ویل: ولیکه: لوېدیځ لندن، د ماسکو واټ پای، ۱۱۸ مه شمېره ودانی. پېښه د

Download from: www.aghalibrary.com

همدغې ودانۍ د دویم پوړ په څلورمه شمېره خونه کې شوې ده. باید بې بږغ و بږوغه هلته ځان راورسوو چې گاونډیان هېڅ درخبر نشي، ځکه هسې نه نور جرمني جاسوسان-چې په غالب گومان همالته نژدې شاوخوا اوسي-خبر شي او وغورځي [1]. په خونه کې ټول پیدا شوي اسناد او یوه مخابره مې پر مېز ایښې دي. دروازه کولپ نه ده او بېخاره ورننوتلای شئ.

یوه شېبه چوپ شوم، وروسته مې پسې زیاته کړه: دا هم باید درته ووایم چې د وژل شوي په خونه کې د پیدا شویو اسنادو له مخې جرمنۍ څارگره شبکه یوولس تنه غړي لري. دوه تنه یې زه درسپارم چې یو یې مړ دی. هیله ده پاته یې تاسې ونیسئ. بل دا چې لاښ تر کټ لاندې پروت دی.

چارلز وېوښتل: تاسې باید ځان راوپېژنئ.

ومې ویل: زه یو فرانسوی یم او دانیل کوتو نومېږم.

- هلته دې څه کول؟

- له بده مرغه تر دې زیات څه نشم درته ویلای.

ویې پوښتل: ستاسې پر خبرو څنگه باور وکړم؟

ومې ویل: یوازنۍ لار یې هغې ودانۍ ته تگ او هر څه له نژدې لیدل دي. بریا دې غواړم!

غوږۍ مې کښېښوده او بېرته د مقتول خونې ته ولاړم. د مازیگر پنځه نیمې بجې وې. جرمنی څارگر هماغسې د کوټې پر نس پروت وو او زگېروی یې خوت. د دې لپاره چې ژر راپر خود نشي، د بدن پر څو حساسو ځایونو مې یو څو ټینگ-ټینگ گوزارونه وروکړل.

هماغه شېبه مې د جگړن برټن څېره مخې ته ودرېده چې له ډېرې غوسې به راته

---

(۱) غورځېدل - تښتېدل.

Download from: www.aghalibrary.com

چاودېدی، ځکه ټليفون کې مې يو ساعت وروسته دفتر ته د ورتلو ويلي ول.
په زينو کې د څو راختونکو کسانو د پښو ښکالو راتله. وروسته مې يې په دالېز کې خبرې واورېدې. گاونډيان ښکارېدل. څو دقيقې وروسته کړکۍ ته ورغلم او سړک ته مې وکتل. د سکاټلنډيارډ د مامورينو درک نه وو. ځان ته لږ اندېښمن وم، ځکه له هغه ځايه نېغ دفتر ته نشواى تلاى او د برټن تر ليدلو وړاندې مې بايد څو نور ډېر اړين کارونه هم خلاصولاى.
همالته له کلکين سره ولاړ او په څلورو سترگو مې واټ ته کتل. لس کم شپږ بجې يو موټر د ودانۍ مخې ته د سړک پر هغه غاړه ودرېد. همدا چې چارلز کاروگېن راکښته شو، د ارام ساه مې واخيسته. په احتياط او گوتو پر سرونو له خونې څخه ووتم. د زينو سر ته مې ځان ورساوه او لاندې مې وکتل. کاروگېن مخکې او د سکاټلنډيارډ درې تنه نور مامورين تر شا مخ پر لوړه راروان ول.
سره له دې چې چارلز په هغه څېره کې نشواى پېژندلاى، بيا مې هم احتياط له لاسه ورنکړ. سړيه هسې نه د مخامخېدو په صورت کې مې د هغې ودانۍ اوسېدونکى وبولي، پوښتنه راڅخه وکړي او پر اواز مې وپېژني. درېيم پوړ ته په ختلو زينو کې پورته شوم، هلته لوړ ودرېدم. کله چې خونې ته د هغوى پر ننوتلو ډاډه شوم، بېرته راکښته او په يوه منډه مې ځان لومړي پوړ ته ورساوه. هلته په عادي گامونو دباندې ووتم. له هغې ودانۍ څخه چې لږ ليرې شوم، قدمونه مې گړندي کړل او د ميټرو لار مې په خوله ورکړه... څو دقيقې وروسته د لندن په مرکز کې وم. هلته مې ميټرو بدله کړه. هدف مې ارتور فلمي سټوډيو وه. يو څه لار هم په بس کې ولاړم. د ماخستن نژدې شل کم اووه بجې سټوډيو ته ورسېدم. که څه هم پوهېدم چې جورج سټوني لا په خپل کارځاى کې دى، ليدو ته يې ورنغلم. په يوه ساه مې موټر له سټوډيو راوايست او مخ پر خپل کور وښوېدم....
کور ته له ننوتلو سره سم مې جگړن برټن ته ټليفون وکړ. د نومورې د غوسناکو

Download from: www.aghalibrary.com

چیغو په تمه وم، خو کیسه سرچپه وخته، په نرم انداز یې وویل: خدای دې وکړي
چې ساعت دې تېر شوی وي.
ساه مې واخیسته او ومې ویل: هو، ډېر خوند یې وکړ.
ویې پوښتل: له پولټ مارسل سره وې؟
ومې ویل: هو، ولې؟
- هېڅ، یوازې مې غوښتل ځان خبر کړم.
- درد خو نه دی درغلی؟
ویې ویل: ولې درد راشي؟ ما خپله اجازه درکړې وه چې زړه دې غواړي هغه وکړه.
ترې ومې پوښتل: پر څو بجې باید هلته واوسم؟
- نهو بجو ته ځان راورسوه.
- مننه، ټیک پر نهه بجې مې همالته وغواړه.
برټین په خندا وویل: فکر کوم له پولټ سره د ماښامنۍ د خوړلو وخت به هم ولري.
ومې ویل: همدا ستا اجازې ته مې کتل. د اوس لپاره خدای پامان!
غوږۍ مې کښېښوده، جامې مې وایستلې او له هغې ښېرې څخه د راوتلو په خاطر ولمبېدم... شاوخوا اووه نیمې بجې مهال له کوره راووتم او مخ د پولټ د کور پر خوا رهي شوم... هغه راته سترګې پر لار وه.
لومړنۍ پوښتنه یې د جرمني څارګر په اړه په خورا اندېښمن انداز راڅخه وکړه.
ورته ومې ویل: د هغه له خوا نوره بېغمه اوسه، هېڅکله به دې بیا پازاب نکړي.
- څه دې په وکړل؟
- ایا کېدای شي په دې اړه دې له پوښتنو کولو منعه کړم؟
د هغې په لاس لیکل شوي یاداښتونه مې له جېبه راوایستل. یو مې ورته ونیو او ترې ومې پوښتل:

Download from: www.aghalibrary.com

- د دغه لیک څښتن پېژنې؟

یادابښت یې راځخه واخیست، په ځیر-ځیر یې ورته وکتل او په اندېښنه یې وویل: دا خو زما لیک دی. غواړې څه په وکړې؟

ومې ویل: زړه مې دی له یوه گزارش سره یوځای یې ستاسې ادارې ته ولېږم.

په نارامۍ یې وویل: نه، دا کار ونکړې.

ومې پوښتل: ولې یې باید ونکړم؟

نارې یې تېرې کړې، ویې ویل: تا د مرستې ژمنه راسره کړې وه او همدااوس دې هم راته وویل چې نور باید له دې بابته بېغمه شم. نو هغه دې درواغ راته وویل؟

ومې ویل: خو ته هم پر خپل قول ونه درېدې.

په حیرانتیا یې وپوښتل: کوم قول، څه باید وکړم؟

په هماغسې جدي انداز مې ورته وویل: د یوې ښې خوندورې ماښامنۍ قول!

ساه په ننوته، موسکۍ شوه او ویې ویل: هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې دا به ټوکې وې.

وروسته یې په ډکه خوله وخندل او په داسې حال کې چې ورو-ورو یې پر ځیگر په موټ کړې لاس ټپولم، ویې ویل:

- د یوه اختر هگۍ دې راباندې واچولې [۱] ناځوانه.

وروسته یې کرار شونډې پر شونډو راکښېښودې او لاسونه یې تر غاړه راتاو کړل.

یادابښتونه مې وسوځول. وروسته مې میکرو فلمونه راوایستل، ورته ومې نیول او ومې ویل: په دې اړه څه وایې؟

په خندا یې وویل: دا دې خپلې ادارې ته ورولېږه، په درد به یې وخوري.

په خندا مې ورته وویل: یاره که ستا په اړه ټول ثبوتونه مې له لاسه ووتل، نو بیا به

---

(۱) په یو چا د اختر هگۍ اچول - یانې سخت وارخطا کول، وېرول.

Download from: www.aghalibrary.com

سلام هم راوانچوي.

بیا یې شونډې پر شونډو راکښېښودې. وروسته راسره سترګو په سترګو شوه. په سترګو کې ډنډ اوښکې یې وځلېدې، په ټیټ بږغ یې وویل: مور، پلار او خور به هېره کړم، خو ته او ستا سرښندنې به هېڅکله له یاده ونه باسم. تا ژوند، عزت او تللی حیثیت بېرته راته راستانه کړل او بیا دې له دې ویاړه برخمنه کړم چې ځان فرانسوۍ وبولم او د خپلواکۍ لپاره له جنګېدونکو فرانسویانو سره خپل بږغ غبرګ کړم.

یوه شېبه غلې شوه او وروسته یې په موسکا زیاته کړه: بخښنه غوارم چې د مننې بل چل نه راځي.

وروسته په ژړا شوه... په عین ژړا کې یې خندل هم.

ومې ویل: لکه چې پر ماښامنۍ دې تله تېره[1] کړه!

ویې ویل: څو دباندې یې خورو!

ومې ویل: زه باید نهو بجو ته درځخه ولاړ شم.

- بیا دې توکو ته ملا وتړله؟

- کاشکې توکې وای.

- فکر مې نه کاوه چې داسې به شي.

ومې ویل: د یوې بېړنۍ ماښامنۍ لپاره لا هم وخت شته. هله ژر کوه.

ویې ویل: اوس دستې ځان تیاروم.

په تلوار د خوب خونې ته ننوته. څو دقیقې وروسته راووته او ویې ویل: زه تیاره یم!

ومې ویل: ته ودرېږه دا وروستی ثبوت به هم له منځه یوسم، چې زړه دې پر

---

(۱) تله تېرول – ځان ناګاره اچول.

Download from: www.aghalibrary.com

پښتې[1] شي.

میکرو فلمونه مې وسوځول. وروسته مې د یاداښتونو ایرې او فلمونو سکاره کموډ ته واچول او اوبه مې پسې خوشې کړې.

له کوره چې راووتو پولت وویل: همدلته نژدې یو کوچنی رستوران شته، زه اکثره شپې ډوډۍ پکې خورم. خواړه یې هم ښه دي.

ومې ویل: بس درسره خوښه مې ده، ځکه ډېر وخت نه لرو، درځه چې ورشو.

موټر ته سره وختو... پر لار یې وویل: داسې انګېرم لکه بیا چې زېږېدلې یم.

د سترګو تر ګوټو مې وروکتل او ومې ویل: زوکړه دې مبارک شه!

وېې خندل او ویې ویل: ته یوه پرښته یې. تر همدا برابې شپې مې ځان و ژوند تباه شوي بلل او اوس دا دی له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځایېږم. د بلا له خولې دې وژغورلم.

ومې ویل: تېروتنه کوې، زه یو شیطان یم، کنه نو ولې به هغه جرمني ځارګر ستا په لاس زما د وژلو هڅه کولای.

- او تا تر ځان مخکې د هغه کار ور وکړ.

- مالومه نه ده چې کار به مې ورکړی وي کنه.

- خیر یوه نه یوه ټکه خو دې پر غورځولې ده.

ومې ویل: بس نور سر مه پسې ګرځوه.

وېې ویل: راورسېدو، همدلته یې ودروه.

موټر مې د سړک پر غاړه ودراوه او ومې ویل: تر دې خو چې پلې راغلي وای ښه وو.

وېې ویل: خوند یې په موټر کې د راتلو وو.

---

(۱) زړه پر پښتې کېدل - ارامېدل، ښغمه کېدل.

Download from: www.aghalibrary.com

کښته شوو او رستوران ته ننوتو. کوچنی او تنگ ځای وو. پولت وویل:
- د دې ځای څښتنه یوه زړه ایټالوۍ ښځه ده چې له ډېره وخته په لندن کې اوسي. لږ وروسته یوه نسبتاً زړه مهربانه ښځه چې وېښتان یې ټول سپین شوي ول او د مخ گونځو یې د تېرو کلونو کیسه کوله، مېز ته رانژدې شوه. له پولت سره تر پوښتنو-گروېږنو وروسته یې ما ته راوکتل او ویې ویل:
- زموږ رستوران ته ښه راغلاست!
ومې ویل: پولت مو د خوړو ډېر صفتونه راته وکړل.
ښځې چې د مستانه او خوشحاله طبیعت څښتنه وه، ویې ویل: هغه وخت سهي ده چې ته خپله یې صفت وکړې.
پولت راته مخ کړ او ویې پوښتل: څشي خورې؟
ومې ویل: د خوړو انتخاب یې پر مهربنې!
د رستوران چلوونکې وویل: اکثره مشتریان همداسې کوي!
ومې ویل: په دې شرط چې یو بوتل فرانسوي شراب هم ورسره ملگري کړئ.
هغې وخندل او ویې ویل: خوندور خواړه له بهترینو فرانسوي شرابو سره وغواړه!
د هغې تر تگ وروسته پولت راته وویل: هم خوشحاله یم او هم مې زړه غواړي وژاړم.
ومې ویل: چې یوازې شوې، بیا وژاړه.
ویې ویل: د خوشحالۍ دلیل خو مې درمالوم دی، مگر ستا مخه ښه مې ډېره ځورويي. خدای خبر چې د نن شپې وروسته به بیا سره ووینو کنه؟
په موسکا مې ورته وویل: هیله باید له لاسه ورنکړو.
ویې پوښتل: په هغه جرمني څارگر دې څه وکړل؟
ومې ویل: سره ومو ویل چې د هغه په باب به پوښتنه نه راڅخه کوې. هره پېښه چې وه، تېره شوه، نور یې هېره کړه. که دې بېگناهي راته زبات شوې نه وای، اوس

Download from: www.aghalibrary.com

به پر بل حال وای. تر دې وروسته په رښتیا له ځانه یوه ځارګري ضد ماموره جوړه کړه. که بیا له همداسې پېښې سره مخ شوې، داسې په پټو سترګو ځان مه سپاره. خپله اداره خبره کړه او هغوی و پرېکړه سره پرېږده. په عین حال کې دا هم مه هېروه چې نن ورځ تر غرمې وروسته ما و تا سره یوځای وو.

یو ګړی چوپ شوم او وروسته مې زیاته کړه: همدارنګه داسې وانګېره چې مور، پلار او خور دې د روانې جګړې د نورو بې شمېره قربانیانو غوندې په یوه بمباري کې مړه شوي دي.

- نور له هېڅ شي خار نه خورم.

- کرار-کرار زړوره کېږې.

د رستوران چلوونکې یو بوتل شراب راوړل، پر مېز یې راته کښېښودل او ویې ویل: دا د فرانسې تر ټولو عالي شراب دي، تاسې د خوړو تر تیارېدو پورې په همدې ځان اخته کړئ.

وروسته یې مونږ یوازې پرېښودو. خپل او د پولت جامونه مې ډک کړل او ومې ویل: زموږ د خپلې سلامتۍ په یاد یې څښو!

پولت خپل جام اوچت کړ او ویې ویل: زه یې ستا په سلامتۍ او بریالیتوب څښم!

د ډوډۍ د راوړلو تر وخته مو بوتل نیم کړی وو. د پولت اننګي ګلاب-ګلاب ګرځېدلي ول. شرابو ښه پوره را لاندې کړې وه.

په ډوډۍ چې مو شروع وکړه، پولت وغوښتل ځان ته شراب واچوي. بوتل مې ځنې واخیست او ومې ویل: ستا همدا څو جامه بس دي.

ویې ویل: وېرېږه مه، هېڅ نه راکوي.

ومې ویل: ته داسې فکر کوې.

وروسته مې د رستوران چلوونکې ته ور ږغ کړل او بوتل مې په لاس ورکړ. ویې پوښتل: خواړه څنګه دي، خوندور دي؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: ډېر عالي دي.

ویې پوښتل: قهوه جوړه کړم، څښئ یې؟

ومې ویل: زه خپله یې نه څښم.

پولټ وویل: زه یې هم نه څښم.

ساعت ته مې وکتل شل کم نهه بجې وې. پولټ وپوښتل: دربانډې ناوخته شوی خو به نه وي؟

ومې ویل: نه، خو نور باید کرار-کرار درڅخه وتکېږم.

غوښتل مې د ډوډۍ پیسې ورکړم، مګر پولټ مې لاس ونیو. پر پاو کم نهو له رستورانه راووتو.

پولټ وویل: پر تا که ناوخته دی، ته ورځه. زه پلې ځم.

تر بازو مې ونیوله او مې ویل: دومره وخت شته چې تا کور ته ورسوم. دا خو د مخه ښې ځای نه دی.

موټر کې مې ارخ ته له کښېناستو سره سم یې سوړ اسوېلی وکیښ او ویې ویل: څومره به ښه وای چې نه راڅخه تلای.

ګاډی مې وخوځاوه او ومې ویل: څومره به ښه وای که دې مخ داسې خوابدی نه نیولای. وخانده!

موسکۍ شوه او ویې پوښتل: کله بېرته راځې؟

- هېڅ نه ده مالومه.

- نو باید انتظار وکړم.

- زما لپاره ځان مه ځوروه.

- دا خبرې مه کوه.

د کور تر دروازې یې دواړه غلي وو. د ګاډي له درېدو سره سم مې وویل: همدلته به یې سره خلاصه کړو، خوا خو به دې نه بدېږي؟

Download from: www.aghalibrary.com

نېغه کښېناسته او ويې ويل: نه پوهېږم، له ځانه پوښتنه وکړه.
له شتېرينگ څخه يې خوا ته وروڅکېدم او ومې ويل: غواړم ښکل دې کړم.
ويې ويل: خو پام چې گرمه مچه يې ونوموې.
ځان ته مې راتېنگه کړه. لاسونه يې تر غاړه راتاو کړل. يوه اوږده مچه مې څنې واخيسته.
سر يې پر اوږه راکښېښود او چوپه خوله شوه. څو شېبې وروسته يې په ژړغوني اواز وويل: بې اندازې ډېر راباندې گران يې.
وروسته يې سر را اوچت کړ او زياته يې کړه: درباندې ناوخته کېږي.
پر لانده باړخو مې يې لاس ورتېر کړ او ومې ويل: کوښښ وکړه چې تل له هوښيارۍ کار واخلې.
لنډ يې وخندل او ويې ويل: دا هم يو ډول لېونتوب دی.
پر شونډو مې يوه پسته مچه ترې واخيسته او ومې ويل: نه غواړم چې لندن ته د بېرته راتگ پر مهال مې ستا نمجنې سترگې راياد شي.
د گوتو نوکونه يې پر خپلو لندو اننگو راتېر کړل او ويې ويل: رښتيا هم، بايد ژړلي مې نه وای.
وروسته يې وخندل او ويې ويل: بريالی اوسې!
د موټر دروازه يې پرانيسته، بيا مو سره ښکل کړل، همداسې له څه ويلو پرته کښته شوه او په گړنديو گامونو يې ځان د ودانۍ دروازې ته ورساوه. هلته څو شېبې پښه نيولې شوه او بيا ننوته. د پولت ماجرا همدلته ختمه شوې وه. نور د سيډني سامر په نامه کوم څارگر شتون نه درلود چې خنډ يې شي. د هغې د بېگناهۍ خبره لمر غوندې روښانه وه.
په داسې حال کې چې ټول چورت مې په پولت کې وو، له هغه ځايه وخوځېدم.
څه باندې نهه بجې خپلې ادارې ته ورسېدم. د جگړن برټن په کوټه کې له تورن

Download from: www.aghalibrary.com

ډورچستر سره مخامخ شوم. ترې ومې پوښتل:

- جگړن چیرې دی؟

ډورچستر وویل: یو بېړنی کار ورپیدا شو ولاړ.

ومې پوښتل: یانې زما تر الوتنې هم مهم وو؟

ویې ویل: ستا د الوتنې وخت نه دی اوښتی، هماغه د شپې لس بجې دي.

- نو جگړن درته ویلي چې څه باید وکړې؟

- هو، د همدې لپاره دلته درته منتظر وم.

بیا یې وپوښتل: خپل سامانونه دې راوړي دي؟

ومې ویل: هو، سر له همدې گړي دې په واک کې یم.

ویې ویل: پر لس کم لس بجې هوایي ډگر ته روانېږو.

ومې پوښتل: د برتن ځای نه راښیې؟... هسې نه څېره یې اړولې وي.

ډورچستر وخندل او ویې ویل: ډېره په زړه پورې پېښه شوې ده، رښتیاوالی یې زموږ یوه هم زړه ته نه لوېد.

ومې ویل: څه پېښ شوي، ولې سپینه خبره نه کوې؟

ویې ویل: دوه جرمني څارگران نیول شوي چې یو یې وژل شوی وو.

ومې ویل: نو دا په دې مانا ده چې یو څارگر نیول شوی دی.

شیبه چوپ شوم، وروسته مې ترې وپوښتل: دا کله؟

ډورچستر وویل: نن مازیگر شاوخوا پنځه نیمې بجې یو چا کاروگېن ته زنگ وهلی او ورته ویلي یې دي چې د ماسکو واټ په پای کې په ۱۱۸مه شمېره ودانۍ کې یې دوه جاسوسان نیولي چې یو یې وژل شوی او بل یې بېهوښه دی.

ومې پوښتل: هغه سړي ځان نه وو ورپېژندلی؟

ډورچستر وویل: کله چې کاروگېن دویمه پلا د نامه پوښتنه ځنې کړې وه، نو هغه ځان د دانیل کوتو په نوم ورمعرفي کړی وو او نور مالومات یې هم نه ول ورکړي.

Download from: www.aghalibrary.com

- نوم فرانسوی ښکاري.
- دانيل کوتو هم ويلي چې فرانسوی دی، ان خبرې يې هم په فرانسوي کړي دي.
ومې ويل: اوس زموږ دغه معادله يوازې يو مجهول لري او هغه دا چې دا ښاغلی دانيل کوتو څه کاره وو؟ په غالب گومان به د فرانسې د ملي مقاومت ډلې غړی وو.
ډورچسټر وويل: برټين هم په همدې اند وو.
ومې پوښتل: برټين په کوم کار پسې تللی؟
ويې ويل: هغه بېهوښه جرمنی څارگر راپېر خود شوی، له هغه څخه تحقيقات کوي.
ومې ويل: دلته دا پوښتنه راپيدا کېږي چې که دانيل کوتو نامي يو جاسوس وژلی، نو ولې يې دا بل ژوندی پرې ايښی دی؟
ډورچسټر وويل: سکاټلنډيارډ او سي آی ډي هم د دې پوښتنې ځواب ونه موندلای شوای.
ومې ويل: ښايي ژوندی پاته څارگر يې ځواب کړي.
- قهوه څښې؟
- زړه ته مې نه لوېږي چې وخت دې ولرو.
ډورچسټر ساعت ته وکتل او ويې ويل: يو پاو وخت لرو.
يو گيلاس قهوه يې راته واچوله. ومې پوښتل: ولې دې ځان ته نه واچوله؟
ويې ويل: هوا مې نه ورته کېږي.
بيا يې ساعت ته وکتل او زياته يې کړه: ته همدلته اوسه زه دستي راځم.
- ډېر وخت نه لرو بايد حرکت وکړو.
- پوهېږم، چورت مه خرابوه.
ډورچسټر يوازې پرېښودم... د قهوې گيلاس مې پورته کړ، په خندا شوم او د

Download from: www.aghalibrary.com

دانیل کوتو نوم مې تر شونډو لاندې زمزمه کړ. څرګنده وه چې یاد نوم د سي اي ډي او سکاټلنډیارډ لپاره یوه پېچلې معما وه او هڅه یې کوله له کاروګېن سره رغېدلی سړی ومومي، خو دې موخې ته رسېدنه ناشونې وه؛ ځکه ما پرېکړه کړې وه چې دغه راز به د تل لپاره پټ ساتم.
کاروګېن او برټن لګیا ول له جرمني څارګره یې پوښتنې کولې او په دې هیله ول چې ګنې د دانیل کوتو معما به حل کړای شي. خو هغه څارګر یوازې د کوتو کړه وړه ورته بیانولای او دومره ویلای شوای چې ملګری یې وروژلی او دی یې هم مرګي حاله ډبولی دی. د کاروګېن او برټن لپاره بل حیرانوونکی ټکی دا وو چې دانیل کوتو ولې یوازې یو جاسوس وژلی دی؟ دغې معما معادله په دوه یا څو مجهوله اړولې وه.
لوړ مې د سي.آی.ډي په نامه یوې ادارې یادونه وکړه. د موضوع د روښانتیا لپاره باید ووایم چې دا د انګلستان د څارګرۍ ضد ادارې نوم دی او د Counter Intelligence Department د سر لومړي درې توري دي.
کله چې ډورچسټر ښېرته راستون شو، ترې ومې پوښتل: له جرمني څارګر څخه تحقیقات په کوم حالت کې دي؟
ویې ویل: همدااوس خبر راورسېد چې سي.آی.ډي درې نور جرمني څارګر هم نیولي دي.
ومې ویل: دا مې نو د زړه له کونجه هم نه نښتله.
ویې ویل: په خونه کې د ترلاسه شویو اسنادو له مخې د جرمني څارګرو شمېر یوولس دی. په دې حساب یې نو څلور کسه نیول شوي او یو وژل شوی دی. ډېر ژر به یې پاته شپږ تنه هم وموندل شي.
په ساختګي حیرانتیا مې وویل: له دې څخه خو داسې ښکاري چې دانیل کوتو ډېر لوی خدمت کړی دی.

Download from: www.aghalibrary.com

ډورچستر وویل: کاشکې یې ځان هم راپېژندلی وای.
ومې ویل: ښه به دا وي چې پاته خبرې پر لارې وکړو.
ویې پوښتل: ستا خو به شي-می نه وي په کار؟
له څوکۍ څخه پاڅېدم او ومې ویل: نه، ټول اړین شیان به سټراټفورډ راوسپاري.
- ښه، نو ځو به.
- له برټن سره نشم لیدلای؟
- نه، هغه ډېر سخت بوخت وو، او دغه راز یې ستا د بریا هیله هم څرگنده کړه.
یوځای له ادارې څخه راووتو. زما په موټر کې هوایي ډګر ته ولاړو... پر لارې ډورچستر راته وویل: هماغسې لکه برټن چې درته ویلي دي ټول مالومات او لارښوونې به سټراټفورډ درکړي.
ومې پوښتل: له هغه سره مو اړیکه نیولې؟
ویې ویل: ټاکلې ده چې د الوتکې له الوتو سره جوخت یې خبر کړو.
- ممم نو هغه تر اوسه زما د الوتنې له وخته خبر نه دی.
- هغه پرون سترگې پر لار وو.
- ماموریت مې په حقیقت کې اته څلویښت ساعته شا ته شوی دی.
ډورچستر چې اړخ ته مې ناست وو، وویل: ستا بریالیتوب به دا ځنډ جبران کړي.
د سترگو تر گوټو مې ورروکتل او ومې ویل: څه مالومه ده چې بریالی به شم!
ویې ویل: ستا ټول ماموریتونه بریالي ول.
ومې ویل: دا په دې مانا نه ده چې په دغه یوه کې به هم خامخا کامیابېږم.
ویې ویل: دا یو د جرمني تر هغه خطرناک نه دی.
- په شارلوټ حال نه لرې؟
- زما په خیال هوایي ډگر کې ده.
- په هوایي ډگر کې؟ هلته څه کوي؟

Download from: www.aghalibrary.com

- د اداري له خوا هلته دنده ورسپارل شوې ده.

- اینګرېډ څنګه، هغه هم همالته ده؟

ډورچستر وخندل او ویې ویل: د ښځینه ملګرو شمېر دې دومره زیات دی چې خپله یې هم نشې حسابولای.

ومې ویل: ډېر کش مه ورکوه، تر درېیو تنو نه اوړي.

ویې ویل: رښتیا د پولت مارسل په هکله یو په زړه پورې خبر درته لرم.

په ځانګړې اندېښنه مې ترې وپوښتل: په پولت څه شوي؟ نن شپه تر نهو بجو ورسره وم.

ډورچستر وویل: پلار یې پاریس کې د ګشتاپو په زندان کې مړ شوی دی. برټن راته وویل چې تا ته یې ووایم.

د ارام ساه مې واخیسته او ومې ویل: د دې خبر کوم ځای په زړه پورې وو؟

- خواشینوونکی خبر وو.

- نو په زړه پورې نه وو.

- خوا دې بده شوه؟

ومې ویل: یو څه، هغه هم د لور په خاطر یې چې په جلاوطنۍ کې شپې ورځې تېروي....

ویې ویل: پولت به په دې خبر څومره وځورېږي.

ومې ویل: ستا و برټن څخه مې یوازنۍ هیله دا ده چې په دې اړه پولت ته هېڅ مه وایاست.

- برټن یوازې تا ته د ویلو راته وویل. د پولت د خبرولو خیال یې نه درلود.

- برټن ته ووایه چې حتا د هغې ملګرو ته هم ونه وایي.

دوې درې دقیقې کم لس بجې هوایي ډګر ته ورسېدو. ټول میدان په تیاره کې ډوب وو. زه او ډورچستر یوې خونې ته ننوتو. هلته یې راته وویل: همدلته ورته

Download from: www.aghalibrary.com

منتظر شه!

یوازې یې پرېښودم. څه وخت وروسته شارلوټ خونې ته راننوته او ویې ویل: همدااوس ډورچسټر ستا له راتګه خبره کړم. سم شوی یې؟

ومې ویل: هو، اوس خو ښه یم.

شارلوټ وویل: کاشکې یې زه هم قاهرې ته درسره لېږلای.

تر زنه مې لاس ورلاندې کړ او په موسکا مې ورته وویل: ورځ په ورځ ښکلې کېږې.

ویې ویل: د انګلستان اب و هوا ډېره ښه راباندې لګېږي.

مېرمن ډوریس ګراهام چې تېره شپه مې هم همالته لیدلې وه، دروازه راخلاصه کړه او ویې ویل:

- ځان چمتو کړئ!

ومې ویل: زه چمتو یم!

ویې ویل: نو مهرباني وکړئ زما سره راځئ!

په موسکو شونډو مې وویل: یوه دقیقه وخت راکړئ.

ویې ویل: ستاسې نارینه وو سره خو هر وخت د عشقبازۍ غم وي.

په خندا مې ورته وویل: داسې په پټه خوله هم مخه ښه خوند نه کوي.

ډوریس دروازه وتړله. شارلوټ تر غاړه لاسونه راکړی کړل او راپورې تال شوه. په غېږ کې مې ونیوله او پر شونډو مې ښکل کړه....

مېرمن ډوریس بیا ور پرانیست او ویې ویل: عاشقانه مخه ښه مو خلاصه شوې کنه؟

شارلوټ په ټیټ ږغ وویل: ورشه، ټول تا ته منتظر دي.

د مېرمن ډوریس په شتون کې مې یو ځل بیا د شارلوټ شونډې ښکل کړې او خدای پاماني مې ځنې واخیسته....

Download from: www.aghalibrary.com

الوتکه د ځغاستې پر کرښه الوتنې ته تیاره ولاړه وه. ډورچستر یې اړخ ته ولاړ وو.

ویې پوښتل: په څښې اخته وې؟

ومې ویل: له هغه نفر څخه مې خدای پاماني کوله چې تا رالېږلی وو.

ویې ویل: که د برتن پر ځای زه وای یوه ښځینه ماموره مې هم درسره استوله چې تر منزله دې ترنګ خوش وای. (۱)

ومې ویل: دا ستونزې اسانه هوارېدای شي!

د مخه ښې پر مهال یې راته وویل: د بریا په هیله دې!

الوتکې ته وختم... لاسي بیک مې پر یوه څوکۍ کښېښود. د الوتکې یوه ځوان کارکوونکي دروازه وتړله او وروسته یې په ځان پورې د پراشوټ په تړلو کې مرسته راسره وکړه. ګړی وروسته الوتکه روانه او پر پنځه باندې لس بجې له هوایي ډګره والوته.

●●●

ځانښت مهال الوتکه د قاهرې د یوه پوځي ډګر پر ځغاستکرښه کښېناسته. دا میدان د ښار سهېل لوېدیځ پلو ته په دېرش کېلومترۍ کې پروت وو. ستراتفورډ لاندې راته ولاړ وو. په داسې حال کې چې د یو و بل لاسونه مو سره کښېکښل، هغه راته وویل: باید یو څه وړاندې مو سره لیدلي وای!

ومې ویل: خبر شوی به یې چې ناروغ وم.

ویې ویل: په دې خبر یم چې له جرمني څخه تر راتښتېدو وروسته تر درملنې لاندې وې.

په پزه کې مې وخندل او ومې ویل: هغه ناروغي نه ښیم، تېره شپه مسموم شوی وم.

---

(۱) ترنګ خوش معنا سات تېرېدل، تو بیت برابرېدل.

Download from: www.aghalibrary.com

- اوس څنګه يې؟
- د اوس لپاره خو د دې ځای دې ګرمې هوا پاڅاب کړی يم.
ويې خندل او ويې ويل: کرار-کرار به ورسره روږدی شې.
کورتی مې وکښله، پر لاس مې واچوله او ومې ويل: داسې ښکاري چې بايد له ډېرو شيانو سره روږدی شم.
يوځای له ځغاستکرښې لږ ها پلو ولاړ تور موټر ته ور روان شوو. څو دقيقې وروسته له هوايي ډګره ووتو....
ومې پوښتل: کيسه څه ده؟
سټراټفورډ چې شټرنګ ته ناست وو، وويل: يو مهم ماموريت!
ومې ويل: ټول خفيه ماموريتونه مهم دي.
ويې ويل: دا هم له هماغې ډلې څخه يو دی. البته هدف مې ستا له خوا ترسره شوي ماموريتونه دي. له دې يوه څخه هم بايد بريالی راووزې.
موسکی شوم او ومې ويل: ښه به دا وي چې پر (بايد) کليمه ډېر زور رانوړې.
ويې ويل: دا کار مې په دې وکړ چې د (ماتې) کليمې کيسه کې نشې.
په موسکا مې وويل: زه حتا د (مرګ) کليمې کيسه کې هم نه يم.
د سترګو له کونجو يې راوکتل او ويې ويل: که داسې نه وای، نو له دومره ډېرو خطرناکو او مرګونو حادثو کله ژوندی راوتلای شوې. په زغرده وايم چې ته يو نه ماتېدونکی انسان يې طاهره!
د نيکټايي غوټه مې لږ سوسته کړه او ومې ويل: تر دې ټولو خبرو او ټوکو وروسته اوس زما د غښتلي سيال مکس پفلونک په اړه يو څه مالومات راکړه.
- ښه نو پېژنې يې.
- يوازې مې يې عجيب و غريب نوم زده دی، بس خلاص.
- نوم دې يې له برتن څخه واورېد؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: هو، خو نور مالومات يې رانکړل. وروستۍ خبره يې دا وه چې بايد ويې وژنم.

سټراټفورډ هماغسې چې سترګې يې په سرک کې وې، وويل: زما وروستۍ خبره هم همدا ده چې پفلونک ووژنه!

لنډه خندا مې وکړه او ومې ويل: ولې يو څه تخفيف ته دې زړه نه کېږي؟ مثلاً دا چې ژوندی يې راڅخه وغواړې؟

ويې ويل: مکس د جرمنيانو ډېر بلا، مکار او خطرناک جاسوس دی، ژوندی يې نشې نيولای.

ومې ويل: ښه خير مړ يا ژوندی، اوس دا راته ووايه چې هغه دی چيرې؟

- احمقانه پوښتنه دې وکړه.

- نه پوهېږم کوم ځای يې احمقانه وو!

ويې ويل: که يې ځای رامالوم وای، نو بيا مو ته له لندن څخه نه راخوارولې. خپله يې په داد رسېدلو او د ورانکاريو مخنيوی مو يې کاوه.

يوه شېبه چوپ شو، وروسته يې زياته کړه: ته خپله يې بايد پيدا کړې!

په پزه کې مې وخندل او ومې ويل: څومره په زړه پورې ماموريت!

ويې ويل: ستا هر ماموريت همداسې په زړه پورې دی!

ومې پوښتل: د مکس پفلونک په اړه دې مالومات څومره دي؟

سټراټفورډ سګرېټ ولګاوه او ويې ويل: د متحدينو د اتم غونډ تر برياليتوب او روميل د ځواکونو تر پرشاتګ وروسته زموږ څارګري ضد شبکه وتوانېده چې په بن غازي او قاهره کې د غليم دوې جاسوسي شبکې پيدا او له منځه يوسي. دغو دواړو شبکو په استانبول کې د جرمني له ستر څارګريز سازمان سره اړه لرله.

له سګرېټه يې لوخړه پورته کړه او زياته يې کړه: د افريقا له شماله د روميل د ځواکونو تر شړلو وروسته زموږ جاسوسي ضد سازمان پر دې تقريباً ډاډه وو چې

Download from: www.aghalibrary.com

هغه سیمې نور د کاناریس له څارګرو پاکې شوي دي. د وخت په تېرېدو سره مو دا یقین نور هم پوخ شو. مګر شاوخوا یوه میاشت مخکې له بن غازي څخه تریپولي ته پر لارې زموږ په پوځیانو او وسلو بار دوه ګاډي نابېره د ناڅرګندو وسلوالو تر برید لاندې راغلل. بریدګرو ټول سرتېري ووژل، وسلې یې ورسره یوړې او ټرکونه یې وسوځول.

ومې ویل: او هله مو نو سر خلاص شو چې جرمني څارګرانو لا هم کار کاوه او ستاسې ډاډ بېځایه وو.

سټراټفورډ وویل: زموږ ماموړانو ډېر کوښښ وکړ، خو له بده مرغه د بریدګرو هېڅ پته یې ونه لګوله. اخیر دې پایلې ته ورسېدل چې هغوی له یوې قبیلې سره تړاو درلود او یوازې یې د وسلو او مهماتو ترلاسه کولو لپاره دا کار کړی دی.

لږ رانېغ شوم او ومې ویل: او وروسته مو پام شو چې هغوی د جرمني څارګرو له خوا پارول شوي ول.

سټراټفورډ د سترګو تر ګوټو راوکتل او ویې ویل: اخیر په استانبول کې زموږ څارګر سازمان دا مالومه کړه چې د مکس پفلونک په نوم یو تکړه جرمنی جاسوس د شمالي افریقا په قبایلو ننوتلی او غواړي د هغو سیمو عرب قبایل د متحدینو پر ضد راوپاروي او زموږ ارتباطي کرښې رانارامه کړي. پر هغو دوو ګاډو د برید پلان هم همده جوړ کړی وو تر څو په دې وسیله عرب قبیلې وسلوالې کړي او خپلو نورو پلانونو ته لار هواره کاندي.

ومې ویل: په حقیقت کې د جرمني څارګرې شبکې مشر کاناریس مکس پفلونک ته د شمالي افریقا د بیا ناکرارولو ماموریت ورسپارلی دی. په بله ژبه دوی غواړي د متحدینو د مورچو څټ ته یوه بله جبهه پرانیزي او له دې لارې د ایټالیا په سهېل کې د امریکا او انګلستان د ځواکونو بریدونه او فشار کم کړي.

سټراټفورډ وخندل او ویې ویل: ته باید پوځي افسر وای!

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: په دې اوسنۍ دنده کې هم د یوه پوځي افسر رول لوبوم، یوازې په دې توپیر چې پلانونه مې د ستراتیژۍ له اړخه د پوځیانو تر هغو یو څه زیات پاخه دي.

- دا خبرې ډېرې مهمې دي.

- کومې خبرې؟

- همدا چې تا اوس د پفلونک د ماموریت په اړه وکړې.

- خو دا یوازې یوه انګېرنه وه.

ویې ویل: هر څه چې وه، خو باید پام ورته وشي.

ومې پوښتل: د پفلونک په اړه نور څه مالومات لرې؟

ویې ویل: زموږ مامورین یې د څرک پر لګولو نه دي توانېدلي. مالومداره چې کوم ثابت ځای نه لري او په اغلب ګومان یې ځان هم د عربانو غوندې جوړ کړی چې ونه پېژندل شي.

ومې ویل: زه که هم د هغه پر ځای وای همداسې مې کول او له همدې امله یې موندل هم ګران کار دی.

راته ویې کتل او ویې ویل: خو ته یې باید پیدا کړې او پسې ویې وژنې.

لنډه خندا مې وکړه او ومې ویل: او وروسته یې هم جسد تا ته دروسپارم.

ستراتفورډ بېله سریزې وپوښتل: د واسموس نوم دې اورېدلی؟

دې پوښتنې یې حیران کړم، ورته ومې ویل: که دې موخه په لومړي نړیوال جنګ کې هماغه مشهور او بلا جرمنی څارګر وي، نو هو، هم مې یې نوم اورېدلی او هم یې د کار ډول رامالوم دی.

- د هغه په اړه ستا مالومات څه دي؟

- د ژوند او کاري ډول په اړه مې یې یو پوره کتاب لوستی دی.

- د هغه کتاب پر رښتینولۍ باور لرې؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې پوښتل: واسموس څنګه دریاد شو؟... په دې پوښتنه د څښي ثابتول غواړې؟
ویې ویل: وروسته درته وایم، اوس مې سوال راځواب کړه.
په خلق تنګۍ مې ورته وویل: هو، بالکل پر باوري یم. کله چې د لندن په پوځي روغتون کې بستر وم، ډګروال مېسن دوه کتابونه راکړل چې یو یې د واسموس په باره کې وو. تر دې وړاندې مې هم لږ و ډېر مالومات په لرل، مګر د کتاب تر لوستلو وروسته مې لا ښه وپېژاند. اوس خبر یم چې مرحوم واسموس د ایران په سهېل او منځني ختیځ کې د انګرېزانو پر وړاندې کار کاوه او هغوی یې پر سر انعام ایښی وو.
یوه شېبه چوپ شوم، وروسته مې زیاته کړه: واسموس یو ځل د انګرېزانو په لومه کې ولوېد، خو کومو کسانو چې نوموړی یې نیولی وو، ونه پېژاند او په بیدارۍ و چالاکۍ ترې وتښتېد. وروسته یې د ځان د لا خوندیتوب لپاره د ایران په سهېل کې د یوه اخوند له لور سره واده وکړ او بیا د جنګ تر پایه ونه نیول شو.
تر یوه لنډ ځنډ وروسته مې وپوښتل: که یې د اورېدو زغم لرې، ګرده کتاب درته تېرولای شم.
سټراټفورډ موسکی شو او ویې ویل: زما په خیال تودوخې ګنګس کړی یې.
ومې خندل او ومې ویل: تودوخې او ستا سوالونو دواړو ګنګس راځخه جوړ کړی دی، ځکه خدای خبر د واسموس له خاورې شویو هډونو څه غواړې او څنګه په دې اهاړ کې دریاد شو!
په موسکو شونډو یې وویل: خو ودې نه ویل چې د سهېلي ایران په قبایلو کې د واسموس د ځان ځایولو وسیله څه وه؟
سګرېټ ته مې تیلی وواهه، ترې کش کړی لوګی مې یې له کړکۍ دباندې پو کړ او ومې ویل: اشاره دې د سرو زرو هغو مارکونو ته ده چې نوموړي بې خرته وېشل؟

Download from: www.aghalibrary.com

راوېږي کتل او وېږي ويل: همدا مې غوښتل چې هغه....

خبرې مې يې ورغوږ کړې او ومې ويل: ته په دې پسې يې چې د واسموس او پفلونک د عملياتو ترمنځ يوه مشترکه وجه پيدا کړې؟

وېږي ويل: پفلونک د واسموس نوې بڼه ده. زما په اند هغه د واسموس پر پلونو روان دی او د هغه له پلانونو څخه په الهام ځان د قبايلي مشرانو په زړونو ورننه ايستل او د يوې خونړۍ جګړې پيلول غواړي.

ومې ويل: په ټوليز ډول دې پايلې ته رسېږو چې پفلونک د کاناريس له خوا د ترلاسه کېدونکو بې حده پيسو په زور غواړي شمالي افريقا کې د يوې نوې جګړې سر کښېږدي او د ايټاليا له سهېلي غاړو څخه د متحدينو نيم ځواکونه هغې خوا ته ورستانه کړي.

سټراټفورډ ورو غوندې سر وښوراوه او وېږي ويل: او اوس بايد ته د هغه په وژلو سره د جرمني د څارګر سازمان ټول پلانونه په اوبو لاهو کړې.

- او که ونه توانېدم، نو خپله به له منځه ځم.

- دا خبرې اورېدل نه غواړم.

- له پامه هم بايد ونه غورځول شي.

وېږي ويل: دا ماموريت ستا د جرمني تر هغه ډېر اسانه دی.

ومې پوښتل: له کومه ځايه يې بايد پيل کړم؟

شونډې يې موسکۍ شوې او وېږي ويل: بيا هم هماغسې احمقانه پوښتنه. يو ځل خو مې درته وويل چې پفلونک مالوم ځای نه لري. زموږ مامورين يې هم پر ځرک لګولو نه دي توانېدلي.

ومې ويل: لږ تر لږه دومره حدس خو به وهلای شې چې په کومه قبيله ممکن ننوتلی وي؟

- زما په خيال له بن غازي يې بايد پيل کړې.

Download from: www.aghalibrary.com

- یا هم د هغې پېښې له ځایه.

په حیرانتیا یې راوکتل او ویې پوښتل: کومه پېښه؟

لنډ مې وخندل او ومې ویل: هماغه د دوو په وسلو او سرتېرو بار ټرکونو دا.

خندا واخیست... ویې ویل: بس پر رسېدو یو، تر غرمنۍ وروسته به سره وږغېږو.

ومې پوښتل: د پفلونک څو ډوله عکسونه لرې؟

- یو بشپړ او یو نیم تنه.

- دواړه باید ووینم.

ویې ویل: عکسونه او د نورو ځانګړو نښو په اړه مالومات به ټول درکړم.

ومې ویل: په تېره ځانګړې نښې یې بیا ښځې اړینې دي.

په خولو لوند مخ مې لاس راتېر کړ او ومې ویل: کیسه لا پېچلې شوه.

- د عملیاتو پلان باید خپله جوړ کړې.

- سمه ده، مګر په دې شرط چې ټول اړین مالومات راکړې.

ویې پوښتل: مثلاً څه ډول مالومات؟

ومې ویل: له هغو ټرکونو څخه د لوټل شویو وسلو او مهماتو ډول او نورې ځانګړنې.

ویې پوښتل: ستا په خیال په دې ډول به پفلونک پیدا کړای شې؟

اوږې مې پورته واچولې او ومې ویل: ښایي!

- تېروتنه کوې.

- تا ویل چې د عملیاتو پلان باید زه جوړ کړم.

- هو، هېڅ مې فکر نه وو.

ومې پوښتل: ته په هوټل کې اوسې؟

ویې خندل او ویې ویل: هو، مګر هلته ستا لپاره تشه کوټه نشته.

- له دې خبرې څخه دې مطلب څه دی؟

Download from: www.aghalibrary.com

- مطلب مې دا دی چې تر غرمنۍ خوړلو وروسته باید حرکت وکړې.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: خو دا چې چیرې باید ولاړ شم، مالومه نه ده. ته هم له مالوماتو راکولو ځان کاږې.

ویې ویل: زه یوازې اړین وسایل درسپارم.

ومې ویل: یوازې وسایل بسنه نه کوي.

ویې خندل او ویې ویل: زغم له لاسه مه ورکوه، د وخت په راتلو سره به اړین مالومات هم درکړم.

سټراټفورډ موټر ډېر تېز ځغلاوه او ښار ته په پنځلسو دقیقو کې ورسېدو. لومړی ځل وو چې قاهره مې لیده. ګڼه ګوڼه ېې خي پکې زیاته وه. تر څو واټونو تېر او یوه څلورلارې ته ننوتو او تر هغې وروسته د اطلس نامې هوټل مخې ته له موټره کښته شوم.

هوټل ته له ننوتلو سره سم د هغه ځای سړې هوا راتازه کړم. سټراټفورډ وویل: هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې له تودوخې سره به دومره حساسیت ولرې.

ومې ویل: سره له دې چې په یوه ګرمسېره سیمه کې زېږېدلی یم، بیا مې هم تودوخه له کاره باسي.

ویې ویل: اوس نو باید ځان ورته ټینګ کړې.

ومې ویل: هم تودوخې او هم نورو ډېرو شیانو ته.

سټراټفورډ په لغاز وویل: پام چې ډېره شیطاني ونکړې، سر خو به دې خلاصېږي؟

موسکی شوم او ومې ویل: هغسې شیطانۍ د معما له حلولو سره خورا ښه مرسته کوي.

ویې ویل: ستا یوازنۍ کمزورې پر ښځو ژر ګرمېدل دي.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: ما ته خپله بیا همدا زما یوه ځواکمنتیا ښکاري.

- ته په خپلو کارونو ښه پوهېږې.

Download from: www.aghalibrary.com

- نو بيا نصيحت راته ونکړې.

د غرمنۍ پر مهال مو پر داسې موضوعاتو خبرې سره وکړې چې زما له ماموريت سره يې اړه نه لرله. د ماپښين شاوخوا دوې بجې له اطلس هوټل څخه يوې پوځي اډې ته چې د ښار په شپږ کېلومترۍ کې پرته وه، ولاړو. د اډې ټولې ودانۍ له لرګې جوړې او يوپوړيزې وې. د سټراټفورډ کارځاى په هماغو ودانيو او د اډې په زړه کې پروت وو.

هلته يې د مېز له جابې څخه د مکس پفلونک دوه عکسونه راوايستل، ما ته يې راکړل او ويې ويل: دا عکسونه په ۱۹۴۱م کې ځنې اخيستل شوي دي، له شک پرته به يې په څېره کې ډېر بدلون راغلى وي.

هماغسې چې سترګې مې په عکسونو کې وې، ومې ويل: يا هم ښايي ډېر لږ تغير پکې راغلى وي.

ويې ويل: ته عکسونه ګوره، زه ځم چې د مخابرې خونې ته يو سر ورايسته کړم.

له کوټې ووت... د پفلونک څېره مې ډېره دقيقه په ياد کړه. ګردى غوښن مخ يې درلود. ښويو سپينو ويښتانو او ارامو کتو يې څېره د جاسوس پر ځاى د پوهنتون يوه استاد ته ورته کړې وه. هغه څه چې په عکس کې تر نورو د سړي پام ژر وراوښت، د زنې چاک يې وو. مګر دا داسې يوه نښه نه وه چې د هغه په پېژندلو کې يې مرسته کړې واى، ځکه نژدې ډاډه وم چې په څېره کې د بدلون راوستلو لپاره يې خامخا ډيره هم اوږده کړې ده.

د سټراټفورډ د مېز له سره مې يو پنسل راواخيست او عکس ته مې يې ډيره ورکړه. غوښتل مې سوچې مخ يې هم ووينم. پر سترګو مې يې هم تورې عينکې ور رسم کړې. انتيکه څېره يې خپله کړه.

سټراټفورډ راوګرځېد... د پفلونک تصوير مې وروښود او ورته ومې ويل: زموږ ښکار بايد دې ته ورته يوه څېره ولري.

Download from: www.aghalibrary.com

هماغسې چې سترګې يې په تصوير کې وې، ويې ويل: عجيب شی دې څنې جوړ کړی دی.

- اوس بايد د دغې بڼې په څېښتن پسې وګرځم.

- يوازې همدومره نه.

ومې پوښتل: د غلا شويو وسلو د نمونې د راوړلو دې ورته وويل؟

ويې ويل: څو دقيقې وروسته به يې راوړي.

- د پفلونک په اړه نور مالومات نه لرې؟

- دلته مې د همدې لپاره راوستې.

- ښه نو بسم الله کړه!

ستراتفورډ وويل: د پفلونک تر ټولو په زړه پورې ځانګړنه دا ده چې پنځه ژبې يې ډېرې ښې زده دي. عربي و تورکي خو يې ښېخي لکه مورنۍ داسې دي. سګرېټ نه څکوي او له شرابو سره يې هم نه ده جوړه. چې زړه دې غواړي هغومره ظالم او ډېرزړی دی.

ومې ويل: له عکسه ډېر ارام او خوش طبعه سړی ښکاري.

ويې ويل: همداسې ده. په ښکاره ارام او خوش طبعه دی. دغه راز پوهنتونې زدکړې يې هم کړې دي. په لومړۍ نړېواله جګړه کې يې د جرمنۍ امپراتورۍ لپاره په عربي هيوادونو کې جاسوسي کوله. هغه وخت ډېرش کلن وو او د ايران سهيلي سيمو ته د واسموس تر لېږدېدو مخکې يې له هغه سره يو کال ګډ کار کړی دی.

ومې ويل: نو څرګنده شوه چې د واسموس تر لاس وتلی ځارګر دی.

ويې ويل: له همدې امله مې د واسموس په اړه پوښتنه درڅخه وکړه.

ومې پوښتل: ايا له ښوی مخلوق سره يې جوړه ده کنه؟

ستراتفورډ وويل: چنداني نه، له ښکلو ښځو اکثره لېرې ښوري.

Download from: www.aghalibrary.com

- کوم شیان یې ډېر خوښېږي؟
- چای، تورکۍ قهوه او کلاسیکه موسیقي.
ومې پوښتل: څو واره یې واده کړی دی؟
ویې ویل: لومړۍ مېرمن یې د ۱۹۳۹م په منځ کې طلاقه کړه او تر هغه راوروسته یې بیا واده نه دی کړی. اولادونه هم نه لري.
لنډه خندا مې وکړه او ومې ویل: داسې سړی چې نه سګرېټ څکوي، نه شراب څښي او نه له ښایستو ښځو سره غرض لري، سخت بدذوقه دی او بېله مرګه بل د هېڅ ښې نه دی.
سټراتفورډ وویل: بد نظر نه دی، خو پام دې وي چې همدا ستا په اند بدذوقه او ناکاره سړی نن سبا په شمالي افریقا کې د جګړې اور ته لمن وهي.
ومې ویل: او زموږ اداره هڅه کوي چې له دې کاره یې راوګرځوي.
سټراتفورډ په محکم انداز وویل: یوازې و یوازې د مرمۍ په وسیله راګرځول کېدای شي او بس.
غوښتل مې یو څه ووایم چې دروازه وټکېده. سټراتفورډ ورولاړ شو. یو انګرېز تورن له څو میله وسلو سره خونې ته راننووت. وسلې یې پر مېز کښېښودې. یو میل توپک، دوې دانې توپنچې او یو میل هاوان وو. کټمټ همدغسې وسلې په سیدالموت سیمه کې چور شوې وې. توپک مې راواخیست او سریال نمبر ته مې یې وکتل. ام.اف.۵۶ ډوله او د هماغه زاړه انګرېزي پنځه ډزي توپک په ډول وو چې په لومړي نړیوال جنګ کې کارېدی. توپنچې یې هماغه وې چې لوړپوړو انګرېز افسرانو کارولې او هاوان یې نوی وو چې اول ځل اتم غونډ په شمالي افریقا کې استعمال کړ.
یوه توپنچه مې راپورته کړه او سټراتفورډ ته مې وویل: دا زه راسره اخلم.
ویې پوښتل: مرمۍ یې هم غواړې؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې خندل او ومې ویل: بې مرمیو وسله نو سرې څه کوي.
ویې پوښتل: دا نور دې نه دي په کار؟
ومې ویل: نه.
سټراتفورډ ولاړ شو، تورن ته یې مخ کړ او ورته ویې ویل: زما سره راځه.
هغه هم پاته وسلې واخیستې او په سټراتفورډ پسې ووت... څو دقیقې وروسته سټراتفورډ بېرته راستون شو، سل د توپنچې مرمۍ یې راکړې او ویې ویل: دا یې هم ستا ګولۍ!
ومې پوښتل: زما د هویت د اسنادو په اړه دې څه فکر کړی دی؟
ویې ویل: ته یو مستعفي پوځي یې او دالمار ژیلوم نومېږې. پر یاد کس خورا له پېښو ډک ژوند تېر شوی او اوس په کار پسې ګرځي.
وروسته یې د مېز جابه راکش کړه، یو پاکټ یې ځنې راوکیښ، ما ته یې راکړ او ویې ویل: او دا یې هم ستا د هویت اسناد. په دغه پاکټ کې هغه استعفالیک هم پروت دی چې د ټولۍ قومندان دې لاسلیک کړی دی. اوس نو که بل هر شي ته اړتیا لرې راته ووایه چې دربرابر یې کړم.
هویتپاڼې مې سره واړولې راواړولې. وروسته مې وپوښتل: اصلي دالمار ژیلوم ژوندی دی که مړ؟
ویې ویل: مړ دی.
ومې ویل: دا پاڼې او ستا جوړه شوې کیسه یومخ بې مانا شیان دي.
په حیرانۍ یې وپوښتل: دا څه وایې؟ توکې خو به نه کوې!
پاڼې مې پر مېز کېښېښودې او ومې ویل: نه، جدي وایم. یو څه پر ځان زور راوړه، سر دې خلاصېږي.
- د دې کیسې کوم ځای جعلي او پوچ درته ښکاره شو؟
- له سره تر پایه.

Download from: www.aghalibrary.com

سټراټفورډ په نارامۍ ووېل: مکس پفلونک په تا غونډې د جګړه ييز شاليد لرونکو خلکو پسې ګرځي. دغه لقب تا ته د هغه په ډله ننوتنه اسانوي.
بزه کې مې وخندل او ومې ويل: که فرضاً د پفلونک په ډله کې داخل هم شم، بيا هم يوازې به د يوه کرايي جګړه مار دنده ولرم او په هېڅ وجه به مکس پيدا نکړای شم، اخير به هم له شک پرته راباندې شکمن شي. يو مستعفي پوځي، تل يوازې يو پوځي دی او بايد وجنګېږي. خو زموږ موخه بل څه ده. زه بايد مکس پيدا کړم، خو دا کار د دغو پانو په وسيله ناشونی دی.
- ستا په نظر بايد څه وشي؟
- د دالمار ژيلوم مستعار نوم سهي دی، خو لقب يې نه کوم.
- او ستا وړانديز څه دی؟
ومې ويل: دالمار ژيلوم-ياني زه-د شمالي افريقا په جګړو کې ډېره وسله او مهمات ترلاسه کړي او ببلابېلو ځايونو کې پټ کړي دي او اوس په يوه شتمن رانيوونکي پسې ګرځي. نوموړی يوازې نه دی، دوه نور شريکان هم لري.
تر لنډکي ځنډ وروسته مې وپوښتل: څه پکې وايې؟
موسکی شو او ويې ويل: نقشه دې نامي ده، مګر يو ټکی بايد روښانه شي. هغه دا چې فرض کړه د همدې پلان په مټ له پفلونک يا هم مرستيالانو سره يې پر اړيکه نيولو بريالی شوې يا هم هغوی درپسې راغلل او درڅخه ويې پوښتل چې دا وسلې و مهمات دې له کومه ځايه راوړي، څه ځواب ورکوې؟
ومې ويل: ډېر ښه؛ ما او دوو شريکانو د شمالي افريقا په جګړو کې له ښکېلو غاړو څخه غلا کړي او يا مو هم د ټوپک په زور ولکه کړي دي.
- ستا په خيال زړه ته به يې واچوي؟
- مالومداره به يې واچوي.
سټراټفورډ ووېل: ما ته خپله هغه مستعفي پوځي غوره پر ښکاري.

Download from: www.aghalibrary.com

لږ سوچ مې وکړ او وروسته مې وویل: سهي ده. مستعفي پوځي دالمار ژیلوم چې اوس وسله پلورونکی دی.

- اوس مې زړه پر پوهښتې شو.

- ته نو ناکې اندېښمن وې.

- نو د هویتپانو بدلولو ته اړتیا نشته؟

ومې ویل: نه، خو زما د اړتیا شیان باید راپیدا کړې. یو څو میله جرمني توپکان او توپنچې له مرمیو سره.

سټراتفورډ وویل: زما په خیال جرمني توپکان به همدلته ولرو.

ومې ویل: دغه راز داسې یو کس هم په کار دی چې په تونس یا لیبیا کې اوسي او زما شریک وي.

ویې ویل: زموږ یو خپل مامور د تونس پولي فورټ سنټ یا د لیبیا په سهېل کې یو ځای ته استوم.

ومې پوښتل: هغه مامور اوس چېرې دی؟

- همدلته قاهره کې. اوس ټلیفون ورکوم او راغواړم یې.

- څه نومېږي؟

- طارق.

- د کوم ځای دی؟

- د طبرق.

ومې ویل: دا خو تیار کار شو. اوس مې نو پر خپل بریالیتوب یقین پوخ شو.

سټراتفورډ وویل: ما هم ویل چې یو صحرایي شریک به درته ښه وي.

ومې ویل: ونیسه کارونه ژر-ژر سره خلاص کړه.

- ته همدلته اوسه چې زه د هوایي ډگر له قومندان سره وړغېږم.

سټراتفورډ یوازې پرېښودم. هویتپانې مې په ځیر وکتلې. وروسته مې پر جوړه کړې

Download from: www.aghalibrary.com

نقشه بیا غور وکړ چې د کمزوریو چاره یې وروکړم... ډېر ورته هیله من وم، څکه داسې سامانونه مې خرڅول چې مکس پفلونک او د هغه تر لاس لاندې عرب قبایل پسې ګرځېدل. هغوی وسله غوښته چې په شمالي افریقا کې د جرمني څارګر سازمان پلان پلی او جګړه بیا پیل کړي. دا یوه خورا دقیقه سنجول شوې نقشه وه، څکه په شمالي افریقا کې د جګړې پیلېدو د متحدینو هغه ځواکونه ځان ته ورکښل چې اوس د ایټالیا په سهېل کې پراته ول او په دې ډول د جرمني پر اروپا مېشتو قوتونو فشار کمېدی.

زما دنده دا وه چې د مکس پفلونک په وژلو سره د جرمنیانو پورتنی پلان شنډ کړم.

شاوخوا نیم ساعت وروسته سټراټفورډ راستون شو او ویې ویل:

- شل میله جرمني او انګرېزي توپکان، لس دانې توپنچې او زر مرمۍ مې درته بېلې کړې دي. دغه راز څو دقیقې وروسته به طارق هم راورسېږي.

ومې ویل: کارونه ډېر په چټکۍ روان دي.

لنډه خندا یې وکړه او ویې ویل: دا ستا د بریا نښه ده.

- ډېر هیله من سړی یې.

- ستا بریا ته خو بیا بېخي هیله من یم.

- نو باید نهیلی دې نکړم.

د لیبیا یوه بشپړه او تفصیلي نقشه یې پر مېز وغوړوله او ویې ویل: راشه تر نظر یې وباسه!

فورسنټ ښار مې په ځیر وکوت. یاد ښار د تونس د سهېل ختیځ په پای کې او د لیبیا له پولې سره نښتی پروت وو. دا ځای مې څکه د طارق د لنډمهالې استوګنې لپاره ور ونه باله چې د شمالي افریقا د جګړې پر کرښه پروت نه وو. سټراټفورډ د مرزوق په نوم د لیبیا یوه مرکزي ښار ته ګوته ونیوله او ویې پوښتل: دا ځای څنګه دی؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: سکنا ښار پر نامي دی.

همدا ښار يې راسره ومانه او پرېکړه پر دې شوه چې طارق به له زیات شمېر انګرېزي، جرمني او ایټالوي توپکانو او توپنچو سره هلته لېږل کېږي.

د سکنا، بن غازي او تریپولي ترمنځ د ارتباطي لارو پر کتنه بوخت وو چې طارق رانئووت. يو توربخن او زما همزولی ځوان وو، خو ډېر غښتلی اندام یې درلود. ونه يې ان تر ما لا لږ لوړه وه او زما د جوړې شوې نقشې پر شرایطو برابر وو.

سټراټفورډ زه و هغه يو و بل ته سره وروپېژندلو او په خندا يې وويل: ستاسې دواړو د نومونو ورته والی په نېک فال نیسم.

طارق موسکی شو او ويې ویل: ستاسې فال ناسم دی، ځکه زما و طاهر څېرې سره ورته نه دي.

د طارق پر اوږه مې لاس کښېښود او ومې ویل: مهمه نه ده، ځکه فکرونه او نظرونه مو سره یو دي او د یوې موخې لپاره کار کوو. د بریالیتوب په صورت کې ستا ونډه تر ما زیاته ده.

سټراټفورډ په ټوکو وويل: داسې ښکاري چې ما ته به هېڅ برخه راونه رسېږي.

موسکی شوم او ومې ویل: ستا برخه د پفلونک لاښ دی چې زه به يې خپله دروسپارم.

طارق وپوښتل: کیسه څه ده؟

سټراټفورډ زما د ماموریت په اړه مالومات ورکړل او وروسته يې د ده د لنډمهالي استوګنې ځای یانې سکنا ښار، پر نقشه وروښود.

له طارقه مې وپوښتل: دا ښار دې لیدلی دی؟

ويې ویل: تر جګړې وړاندې مې همالته د یوه ایټالوي انجنیر تر لاس لاندې څو میاشتې کار کړی دی.

سټراټفورډ راته مخ کړ او ويې وښتل: دا شل میله وسله خپله درسره وړې؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: زه و طارق دواړه ټولې وسلې راسره اخلو او یوځای بن غازي ته په الوتکه کې ځو. له هغه ځایه طارق د وسلو له سندوخونو سره مخ پر سکنا حرکت کوي او زه همالته پاتېږم. ته یوازې بن غازي کې د یوه ترک چاره وکړه چې طارق وسلې پکې ولېږدوي او بیا زموږ د ماموریت تر پای ته رسېدو منتظر شه.
سټراټفورډ وپوښتل: بل شی خو مو نه دی په کار؟
ومې ویل: د اوس لپاره نه.
طارق وویل: زما هم شی نه دی په کار.
سټراټفورډ وویل: تاسې دواړه باید یوه-یوه مخابره درسره وساتئ.
ومې ویل: مخابرې ته اړتیا نه لرم.
ویې ویل: نو باید په بن غازي کې زموږ شته مرکز ته حال ورکړې چې بیا یې هغوی دې خوا ته رامخابره کړي.
یو څه فکر مې وکړ، وروسته مې وویل: مګر زه نه غواړم د ماموریت تر پای ته رسېدو مخکې ستا سره اړیکه ونیسم، ځکه که سودا سُر ونیو، نو بیا له شک پرته مې تر ښار لاندې هم نیسي تر څو ځانونه ښه پوره ډاډه کړي.
تر لنډکي ځنډ وروسته مې ادامه ورکړه: د بریالیتوب په صورت کې به مې اول کار اطلس هوټل ته د یوه ټیلګراف رالېږنه وي. متن به یې داسې وي:
«سږ کال د خرما حاصل خوندور دی.»
سټراټفورډ وویل: ډېر سرزوره سړی یې.
ومې ویل: موږ څه خبر یو چې یوازې به مکس پفلونک په قبایلو کې پر ښارګرۍ بوخت وي، ښایي نور جرمني جاسوسان هم وي. په هر حال زموږ تاسې تماس مو په خیر نه دي.
سټراټفورډ وویل: همدا نن شپه باید وخوځئ.
په خندا مې وویل: ته د لېږدوونکې وسیلې غم وخوره، موږ چمتو یو.

Download from: www.aghalibrary.com

د مازيگر شاوخوا شپږ بجې مهال څلور سندوخه توپکان چې هر يوه کې يې پنځوس پنځوس ميله پراته ول، دوه سندوخه مرمۍ او درې سندوخه سپک ماشينداران بن غازي ته د وړلو لپاره اماده شول. سندوخونه له پوځي اډې څخه يوه نظامي هوايي ډگر ته ولېږدول شول.

هوا يومخ تياره شوې وه چې مخ پر هوايي ډگر وخوځېدو. شل ميله توپکان، لس دانې توپنچې او يو څه مرمۍ موږ راسره راواخيستې. دا هغه وسلې وې چې ما په بن غازي کې د نمونې په ډول له ځان سره ساتلې تر څو پېرودونکو ته يې وروښودلای شم.

الوتکې ته د ختلو پر مهال ستراتفورډ لاس راکړ او ويې ويل: وروستۍ خبره مې درته دا ده چې....

په خبرو کې يې ورولوېدم او ورته ومې ويل: پوهېږم چې څه راته ويل غواړې؛ مکس پفلونک ووژنه!...

ورو يې سر وخوځاوه او ويې ويل: ويې وژنه او دا کيسه ختمه کړه!

په ټوکو مې ورته وويل: هڅه کوم لاش يې په چټکه پوسته کې درته راولېږم.

- بريالی اوسې.

- د بيا ليدو په هيله.

الوتکې ته ننوتم. طارق چې تر ما مخکې راختلی وو، وپوښتل: ستراتفورډ څه ويل؟

پر اوږده څوکۍ يې ارخ ته کښېناستم او ومې ويل: له پفلونک سره يې عجيب حساسيت پيدا کړی دی.

طارق وويل: ستراتفورډ تل همداسې دی. چې يو پلا يې يو شي ته پام شي، دومره ډېر پر ږغېږي چې د سړي زړه خولې ته راولي.

لنډه خندا مې وکړه او ومې ويل: اوس ته د هغه غونډې نشې!

Download from: www.aghalibrary.com

له څوکۍ څخه پاڅېد، تیارسۍ ودرېد او ویې ویل: ما ته امر شوی چې د طاهر امرونه عملي کړم!
وروسته کښېناست او ویې خندل... پر اوږه مې لاس ورکښېښود او ومې ویل: ما و تا سره ملګري او همکاران یو بس خلاص.
الوتکه پر ځغاستکرښه په منډه شوه... او څو دقیقې وروسته والوته. ساعت ته مې وکتل د شپې اته نیمې وې.

●●●

الوتکه له قاهرې څخه بن غازي ته نژدې یونیم ساعت په هوا کې وه. قصداً مو د الوتنې لپاره شپه ټاکلې وه، ځکه غوښتل مو له تیارې څخه په ګټه اخیستنه او ډاډه زړه د وسلو سندوخونه سکنا ته ولېږدوو.
نژدې د شپې پر لس نیمې بجې مو الوتکه د بن غازي بندر په پوځي هوايي ډګر کې کښېناسته. څو دقیقې وروسته یې دروازه خلاصه شوه، یو د منځني عمر لرونکی کس راننووت او ځان یې په ډګروال لاکستېر راوپېژاند.
موږ ورته پاڅېدو. ما ځان او طارق وروپېژاندل او وروسته مې ترې وپوښتل:
- کارونه سم روان دي؟
ډګروال وویل: هر کار چې مو وي درته وبه یې کړم.
ومې پوښتل: ټرک تیار دی؟
ویې ویل: هو، په ډېر زحمت مو یو دانه پیدا او کرایه کړ.
- اوس چیرې دی؟
- خپل پوځي مرکز ته مو بوت او ډېر ژر مو یې رنګ ور بدل کړ.
- ځای یې لرې له سترګو پټ او خوندي دی؟
- ټول کارونه مو په پرده کې کړي دي، له دې اړخه بېغمه اوسه.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: ته اوس د یوې وسیلې بندوبست وکړه چې دا سندوخونه مرکز ته پکې ولېږدوو.

ډګروال لاکستېر یوه ورسره ملګري افسر ته وویل چې چټک مرکز ته زنګ ووهي او یو پوځي ټرک راوغواړي.

وروسته یې ما ته مخ کړ او ویې پوښتل: بل شی خو به مو نه وي په کار؟

ومې ویل: مرکز ته چې ورسېدو بیا به د نورو شیانو غم وخورو.

ټول باندار مو په الوتکه کې دننه وکړ. زما هڅه دا وه چې همدا نن شپه طارق له سندوخونو سره یوځای سکنا ښار ته واستوم.

شاوخوا د شپې پر یوولس نیمې بجې ټول سندوخونه له الوتکې څخه ټرک ته ولېږدول شول. د ټرک تر حرکت څو دقیقې وروسته موږ هم له هوایي ډګره مخ پر پوځي اډه وخوځېدو.

اډې ته له رسېدو سره سم سیده د هغه کرایي ټرک ځای ته ورغلو. لاکستېر وپوښتل: ایا همدا ټرک مو په درد خوري؟

ومې ویل: هو، مننه. تر دې ښه نو نه پیدا کېږي. لطفاً ورته ووایه چې سندوخونه پکې سره ځای پر ځای کړي.

طارق په ټیټ اواز راته وویل: یوه بل کس ته مو هم اړتیا شته.

ومې ویل: ډګروال لاکستېر به یې راپیدا کړي.

کرایي ټرک ته د سندوخونو تر لېږدېدو وروسته مې لاکستېر ته مخ کړ او ترې ومې غوښتل چې د مرکز یو تورپوسته کارکوونکی زموږ په واک کې راکړي.

لاکستېر وپوښتل: دا کس باید څه ځانګړنې ولري؟

ومې ویل: څېره یې باید دومره زیږه او خشنه وي چې له ورایه خطرناک ښکاره شي.

ویې ویل: دې کار ته تورن ګیبسن چې د سهېلي افریقا اوسېدونکی دی، خورا ښه

Download from: www.aghalibrary.com

جوړېږي. هغه به په لاس درکړم.
څو دقيقې وروسته تورن گيبسن چې يو موټور خشن څوان وو، راوپېژندل شو...
د نوموړي سر مو په هغه کار ټينگ ورخلاص کړ چې بايد کړی يې وای او بيا مې ورته وويل چې پوځي جامې وباسي او تگ ته ځان ته چمتو کړي.
لاکسټر راته مخ کړ او ويې ويل: ايا پوښتلای شم چې دا ټرک چيرې ځي؟
ومې ويل: ولې نه. دا ټرک طارق او گيبسن اخلي او مخ پر سکنا ښار روانېږي.
ډگروال وويل: خطرناکه لار ده ولا، په ټېره بيا د شپې له خوا.
ومې پوښتل: له خطر څخه دې موخه د لاروهونکو شتون دی؟
ويې ويل: هو، که دې خوښه وي يو موټر عسکر به هم ورسره ولېږم.
ومې ويل: نه ډگروال صاحب. دا ټرک بايد همدا نن شپه هغه هم يوازې ولاړ شي. که عسکر په پسې کړو، نو د لاروهونکو د بريد خطر لا ډېرېږي.
ډگروال وويل: نور ستا خوښه ده، ما بايد خپل مسووليت ادا کړی او له شته خطره مې خبر کړی وای.
ومې ويل: مننه. زما مسووليت بيا دا دی چې دغه سندوخونه همدا نن شپه بايد سکنا ته ورسېږي.
لاکسټر لنډه خندا وکړه او ويې ويل: ډېر سرزوره سړی يې.
ومې ويل: ته خپله يو جنگېدلی پوځي يې او ښه پوهېږې چې استخباراتي او پوځي ماموريتونه ځانته خپل اصول او مقررات لري چې نه بايد په هيڅ وجه له پامه وغورځول شي او نه هم دغسې احتمالي خطرونو ته ځان تسليم شي. دا ماموريت بايد خامخا ترسره شي.
ويې پوښتل: بل شی-مي مو په کار دی؟
ومې ويل: دا پوښتنه بايد طارق ځواب کړي.
طارق وويل: فکر نه کوم بل شی مو دې په کار وي.

Download from: www.aghalibrary.com

ورته ومې ویل: ښه سوچ وکړه.
اوږدې یې وځنډلې او ویې ویل: کوم شی مې ذهن ته نه راځي.
لاکسټر ته مې مخ کړ او ومې ویل: که څه هم پوهېږم دا کار ستونزمن دی، مګر بله چاره نشته. د وسلو سندوخونه باید پټ کړل شي او زما په اند د غنمو ګونی به ښه انتخاب وي.
لاکسټر په خندا وویل: که د غنمو پر ځای وربشې وي پروا خو نه لري؟
ومې ویل: حتا د جوارو اوړه لا پروا نه لري.
ویې ویل: بس اوس یې دستې کار درکوم.
څه باندې دوولس بجې وې چې په ټرک کې پنځوس د وربشو ګونۍ کېښېښودل شوې. هر څه چمتو شول. طارق او ګیبسن ته مې لاس ورکړ او د بریا هیله مې یې وکړه.
د اډې له دروازې څخه د ټرک تر وتلو وروسته لاکسټر وویل: خدای دې وکړي چې ستا او هغوی ماموریت په خیر سره بریالی شي.
ومې ویل: اجازه راکړه د همکاریو له امله مننه درڅخه وکړم.
- دا زما دنده وه.
- موږ ټول د بریا لپاره ګډ جنګېږو.
- یو ګیلاس قهوې ته دې هوا نه کېږي؟
ومې ویل: ستا بلنه پر سر سترګو، مګر لومړی باید یو بل ډېر اړین او په ما پورې تړلی کار وکړم.
دګروال وویل: دغو ټولو کارونو په تا پورې اړه لرله کنه؟
په موسکا مې وویل: خو دا یو شخصاً په ما پورې اړه لري. داسې یې وبوله چې د راسپارل شوي ماموریت نبض دی.
ویې پوښتل: ایا مرسته درسره کولای شم؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: دواړه یوځای پر ورځو.

- چېرې؟

- له ښاره دباندې.

- کوم ټاکلي ځای ته؟

ومې ویل: یو څو میله توپکان او توپنچې چې په ټاټ کې مې پېچلي دي، باید یو ځای ښخې کړو.

ډګروال وویل: البته د ماموریت په اړه مالومات نه درڅخه غواړم، مګر له دې کړنو دې څرګندېږي چې یو خورا پېچلی او خطرناک ماموریت دې په غاړه دی.

ومې ویل: ماموریت نه خطرناک دی او نه پېچلی، اوس دستې به یې درته ووایم. زه د یوه وسله پلورونکي په توګه بن غازي ته راغلی یم او د یوه داسې پېرودونکي په لټه یم چې نوم او نښې نښانې یې مخکې له مخکې لا رامالومې دي او کله چې مې ورسره پیدا کړل، نو دا پټې شوي او د سکنا وسلې ورښیم، تر دې وروسته ماموریت ختم.

ډګروال وویل: دغه وسلې به له ښاره دباندې ښخې کړو.

ومې پوښتل: کوم خوندي ځای درمالوم دی؟

لږ فکر یې وکړ او ویې ویل: له ښاره دباندې یوه متروکه هدیره رامالومه ده. زما په خیال خو ډېر ښه ځای دی، ته څه فکر کوې؟

موسکی شوم او ومې ویل: ښېخي نامي ځای دی. بلکې هماغه ځای دی چې زه پسې ګرځېدم. وخت باید تېر نکړو، درځه چې خوځو.

ډګروال وویل: که دې خوښه وي یو دوه باوري کسان به درسره کړم.

ومې ویل: نه، یوازې ما و تا باید دا کار وکړو.

ویې ویل: ما غوښتل چې زما پر ځای هغه دوه او ته سره ولاړ شئ.

- نه، زما او ستا پرته باید بل څوک له دې موضوع خبر نشي.

Download from: www.aghalibrary.com

- مګر....

- څه ويل غواړې؟

- هېڅ، کومه خاصه خبره نه وه.

ومې ويل: حتماً يو شی شته چې زما څخه يې پټوې.

په موسکا يې وويل: چنداني ارزښتناک شی نه دی، درڅه چې ځو.

دوولس نيمې بجې مهال زه و ډګروال لاکسټر سره روان شوو. د کيندلو سامان مو هم راسره واخيست. ډګروال وويل: د ښار تولې کوڅې او ګوټونه-موټونه ډېر ښه رامالوم دي.

ومې ويل: له همدې امله خو مې مرسته درڅخه وغوښته.

يوه بجه مهال هغې هديرې ته ورسېدو. ډګروال وويل: دلته نور مړي نه ښخېږي او له کلونو راهيسې همداسې خوشې پرته ده.

ومې ويل: دغسې ځايونه د وسلو پټولو لپاره خورا مناسب دي.

ډګروال وپوښتل: ښه، اوس څه کوو؟

لنډه خندا مې وکړه او ومې ويل: يو يو متر ژور غار کاږو، وروسته وسلې پکې ږدو او بيا يې پر سر خاورې وراچوو.

ډګروال غلی وو....

ومې پوښتل: خيريت دی ډګرواله؟

يوه ساختګي خندا يې وکړه او ويې ويل: نه، هېڅ خبره نشته، بس بسم الله به کړو.

د هغه خندا بل څه ويل. يو ډول نارامي او انديښنه په ګډه وه، مګر ده يې د پټولو کوښښ کاوه. ومې ويل: ته ولې رښتيا نه راته وايې؟

ويې ويل: زړه مې غواړي چې درته ويې وايم، مګر وايم زړه ته به دې ونه لوېږي.

- ته خو يې ووايه، زړه ته اچول يې دومره ګران کار نه دی.

Download from: www.aghalibrary.com

- په عین حال کې ډېر احمقانه او ماشومانه خبره ده.

- هر شی چې ده غوږ درته نیسم.

ویې ویل: زه له هدیرو څخه وېرېږم، البته د شپې له خوا.

په حیرانتیا مې وویل: ټوکې کوې!

ویې ویل: کاشکې ټوکې وای. دا ډار له ماشومتوبه راسره دی او تر اوسه مې یې لامل نه دی پیدا کړی.

- یوه ارواپوه ډاکټر ته اړتیا لرې.

- ورسره لیدلي مې دي، خو ګټه یې نه ده کړې.

ومې ویل: ډېره عجیبه ده ولا! له تن په تن جګړې خار نه خورې، خو له هدیرې بیا وېرېږې؟

ویې ویل: زه هم ورته حیران یم.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: یاره ډګرواله غوره به دا وي چې په دې تړاو خپل ډار ته کم او حیرانتیا ته زیات پام وکړې. د دې سرچپه یوه ښکاره تېروتنه ده.

یوه شېبه پښه نیولی شوم، وروسته مې زیاته کړه: ښه خیر، ولې دې همالته مرکز کې دا خبره راته ونکړه؟

ویې ویل: هلته خو مې د دوو نورو کسانو وړاندیز درته وکړ، غوښتل مې په دې ډول ځان درڅخه وکاږم؛ مګر تا ونه منله او ما هم نور څه ونه ویل.

خندا واخیستم... ویې پوښتل: ولې خاندې؟

ومې ویل: خاندم پر دې چې دغې هدیرې ته د توپکانو د راوړلو وړاندیز هم تا وکړ.

ویې ویل: دا په دې چې زړه ته مې نه لوېده دویم وړاندیز به رارد کړې.

- ښه، نو یو بل ځای به یې ښخ کړو.

- نه، پلان دې مه اړوه.

Download from: www.aghalibrary.com

- مګر ستا ډار او نارامي نشم زغملای.

په داسې خندا چې ډار له ورایه پکې احساسېدی، ویې ویل: اوس مجبور یم چې ځان ورته ټینګ کړم، ځکه د هدیرې بغل ته ولاړ یو.

ومې ویل: سخته خواشینوونکې ده ولا.

وروسته مې د کښته کېدو په نیت د موټر دروازه پرانیسته... ډګروال وویل: ودرېږه!

ومې پوښتل: یو شی درياد شو؟

ویې ویل: د هدیرې شا ته یو زیارت شته، د هغه د دېوال شا ته یې هم ښخولای شو.

ومې ویل: بد نظر نه دی، ژر کوه چې کار یې ورخلاص کړو.

له هغه ځایه وخوځېدو... پر یوه تنګ سړک تېر شوو. د هدیرې شمال خوا ته په دوه سوه متری کې یو زیارت ودان وو. ګنبده یې په تیاره کې لیدل کېده.

ډګروال د زیارت د سهېلي دېوال تر شا موټر ودراوه او ویې ویل: همدا ځای سهي دی.

ومې پوښتل: اوس خو به نه وېرېږې؟

ویې ویل: زما کیسه کې مه کېږه، خپل کار دې وکړه.

ومې ویل: د موټر بتی [(۱)] مړې کړه.

له موټره راکښته شوو... ډګروال وویل: په کیندلو کې زه هم مرسته درسره کوم.

ومې ویل: نظر مې واوښت، غار کیندلو ته اړتیا نشته.

- ځنګه؟

- اوس به یې ووینې ډګرواله.

وروسته مې په تاټ کې پېچلې وسلې له موټره راکښته کړې. ډګروال هم راکوز

---

(۱) بتی - څراغونه.

Download from: www.aghalibrary.com

شو او ويې پوښتل: زه څه مرسته کولای شم؟
ومې ويل: ته موټر د زيارت د انګړ دېوال ته ورنژدې کړه.
هغه ودرېد غوښتل يې ووينې چې زه څه کوم. د موټر د کوچنيو بتيو رڼا ته مې ټاټ خلاص کړ. وسلې مې پر دوو نامساوي برخو ووېشلې، بيا مې ټاټ پر منځ څيرې کړ. يو څو ميله توپکان او څو جابې مرمۍ مې د ټاټ په يوه برخه کې وپېچلې، بيا مې رسۍ پر وپېچله او ډګروال ته مې وويل:
- زما کار خلاص شو.
- نه راته وايې چې دا څه چم کوې؟
- دا څو ميله توپکان د زيارت بام ته ورغورځوم.
- کاشکې مې خپله سر په خلاص شوی وای.
ولاړ، شتمرنګ ته کښېناست او موټر يې روان کړ. همدا چې ګاډی له دېوال سره پر اړخ موازي ودرېد، ومې ويل: اوس سهي شو.
وروسته مې د توپکانو غوټه د موټر پر چت کښېښوده او خپله هم پسې وروختم. سره له دې چې دېوال او د زيارت د بام سر مې د موټر د څراغونو په رڼا کې ليدلي ول، بيا مې هم د لا سم ځيرلو لپاره لاسي څراغ پر واچاوه. د بام څنډه تر دېوال د يو متر په اندازه لوړه وه. لومړی مې د توپکانو غوټه پر تېغه [1] کښېښوده او وروسته خپله وروختم. له هغه ځايه مې په ډېر زحمت بام ته ورپورته کړه. چې راکوز شوم، ډګروال راته وويل: ستا په خيال دا به سم ځای وي؟
ومې ويل: تر ښخولو بهتر دی.
- پاته وسلې چيرې پټوې؟
- کوم بل ځای. د بېلګې په توګه د هديرې د غسلخانې پر بام.

---

(۱) تېغه ـــ د دېوال څوکه.

Download from: www.aghalibrary.com

- وېرووونکې ده ولا.

پر اوږه مې لاس ورکښېښود او ورته ومې ویل: وېرېږه مه ډګرواله، زه یوازې ورځم.

ویې پوښتل: ته نه وېرېږې؟

ومې خندل او ومې ویل: د مړو اسکلېټونه خو ټول تر خاورو لاندې دي، نو ولې بیا ووېرېږم؟

په داسې انداز چې وېره پکې ځرګنده وه، ویې ویل: خو زما بیا سخته ترهه ځنې کېږي.

ومې ویل: وخت باید ضایع نکړو.

پر راغلې لار بېرته هدیرې ته ستانه شوو. هلته مې ترې وپوښتل: ته همدلته موټر کې راته کښېنې که راسره ځې؟ زما په اند که راسره ولاړ شې درته ښه به وي.

څو شېبې چوپ وو، وروسته یې وویل: بله چاره هم نشته، ستا سره ځم.

ومې ویل: کوښښ وکړه وېره له زړه وباسې.

دواړه له موټره راکوز شوو. ما توپکان راسره واخیستل، پر اوږه مې کښېښودل، په بل لاس مې ډګروال تر بازو ونیو او یوځای هدیرې ته ننوتو. چوپ و غړپ وو. ډګروال په رښتیا وېرې اخیستی وو او زه بیا له همدې امله ډېر پازاب او شرمینده وم.

لاسي څراغ له ډګروال سره وو چې مخې ته پرته لار یې راته روښانوله... یو څه واټن چې ولاړو ډګروال ته مې وویل: څراغ لږ لوړ ونیسه چې غسلخانه په ولیدلای شو.

څه یې ونه ویل. څرګنده وه چې دار یې مرۍ وربنده کړې ده... غسلخانې ته له ورنژدې کېدو سره سم مې ډېر ژر په تاټ کې پېچلې توپنچې او توپکان د غسلخانې بام ته چې له څمکې څخه ډېر لوړ نه وو، وروغورځول او ډګروال ته

Download from: www.aghalibrary.com

مې وویل: درځه چې ځو!

د هغه تر خولې بیا هم سپوږ راونووت. ډېر غټ-غټ ګامونه یې اخیستل چې ژر تر ژره له هغه وحشتناک ځایه ووزي. موټر ته له رسېدو سره سم لکه مرمۍ داسې تېز شتېرنګ ته کښېناست. زه هم پسې وروختلم، چابک یې موټر چالان کړ او وخوځېد... سړک ته له رسېدو سره جوخت یې په سینه کې بنده ساه یودم راخوشې کړه او ویې ویل: بېحده وېرووونکې وه!

سګرېټ مې ولګاوه، په شونډو کې مې ورکښېښود او ومې ویل: ګرم ته خپله وې!

سګرېټ یې کش کړ، وروسته یې په ګوتو کې ونیو او ویې ویل: تا ته خیر وو چې پاته وسلې دې د غسلخانې پر بام کښېښودې؟ ولې د ځمکې مخ اوبو نیولی وو؟

ځان ته مې سګرېټ ولګاوه او په خندا مې وویل: زه هم نه پوهېږم چې ولې مې داسې وکړل، وجه یې ممکن ستا له خولې د هدیرې ورانديز وو.

ویې ویل: تاسې استخباراتیان هم عجیبه انسانان یاست.

ومې ویل: په هر صورت، بخښنه درڅخه غواړم. خو دا به راسره منې چې ګناه ستا خپله وه، باید زه دې خبرولای.

ویې ویل: اوس دې خدای وکړي چې دا کړی کار دې یو رنګ راوړي.

- نږدې داډه یم چې رنګ به راوړي.

- زما هیله هم همدا ده....

له سګرېټه مې لوخړه جګه کړه او ومې ویل: که سنجول شوې بریا ته ورسېدو، نو ستا ونډه به واقعاً پکې غوښنه وي.

ویې خندل او ویې ویل: زه تر ونډې تېر یم، یوازې دومره وکړه چې بل ځل مې هدیرې ته مه راوله.

ومې ویل: اوس مې سر خلاص شو.

مخ یې راواړاوه او ویې ویل: دا راز دې ګوره یوازې ستا سره وي.

Download from: www.aghalibrary.com

په لغاز مې ورته وويل: بېغمه اوسه، خو په ژوند به مې له هديرې څخه د ډګروال لاکسټر ډار هېر نشي!

په خندا يې وويل: ګوره پام دې وي چې يوازې د شپې له خوا څنې ډارېږم!

- هو کنه!

- رښتيا، بجې څو دي؟

پر ساعت مې لاسي څراغ واچاوه او ومې ويل: دوې بجې!

ويې پوښتل: نن شپه خو به هوټل ته نه ځې؟

ومې ويل: تر سهاره ستا په چوپړ کې يم.

راويې کتل او ويې ويل: په دې شرط چې نور هديرې ته تګ له ذهنه وباسې.

ومې پوښتل: پر سوداګر يې د خرڅولو پر مهال هم نه غواړې راسره ولاړ شې؟

ويې ويل: زه دې له سره بېخي پېژنم نه!

له دې سره يې په ډکه خوله وخندل....

سبا سهار پر لس بجې زه و ډګروال لاکسټر په يوه کوچني باډۍ لرونکي پوځي موټر کې له پوځي اډې راووتو. ډګروال موټر چلاوه، خو زه په باډۍ کې چې په ټاټ پوښلې وه، ناست وم. منزل مو د سيرنايک خوا ته د تللي سړک سر وو.

زموږ پوځي اډه د بن غازي په ختيځ کې پرته وه. ګړی وروسته ټاکلي ځای ته ورسېدو. ډګروال موټر ودراوه او ويې ويل: راکښته شه!

ومې ويل: تر کوزېدو وړاندې بايد وپوهېږم چې هغه زما خبرې دې په ياد دي کنه؟

ويې ويل: کله چې دې هغه زما له خوا په درکړل شوې شمېره زنګ راوواهه، بيا به خبرې سره وکړو.

ومې ويل: هغې شمېرې ته زنګ وهل زما په وضعيت پورې اړه لري.

- په هر صورت، د پوځي اډې ټول کارکوونکي دې په خدمت کې دي.

Download from: www.aghalibrary.com

- مننه، هڅه کوم چې تا او نفرو ته دې تکلیف ورنکړم.
- بل کار خو به نه لرې؟
- نه، بس د خدای پامان!
- بریالی اوسې!
- د لیدو په هیله!

د ټاټ له چولې څخه مې دباندې وکتل، پر سړک هېڅوک نه لیدل کېدل. بیک مې راواخیست. کښته شوم. تر سړک واوښتم او مخ پر ښار روان شوم... ډګروال موټر خوشې کړ او پر راغلې لار بېرته ستون شو... هوا سخته ګرمه وه. په خولو کې لوند خیشت وم. لږ چې ولاړم د سړک پر غاړه د یوې غټې ونې تر سیورې لاندې دمه شوم؛ غوښتل مې د ښار زړه ته د ځان رسولو لپاره یوه وسیله ومومم.

غرمې ته نژدې مې پر یوه بس سترګې ونښتې. ښکارېده چې د بن غازي له دباندې څخه راروان دی. لاس مې ورکړ. نژدې راته ودرېد. بیک مې راسره واخیست او وروختم. تر خولې ډک وو او ان د ولاړې ځای هم پکې نه وو. مجبوراً د کلینر تر څنګ پر پایدان ودرېدم. د بس دننه تودوخې او خواګرځنو بویونو سم لېونی کړم.

یو پاو وروسته د ښار زړه ته ورسېدو. په فرانسوي ژبه مې له موټروانه وغوښتل چې ودرېږي. بس ودرېد. کلینر ته مې کرایه ورکړه او په یوه ټېکسي کې برنیس هوټل ته ولاړم... کله چې مې هوټلي ته خپل ځان دالمار ژیلوم وروښود، هغه د پاسپورټ غوښتنه راڅخه وکړه. تذکره مې وروښوده... په حیرانتیا یې وویل: ممم پوځي وې!

ومې ویل: هو، ولې؟

ویې ویل: که مو خوښه وي یوه بل هوټل به دې ولېږم.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: وېرېږې چې هسې نه د هوټل پیسې ورنکړای شم؟

Download from: www.aghalibrary.com

- دا هوټل ډېر ګران درته لوېږي.

- پروا نه لري، دومره پیسې راسره دي چې یوه میاشت همدلته ستاسې په هوټل کې تېرولای شم.

- بخښنه غواړم.

ومې ویل: ستا خبرې مې بالکل خوښې نشوې.

ویې ویل: مطلب مې یوازې یوه یادونه کول وو.

وروسته یې د ۱۸مې شمېرې خونې کیلي راکړه. یوه کارکوونکي مې بیک راسره واخیست او تاکلې کوټې ته یې چې په دویم پوړ کې وه، وروستلم. تر هر څه مخکې مې پر ځان یخې اوبه واچولې، وروسته مې جامې بدلې کړې او د غرمنۍ خوړلو لپاره د هوټل رستوران ته ولاړم....

●●●

د مازیګر شاوخوا شپږ بجې وې، تازه له خوبه راپاڅېدلی وم او یوه ورځپاڼه مې لوسته چې دروازه وټکېده. د هوټل یو کارکوونکی مې وباله. له کټه راکښته شوم... د دروازې له پرانیستلو سره سم له دوو ناپېژاندو څېرو سره مخامخ شوم. دواړه سپین پوستي ول. لږ په عمر پاخه کس یې په فرانسوي ژبه وویل: ښاغلی دالمار ژیلوم؟

ومې ویل: هو، زه خپله یم. امر و خدمت؟

هغه سړي وویل: که اجازه وي غواړو یو څو خبرې درسره وکړو.

ومې پوښتل: پولیس یاست؟

سړی موسکی شو او ویې ویل: نه، پولیس نه یو.

- نو څوک یاست؟

- د دروازې په خوله کې خو نشو سره ږغېدلای.

Download from: www.aghalibrary.com

- هو ربښتیا هم، مهرباني وکړئ دننه راشئ.

له مخې ایسته شوم، دواړه خونې ته راننوتل. دروازه مې وتړله او ومې ویل: ښه، د څشي په اړه مو غوښتل خبرې راسره وکړئ؟

هغه سرې چې نرم او دروند بڼېد، وویل: لومړی اجازه راکړئ چې ځانونه درو پېژنو: زما نوم....

خبرې مې ورغوځې کړې او ورته ومې ویل:

- همالته دروازه کې مو لا باید ځانونه راپېژندلي وای.

هغه ځان په دوریه او ملګری د اګوست په نامه راوپېژاند. درې واړه کښېناستو.

ومې پوښتل: څشي څښئ؟

دوریه چې تر اګوست یو څه مشر وو، وویل: مننه، شی نه څښو.

د سګرېټو کوټۍ مې دوریه ته ونیوله... ویې ویل: مننه زه سګرېټ نه څکوم.

اګوست ته مې پسې ونیوله او ومې ویل:

- تاسې څنګه؟

اګوست یو سګرېټ واخیست. لېټر مې ورته وواهه، یوه دانه مې هم ځان ته ولګاوه، دوریه ته مې مخ کړ او ومې ویل:

- نومونه خو مو راوښودل، مګر ومو نه ویل چې له کومه ځایه راغلي او څه کاره یاست؟

دوریه وویل: هر وخت چې سره جوړ شوو، بیا به ځانونه هم سم درو پېژنو.

سګرېټ مې کش کړ او ومې ویل:

- ډېر ښه نو خبره مو وکړئ.

اګوست چې تر هغې شېبې غلی وو، وویل: تاسې پوځي واست، کنه؟

ورو مې سر وخوځاوه او ومې ویل: هو وم، مګر اوس یو ازاد انسان یم. غواړم غتې راکړې ورکړې وکړم او شتمن شم.

Download from: www.aghalibrary.com

دوریه وپوښتل: ولې دې استعفا وکړه؟
پزه کې مې وخندل او ومې ویل: چې رښتیا شي نور سترې شوی وم.
اګوست وپوښتل: ایا غواړئ هماغې پخوانۍ دندې ته ورته یو کار ولرئ، خو په څو برابره زیات معاش؟
شونډې مې سره ولاړې او ومې ویل: باید لومړی مې لا پوښتلي وای چې تاسې ته چا دروپېژندلی یم. خیر اوس هم ناوخته نه دی دا مالومات مو له کومه کړي دي؟
اګوست وویل: په دې اړه به وروسته وږغېږو، اوس مې لطفاً پوښتنه راځواب کړئ!
تندہ مې تروشه کړه او ومې ویل:
- تاسې کټمټ پولیسو غوندې پوښتنې راځخه کوئ.
دوریه لنډ وخندل او ویې ویل: نه موږ دوستانه درسره وږغېږو. کله چې مو ستا د پوځیتوب واورېدل راغلو چې ودې ګومارو.
هغه لار چې زه یې په لټه وم، مخامخ راته پرته وه. په بله ژبه د دوریه او اګوست وړاندیز هماغه څه ول چې ما ته موخې ته د رسېدو وسیله ښکارېده. د دغو دوو کسانو اصلیت د دوی وروستۍ خبرې راته روښانه کړ. نژدې ډاډه وم چې دواړه د مکس پفلونک خلک دي، دنده یې دا ده چې تجربه کار جنګیالي په لوړ معاش وګوماري او په شمالي افریقا کې د جنګ جوړولو پلان په پلی کړي. له اره د مکس پفلونک څارګر سازمان نیت درلود چې د جګړې د اور تیلی په سپین پوستو اجیرانو ووهي او عربان یې په بل اړخ کې ودروي.
په ساختګي حیرانتیا مې وپوښتل: تاسې غواړئ ما ته کار راکړئ؟
دوریه وویل: هو، ستا د پوځیتوب د مهال په دوه برابره معاش. فکر نه کوم بد وړاندیز دې وي.
اوږې مې پورته واچولې او ومې ویل: بد وړاندیز خو نه دی، مګر تاسې ولې

Download from: www.aghalibrary.com

غواړئ دا کار وکړئ؟

دوریه وویل: د یوه مرکزي افریقایي هیواد لپاره.

په هماغه ساختګي حیرانتیا مې وویل:

- مګر په مرکزي افریقا کې خو کراري ده.

دوریه په موسکا وویل:

- هو، کراري ده؛ مګر د هغه هیواد خپلواکي غوښتونکي له یرغلګرو څخه د خپل هیواد ترلاسه کولو لپاره تا غوندې باتجربه پوځیانو ته اړتیا لري تر څو یو غښتلی او د ازادۍ په روحیه سمبال پوځ ور وروزي.

د دوریه ځواب په ښکاره منطقي وو، اورېدونکی یې له دوه زړۍ رااېست او د هغوی پر خبرو او موخو یې شک کولو ته نه مجبوراوه. مګر دا ګړی د هغوی مخاطب زه وم او ښه پوره مې سر خلاص وو چې د دوریه او اګوست هدف څومره شوم او خطرناک دی.

پر خپل ځای لږ سره وښورېدم، سګرېټ مې ګل کړ او ومې ویل: که رښتیا راباندې وایاست، نو له پوځي جامو، وسلې اوچتولو او جګړې مې زړه تور شوی دی. له همدې وجې مې استعفا هم وکړه. اوس غواړم یوازې ارام وکړم بس.

اګوست وویل: نو زموږ وړاندیز نه منئ؟

ومې ویل: له بده مرغه همداسې ده.

دوریه په نارامۍ وویل:

- د دې مانا نو دا ده چې تاسې د ښکېلاکګرو پلوي یاست او نه غواړئ له ښکېلاکځپلو او ازادي غوښتونکو ولسونو سره مرسته وکړئ.

په یوه ډرۍ ډوله موسکا مې وویل: زه نه د ښکېلاک پلوی یم او نه هم د جګړې. د نورو لپاره جنګېږم هم نه. دا ګړی یوازې و یوازې د خپلې خپلواکۍ غم راسره دی. غواړم ارام ژوند وکړم او د نورو عامو خلکو په شان کورنۍ جوړه کړم. څلور

Download from: www.aghalibrary.com

کلن پوځي چوپړ راته بس دی.

دوریه وویل: هم د افسرۍ درجه درکوو او هم ډېر ښه معاش. زموږ یوازې ستاسې تجربو ته اړتیا ده. بد وړاندیز نه دی.

په ساختګي موسکا مې وویل: له بده مرغه وړاندیز مو نشم منلای.

اګوست دوریه ته مخ کړ او ویې ویل: ښه به وي چې ښاغلی ژیلوم یوازې پرېږدو.

دوریه سترګې راپکې وګنډلې او ویې ویل: موږ دې بیا هم لیدو ته راځو، هیله ده له خپلې پرېکړې واوړئ.

ومې ویل: زه ډېر سرټمبه سړی یم، چې یو پلا یوه پرېکړه وکړم، بیا مې د چا پلار هم نشي ترې اړولای.

مثلاً کله چې مې خپل قومندان ته استعفا ورکړه، هغه له دې هوډه د تېرېدو بېخې ډېرې زارۍ راته وکړې، مګر ما ورسره ونه منله. ان دا چې د رتبې رالوړولو وړاندیز یې هم راته وکړ. اخیر اړ شو او استعفا یې رالاسلیک کړه.

تر یوه لنډ ځنډ وروسته مې وویل: موږ دوه تنه وو چې استعفا مو وکړه.

اګوست وپوښتل: هغه بل کس چیرې دی؟

ومې ویل: هغه که دلته هم وای، زما په خوله یې کول. زه، هغه او یو بل تن غواړو یو ګډ کاروبار پیل کړو او د نورو شتمنو غونډې ارام ژوند وکړو. هغوی هم دغه ځای ته د ځان رسولو پر لار ډېر خطرونه زغملي دي.

اګوست وپوښتل: څنګه کاروبار ته مو خیال دی؟

هماغسې چې نبغ مې ورته کتل، ومې ویل: دا راز دې اوس وي.

دوریه وویل: بخښنه غواړم، زما ملګري اګوست باید دا پوښتنه نه وای کړې.

موسکی شوم او ومې ویل: پروا نه لري، دی تر تا کشر دی.

اګوست ته زما دې خبرې خوند ورنکړ او غلی شو. دواړه پاڅېدل. زه هم ولاړ

Download from: www.aghalibrary.com

شوم او ومې ویل: ډېره بده شوه چې ستاسې سم هرکلی مې ونکړای شوای.
دوریه وویل: خیر وي دې بل ځل ته.
ومې ویل: خوښ به شم، مګر په دې شرط چې هغه وړاندیز بیا درسره رانوړې.
دوریه وخندل، خو اګوست تروش مخ ولاړ وو. د دروازې په خوله کې مې وپوښتل: رښتیا ومو نه ویل چې زه چا درپېژندلی یم؟
اګوست وویل: دا راز دې اوس وي.
پر اوږه مې وټپاوه او ومې ویل: اخیر دې خپل غچ واخیست.
دوریه راته مخ کړ او ویې ویل: تاسې چې زموږ وړاندیز رد کړ، نو ما ته هم د هغه سرې درپېژندنه مهمه ښکاره نشوه.
اوږې مې وځنډلې او ومې ویل: مازې مې غوښتل خپل شک وباسم.
دوریه وخندل. وروسته دواړو مخه ښه وکړه او له کوټې څخه ووتل. نژدې ډاډه وم چې د هوټل چلوونکي زما نوم او ځانګړنې ورکړې وې، ځکه خپله هوټلچي او د هوټل نور کارکوونکي له شکه خلاص د پفلونک لاسپوځي ول. خوا مې نه وه بده، بلکې لا یې لوی او د مننې وړ خدمت راته کړی وو چې له هغوی سره په مخامخولو کې یې مرسته راسره کړې وه. تر دغې لیدنې وروسته مې باید داسې یو کار کولای چې په هغوی مې ځان په وسله پلورونکي پېژندلی وای.
د ټیلیفون غوږۍ مې راپورته کړه... ټیلیفونچۍ چې له اوازه یوه خامه نجلۍ یا هم ځوانه ښځه برېښېده، په فرانسوي وپوښتل:
- څه خدمت کولای شم؟
ومې ویل: د مهربانۍ له مخې زما د خونې ټیلیفون را ازاد کړئ، غواړم بهر ته زنګ ووهم.
هغې وویل: هر ځای ته چې زنګ وهل غواړئ، شمېره یې راکړئ چې زه یې درته رخ کړم.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: زه یې خپله رخوم.

ټلیفونچۍ نور څه ونه ویل او ټلیفون یې را ازاد کړ. سملاسي مې د ډګروال لاکسټر له خوا راکړل شوې شمېره ووهله، تر څو کړنګونو وروسته مې د ډګروال

ږغ واورېد:

- هلو مهرباني وکړئ!

- دالمار یم.

- چیرې یې، غرمنۍ ته مې درته کتل.

- غرمنۍ مې همدلته وخوړه، یو څو ساعته خوب مې هم وکړ.

- باید ټلیفون دې راکړی وای.

- په ژرژ حال لرې؟

ډګروال وویل: غوږ ونیسه دالماره ډېر ښه خبرونه درته لرم. د چرګوړو شمېر ورځ

په ورځ ډېرېږي. دا خبر ژرژ راکړ.

ومې پوښتل: ژرژ چرګوړي چیرې وړي دي؟

- یو خوندي ځای یې پټ کړي دي.

- خوشحاله دې کړم ولا.

- ډېر ژر به شتمن شو.

ومې ویل: زما خبرونه بیا ستا تر هغو لا په زړه پورې او خوښوونکي دي.

ویې ویل: ته وا داسې ځای دې پیدا کړی چې چرګوړي لا پکې ډېر دي.

ومې ویل: که درته ووایم چې د چرګوړو یو ډېر شتمن پېرودونکی په ګوتو راغلی،

ښایي زړه ته دې ونه لوېږي.

- ټوکې مه کوه، نن سبا شتمن رانیوونکي نه پیدا کېږي، باید د توپان تر ختمېدو

وګورو.

- زه بالکل ټوکې نه کوم، هغوی همدا څو دقیقې مخکې له دې ځایه ووتل.

Download from: www.aghalibrary.com

- هغوی دي څوک؟

له دوریه او اگوست سره مې د خپلې لیدنې کیسه ورته وکړه. ان نومونه مې یې هم ورته واخیستل. ډگروال په خندا وویل: دې ته وایي بخت؛ د توپان تر کښېناستو مخکې پېرېدونکی راته پیدا شو. ښه، نو ولې دې د چرگوړو د خرڅلاو خبره ورسره ونکړه؟

- تلوار مه کوه، هغوی بېرته راځي. بل دا چې تر اوسه یې سم پېژنم هم نه.

- موږ ته د خپلو چرگوړو پلورل مهم دي، نه د هغوی څه کاره والی.

ومې ویل: بېرته راځي غم یې مه کوه.

ویې ویل: کوښښ وکړه چې په ښه بیه یې پر خرڅ کړې.

ومې ویل: د هر چرگوړي بیه هماغه ده چې موږ په گډه سره ټاکلې ده.

- باید ژرژ هم ژر خبر کړم، ډېر به خوشحاله شي.

- څه وخت یې خوا ته ورځې؟

- همدا نن شپه.

- نو نن شپه ماښامنی نشو سره خوړلای؟

ډگروال وویل: نه، نه کېږي. ژرژ خبر راستولی چې باید ژر تر ژره ورسره ووینم. زه تا یا ستا زنگ ته منتظر وم، کنه اوس به وخته لا هورې وای.

ومې ویل: بس نو هر څومره ژر چې کېږي ځان ور ورسوه. ته او ژرژ چې هلته یاست، زما زړه ببغمه وي.

- گوره چې چرگوړي ارزانه ونه پلورې.

- ډاډه اوسه، په ډېره ښه بیه به یې وپلورم.

- په عین حال کې پر ځان هم پام کوه.

- له دې اړخه چورت مه خرابوه.

- ربښتیا، هغه دوه کسان چې نن یې درسره ولیدل د کوم ځای ول؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: فکر کوم فرانسویان ول.

ویې پوښتل: ستا په خیال د چرګوړو د رانیولو توان به ولري؟

- هو، له ځېرو شتمن مالومېدل.

- بل کار خو به نه لرې؟

- نه، بس یوازې پر چرګوړو پام کوه او کوښښ وکړه شمېر یې لا وردېر کړې.

- موږ خپل وس لګوو.

- سفر په خیر!

غوږې مې کښېښوده... شونډې مې سره ولاړې او له ځان سره مې وویل: اوس کیسه سمه شوه. د هغو احمقانو د پام بېرته راړولو لپاره مې باید ځان په یوه بله بڼه په پېژندلای.

پر دې خوښ وم چې د مکس پفلونک د موندلو نقشه سم لوري ته روانه وه، په ځانګړې توګه بیا له ډګروال لاکستېر سره وروستۍ ټلیفوني خبرې-اترې او د چرګوړو بحث. دغه داستان ته د دوریه و اګوست لیدنې مجبور کړی وم. چرګوړي د هغو وسلو استعاره وه چې د خرڅلاو لپاره مې پټې کړي وې. دغه راز توپان د جګړې په مانا او ژرژ هم یو خیالي کریکټر وو.

زما و د لاکستېر ترمنځ شوي ټولې خبرې مو مخکې له مخکې پلان کړي وې او سره ویلي مو ول چې که زه زنګ ورنه ووهم نو به پر څښي سره بږغېږو. دا چې کارونه زما له غوښتنې سره سم مخته تللي ول او د ډګروال راګډولو ته هم اړ وم، نو ځکه مې هماغه شپه د دوریه او اګوست تر تلو وروسته لاکستېر ته له خپلې خونې زنګ وواهه او د چرګوړو مجلس مې ورسره واچاوه. پوهېدم چې هوټلچي د جرمنیانو لپاره جاسوسي کوي او خامخا مې ټلیفون ته غوږ نیسي. ما هم همدا له خدایه غوښتل، مګر نه هوټل ته زما د ورتګ په هماغه لومړۍ شپه هغه هم په دغسې شرایطو کې. په هر صورت، هوټلچي مې بار راسپک کړ او له همدې امله

Download from: www.aghalibrary.com

مننه ځنې کوم.

د چرګوړو کليمې نه يوازې هوټلچي، بلکې دوريه او اګوست هم په چورت کې اچول او دې ته يې اړايستل چې د کيسې بېخ ته ځان کښته کړي. په غالب ګومان يې زما د لا ښه پېژندلو لپاره کومه بله لار خپلوله. د دې امکان زيات وو چې يا خپله يوه زړه وړونکې ځارګره راميدان ته کړي يا هم په يوه بله دروازه راته رانوزي. البته له زورزياتي او وسلې څخه کاراخيستنه لږ ليرې راته ايسېده. تر ټولو ځواکمن او عاقلانه احتمال د ښوى مخلوق رامخ ته کول وو، ځکه دا لار تر نورو ټولو کارنده وه.

د شپې پر شاوخوا نهه بجې له هوټله راووتم. له هوټلچي سره مې د کيليو د ورسپارلو پر مهال ډېر عادي چلند وکړ، ځکه نه مې غوښتل د ځان په اړه زما د پارېدلي شک څرک ورته ولګېږي.

تېره شپه مې په پوځي اډه کې د ښار نقشه په ځير کتلې وه. ډګروال لاکسټر هم ښه مُلا کړی [1] وم. د بېلګې په توګه د کمو په نامه ايټالوى رستوران رامالوم وو او خبر وم چې څښتن يې څه نومېږي او له څو کلونو راهيسې هلته دغه کاروبار کوي. ان د مسجدونو او تاريخي ځايونو تاريخچې مې هم حفظ کړې وې. دا کار مې په دې خاطر کړی وو چې څوک راونه پوهېږي بن غازي ته په لومړي ځل راغلی يم.

دا ګړی په ښکاره ښار کې د ګرځېدلو لپاره راوتلی وم، خو اصلي موخه مې دا وه چې په يو نه يو ډول له جرمنيو ځارګرو سره بيامخامخېدو ته لار هواره کړم. ډاډه وم چې استازی يې حتماً راپسې دی. ما هم همدا غوښتل، ځکه سر مې خلاص وو چې زما و د لاکسټر تر خبرو وروسته جرمنيان لاس تر زنې نه کښېني. د

---

(۱) ملا کول – د يو چا ښه سر ورخلاصول او پوهول.

Download from: www.aghalibrary.com

ماموریت ډول مې همداسې وو چې باید ځان مې په لوی لاس د هغوی مخې ته وراچولای.

بن غازي کې د کاپوچین په نامه یوه کاباره وه چې مالک یې ماریو کاپوچین نومېد او ایټالوی وو. نوموړی په ۱۹۳۴م کې له ایټالیا څخه لیبیا ته راغلی او بن غازي کې مېشت شوی وو. هغه مهال او د جګړې تر پایه یاد هیواد د ایټالیا تر لاس لاندې وو او په ښارونو کې یې د ماریو کاپوچین غوندې خلکو کمی نه وو. هر یو یې په یوه نه یوه شي لاس اخته کړی وو. تر جنګ وروسته ټولو ایټالوي مهاجرینو ته قبولۍ او د کار کولو اجازې ورکړل شوې، ځکه هغوی تازه نه ول راغلي، بلکې له کلونو-کلونو راهیسې اوسېدل او ټولو یې کارونه کول. ډېریو یې له ځایي نجونو سره ودونه کړي ول او ځانونه یې لیبیایان بلل.

ماریو کاپوچین تر دویم نړیوال جنګ څو کاله مخکې یاده کاباره پرانیستې وه او دا مهال د بن غازي په بریالیو کاباروکې شمېرل کېده، ځکه لوېدیځ او ختیځ پروګرامونه پکې کېدل او د هر چا د غاښ شی (۱) پکې پیدا کېدی. په تېره د اوړي د ناستې ځای یې بیا ښېخي ښکلی او زړه وړونکی وو. چارچاپېر یې ګورې ونې (۲) ولاړې وې.

هلته چې ور ورسېدم، ډېرې مېزونه نیول شوي ول. یو له دریځ څخه لیرې مېز مې ونیو او د یو ډول ایټالوي خوړو او یو بوتل شرابو سپارښت مې ورکړ....

د دوډۍ خوړلو پر مهال یوه شرقي ننداره روانه وه. یوه ښکلې نیمه بربنډه ځوانه مېرمن په خورا شور و هیجان نڅېده. ما خپله سخت خوند پر اخیست. له ځان سره مې ویل کاشکې په دنده کې نه وای چې دا نڅاګره مې تر پروګرام وروسته

(۱) د غاښ شی - د خوښې شی.

(۲) ګورې ونې ــ ګڼې ونې.

Download from: www.aghalibrary.com

مېز ته رابللې وای. زما کيڼ لاس ته پروت مېز تش وو. تازه له ډوډۍ خلاص شوی وم چې يو ځوان ورته کښېناست. کله چې گارسون ورغی تر څو سپارښت ځنې واخلي، نو هغه په ايټالوي ورته وويل چې يو چا ته منتظر دی.

له ايټالوۍ لهجې يې څرگندېده چې فرانسوی نه دی او بايد د جرمني څارگر شک مې پر کولای. ما ته يې شا وه. لږ شيبه وروسته دوې ځوانې ښځې چې يوه يې تر هغې بلې يو څه زياته ښکلې او جذابه وه، د هغه ځوان مېز ته راغلې. مالومه شوه چې هغه دغو مېرمنو ته کتل. هغه جذابه ښځه د ځوان کيڼ لاس ته کښېناسته او تر شاوخوا کتلو وروسته يې څو شيبې پر ما سترگې ودرېدې.

هماغه شيبه مې له ځان سره وويل چې د مکس پفلونک څارگرې شبکې مې پېژندلو ته خورا ژر لستوني رانغښتي دي.

په دې کې شک نه وو چې دوريه او اگوست له ډگروال لاکسټر سره زما تر ټليفوني خبرو-اترو وروسته د يوې ښکلې مېرمنې دام انتخاب کړی چې هم وکولای شي د چرگوړو په مانا سر خلاص کړي او هم په دې ځان ډاډه کړي چې زه رښتيا هم يو پوځي يم که هسې غولول کوم. ياني پسته او عاقلانه لار يې ټاکلې وه. هغوی ډاډه ول چې هغه مېرمن د خپلې ښکلا په زور ډېر اسانه کولای شي پخوانی پوځي دالمار ژيلوم ياني ما له لارې وباسي او د يوې ښځې و نارينه ترمنځ د يوازېتوب له حساسو شيبو څخه په گټه اخيستنه تر خوله خبرې ځنې وباسي او د راتلونکو پلانونو په اړه مالومات ترې واخلي.

د پفلونک د څارگرې شبکې پورتنی پلان په بن غازي کې زما د کنټل شوې نقشې برخه وه او د پټو شويو وسلو خرځلاو ته يې لار هواروله. هغوی هڅه کوله له يوه نوي ورانديز سره راته راشي چې هله نو بيا زما د پلان د بلې برخې د عملي کولو وار رارسېد.

هغوی بېله دې چې ما ته د يوه مستعفي پوځي په سترگه وگوري بله هېڅ چاره نه

Download from: www.aghalibrary.com

درلوده، ځکه په هوټل کې د پرتو شيانو له تلاښې ځخه هېڅ داسې شی په لاس نه ورتلی چې زما دغه دعوه يې را درواغ کړې وای. ان راسره بيک مې لا الجزايری وو او سټراټفورډ راکړی وو. هغه شپه مې په کاپوچين کاباره کې ټول پام هغې مېرمنې او د هغې ښکلا ته وو او پرله پسې مې سترګې ورسره جنګولې. ځووم ځل يې له کتو سره سم يوه نرۍ موسکا هم راته وکړه. زه هم ورته موسکی شوم. وروسته د ځوان خوا ته ورکږه شوه او يو څه يې ورته وويل:

ځوان پر خپله ځوکۍ رانېغ شو، ما کې يې سترګې وګنډلې او په فرانسوي يې راته وويل: که کوم چا ته منتظر نه ياست، نو لطفاً راشئ زموږ سره کښېنئ!

موسکی شوم او ومې ويل: چا ته خو نه يم منتظر.

هغې ځوانې مېرمنې په مالګينه خندا راته وويل: خو موږ بيا تاسې ته منتظر يو، راځئ زموږ مېز ته!

ځوان وخندل او ويې ويل: هو، يوازې مه کښېنئ. زموږ د مېز هسې هم يو نفر کم دی! درېيو واړو وخندل... ومې ويل:

- بلنه مو پر سر سترګو!

وروسته مې ګارسون ته لاس وښوراوه. هغه چې راغی د مېز حساب مې خلاص کړ او د هغوی مېز ته ورغلم. ځوان راته ولاړ شو او ځان يې د ويکټور ډاسن په نوم راوپېژاند. ما هم لاس ورکړ او ځان مې ورمعرفي کړ.

ويکټور ښی اړخ ته ناسته ښځه د خپلې مېرمنې په توګه د بلانکا په نامه او کيڼ بغل ته ناسته يوه-چې زه يې وراخيستی وم-د ترودي په نوم راوپېژندله او ويې ويل چې خوښينه يې ده... له دواړو سره مې په لاس روغبړ وکړ، د ويکټور پر مخامخ تشه ځوکۍ کښېناستم او ومې ويل چې د ښاغلي او اغلې ډاسن او مېرمن ترودي په پېژندو خوشحاله شوم.

ويکټور وخندل او ويې ويل: اوس مو توازن برابر شو؛ دوې ښځې دوه سړي.

Download from: www.aghalibrary.com

اوس نو تر سهاره خپل سات تېرولای شو.

ويکتور ته مې مخ کړ او په کنايه مې ورته وويل: ښه نو دا ستاسې خوښينه ترودي وه چې يوازې وه.

ترودي په موسکا وويل: زه او تاسې دواړه يوازې وو.

بلانکا خور ته مخ کړ او ورته ويې ويل: او اوس دا دی ته او ښاغلی ژيلوم دواړه له يوازېتوبه راووتئ.

ترودي وويل: مالومداره.

ويکتور سر راوړاندې کړ او ورو يې راته وويل: د يوې ښځې او سړي رشته له همدې ځايه پيلېږي.

ومې ويل: نو دا شناخت بايد په نېک شگون ونيسو.

ويکتور جام راڅک کړ، اوچت مې کړ او ومې ويل: ستاسې درېيو په سلامتۍ!

بلانکا راته مخ کړ او ويې پوښتل: تاسې د فرانسې ياست؟

ومې ويل: هو، مگر په کرس جزيره کې زوکړی يم. تېر مې چندانې خوندور نه وو او اوس تازه مې خيال شوی دی چې د خپل زړه ژوند وکړم.

ويکتور وپوښتل: دلته بن غازي کې څه کار کوئ؟

اوبړې مې وڅنډلې او ومې ويل: اوس خو وزگار يم. درې مياشتې کېږي له پوځه مې استعفا کړې ده.

درېيو واړو راوکتل. ترودي په حيرانتيا وويل: نو تاسې پوځي واست!

ومې ويل: هو، پوځي وم. د هغوی خوښه نه وه چې استعفا ورکړم او په وچه سرزورۍ مې په ومنله. پوهېږئ؟ تر پزې ځنې راغلی وم.

ويکتور وويل: بخښنه غواړم چې دا پوښتنه درڅخه کوم: اوس مو څشي ته نيت دی؟

سگرېټ مې ولگاوه او ومې ويل: له دوو نورو کسانو سره چې يو يې زما غوندې

Download from: www.aghalibrary.com

مستعفي پوځي دی، غواړم د یو ډول ځانګړو توکو سوداګري وکړم.

بلانکا وپوښتل: لکه څنګه توکي؟

موسکی شوم او ومې ویل: د دې پوښتنې له ځوابولو بخښنه غواړم، ځکه تر اوسه مو لا پېرودونکی نه دی ورته پیدا کړی.

ویکتور خپلې مېرمنې ته مخ کړ او ویې ویل: بېځایه پوښتنه دې وکړه!

بلانکا ما ته وکتل او ویې ویل: بخښنه غواړم، کومه ځانګړې موخه مې نه درلوده.

سګرېټ مې کش کړ او ومې ویل: هېڅ خبره نه ده، ډېر یې پر ځان مه درنوئ. که مو انډیوالي په همدې ډول روانه وه، نو اخیر به زموږ سوداګریز توکي هم وپېژنئ.

ویکتور وویل: زموږ د انډیوالۍ دوام ستاسې او ترودي په اړیکو پورې ځړېږي.

موسکی شوم او ومې ویل: تاسې او بلانکا غرض مه رالرئ، ما او ترودي ته د خپلو اړیکو د غځولو چل راځي.

تر یوه لنډ ځنډ وروسته مې له ترودي څخه وپوښتل: تاسې مېړه نه لرئ؟

ویې خندل او ویې ویل: نه یوازې یم.

ومې ویل: سر له همدااوسه نه تاسې یوازې یاست او نه زه.

بلانکا راته مخ کړ او ویې ویل: تاسې مېرمن نه لرئ؟

اوږې مې پورته واچولې او ومې ویل: نه، تر اوسه مې لا نه ده کړې.

ویکتور وویل: تاسې او ترودي ډېره ښه جوړه یاست.

خبره مې سره ولاړه او په موسکا مې وویل: له خوښینې څخه دومره پاراب یې؟

درېیو واړو وخندل... ترودي وویل: ویکتور توکې کوي.

ویکتور مو جامونه راډک کړل، وروسته یې خپل ګیلاس اوچت کړ او ویې ویل: زموږ په سلامتۍ!

ترودي خپل جام پر مېز کېښېښود، ما ته یې مخ کړ او ویې پوښتل: نڅا ته دې زړه کېږي؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: واری مو مخکې کړ، زما هم همدې غوښتنې ته نیت وو.
سیګرېټ مې ګل کړ او پاڅېدم. ترودې هم ولاړه شوه. یوځای ستېج ته سره ولاړو. د نڅا په اوږدو کې یې وپوښتل: تا رښتیا واده نه دی کړی؟
ومې ویل: تا غوندې ښکلې او جذابې ښځې ته هم سړی دروغ ویلای شي؟
ویې ویل: ولې نه، ځینې نارینه د یوې ښځې یا نجلۍ د زړه ترلاسه کولو لپاره دروغ وایي او ځان مجرد معرفي کوي.
- خو ما رښتیا درته وویل.
- خوشحاله دې کړم.
- په څشي؟
- په دې چې مجرد یې.
ومې ویل: له هماغې شېبې چې ته و بلانکا مېز ته کښېناستې، لا مې په ځان کې ستا خوا ته کشش حس کړ. په رښتیا چې ډېره ښکلې او زړه کښونکې یې.
لاس یې نرم راکښېکښود او ویې ویل: ډیپلوماسۍ ته دې ملا وتړله!
- په ما کې دا کیسې نشته، هر وخت یې سپینه وایم.
- په هر صورت، مننه.
ومې پوښتل: د کوم ځای یې؟
ویې ویل: د سهېلي افریقا.
په ساختګي حیرانۍ مې وپوښتل: سهېلي افریقا؟
ویې خندل او ویې ویل: زما سپینوالي لکه چې وغولولې. موږ په جوهانسبرګ کې اوسو او دلته په سیل راغلي یو. تېره اوونۍ قاهره کې وو. نیت مو دی الجزایر او مراکش او له هغه ځایه بېړۍ کې نولت بندر ته ولاړ شو. یو څو ورځې همالته تېروو او وروسته بېرته جوهانسبرګ ته ستنېږو.
ومې ویل: په دې حساب نو باید زموږ په اندیوالۍ پورې ډېر زړه ونه تړم.

Download from: www.aghalibrary.com

سترگې یې راپکې وگنډلې او کرار یې راته وویل: که وغواړې زه همدلته پاتېږم. البته ستا د لا ښه پېژندلو لپاره.
مخ مې پر مخ ورونښلاوه او ورته ومې ویل: مالومداره غواړم چې راسره پاته شې. فکر کوم کومه ښځه پسې چې گرځېدم هغه ته یې.
- تر اوسه خو دې سمه پېژندلې لا نه یم!
- کرار-کرار دې پېژنم.
ویې ویل: نو اوس لا دا دعوه نشې کولای چې زه هماغه یوه یم چې ته پسې گرځېدې.
ومې ویل: خدای دې وکړي چې تېروتنه مې نه وي کړې.
وروسته مې وپوښتل: ښه، زما په اړه څه نظر لرې؟
لږ په سوچ کې شوه او وروسته یې وویل: اوس نشم ویلای، ځکه د پېژندلو مو یو ساعت لا نه کېږي. زه باید پوه شم چې ته څوک یې، څه کار کوې او د راتلونکې لپاره څه پلان لرې. دا خبرې تا ته وړې ښکاري؟
ومې ویل: زه فرانسوی یم، څلور کاله مې پوځ کې چوپړ وواهه او اوس مې یو بل کار تر لکۍ نیولی دی.
- دا خو سهي ده، مگر دا دی کوم کار؟
- کوم کاروبار چې ما و ملگرو رانښلولی، تر اوسه ځای ته نه دی رسېدلی.
- خو زه باید وپوهېږم چې زما د خوښې نارینه څه کار کوي.
په ساختگي خوښۍ مې وویل: نو ته....
خبرو کې راولوېده او ویې ویل: هو، خوښېږې مې. کنه ویکتور ته مې نه ویل چې مېز ته دې راوبولي. خو دا کفایت نه کوي، باید ځان زبات کړې چې زما د خوښې نارینه یې.
له ترودې سره مې باید د یوه داسې عام وگړي په توگه چلند کولای چې د دې

Download from: www.aghalibrary.com

ښکلا او سیکسي اندام وراخیستی دی. ان د خبرو انداز مې هم باید د هغې له همدې احساس سره همږغولای. لنډه دا چې داسې مې باید ښودلای چې له هغې سره شناخته کېدو سخت پر جوش راوستی او گرم کړی یم.
ما و هغه په دوو مخالفو قطبونو کې سره ولاړ وو. هغې ته د خپل ښایست په زور د چرگوړو د راز رسوا کولو دنده سپارل شوې وه او ما باید د خپل اصلي ماموریت له پلان سره سم پر پفلونک پټ شوي توکي پلورلای.
د یوه داسې چا په رول کې راڅرگندېدل چې په لومړۍ لیدنه کې د هغې ښکلا زړه ځنې وړی وي، اسانه کار نه برېښېد، په تېره بیا چې دا تمثیل باید طبیعي ښه هم لرلای. دا چې ترودې هم په خپل وار یوه عادي ښځه نه وه، دې بیا کیسه نوره هم پسې سختوله. هغه ښایي په خپل تېر ژوند کې د گڼو څارگرو پر وړاندې همداسې لوبېدلې وه. داسې یوه تجربه کاره ښځه په یوه اسانه غولېدای نشوه. هغه د دغسې تمثیلونو له رگ رگه خبره وه. همدې ته په پاملرنې سره که مې یوه وړکې تېروتنه هم کولای نوموړې راباندې پوهېده. حتماً مې باید ورته ښودلای چې له زړه پر مېین شوی یم او د پرېښودو توان یې نه لرم.
د بلنې په پیل کې د ترودې مانادار کاته، د بلانکا د ساختگي مېړه ویکتور ډاسن له خوا مېز ته زما ورغوښتل او نورې صحنې چې ترودې یې مرکزي لوبغاړې وه، ټول یوازې و یوازې د دې لپاره ول چې جرمنۍ څارگره شبکه د چرگوړو راز مالوم کړي.
زما بیا تر هغوی لا ډېر تلوار وو. غوښتل مې ژر تر ژره یې د ابهام له تیارو راوباسم او د سوداگرۍ مېز ته یې کښېنوم. نیت مې وو چې ترودې په غېږ کې ونیسم، د چرگوړو له شفره یې خبره کړم او په پوره سادگۍ ځان د وسلو تجار وروپېژنم.
همدا یې ښه وخت وو، ځکه داسې مې ښودلای شوه چې د چرگوړو راز مې د ډېر هیجان او پر جوش راتلو له وجې رسوا کړی دی. د دې لپاره چې ځان ډېر

Download from: www.aghalibrary.com

گرم شوی وښیم ناړې مې تېرې کړې او ومې ویل: هر کار چې وایې کوم یې.
خورا ځیرک څواب یې راکړ: ولې زه درته ووایم، ته خپله باید هر څه راته ووایې.
- ولې همدا مو وروستۍ لیدنه ده؟
- مطلب دې څه دی؟
ومې ویل: په نورو لیدنو کې به هر څه درته ووایم.
په یوه نرۍ موسکا یې وویل: آ نو بیا به هغه وخت زه هم درته ووایم چې درسره پاتېږم کنه.
ومې ویل: خو زه ډاډه یم چې که خبره شې زه په نژدې راتلونکې کې شتمنېږم، خامخا به مې وړاندیز هم ومنې.
پزه کې یې وخندل او ویې ویل: په نژدې راتلونکي کې شتمنېږې! پرېږده یې، زه په داسې سړي پسې گرځم چې زما لپاره ښه مېړه ثابت شي. د راتلونکي په اړه مه رغېږه.
تر لنډ څنډ وروسته یې په موسکا زیاته کړه: ستا په اند دغه ډول خبرې، هغه هم په لومړۍ لیدنه کې ډېرې نه دي؟
ومې ویل: په هېڅ وجه ډېرې نه دي. زما په اند خو د یوې ښځې او سړي لپاره لومړۍ لیدنه برخلیک ټاکونکې ده. اوس ته باید زما سره د بیا-بیا لیدو ژمنه وکړې.
- دا موضوع تا ته ډېره ارزښتناکه ده؟
- ستا تر تصور هم لوړه.
- ډېر ښه، نو ژمنه ده.
- هیله من دې کړم.
ویې خندل او ویې ویل: تاسې نران هم په څه عجیبو-عجینو شیانو پورې زړونه تړئ.
ومې ویل: زما لپاره چې یو مستعفي پوځي یم، ستا په شان یوې ښکلې او زړه

Download from: www.aghalibrary.com

راکښونکې ښځې سره شناخت ډېر ارزښتناک دی. په هېڅ قیمت دې باید له لاسه ونه باسم.

په یوه ځیرکه خندا یې وویل: کوښښ وکړه همدا دعوه زبات کړې.

- پر خپله بریا ډاډمن یم.

- وګورم چې ته لا څه کوې.

ویکتور او بلانکا چې سره نځېدل، موږ ته رانژدې شول. ویکتور وویل: تاسې دوه خو خورا سره ګرم شوي یاست.

ترودي موسکۍ شوه او ورته ویې ویل: د دالمار تودوخه زیاته ده.

ویکتور په لغاز وویل: دا په دې چې دالمار لالا په پوځ کې وخت تېر کړی دی!

په خندا مې وویل: یا هم ښایي کوم بل لامل ولري.

ترودي په ټیټ اواز راته وویل: د ویکتور ماغزه خراب شوي دي، خبره مه ورسره اوږدوه.

ومې ویل: څنګه ده چې بېرته مېز ته سره ولاړ شو.

- تر اوسه خو لا نځا نه ده خلاصه شوې.

- چې خوښه دې وي.

څه یې ونه ویل او لږ رانژدې شوه. هم ځیرکه او هم په خپل کار کې ډېره تکړه وه. که داسې نه وای دغسې دنده یې هم نه ورسپارله. د پفلونک شبکې زما پوځیتوب ته په پام سره په لومړۍ لیدنه کې د داسې مسایلو د رامنځته کولو لاربښوونه ورته کړې وه چې معمولاً د ښځې او نر ترمنځ باید تر څو ملاقاتونو وروسته مطرح شي.

د هغوی په اند ما غوندې یو مستعفي پوځي د چوپړ پر مهال له ډېرو خوندونو بې برخې وي او دغسې یوه ازادانه چاپېریال ته په راګرځېدلو سره به یې طبعاً له ښوی مخلوق سره مینه تر یوه عادي سړي څو واره زیاته وي. له همدې امله به نو د

Download from: www.aghalibrary.com

ترودي په شان يوې جذابې ښځې سره ان په لومړۍ مخامخېدنه کې لا د ځان واګې ځنې وښويېږي. زه هم کټمټ د هغوی له وړاندوينې سره سم روان وم. د نڅا د موسيقۍ له پای ته رسېدو سره سم زه و ترودي خپل مېز ته ستانه شوو. ترودي ځان ته يو څه شراب واچول او ويې څښل. وروسته يې سګرېټ ولګاوه او ويې پوښتل:

- رښتيا هېر مې شول چې وپوښتم ته چيرې اوسې؟

ومې ويل: د برنيس هوټل په ۱۸مه شمېره خونه کې.

- څومره عجيب تصادف! موږ هم هماله اوسو؛ په ۲۰ او ۲۲ نمبر خونو کې.

- دا هم په نېکپالۍ نيسم.

ويې خندل او ويې ويل: هسې نه يو وخت دې فالبيني کړې وي!

هماغسې چې ښکلو سترګو ته مې يې کتل، ومې ويل: ستا په اړه، ښايي.

ويکټور او بلانکا هم مېز ته راغلل. ترودي هغوی ته مخ کړ او ويې ويل: دالمار هم په برنيس هوټل کې مېشت دی.

بلانکا سترګې راپکې وګنډلې او ويې ويل: نو بيا مو ولې دا څو ورځې هلته نه دي سره ليدلي؟

ومې ويل: ما همدا نن هلته واړول.

ويکټور ساعت ته وکتل او ويې ويل: د شپې يوه بجه ده، څو نه هوټل ته؟

ترودي وويل: هلته به مو ته وا داسې سات تېر شوی وي!

بلانکا وويل: زه و ويکټور هوټل ته ځو، ته او دالمار همدلته پاته شئ.

ومې ويل: زما خوښه ده.

ترودي وويل: خو زما بيا نه ده خوښه.

وروسته يې بلانکا ته مخ کړ او ورته ويې ويل: ستا و ويکټور پرته مو سات نه تېرېږي، ښه به دا وي چې پر همدې ځای يې سره ختمه کړو او هوټل ته ولاړ شو.

Download from: www.aghalibrary.com

ټول ستړي يو او ارام ته اړتيا لرو.
بلانکا وويل: ښايي دالمار يو ځانته پلان ولري.
ومې ويل: هېڅ پلان نه لرم، زه هم هوټل ته ځم.
څو دقيقې وروسته يوځای له کاپوچين کاباري راووتو او برنيس هوټل ته ولاړو. د هوټل دويم پوړ ته چې ورسېدو، ويکتور وويل: فکر کوم د ټولو سات تېر شو.
بلانکا وويل: نه هېرېدونکې شپه وه.
ومې ويل: دا خبره بايد زه وکړم چې ستاسو په ځانګړې توګه له ترودي سره مې وپېژندل.
ويکتور وخندل او ويې ويل: اخير پای ترودي د خپلې خوښې سړی وموند.
ترودي وويل: ويکتور شرابو په سر نيولی دی، د ټولو يې شپه په خير!
له دې سره مخ پر خپله خونه روانه شوه... په هغې پسې بلانکا او ويکتور هم شپه په خير راته وويل. تر هغو همالته ولاړ وم چې ترودي د خپلې کوټې دروازه خلاصه کړه او ننوته....
پر چپرکټ وغځېدم او په داسې حال کې چې سترګې مې په چت کې ګنډلې وې، له سګرېټه مې مړې-مړې لوخړې پورته کولې او له پلان سره سم روان ماموريت په اړه مې چورت واهه. تر دې دمه لا د پټې پيل وو، خو ډاډه وم چې اصلي تګلوري ته له سمېدو سره سم به هر څه زما له پلان او وړاندوينې سره سم پر مخ ولاړ شي.
د شپې شاوخوا دوې بجې وې. غوږنتل مې د څراغ ګلولو لپاره پاڅم چې د خونې دروازه ټيټه غوندې وټکېده. سر مې خلاص شو چې ترودي ده، غواړي خپل وروستی رول ولوبوي او کيسه ختمه کړي.
ور مې پرانيست، ترودي راننوته او ويې ويل: ويښ مې نه بللې!
دروازه مې وتړله او ومې ويل: ستا په اړه مې فکر کاوه.

Download from: www.aghalibrary.com

- زه هم همداسې، خوب نه راتلی.

- زنګ به دې راوهلای، زه خپله خونې ته درتلم.

- ستا خونه پر ښه ده.

لاسونه مې پر راتاو کړل، ټینګه مې غېږه کې ونیوله او پر شونډو مې شونډې ورکښېښودې... هغې هم لاسونه پر غاړه راوګرځول او سینې ته یې ورجوخت کړم. په ټیټ او راپارېدلي ږغ مې ورته وویل: سخته خوږه رابانډې لګېږې!

هوس پاروونکې موسکا یې وکړه او ویې ویل: پر ما هم همداسې لګېږې!

له غېږې یې ځان راڅخه وایست او د کټ خوا ته ولاړه. د خوب نرۍ ګلابي رنګه چپنه یې وایسته، د خونې پر نس یې وغورځوله او خپل اوربلوونکی اندام یې په سترګو راننه ایست. رډ-رډ مې ورته کتل. دا باید ومنم چې د انسان روح یې قبضاوه. هماغسې چې وږي-وږي مې ورته کتل، ومې ویل: ته په رښتیا ډېره ښکلې یې!

په مانداره موسکا یې وویل: نو ته وایې چې تر سهاره باید ویده نشو؟

تر بربنډ بازو مې ونیوله، منګولې مې پر ټینګې کړې او ومې ویل: سبا څه چې تر بل سبا لا سترګه نه پټوو!

پر چپرکټ ورونږېده. زه یې هم اړخ ته وغځېدم. په زرینو وېښتانو کې مې یې ګوتې ورډوبې کړې. د خوندورو عطرو څپه یې راڅخه ونښته. خو له دې هر څه سره-سره مې هم ځان او خپل ماموریت ته پوره-پوره پام وو.

د سور څراغ په تته رڼا او هغو مزه دارو شېبو کې مې خیال شو چې تروږي هماغه د نڅا د مهال پوښتنو ته بوزم. ورته ومې ویل: ایا د واده غوښتنه درڅخه کولای شم؟

هماغه څواب یې راکړ چې په تمه یې وم، ویې ویل: په تش لاس خو واده نه کېږي. زه باید لږ تر لږه دومره وپوهېږم چې ته له کومې لارې ځان شتمنول

Download from: www.aghalibrary.com

غواړي.

- زما په اند د ځان درپېژندلو وړ وخت رارسېدلی دی.

- ستا خوښه ده.

ومې ویل: تا ته ښايي ډېر وايسي، مګر زه سخت ورته هیله من یم.

ویې ویل: تر اوسه خو دې لا راته ویلي نه دي.

له شونډو مې یې یوه پسته مچه واخیسته او ومې ویل: ما او دوو شریکانو مې ښه ډېره وسله یوځای پټه کړې ده او غواړو تر جګړې وروسته یې وپلورو.

په داسې حیرانتیا چې ساختګیوالی پکې څرګند وو، وویل: ښه نو ته غواړې د قاچاقي وسلو سوداګر شې؟

ومې ویل: همداسې ده، هر ډول وسله لرو، خو ستونزه دا ده چې اوسمهال هېڅ خریدار په ګیر نه راځي.

په پزه کې یې وخندل او ویې ویل: دومره وپوهېدم چې په خوبونو کې اوسې.

ومې ویل: نه، خطاوتې. تر جګړې وروسته د قاچاقي وسلو بازار ګرمېږي.

ویې ویل: همدااوس یې هم بازار ګرم دی.

- له دې خبرې دې موخه څه ده؟

- موخه مې دا ده چې دا کار یې پر ما.

په ساختګي حیرانتیا مې ورته وویل: د وسلو خرڅلاو یې پر تا؟ هېڅ مې سر نه خلاصېږي چې ته اوس وایې څه؟

ویې ویل: زه خبره شوې یم چې یوه ډله د یوه افریقایي هیواد د ازادي غوښتونکو لپاره د وسلو او نورو جګړه ییزو وسایلو په رانیولو اخته ده، کولای شې ورسره په اړیکه کې شې.

په هماغسې له حیرانۍ ډک انداز مې وویل: هسې نه ډریو ته دې اچولی یم!

- په دې اړه د ویکتور مالومات تر ما زیات دي،

Download from: www.aghalibrary.com

- د بلانکا مېره ویکتور؟

- هو، هغه پر دغې ډلې څو عرادې ټرکونه خرڅ کړي دي.

ومې پوښتل: ویکتور څه کاره دی؟

په موسکا یې وویل: نو ته بیا یو کاره یې چې وسلې خرڅوې؟

ومې خندل او ومې ویل: پر ځای ځواب وو.

ویې ویل: که غواړې زه به ویکتور ته ووایم چې ورسره ورغېږې. البته ته خپله هم ورته ویلای شې.

ومې ویل: نن ماښام وختي دوه تنه کوټې ته راغلل. هغوی غوښتل د پخوانۍ دندې په دوه برابره معاش مې له ځان سره ولګوي، خو ما ورسره ونه منله او ورته ومې ویل چې نور نه جنګ کوم او نه توپک په لاس کې اخلم.

ترودي وپوښتل: درته ویې نه ویل چې د څه لپاره دې ګوماري؟

ورو مې سر وخوځاوه او ومې ویل: ولې نه، ویل یې د یوه افریقایي هیواد د ازادي غوښتونکو د روزنې لپاره؛ خو د هیواد نوم او موقعیت یې راونښودل.

- ویکتور ته یې هم نوم نه دی ورښودلی.

- زما لپاره د وسلو پلورل مهم دي، غواړم شتمن شم.

- ویکتور هم په همدې اند دی.

ترودي په ډېر ځراکت او ځانګړي مهارت بحث اوږداوه. نوموړي د چرګوړو په راز د خبرېدو تر څنګ یوه بله موخه هم درلوده او هغه دا وه چې غوښتل یې په عین حال کې زما او زما د خبرو رښتینولي هم ځان ته څرګنده کړي. په دې مانا چې وګوري ایا پوښتنو ته یې بشپړ ځواب ورکوم او که ځینې شیان څنې پټوم. ما هم هر سوال په هماغه رښتینولۍ او سادګۍ چې له هغې سره په مخامخېدو کې مې له خانه ښودلې وه، ورځواباوه. همدغه تګلاره د خپل پلان د بریالي کولو او دغه راز د ترودي او هغې د ملګرو د باور خپلولو لپاره ډېره اړینه وه. یوازې په

Download from: www.aghalibrary.com

تذکره مې هغوی نه قانع کېدل، بلکې باید د ښکلې تروډي په وسیله یې دا منلې وای چې زه رښتیا هم یو مستعفي پوځي یم او اوس غواړم د وسلو په سوداګرۍ ځان شتمن کړم.

تروډي چې هم زما سره شیدې ایله کړې، په نیمه شپه مې خونې ته راغلې وه او د مینې تار یې راسره ځغلولی وو، هم د همدې هدف لپاره وو. د دې په خپل فکر یې ګواکې زه وپارولم او خپله دنده یې ترسره کړه. په ښکاره پر دې بریالۍ شوې وه چې په نښه شوی سړی د خپلې ښکلا په لومه کې بند کړي. په خورا استادۍ لوبېده. ما خپله افرین پر وایه.

نوموړې په لنډ وخت کې زما او زما د دندې په باب مالومات ترلاسه کړي ول. په بن غازي کې زما د ګټور کاروبار د اصلیت په مالومولو سره یې ګواکې ماموریت په کامیابۍ سره پای ته رسېدلی وو. څو دقیقې وروسته یې وویل: زه به بېرته خپلې کوټې ته درځخه ولاړه شم.

ومې ویل: موږ خو سره ویلي ول چې تر سپېده چاوده به همدلته یې.

ویې ویل: دواړه بدخوابه یو او باید ویده شو.

- د نن شپې خوږه خاطره به مې هېڅکله له یاده ونوزي.

- ته لومړنی نارینه یې چې دومره رانژدې کېږې.

- نو لکه چې بخت مې ډېر زورور دی.

ویې ویل: که بخت همدا وي، نو هو بختور یې.

ومې ویل: هیله ده دا مو وروستۍ شپه نشي.

پاڅېده او ویې ویل: په همدې هیله!

زه هم له کټه کښېنته شوم، ګلابي رنګه نازکه چپنه مې یې راپورته کړه او ورته ومې نیوله... وروسته مې غېږه پر راوګرځوله او ښکل مې کړه.

Download from: www.aghalibrary.com

وېې ویل: ډېر ارواوړی [1] یې.

په موسکا مې ورته وویل: دا په دې چې پوځي یم.

شیطانې سترګې یې راپکې وګنډلې او وېې ویل: باید لیرې درځخه وښورم.

- خدای دې وکړي چې سات دې تېر شوی وي.

- بښخي ډېر.

تر دروازې ورسره ولاړم... د مخه ښې پر مهال یې په یوه ساختګي لهوالتیا غاړه کې لاسونه راواچول او راسره شونډو پر شونډو شوه....

وروسته یې ور پرانیست، غلچک غونډې یې دالېز تر سترګو وایست او چې ډاډه شوه څوک نشته، خدای پاماني یې واخیسته او په منډه خپلې خونې ته ولاړه....

● ● ●

لاندې سالون کې مې سهارنۍ خوړله چې ویکتور ډاسن مې مېز ته راغی، کښېناست او وېې ویل: کولای شو سره وږغېږو؟

ومې ویل: درته منتظر وم.

وېې ویل: څو دقیقې مخکې ترودې ستا یادونه راته وکړه، اوس راغلی یم چې نظر دې وپوښتم.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: نظر مې دا دی چې ژر تر ژره خپلې وسلې په پیسو واړوم.

ویکتور ګارسون ته وربږغ کړل او د سهارنۍ راوړلو سپارښت یې ورکړ. وروسته یې ما ته مخ کړ او وېې ویل: تاکلې ده هغوی نن شپه دلته راشي، ځکه زما بو څه پیسې پر پانه دي.

---

(۱) ارواوړی – سخت وړی، سرابښ.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: له پړسېدلو سترګو دې داسې ښکاري چې تر سهاره نه يې ویده شوی.
ویې ویل: هره شپه چې شراب وڅښم سهار دغه شی راځخه جوړېږي.
ومې پوښتل: هغوی څنګه سودا درسره وکړه؟
- نغدې پیسې یې راکړې او ترکونه یې بوتلل.
- زه هم همداسې غواړم چې نغدې راکړي او وسلې واخلي.
ویې پوښتل: ایا وسلې دومره دې چې تا شتمن کړي؟
ورو غونډې مې سر وخوځاوه او ومې ویل: دومره دې چې د ازادي غوښتونکو یوه بشپړه ټولۍ په وسلواله شي.
- نو بیا خو دې کار جوړ دی.
- له ترودي سره واده خو څه وړیا نه دی، ډېرې پیسې غواړي.
ویکتور سترګې راپکې وګنډلې، شونډې یې په موسکا سره بېرته شوې او په یوه مصنوعي حیرانتیا یې وویل: زما خو زړه ته نه لوېږي چې تا و ترودي دې د واده تر بریده سره رسېدلي یاست. اخیر د شناخت مو څلیرویشت ساعته لا نه دي وتلي. زما په خیال ټوکې کوې.
ومې ویل: هماغه تېره شپه مو د نڅا په اوږدو کې یو و بل د ګډ ژوند لپاره سره خوښ کړل. ما د واده وړاندیز ورته وکړ او هغې ومانه.
ویکتور وویل: ډېر نېکمرغه یې. ما و بلانکا تر څو میاشتنۍ ګډې اوسېدنې وروسته ایله د یو و بل پر پېژندلو او واده کولو وتوانېدو.
ومې خندل او مې ویل: داسې هم پېښېږي چې یو نر و ښځه تر کلونو-کلونو شناخت وروسته په دې وپوهېږي چې ترمنځ یې واده د دواړو غاړو په بخت و قسمت پورې اړه لري. یو ډول قیمار دی ولا.
- خو ترودي تر اوسه په دې اړه زما او خپلې خور سره کومه خبره نه ده کړې.
- تر اوسه لا وخت شته، ښايي نن درته ووايي.

Download from: www.aghalibrary.com

- په هر صورت، زه او بلانکا ستاسې له واده سره کومه ستونزه نه لرو.
پزه کې مې وخندل او ومې ویل: که ستونزه وهم لرئ، څه مو له وسه نه دي پوره!
ځکه تروډې بالغه ښځه ده او پخپله د خپلو پرېکړو واک لري. بل دا چې زموږ هم
یو و بل سره خوښ دي او خوشحاله ژوند لرلای شو.
ویکتېور ورو سر وښوراوه او ویې ویل: هو، تاسې یوه ښکمرغه جوړه یاست.
ومې ویل: اوس باید زما و ستا په اړه سره وږغېږو. ستا په خیال کله به وسلې په
پیسو واړولای شم؟
ویکتېور وویل: لومړی باید له هغوی سره خبرې وکړې، همدا چې پر بیه سره جوړ
شوئ، هغوی به پیسې درکړي او ته به وسلې ورکړې.
ومې پوښتل: څه وخت ورسره لیدلای شم؟
- مخکې مې درته وویل چې نن یې د پاته پیسو د راکولو ژمنه راسره کړې ده.
- په کومو پیسو مو معامله سره کړې ده؟
- په امریکایي ډالرو.
په خندا مې وویل: یا امریکایي ډالر یا انګرېزي پونډ، نورې پیسې په درد نه خوري.
ویکتېور په یو څه احتیاط سره وویل: په طلایي مارکو هم معامله کولای شې.
- طلایي مارک؟
- هو، خوښ دې شول؟
- ډېر عالي. سره زر خو ډېر ارزښتناک دي.
- مګر ما امریکایي ډالر واخیستل.
- خو زه بیا په سرو زرو معامله کوم.
ویکتېور وویل: زما برخه دې هېره نشي.
په خندا مې وویل: ستا کمېشن خو خامخا درکوم.
ویې پوښتل: مثلاً څو سلنه؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: همدا چې له خوښينې سره دې واده کوم، دا خپله په سل سلنه حسابېږي.

په ډکه خوله يې وخندل او ويې ويل: تاسې پوځيان هم څه نادر-نادر چورتونه وهئ.

ومې ويل: په هر حال، ونډه دې پر ما.

ويې ويل: زما خپلې پيسې بس دي. زما کمېشن ترودي ته ورکړه. اوس که دې اجازه وي زه به خپله سهارنۍ وخورم.

ومې ويل: ته دې سهارنۍ ووهه، زه به خپلې خونې ته درځخه ولاړ شم. که هغوی راغلل خبر مې کړه.

پاڅېدم. ويکټور وپوښتل: دباندې وتلو ته خو به دې خيال نه وي؟

- په دې سره اهاړ کې به سړی چيرې ولاړ شي!

- نو به هغوی ته ووايم چې ته ورته منتظر يې.

- ودې گورم چې ته لا څه کوې.

له سالونه ووتم او خپلې کوټې ته ولاړم... د کړې ژمنې پر بنسټ ډگروال لاکسټر لس نيمې بجې مهال زنگ راوواهه او ويې پوښتل: د چرگوړو کيسه دې څنگه کړه؟

ومې ويل: نن يې درک لگېږي.

- په کومه بيه؟

- نن له پېرودونکي سره ږغېږم.

- نو نن شتمنېږو له خيره؟

- هو، که معامله سر ونيسي. رښتيا ژرژ پر کوم حال دی؟

ډگروال وويل: حال نه په لرم.

ومې ويل: که دې نن شپه وخت پيدا کړ يو پلا کاپوچيني کاباري ته سر راايسته

Download from: www.aghalibrary.com

کړه.

- زړه ته مې نه لوېږي چې ودې کولای شم.

- چېرې ځې؟

ډګروال لاکسټر وویل: یو تونسی پیدا شوی چې خورا چاغ او غټ چرګوړي لري. له هغه سره مې ژمنه کړې چې ورشم او له نژدې یې وګورم. ګوندې په لږ بیه یې ځنې رانیولای شم.

ومې ویل: چرګوړی په پنځه ویشت ډالره بد نه دی، البته که جوړ و نامي وي.

ډګروال وویل: ستا لکه چې ماغزه خراب شوي دي. له ښځې سره مې یې ویلې چې که مې خوښ شول نو تر پنځلس شل ډالره یې ګران نه ځنې اخلم.

- ښايي په دې بیه یې ونه مني.

- خو هغه پیسو ته اړتیا لري.

- نو هڅه وکړه چې ارزانه یې رانیسې.

ویې پوښتل: بل څه خو به دې نه ویل؟

ومې ویل: که مو معامله سره وشوه بیا مې خبر کړه.

- کوښښ کوم.

- بریالی اوسې.

غوږی مې کښېښوده... نژدې ډاډه وم چې جرمني څارګر دغه ټیلیفوني خبرې هم اوري او زما پر پوځیتوب او د وسلو پر سوداګری یې باور نور هم پخېږي.

شاوخوا یوولس بجې مهال ویکټور ډاسن زنګ راوواهه او ویې ویل چې دوریه او اګوست غواړي راسره ووینې.

ورته ومې ویل: راویې لېږه دلته.

د غوږی تر ایښودلو لږ وروسته دروازه وټکېده... خلاصه مې کړه؛ دوریه او اګوست ول، هماغه دوه چې پرون راغلي ول.

Download from: www.aghalibrary.com

دواړه خونې ته راننوتل. ور مې وتاړه او ومې ویل: درته کتل مې.

دوریه په موسکا وویل: له یوه نوي وړاندیز سره درته راغلي یو.

ومې ویل: هیله ده دا پلا توافق ته سره ورسېدلای شو.

اگوست چې یو کم تجربه او زیږ ځوان وو، وویل: ولې دې برابې د وسلو یادونه ونکړه؟

موسکی شوم او ومې ویل: عموماً د دغسې کاروبارونو لپاره یوې وسیلې ته اړتیا وي. هغه مهال مې ستاسې سره سم شناخت نه درلود.

دوریه وویل: ښه به دا وي چې پر اره موضوع سره ورږغېږو. تاسې څو میله توپکان لرئ؟

ومې ویل: دقیق شمېر یې نه دی رامالوم، مگر د ازادۍ غوښتونکو یوه ټولی په وسلواله کولای شي. پر توپکانو سربېره څو میله سپک و درانه ماشینداران او څو دانې توپنچې هم لرم.

اگوست وپوښتل: د کوم ځای جوړ دي؟

ومې ویل: د امریکا، جرمني، انگلستان او ایتالیا.

اگوست چې احمقانه پوښتنې یې عادت وې، وپوښتل: له کومه مو کړي دي؟

یوه سپکه موسکا مې وکړه او ومې ویل: له ویکتور ډاسن څخه مو هم پوښتنه کړې چې ترکونه یې له کومه کړي دي؟

دوریه وویل: زما د ملگري پوښتنه نااورېدلې ونیسئ.

ومې ویل: نه، ورځوابوم یې: دا وسلې به یا موږ د افریقا له جنگې مورچو ترلاسه کړي وي او یا به مو هم غلا کړي وي. څه پروا لري؟ اوس یې تاسې رانیوونکي او موږ خرڅوونکي یو.

اگوست وویل: پوهېږم.

ومې ویل: په دې اړه زما د ملگرو هڅې تر ما زیاتې وې.

Download from: www.aghalibrary.com

دوريه وويل: د وسلو تر ليدو وړاندې به يې پر بيه سره وږغېږو.

ومې ويل: ښه خبره ده. توپک دانه په يو سل شل، ماشيندار په يوسلو شپېته او توپنچه په پنځه اويا امريکايي ډالره. مرمۍ هم دانه په پنځه ويشت سنته.

اګوست وويل: د درانه ماشيندار بيه دې ونه ويله.

ومې ويل: دغه کار کې موږ درې تنه شريکان يو. درنې وسلې لا په لاس نه دي راغلي، خو اميد شته چې راورسېږي. تر دې شېبې خبر نه يم چې شريکانو به مې سودا سره رسولې وي کنه. زما په اند دا معامله دې د اوس لپاره وي.

دوريه وپوښتل: توپکان څو ميله دي؟

اوږې مې وخنډلې او ومې ويل: دقيق نه دي راته مالوم. فکر کوم درې درې نيم سوه ميله به وي. مګر ماشينداران او توپنچې تر دې ډېرې کمې دي.

دوريه په موسکا وويل: په ټوله بيه کې د پنځه سلنه په تخفيف سره سودا ته چمتو يو.

تر څو شېبې څنډ وروسته مې وويل: سره له دې چې دومره تخفيف به مې شريکانو ته خوند ورنکړي، خو درسره خوښوم يې.

اګوسټ وويل: اصلي کيسه دا ده چې تاسې له پيسو لګولو پرته غواړئ شتمن شئ.

ومې ويل: داسې هم نه ده. اکثره توپکان مو ارزانه رانيولي دي او اوس يې ګران پلورو. بل دا چې تاسې هم چا په زوره دې سودا ته نه ياست مجبور کړي.

دوريه وويل: سودا خلاصه شوې ده. نورې خبرې نه پکې ځايېږي. اوس د وسلو د ليدلو وخت دی.

ومې ويل: چې هوا تياره شي درښکاره به يې کړم.

اګوست وپوښتل: ولې اوس څه ستونزه ده؟

پزه کې مې وخندل او ومې ويل: ستونزه يې دا ده چې وسلې ناقانونه دي.

Download from: www.aghalibrary.com

دوریه وویل: په موخه دې پوه شوم. خیر وي دي، پروا نه لري.
دوریه او اگوسټ مې د شپې پر لس بجې هوټل ته راوغوښتل چې بیا یې د ښار دباندې بوزم او وسلې وروښیم. په ښکاره پر شوې سودا خوښ ایسېدل.
د هغوی تر تګ وروسته پر سوفه کښېناستم او په یوازېتوب کې مې د وسلو د خرڅلاو پر موضوع له بېلابېلو اړخونو فکر وکړ. پر جرمني څارګرو د وسلو پلورلو هدف د مکس پفلونک څرک لګول وو. ټوله هیله مې دې ته وه چې ګوندې د پیسو د راکړې ورکړې پر مهال یې پته ولګېږي او زه د خپلې دویمې نقشې پر پلي کولو وتوانېږم.
له دې هر څه سره-سره دا هم ممکنه وه چې له مکس پفلونک سره هېڅ مخامخ نشم، ځکه خپل ټول واک یې دوریه او اګوسټ ته ورکړی وو او ښایي ټوله معامله یې د هغوی په وسیله ترسره کړې وای. له ښکاره نښو داسې برېښېده چې پفلونک د وسلو رانیولو په کیسه کې له سره هېڅ لاس نه لري. ځکه دوریه او اګوسټ کوم درېیم کس ته اشاره نه وه کړې. که همداسې کېدای، نو د پفلونک د لیدلو پلان مې په اوبو لاهو کېدی.
له ځان سره مې وویل چې که ناکام شوم، نو یا باید پر راغلې لار بېرته ستون شم او یا هم له کومې بلې لارې ځان موخې ته ورسوم. البته دغې بلې لارې یوه نوي پلان ته اړتیا لرله تر څو په وسیله یې خپل ماموریت له ماتې وژغورم. د دغې لارې هر اړخ باید له ټولو جزیاتو سره ډېر دقیق سنجول کېدای. تر ټولو مهمه دا چې دغه نوی پلان مې باید د ماتې تر احساس رالوېدلو مخکې جوړولای.
دا نوې نقشه یا په بله ژبه د ماموریت د تګلورې بدلون مې باید په داسې ښه ترسره کولای چې جرمني څارګر یوه ذره هم نه وای راباندې شکمن شوي. په دې اړه تر ډېر او ژور سوچ وروسته دې پایلې ته ورسېدم چې د سټراټفورډ پلان او د جرمني جاسوسانو لومړنی وړاندیز یانې زما ګومارنه، د خپلې دغې نقشې بنسټ وګرځوم.

Download from: www.aghalibrary.com

دوریه او اګوست چې ظاهراً یې د یوه افریقایي هیواد له ازادي غوښتونکو سره د مرستې دعوه کوله، زما د ګومارلو په وړاندیز سره د دویم پلان پلي کولو ته وختې لا لار هواره کړې وه. د دغه وړاندیز بیا رامیدان ته کول هغه هم زما له خوا چندانې ګران کار نه وو. بل دا چې په دې کار کې یوازې هم نه وم، بلکې طارق او ګیبسن هم اتومات راسره لګېدل. چې په دې صورت کې مې نو بیا د ماموریت پای ته رسول نور هم اسانېدل. دا هم باید ووایم چې د مکس پفلونک له منځه وړنه څه اسانه کار نه وو، په تېره بیا دا چې ویل کېدل د ساتونکو شمېر یې هم زیات دی....

●●●

د شپې تیک لس بجې وې چې دروازه درې ځله خپه غوندې وټکېده... دوریه او اګوست ول. دواړه راننوتل. ور مې پورې کړ او ورته ومې ویل: پر وخت راغلئ!

دوریه وویل: یوازې ستاسې د ډاډ لپاره.

ومې ویل: زه وزګار یم، کولای شو وخوځو.

دوریه وویل: موږ تر تا لږ وړاندې له هوټله وزو او د سړک پر بله غاړه درته درېږو.

اګوست وپوښتل: یوازې راسره ځې؟ مطلب مې دا دی چې شریکان دې نه راځي؟

په موسکا مې ورته وویل: زما شریکان دلته نشته. چې وخت یې راورسېږي هغوی به هم وويني.

دواړه له خونې څخه ووتل... پنځه دقیقې وروسته زه هم ورسره یوځای شوم. اګوست شتېرنګ او دوریه یې ارخ ته کښېناست. زه شا ته وختم. له خوځېدو سره سم اګوست راڅخه وپوښتل:

- چیرې باید ولاړ شم؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: له ښاره دباندې یو زیارت دی چې نوم یې هم نه راځي، همالته درځه.
دوریه نېغ کښېناست. راویې کتل او په حیرانتیا یې وپوښتل: وسلې دې هلته پټې کړې دي؟
ومې خندل او ومې ویل: یوازنې ځایونه چې د وسلو د پټولو لپاره غوره او بې سرخوږې راته وبرېښېدل همدغه زیارت او هلته نژدې یوه متروکه هدیره وه.
اګوست وویل: هغه ځایونه چې زموږ هېڅ ورته پام نه وو.
دوریه وویل: ما او اګوست داسې فکر کاوه چې له ښاره دباندې دې کوم ځای ښخې کړې دي.
ومې ویل: لومړی مو همدې کار ته نیت وو، خو بیا مو وویل هسې نه بخت مو خراب شي او یو همه غرضه سړی یې راوباسي. همدا وو چې پر دوو برخو مو ووېشلې؛ یوه مو یې د زیارت او بله مو یې د هدیرې د غسلخانې پر بام کښېښوده.
دوریه وویل: ډېر هوښیار سړی ښکارې.
ومې ویل: پوځیان ټوله هوښیاران دي.
تر یوه لنډ ځنډ وروسته مې وپوښتل: هغه زیارت درمالوم دی؟
اګوست وویل: که رامالوم هم نه وي، تاسې به یې راوښیاست.
څه باندې لس نیمې بجې مهال هغې متروکې هدیرې ته ورسېدو... ومې ویل: هدیرې د شپې له خوا وېروونکې دي.
دوریه وخندل او ویې ویل: دا خبره بې ټوکو کوې؟
ومې ویل: دا مې له هغو سترګو ورته وکتل چې د شپې له خوا له هدیرو دارېږي.
اګوست وویل: هغوی نو بیعقلان او خرافاتیان دي. تاسې خو هغوی غوندې نه یاست.
په خندا مې وویل: که وای، نو زه هم د احمقانو او خرافاتیانو په ډله کې شمېرل کېدم.

Download from: www.aghalibrary.com

دواړو وخندل... د هديرې اخير سر ته چې ورسېدو، اګوست وپوښتل: اوس بايد څه وکړو؟

ومې ويل: اول زيارت ته ورځو او تر هغه وروسته بېرته هديرې ته راګرځو. زما په لارښوونه زيارت ته ورسېدو. اګوست موټر هماغه زما و د دېګروال لاکسټر پر ځای ودراوه... درې واړه پلي شوو. دوريه راته مخ کړ او ويې پوښتل: بام ته څنګه ورخېژئ؟

ومې ويل: داسې!

له دې سره سم د موټر چت او له هغه ځايه دېوال او له دېواله د زيارت بام ته وروختم. لار د دوريه په لاس کې د لګېدونکي څراغ رڼا راته روښانوله. د توپکانو بسته مې راسره راواخيسته، په ډېر زحمت دېوال ته راکښته شوم او له هغه ځايه مې په تاڼ کې پېچلي توپکان لاندې څوړند کړل. هغوی راڅخه ونيول او زه بېرته د موټر چت او له چته ځمکې ته راکښته شوم.

اګوست په تلوار تاڼ پرانيست. دوريه پر توپکانو څراغ واچاوه. قصداً مې يو جرمنی توپک را اوچت کړ او ومې ويل: په ويشتنه کې ساری نه لري!

دوريه وويل: په زړه پورې شيان دي.

په خندا مې وويل: په جګړه کې کارېدلی مال دی.

اګوست په داسې حال کې چې يو انګرېزی توپک يې په لاس کې وو، ما ته مخ کړ او ويې ويل: دا خو لس ميله شول، نور چيرې دي؟ که دې ياد وي تا وويل چې يو کندک په وسلوال کېدای شي.

ومې ويل: اوس هم هماغه خبره کوم. تولې وسلې په دريو ځايونو کې پټې کړل شوي دي، دا يې لومړی ځای وو.

دوريه موټر ته ورغی، له شاتني سيټ څخه يې يو انګرېزی توپک راوړ، ما ته يې راکړ او ويې ويل: دا د انګلستان جوړ دی. که ستا ټول توپکان دغسې وي، نو د

Download from: www.aghalibrary.com

مرمیو پیدا کول یې دومره خبره نه ده.

توپک مې په ځیر وکوت. کټمټ هغو توپکانو ته ورته وو چې په هغو دوو لوټل شویو ټرکونو کې لېږدول کېدل. ګواکې ځرګنده شوه چې دا کار د پفلونک خلکو کړی دی.

سره له دې چې پوهېدم دغه توپک او د اګوست د لاس هغه په یوه کارخانه کې نه ول جوړ شوي، بیا مې هم هماغه یوه ته په اشاره وویل: هغه یو هم د انګلستان جوړ دی.

اګوست وویل: هو، مګر ډېر توپیر سره لري.

اوبږې مې وځنډلې او ومې ویل: زه دغه ډول توپکان درکولای شم.

دوریه توپک راڅخه واخیست او ویې ویل: پروا نه لري، اوس مو سودا سره کړې ده.

ما او اګوست توپکان سره ټول کړل او د موټر په باډۍ کې مو کېښېښودل. اګوست وویل: اوس باید په هغو نورو پسې ورشو.

له هغه ځایه په موټر کې هدیرې ته ولاړو. دوریه موټر کې کېښېناست. زه او اګوست هدیرې ته ننوتو او د غسلخانې خوا ته ولاړو. هلته زه غسلخانې ته یوې نژدې ولاړې ونې ته وختم او له هغې څخه بام ته واوښتم. توپکان مې له بامه اګوست ته راوځړول. وروسته مې د بام له څنډې ځان راځوړند کړ او لاندې راوغورځېدم.

اګوست وویل: په دې کې څو میله توپکان دي؟

ومې ویل: باید دوه میله وي.

له ډریو ډکه خندا یې وکړه او ویې ویل: تر دې ځایه شول شل میله توپکان، څو توپنچې او زر دانې مرمۍ. همدومره هم یو بل ځای راسپارې او بیا دا دعوه کوې چې ستا په وسلو یو کنډک نفر وسلوال کېدای شي!

Download from: www.aghalibrary.com

غوټه مې څنې واخیسته، پر اوږه مې کړه او روان شوم. څو گامه چې ولاړم، ومې ویل: کله چې مې ټولې وسلې دروسپارلې او تا ولیدل چې پوره نه دي، بیا دغه خبره وکړه. دا شل میله د نمونې په توگه درکوم.

- نو بل څل ډېرې راکوې؟

- البته د دغو وسلو د پیسو له ترلاسه کولو وروسته.

- پیسې هم درکولای شو. له دوریه سره دي.

ومې ویل: ما ته به ټیک د درسپارل شویو وسلو په اندازه پیسې راکوئ. سودا باید لاس په لاس وي.

ویې پوښتل: هغه نور ټوپکان دې چیرې پټ کړي دي؟

پر اوږه مې لاس ورکښېښود او ومې ویل: هغه ځای ډېر لیرې دی.

- ښه په همدې شاوخوا کې نه دي؟

- نه، لرې تر لرې درې څلور ساعته مزل دی.

- کوم ځانگړی ځای دی؟

ومې ویل: کله چې مو د تگ پرېکړه وکړه، هغه وخت به یې بیا دروښیم.

ویې ویل: ډېر احتیاطکار یې.

ومې ویل: په پوځ کې یې راته ویل چې باید تر وسه-وسه کمې خبرې وکړم.

اگوست نور غلی شو... له هدیرې څخه چې راووتو، دوریه وپوښتل: ټوپکان څو میله دي؟

ومې ویل: اوس ټولټال شل میله شول.

اگوست ملگري ته مخ کړ او ورته ویې ویل: ژیلوم وایي چې پاته وسلې یې لیرې یو بل ځای پټې کړي دي.

دوریه وویل: هلته هم ورځو، اوس دروخېږئ موټر ته.

وسلې مې په باډۍ کې کښېښودې. لږ وروسته وخوځېدو... دوریه راته مخ کړ او

Download from: www.aghalibrary.com

ویې پوښتل: اوس باید چیرې ولاړ شو؟

ومې ویل: سهار تر لمرخاته وړاندې حرکت کوو.

په حیرانتیا یې وپوښتل: ولې اوس نه؟

شا ته مې ډډه ووهله او ومې ویل: ځکه چې اوس درې واړه ستړي یو.

اګوست راته وویل: یوه خبره چې باید مخکې مو درته کړې وای دا ده چې که دې د دوکې هڅه وکړه، وژنو دې.

ومې ویل: تر دې ځایه خو مې کومه دوکه-موکه نه ده درسره کړې.

دوریه چې تر هغې شیبې نرم ږغېد، وویل: د اګوست مطلب دا وو چې که دې پاته توپکان راونه سپارل، کار دې در کړوپوو.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: زه خو څه لېونی نه یم چې ځان په خطر کې اچوم. اخیر غواړم واده وکړم او دا ټولې هڅې مې د یوه ارام ژوند جوړولو لپاره دي.

دوریه وویل: دا خبرې دې درسره منو.

ومې ویل: اوس زما باور هم درباندې ډېر شو.

نیمه شپه مهال هوټل ته ورسېدو... اګوست تر هوټل یو څه لوړ موټر ودراوه.

دوریه وپوښتل: پر څو بجې حرکت کوو؟

لږ فکر مې وکړ، بیا مې وویل: سهار پر پنځه بجې.

اګوست وویل: بس همدلته سره غواړو.

ومې ویل: یو شی مو هېر شو.

دواړو په حیرانتیا راوکتل... دوریه وپوښتل: څشي مو هېر شو؟

په موسکا مې ورته وویل: پیسې!

دوریه وخندل او ویې ویل: رښتیا وایې!

وروسته یې د کورتۍ جېب ته لاس کړ، د پیسو بنډل یې ترې راوایست، ما ته یې ونیو او ویې ویل:

Download from: www.aghalibrary.com

- دا پنځه زره ډالر مې تا ته ببل کړي ول. د اوس لپاره خو همدومره درسره واخلئ، پاته به بیا وروسته گورو.

بنډل مې ځنې واخیست او ورته ومې ویل: سبا باید ډېرې پیسې درسره راوړئ.

اگوست وویل: له دې اړخه بېغمه اوسه.

د موټر دروازه مې پرانیسته او د شپه په خیر په ویلو سره کښته شوم. نېغ هوټل ته ننوتم... د خونې د کیلیو اخیستلو پر مهال مې له هوټلچي څخه وپوښتل: مېرمن ترودې راغلې کنه؟

هوټلچي نرۍ موسکا وکړه او ویې ویل: هغه له خپلو ملگرو سره یوځای له دې ځایه ولاړه.

په ساختگي حیرانتیا مې وپوښتل: دا څه وایې؟

ویې ویل: نژدې یو ساعت مخکې تر ماښامنۍ خوړلو وروسته یې د هوټل حساب خلاص کړ او پر خپله مخه ولاړل.

- کوم ځای ته؟

- نه پوهېږم صاحبه!

- مېرمن ترودې زما لپاره کوم پیغام-میغام نه دی پرې ایښی؟

- نه ښاغلې!

داسې مې وښووده چې د دې خبر په اورېدو خواشینی شوی یم. کیلۍ مې راسره واخیستې او مخ پر خونه روان شوم. زه پوهېدم چې ښایي ترودې په یوه نه یوه پلمه اړیکې راسره وشلوي او له بن غازي څخه ووزي، ځکه زما څخه د مالوماتو ترلاسه کولو ماموریت یې پای ته رسېدلی وو او د پفلونک کسانو باید ډېر ژر درې واره له صحنې ایستلای. د هغوی دغسې ناڅاپي تری تم کېدو ډاډه کړم چې جرمني څارگرو زما پوځي سابقه او د وسلو سوداگري زره ته اچولې وه. همدغه باور رامنځته کول د راتلونکو پلانونو د پلي کېدو لپاره ډېر اړین وو.

Download from: www.aghalibrary.com

●●●

له بن غازي څخه تر وتلو وروسته دوریه پر خپل ځای رانېغ شو، ما ته یې مخ کړ او ویې پوښتل: نن دې خوند نشته، ایا پوښتلای شم چې ولې؟

ومې ویل: پر ښځو باور نه دی په کار.

اگوست لنډ وخندل او ویې ویل: پوهېدم چې د تروشې تندې لامل دې یوه ښځه ده.

دوریه وپوښتل: څه پېښه ده؟

د سگرېټ پوچک مې د موټر له کړکۍ وغورځاوه او ومې ویل: یوې ښځې د واده کولو ژمنه راسره کړې وه، خو تېره شپه زما له خبرولو پرته په پټه له بن غازي څخه وتلې ده.

دوریه په داسې انداز چې غوښتل یې د دغه خبر له امله خپله اغېزمنتیا راته څرگنده کړي، وویل: او اوس ستا تویبیت خراب دی چې ولې درڅخه ولاړه. زه تر تا مشر یم او تجربه مې زیاته ده. په دې کیسو هېڅ چورت مه خرابوه، یوازنی شی چې کمی یې نشته، ښځې دي. دا یې نه، بیا یې یوه بله.

ومې ویل: ویل یې ساده دي. له هغې سره مې مینه پیدا شوې وه.

اگوست چې شتېرنگ ته ناست وو، وویل: هڅه وکړه هېره یې کړې.

ومې ویل: د هغې د هېرولو یوازنۍ لار دا ده چې بېرته پوځي چوپړ ته مخه کړم.

دوریه په تلوار وویل: ولې پوځي چوپړ ته ستنېږې؟... موږ تر هغه زیات معاش درکوو.

وروسې کتل او ومې ویل: یو دا چې هم د پوځ له چاپېریال سره اشنا یم او هم ډېر ملگري پکې لرم.

دوریه وویل: د افسرۍ په درجه دې راسره لگوو، بیا یې هم نه منې؟

Download from: www.aghalibrary.com

په سرړه سینه مې وویل: باید په دې اړه فکر وکړم.
اګوست وویل: له دې څخه داسې ښکاري چې ځواب دې هو دی.
دوریه وویل: هغه دوه نور شریکان دې هم درسره لګوو.
اوږې مې وڅنډلې او ومې ویل: کله چې سکنا ته ورسېدو او د پیسو و وسلو راکړه ورکړه مو وکړه، بیا به پر دې وړاندیز سره وږغېږو.
د یوه په زړه سوري مېین په بڼه راڅرګند شوی وم او دا رول مې په خورا مهارت سره لوبولی وو. څنې ترلاسه شوې پایله مې هم پر زړه جوړه وه.
تر یوې لنډې چوپتیا وروسته مې وپوښتل: د ازادۍ غوښتونکو له ډلې څخه کوم ځوک د وسلو ترلاسه کولو په چارو کې مرسته نه درسره کوي؟
دوریه وویل: موږ د افرادو د ګومارلو په پړاو کې یو او د هغوی د قومندان له خوا د راکړل شوي واک پر بنسټ مو ستا سره دا سودا کړې ده. ځواب دا دی چې نه، د هغوی له خوا هېڅوک نشته.
نور ډاډه شوم چې په دغه معامله کې د مکس پفلونک لاس نشته او له نوموړي سره د مخامخېدو یوازنۍ لار د هغوی د لومړني وړاندیز منل دي. په ډېر احتیاط او ځواکمنه هیله مخ ته تلم. په دویم پلان کې د پفلونک د له منځه وړلو شونتیا بېخي زیاته وه.
د سهار شاوخوا نهه بجې مهال سکنا ښار ته ورسېدو. هغوی مې هغه کور ته چې طارق یې پته راکړې وه، بوتلل. طارق مې د مرزوک او ګیبسن د ژرژ په نومونو ورورپېژندل. دوریه او اګوست هم ځانونه ورمعرفي کړل.
اګوست غوښتل هوښیاري وکړي، ما ته یې مخ کړ او راته ویې پوښتل: یوازې همدا دوه شریکان لرې؟
د پوښتنې په مانا یې پوهېدم، ورته ومې ویل: یو بل کس هم شته چې بن غازي کې اوسي، هغه شراکت نه راسره لري، بلکې د یوه منځګړي په توګه راسره دی.

Download from: www.aghalibrary.com

ګواکې دلالي راته کوي.
طارق یا په بله ژبه مرزوک راته مخ کړ او ویې پوښتل: څنګه سودا دې ورسره کړې ده؟
هغه او ګیبسن ته مې تڼوله کیسه وکړه. ګیبسن وویل: ستا په فکر توپکان دې لږ ارزانه نه دي ورکړي؟
شونډې مې موسکۍ کړې او ومې ویل: نه، ډاډه اوسه په ګټه کې یو.
دوریه وویل: پاته توپکان چیرې دي؟
طارق راته مخ کړ او ویې ویل: لومړی باید پر بیه سره وږغېږو او وروسته به توپکان ورکړو.
دوریه وویل: موږ خو له ښاغلي ژیلوم سره معامله خلاصه کړې ده.
طارق وویل: تاسې نه ښیم، موږ باید خپلو کې سره جوړ شو.
ومې خندل او دوریه ته مې وویل: تاسې همدلته اوسئ زه دواړه راضي کوم.
طارق او ګیبسن مې انګړ ته وایستل. هلته مې بن غازي کې د راباندې راغلیو پېښو لنډه کیسه ورته وکړه او د ګومارنې په اړه مې هم سر ورخلاص کړ چې څه باید وکړي او څنګه باید وږغېږي.
ډېر امکان یې درلود چې اګوست او دوریه له کړکۍ څخه راته کتلي وای. نو د هغوی د شک لیرې کولو لپاره مو باید ځانونه نورمال ښودلای. د دوریه له خوا راکړل شوې پیسې مې راوایستې او په داسې حال کې چې هغه پیسې مې پر درېیو برخو وېشلې، خبرې مې هم کولې....
وروسته بېرته دوریه او اګوست ته ورغلم. دوریه وپوښتل: شریکان دې راضي شول؟
موسکی شوم او ومې ویل: امریکايي ډالرو د دواړو خولې ورپټې کړې.
دوریه وویل: سم اروابوه یې.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: د اروایوهنې خبره نه ده، پیسې همداسې شی دي؛ هره ستونزه ډېر اسانه هوارولای شي.
اګوست وېوښتل: د هغوی د ګومارلو په اړه ورسره ونه ږغېدې؟
د خونې پر نس کښېناستم او ومې ویل: ژرژ مې راضي نکړای شو، ښایي تاسې یې رامات کړای شئ.
لږ وروسته طارق او ګیبسن هم راغلل... دوریه او اګوست چې هر څومره هڅه وکړه په ژرژ یې ونه منلای شوه. هغه همدا ویل چې له جګړې و انسانوژنې یې کرکه کېږي او غواړي په دغو ترلاسه کړو پیسو یو بل کار وکړي.
د توپکانو او ماشیندارانو د ورسپارلو لپاره تکاوی ته کښته شوو. دوریه او اګوست د وسلو په لیدلو خوله وازي شول. دوریه هماغسې چې په سندوخونو کې یې سترګې ګنډلې وې، وویل: هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې دومره ډېره وسله به ولرې.
ومې خندل او ومې ویل: او تاسې وګوابنلم چې که مې درواغ وویل نو وبه مې وژنئ.
اګوست وویل: زه خپله خبره بېرته اخلم.
ومې ویل: البته باید ووایم چې دا وسلې پوره جوړې هم نه دي او څه ناڅه لاسوهنې و ترمیم ته اړتیا لري، خو ډېر نه.
دوریه وویل: غم نه لري. موږ یې چاره ورکولای شو.
طارق او ګیبسن ته مې وویل چې توپکان او توپنچې وشمېرې او بیا یې وروسپاري.
دواړه شمېرلو ته اړم شول... ماپښین ته نژدې د شمېرنې او بېلونې له کاره خلاص شول او بېرته یې ټولې وسلې د مخکې په شان سندوخونو کې سره واوډلې. د ټولو وسلو په بدل کې مو ټولټال دوولس زره او څلور سوه ډالره ترلاسه کړل. دوریه پاته پیسې چې اووه زره او څلور سوه کېدې، هم راکړې. لنډه دا چې د مکس پفلونک

Download from: www.aghalibrary.com

له شبکې سره مې سودا شوې وه، خو زه لا هم خپل هدف ته نه وم رسېدلی. مګر نهيلی شوی نه وم. سر له هغې شپې مې بايد نور د دويم پلان په اړه فکر کولای. د ماتې توري ما ته مانا نه لرله. په هر ډول چې وای بايد د مکس پفلونک کار مې ورخلاصولای.

ګيبسن مې پوهولی وو چې د خپلې ونډې له ترلاسه کولو سره سم بېله ځنډه خدای پاماني واخلي او مخ پر بن غازي وخوځي. شاوخوا يوه بجه مهال وو چې ګيبسن تګ ته چمتو شو. يو ځل بيا دوريه، اګوست او ان ما و طارق له هغوی سره د کار کولو زارۍ ورته وکړې، مګر نوموړي په يوه موزه کې دوارې پښې اچولي وې او نه يې منله.

ګيبسن په هغه موټر کې چې دی او طارق سکنا ته پکې راغلي ول، بن غازي کې زموږ د پوځي اډې پر خوا روان شو چې ډګروال لاکسټر ته ګزارش وړاندې کړي. همدا زموږ د ادارې د خبرولو يوازنۍ وسيله وه.

زه او طارق له هغوی سره لګېدلي وو او له پيسو ترلاسه کولو وروسته مو ځانونه په واک کې ورکړل. اګوست د دوريه په امر يو څو ساعته ورک شو. د شپې پر نژدې اته بجې بېرته راپيدا شو. يوازې نه وو، يو بل دنګ ځوان هم ورسره وو چې د پوست د رنګ له مخې د شمالي افريقا اوسېدونکی برېښېد. په ټولو مو د وسلو سندوخونه له تکاوۍ څخه راوايستل او د اګوست او هغه عرب له خوا په راوستل شوي ټرک کې مو کښېښودل.

د شپې پر شاوخوا لس بجې مو له سکنا ښار څخه پر يوه داسې لورې حرکت وکړ چې ما و مرزوک يانې طارق ته نه وو مالوم. عرب ځوان ټرک چلاوه او موږ په خپل موټر کې تر شا ورپسې وو. اګوست او دوريه مخ ته ناست ول. ما او مرزوک هم شاتنۍ څوکۍ ورته نيولې وې. څلور سره چوپ و غرپ وو. موټر مو مخ پر سهېل روان وو. ما له ځان سره هڅه کوله د موټر لوړ سرعت او د اګوست تګ

Download from: www.aghalibrary.com

راتګ-چې شاوخوا اووه ساعته یې ونیول-ته په پام سره د سکنا ښار او پفلونک د پټنځای ترمنځ واټن وسنجوم. دې پایلې ته ورسېدم چې ښایي د هغوی اډه د یاد ښار جنوبي خوا ته په دوه دوه نیم سوه کېلومترۍ کې پرته وي. رایاد شول چې د سکنا په سهېل لوېدیځ کې د سپها په نامه یو کوچنی ښارګوټی شته. حدس مې وواهه چې ممکن د پفلونک ځاله د یاد ښارګوټي په شاوخوا کې یوځای وي. د کړي حساب پر بنسټ باید د شپې پر یوه یوه نیمه بجه منزل ته رسېدلای.

خپره چوپتیا مې ماته کړه او د چا له مخاطبولو پرته مې وپوښتل: چیرې ځو؟

دوریه هماغسې چې سترګې یې په مخې ته پرته لار کې وې، وویل: بس اوس نو لږ لار پاته ده.

ومې پوښتل: تاسې رښتیا ما د افسرۍ په درجه درسره لګوئ؟

دوریه وویل: له سرقومندان سره لیدنه به دې دا پوښتنه درځواب کړي.

ومې ویل: او که هغه ستاسې دا وړاندیز ونه مانه، بیا؟

د دوریه پر ځای اګوست وویل: بیا نو مجبور یې ویې منې.

لږ رامخ ته شوم او ومې ویل: دغه خبرې مو باید په سکنا کې سره کړې وای.

دوریه شا ته راوکتل او ویې ویل: ولې تا نه غوښتل چې د هغې ښځې د هېرولو لپاره بېرته پوځ ته ستون شې؟... په هر صورت، اوس زموږ سره کار کوې، یوازې په دې توپیر چې تر پخوا دوه برابره معاش اخلې.

ومې ویل: ستا ټولې خبرې سهي دي، مګر دومره خو باید وپوهېږو چې د کوم افریقایي هیواد د ازادي غوښتونکي پوځ لپاره اخیستل شوي یو او د هغوی قومندان څه نومېږي؟

دوریه په ډېر جدي او داسې انداز چې تر هغه دمه نه وو په ږغېدلی، وویل: ته او مرزوک د چاد هیواد د ازادي غوښتونکي پوځ دوه اجیر سرتېري یاست. پاته شو سرقومندان، اوس د هغه په اړه څه نشم درته ویلای. هغه هم کتمت زموږ په شان

Download from: www.aghalibrary.com

یو ګومارل شوی بهرنی دی. پر خپل وخت به یې وپېژنې. البته که یې خوښه وه.
ومې ویل: دا چاد هیواد باید د لیبیا ګاونډی وي.
دوریه وویل: همداسې ده، مګر د پوځي عملیاتو مرکز د چاد له پولې سره نژدې په لیبیا کې دی.
اګوست وویل: اوس دواړه چوپ کښېنئ او په دې اړه نورې پوښتنې مه کوئ.
په سره سینه مې وویل: ستا د خبرو انداز مې هېڅ نه خوښېږي. سخت مې بد راځي چې یو څوک دغسې راسره ږغېږي.
اګوست یودم موټر ودراوه، مخ یې راواړاوه، سترګې یې نېغې راته ونیولې او ویې ویل:
- سر له اوسه باید امر ته غاړه کښېږدې!
ومې ویل: خو سر مې راخلاص کړه!
دوریه راته مخ کړ او ویې ویل: اګوست د دغه ازادي بخښونکي پوځ تورن او زه هم په رتبه جګړن یم.
مرزوک چې تر هغې شېبې غلی وو، وویل: باید وختي مو ځانونه راپېژندلي وای.
اګوست هماغسې چې سترګې یې په ما کې وې، وویل: تاسې اجیر سرتېري یاست او د مشرانو امرمننه مو لومړنی دنده ده.
په بې پروایی مې وویل: په پوځ کې مې د مشر د امر منلو چل زده کړی دی، اوس حرکت کولای شې.
اګوست بېرته موټر وخوځاوه او ویې ویل: کله چې رسمي شوې او توپک دې غاړې ته ولوېد، بیا به دې سر درخلاص کړم چې د مشر امر څنګه منل کېږي.
ومې ویل: که دې زړه دی چې موږ ته دومره کرښې وباسې، نو ښه به دا وي چې همدلته مو کښته کړې.
دوریه وویل: له بده مرغه تاسې دوه نور د بېرته ستنېدو لار نه لرئ.

Download from: www.aghalibrary.com

په ساختګي غوسه مې وويل: نو بيا تورن اګوست ته ووايه چې ډېر مشرتوب راباندې ونه ږغوي.

دوريه وويل: دا يوازې يوه يادونه وه.

ومې ويل: موږ له پوځي نظم او زورزياتي دواړو سره پوره-پوره بلد يو.

اګوست مخاطب کړم او راته ويې ويل: تا ته بايد د لومړي بريدمل رتبه درکړل شي.

ومې ويل: خو دوريه د افسرۍ ژمنه راسره کړې ده.

اګوست په هماغه زيږ انداز وويل: ډېر هيله من مه اوسه!

غلی شوم... مرزوک مې هم وپوهاوه چې څه ونه وايي... زموږ ترمنځ له شويو خبرو دې پايلې ته ورسېدم چې سرقومندان بايد مکس پفلونک وي او د پلان شوې جګړې لپاره د چمتو کړي پوځ چارې يې يو څو جرمني افسران ورسمبالوي. اګوست او دوريه د هغو کسانو دوې نمونې وې چې لږ وروسته مو بايد ورسره ليدلي واى. د دوی له خبرو داسې ښکارېده چې په شمالي افريقا کې د جوړېدونکي جنګ لپاره خپلې نقشې ته سخت هيله من دي. تاکلې وه دغه جګړه له ليبيا څخه پيل شي. د نازي ځارګرو دغه پلان له ورايه ښکارېد چې د يو څو ناروغو مغزونو زېږنده دی.

د شپې نژدې درې بجې مهال منزل ته ورسېدو. سره له دې چې تپه تياره وه، بيا هم دومره مالومېده چې بې شمېره کېږدۍ، ولاړې او ډېر سخت پوځي قيودات واکمن دي. کله چې د يوې لرګينې ودانۍ مخې ته له موټره کښته شوو، مرزوک په ټيټ اواز راته وويل:

- دا خو يې سمه ستره پوځي قرارګاه جوړه کړې ده په خدای!

په خندا مې ورته وويل: نو تا چې ويل ورکتون ته راروان يو؟

- ډېر سمبال ښکاري.

Download from: www.aghalibrary.com

- تر اوسه خو لا د هېڅ شي درک نه دی مالوم.

دوریه موږ ته مخ کړ او ویې ویل: ما پسې راځئ.

په هغه پسې هغې لرګینې ودانۍ ته ننوتو. دننه د اورګاډي یوې ډبې ته ورته وه، اوږد نری دالېز یې درلود چې له دواړو خواوو کوټې پکې راخلاصې وې. یوه کوټه یې موږ ته راکړه. لږ وروسته اګوست هم راغی. دوریه وویل: د هوا تر روښانېدو پورې همدلته ارام وکړئ!

اګوست د دې لپاره چې خپل خشنتوب یې ښودلی وي، وویل: پام چې له دې ځایه د وتلو چورت در ونه لوېږي، ځکه په دې صورت کې نو اړ یو جسدونه مو په دښته کې تر ربګو لاندې ښخ کړو.

مرزوک وویل: تر څو تاسې نه یاست راپسې راغلي، موږ بهر نه وزو.

دوریه راته مخ کړ او ویې ویل: دا هم یوه یادونه وه.

وروسته دواړه له کوټې څخه ووتل. هلته دننه داسې شی نه وو چې سړی پر پرېوتلی وای. مرزوک وویل: مجبور یو پر ځمکه څملو.

د لاس او سترګو په اشاره مې وپوهاوه چې ښايي د خونې په دروازه کې یوه بږغ لېږدوونکې دستګاه ځای پر ځای شوې وي... هغه هم د تایید په نښه سر وخوځاوه او وروسته پر ځمکه وغځېد. زه هم یوې خوا ته څملاستم. سخت ستړی هلاک وم. مرزوک ډېر ژر خوب یووړ، مګر زه لا یو څو دقیقې ویښ وم او د ځان او مرزوک د اوسني حالت په هکله مې سوچ کاوه....

●●●

په سهارنۍ رڼا کې مو د کوټې له کړکۍ څخه دباندې وکتل... خولې مو وازې پاته شوې. ته وا وخت څو پېړۍ شا ته ګرځېدلی وو؛ تا چې ویل د مغولو اردو ته ګورم هغه هم په داسې حال کې چې یو ښار یې محاصره کړی وي.

Download from: www.aghalibrary.com

ما و مرزوک یو و بل ته سره وکتل. هغه اوریې پورته واچولې. له څېرې يې مالومېده چې د تورو کېږدیو او انسانانو ګڼې ګوڼې سخت حیران کړی دی. د ازادي غوښتونکو د هغې ساختګي اردو یا غوره ده ووایم لویې پوځي اډې افراد اکثره عرب ول چې تر اوږو او ملاوو یې د مرمیو کتارونه جار کړي ول. هغوی پر توپکانو سربېره توپنچې هم لرلې.

د هغو کېږدیو او افرادو لیدو زه و مرزوک په داسې یوه حالت کې واچولو چې هېڅکله مو يې تصور هم نه وو کړی. ان که مې له بل چا اورېدلي وای هم به مې زړه ته نه وای لوېدلې. دا چې په شمالي افریقا کې تر سپې ماتې خوړلو وروسته نوموتی او بلا جرمنی څارګر مکس پفلونک پر دومره پراخو پوځي تشکیلاتو بریالی شوی وو، اصلاً تر انساني فکر لوړ کار وو. نوموړي غوښتل د دغه پوځ په مټ په شمالي افریقا کې یو ځل بیا د جګړې اور بل او د خپلې څارګرې ادارې او جرمني پوځ پوچو هیلو ته د عمل جامه ورواغوندي. خو کوم څه ته چې ده ملا ترلې وه، په اصل کې د جګړې نوم نشوای ورکول کېدای. پفلونک غوښتل د بې شمېره بېګناه انسانانو او خپلو وسلوالو کسانو په وژلو سره یو مرداری او بلوا جوړه کړي او په همدې وسیله په دغو سیمو کې د جرمني پوځ لپاره بېرته د پښې اینښودلو ځای ومومي.

دی د بېسارو پیسو په زور توانېدلی وو چې سیمه ییز عرب قبایل د خپلې فکري تګلارې تر اغېز لاندې او دومره لوی ځواک پکې راغونډ کړي. نه په لندن، نه قاهره او نه هم زموږ خپله پوځي اډه کې چا داسې انګېرله چې په دښته کې د پفلونک فعالیتونه دې د یوه کوچني پوځ تر کچې رسېدلي وي. زموږ اداره یوازې دومره خبره وه چې پفلونک د یوې څارګرې ډلې په وسیله هڅه کوي د جرمنیانو ورانکارانه پلانونه پلي او د شمالي افریقا ارامي زیانمنه کړي. همدا وجه وه چې ما ته یې د هغه د موندلو او وژلو دنده راسپارلې وه.

Download from: www.aghalibrary.com

هغه شېبه چې هغو تورو کیږدیو او د وسلوالو عربانو تورو مخونو ته مې کتل، ډېر مې زړه غوښت چې لندن یا قاهرې ته ولاړ شم او د خپلو سترګو لیدلی حال مې مشرانو ته ووایم. که پر دې کار توانېدلای، نو ماموریت مې ګواکې په یو ډول پای ته رسېد؛ ځکه د ځمکني او هوایي ځواک په کارولو سره د دغه پټ پوخ خوله له خاورو ډکېده او تر څو ساعته عملیاتو وروسته یې د کیږدیو له سوټیانو پرته بله هېڅ نښه نه پاتېده. غم دا وو چې د اړیکو نیولو هېڅ ډول وسیله مې نه لرله او ناچار وم چې له اصلي پلان سره سم ولاړ شم. دا ګړی یوازې طارق داسې څوک وو چې مرسته یې راسره کولای شوه.

د دروازې خلاصېدو بږغ زه او طارق (مرزوک) هغې خوا ته متوجې کړو... یو سپین پوستی ځوان راننووت او په فرانسوي یې راته وویل چې له هغه سره دباندې ولاړ شو.

موږ هم ورپسې شوو. بهر مو هلته روان حالات لا ښه او پراخ لیدلای شول. لمر راختلی او هوا مخ پر ګرمېدو وه. سپین پوستي ځوان یوې یوپوړېزې لرګیني ودانۍ ته بوتلو... هغه د یوه سالون په ښه جوړه شوې وه. ډېر شمېر خلک پکې پر ډوډۍ خوړلو بوخت ول. یو څه وچه ډوډۍ یې له یو څو دانو خرماوو سره راکړه.

ځوان راته وویل: زه دباندې درته منتظر یم.

د هغه له وتلو سره مرزوک ورو غوندې وویل: اوس خبرې سره کولای شو.

ومې ویل: هو کولای یې شو، خو بیا هم باید پام وکړو.

تر یوه لنډ ځنډ وروسته مې ترې وپوښتل: ښه، څه دې راته ویل غوښتل؟

- زړه ته دې لوېږي چې بریالي به شو؟

- نه پوهېږم. دا خبره له زړه درته کوم.

- په دې هم نه پوهېږې چې له کومه ځایه یې باید پیل کړو؟

ومې ویل: پام دې وي چې هغوی په څلورو سترګو راپسې څارو دي، دا ګړی دې

Download from: www.aghalibrary.com

ډوډۍ ته کش شه.
طارق وویل: تا به یا افسر کړي او یا به هم د لومړۍ بریدملۍ جامې درواغوندي، مګر زما کیسه مالومه ده چې یو عادي اجیر سرتېرى یم.
د خورما او ډوډۍ په خوړلو مو شروع وکړه. هلته د ناستو کسانو چندانې راڼکې سترګه نه وه. اکثره یې عربان ول. په تورو مخونو کې یې ځلېدونکو سترګو پر سرې ځانګړې اغېز کاوه. ټول قبیلوي خلک ښکارېدل. خو سپین پوستان بیا اکثره جرمنیان او ایټالویان ول چې په ښکاره له خپلو دندو خوښ برېښېدل. مګر هغه څه چې له ورایه احساسېد دا وو چې د وسلوالو قبیلوي افرادو او اجیرو سپین پوستانو ترمنځ هېڅ ډول همږغي او ترون نه لیدل کېدی.
مرزوک وویل: پفلونک غواړي په دغو خلکو جګړه پیل کړي؟
لنډ مې وخندل او ومې ویل: زه و ته هم په همدغو خلکو کې شمېرل کېږو.
- پفلونک ډېر بیعقل سړی دی.
- تر هغه بیعقله بیا د جرمني څارګره اداره ده چې دغسې یو پلان یې جوړ کړی دی.
- جوړوونکي یې ډېر شریر او مضر انسانان ښکاري.
ومې ویل: شک نشته چې دغه پوځ پر بېلابېلو منظمو برخو وېشل شوی دی له همدې امله نو ښایي ما و تا سره بېل او جلا-جلا واحدونو ته واستول شو. په دې صورت کې نو باید ما و تا د اړیکو نیولو یوه لار ولټوو.
مرزوک وپوښتل: مثلاً څه باید وکړم؟
ومې ویل: زموږ لومړنۍ ګډه موخه د پفلونک د استوګنځای موندنه او بیا خپله د هغه پېژندنه ده. په غالب ګومان یې څېره اړولې او ان ممکن د قبیلوي وګړو له منځه یې سر راووزي. خو دا هم ورسره ترلې ده چې په هماغه پخوانۍ بڼه ګرځي او څېرې ته یې هېڅ بدلون نه وي ورکړی. په هر صورت، خامخا یې باید پیدا

Download from: www.aghalibrary.com

کړو.

تر لنډکي څنډ وروسته مې زياته کړه: بل بايد هغه قبيله او د هغې د مشر نوم هم ځان ته مالوم کړو چې پفلونک له ځان سره يوځای کړې ده.

ويې پوښتل: د دغو مالوماتو له ترلاسه کولو وروسته دې بيا نيت څه دی؟

موسکی شوم او ومې ويل: بيا نو له خپل پلان سره سم مخ ته ځو. لومړی هڅه کوو ژوندی يې ونيسو او بن غازي ته يې راسره بوزو. که دا ونشوه، نو ځای پر ځای يې وژنو.

مرزوک وويل: د ژوندي تښتولو سوچ يې له سره وباسه.

- هڅه به وکړو، ښايي بريالي شو.

- نه، بې ګټې ده.

- ښايي هم ګټه وکړي.

مرزوک وويل: د وژلو خطر يې کم دی.

ومې ويل: پر دې به بيا وروسته سره وږغېږو. د اوس لپاره بايد پر پفلونک يو مستعار نوم کېښېږدو.

- يو ښځينه نوم څنګه دی، مثلاً لوييز؟

- بد نه دی، درسره خوښه مې ده. سر له اوسه يې په لوييز پېژنو.

وروسته مې ورروستۍ خرما خولې ته واچوله او زياته مې کړه: درځه چې ځو!

هغه سپين پوستي ځوان ته ورغلو. هغه راته وويل: قومندان غواړي ستاسې سره ووينې.

په هغه پسې تر شا روان شوو... مرزوک مخ ورواړاوه او ترې ويې پوښتل: وبخښئ ښاغلې، ستاسې نوم څشي دی؟

هغه ځوان چې په رتبه بريدمل وو، وويل: زما نوم مونتيف دی.

مرزوک ورته وويل: فرانسوی يې؟

Download from: www.aghalibrary.com

مونتيف پزه کې وخندل او ويې ويل: يو وخت فرانسوی وم، مګر اوس نه پوهېږم د کوم ځای يم. دومره خبر يم چې يو اجير سرتېری يم او د پيسو لپاره جګړې او انسانوژنې ته تيار شوی يم.

ما وخندل او ومې ويل: او يو وخت به هم خپله ووژل شې.

مونتيف په خندا وويل: هغه مهال به نو بيا د مړو د وطن شم.

مرزوک او زه هم په خندا شوو...

موږ درې واړه د خرما د بې شمېره او کُرَم [1] ونو پر خوا ور روان وو... داسې بې وبوله چې د پفلونک پر پوځ شاوخوا د خرما ونې راڅرخېدلي وې. په بله ژبه پر ټوله قرارګاه يې غېږه راګرځولې وه. داسې برېښېده لکه د نومورې پوځ چې د هغو ونو تر شا مېشت وي.

له مونتيف څخه مې وپوښتل: دا ځای به څو دانې څاګان لري؟

په خندا يې وويل: دومره څاګان لري چې کولای شي ټول اسونه او انسانان اوبه کړي.

مرزوک وويل: که دا ونې نه وای، خدای خبر چې جنګياليو به د دې سوځوونکې دښت د اهاړ [2] تاب راوړی وای.

مونتيف په داډ سره وويل: ډېر ژر به هر څه بدل شي.

سره له دې چې په مطلب يې ورسېدم، بيا مې هم ترې وپوښتل: هر څه يانې څه؟

راويې کتل او ويې ويل: خپله دې هم سر خلاصېږي چې د څه لپاره يې دلته راوستلی يې. موږ ټول بايد وجنګېږو، انسانان ووژنو او پيسې واخلو.

په ساختګي خندا مې وويل: څومره وېروونکی برخليک! داسې برېښي چې د يوه

---

(۱) کُرم ونې - هغه ونې چې هم يې شمېر زيات وي او هم يو و بل ته نژدې ولاړې وي.

(۲) اهاړ - خوټنده تودوخه.

Download from: www.aghalibrary.com

ارام ژوند هیله باید گور ته یوسو.
مرزوک وویل: دا وېروونکی برخلیک د جگړې پر دگر ختمېږي.
مونتیف وویل: پرېکړه مې کړې چې که له دې جگړې ژوندی ووتم، نو بیا چې هر څوک توپک راکړي، زه به یې ښکل کړم او اړخ ته به یې کېښېږدم.
خندا واخیستم... په حیرانتیا یې وپوښتل: ولې خاندې؟
ومې ویل: ما هم همدا پرېکړه کړې وه، خو یودم مې نیت واوښت او بېرته مې پوځي جامې واغوستې. مرزوک مې هم له ځان سره راکش کړ چې له یوازېتوبه راووزم.
مرزوک راته مخ کړ او ویې ویل: سم ورته ووایه چې د یوې ښځې ناکامې مینې بېرته په پوځي جامو ننه ایستې.
مونتیف ودرېد، سترگې یې راپکې وگنډلې او ویې ویل: ښه نو ته په مینه کې ماتې دې خوا ته راوستې؟
ومې ویل: هو، راغلم چې هغه او مینه یې دواړه هېر کړم.
ویې ویل: داسې ښکاري چې تر اوسه دې ښځې سمې نه دي پېژندلې.
ومې ویل: هغه بېخي بېل شی وه.
بېرته وخوځېدو... مونتیف یو گام تر موږ وړاندې روان وو. له تگه یې څرگنده وه چې د پیسو په بدل کې هغې حتمې پیلېدونکې جگړې ته اندېښمن دی او د خپل سر سلامتي یې هم چندانې زړه ته نه لوېږي. پر دې سربېره یې هم د ښه ژوند او ډېرو پیسو سوچونه نه پرېښودل.
داسې ښکارېده چې د پفلونک او ملگرو ژمنو پر اجیرو سپین پوستو سرتېرو او قبیلوي وگړو اغېز کړی وو او ټول یې د ژوند د سراب پر لوري ځغاستلو ته چمتو کړي ول. باید ومنم چې جرمني څارگر په دې برخه یانې جنگیالیو ته د روښانه راتلونکي په هیله ورکولو کې بریالي شوي ول. سخت یې هڅولي ول.

Download from: www.aghalibrary.com

همدغې بریا د جرمني ځارګریز سازمان د پلان لومړنیو پړاوونو ته خورا ښه لار هواره کړې او هغه انسانوژونکي پوځ ته یې حیرانوونکې جنګې روحیه وربخښلې وه. د دښتې په سوځوونکي اهار کې هغه پروت کوچنی پوځ د کشمکش او مرداري جوړولو لپاره کافي برېښېد. د دې هر څه تر شا د هغو پیسو زور وو چې د پفلونک له خوا د باران په شان را اورېدې.

هغه پوځي جوړښتونه باید له خپلو ټولو پلانونو او ځواک سره-سره له منځه ورل کېدای او دا کار د پفلونک له تښتولو یا هم وژلو پرته په بله هېڅ وسیله شونی نه وو. البته دا په دې چې حالاتو ته په کتو سره زما بل هېڅ له توانه پوره نه ول. کنه له ډګروال لاکستر سره د یوې اړیکې نیولو په وسیله تر دې لا لوی پوځ تباه کېدای شوای.

پفلونک مې باید یا تښتولای یا وژلای، ځکه د رسۍ سر د هغه په لاس کې وو. پر خپل تاکتیک له ټول ډاډ سره-سره هم اندېښمن وم او پرله پسې مې له ځانه همدا پوښتنه کوله چې که پفلونک پیدا کړم، نو څنګه به یې کار ورکوم؟ ځکه زما ماموریت باید خپ و چوپ او د هر چا له نظره پټ پای ته رسېدای. کنې وړاندې لار له ډېرو لویو خنډونو راته ډکېده.

هماغسې چې د خرما د ونو په منځ کې روان وم، د پفلونک له تښتولو یا وژلو پرته مې بل په هېڅ شي کې فکر نه کاوه. خامخا مې باید داسې یوه لار موندلای چې بریا یې را ډاډمنوله.

په داسې حال کې چې سترګې مې په شاوخوا ولاړو تورو ښمو کې وې، نابېره مې هغه څه وموندل چې په خپلو لالهاندو فکرونو کې پسې ګرځېدم. یوه نوي فکر مې سر ته لار کړې وه. له ډېرې خوښیه موسکی شوم.

زیات وخت مې نه درلود او باید له سرقومندان سره تر مخامخېدو وړاندې مې همدغه تازه فکر چې د هیلو د یوې وړې دریڅې ارزښت یې درلود، په یوه دقیق

Download from: www.aghalibrary.com

پلان بدلولای.

فکر مې ډېر تېز په ذهن کې رېښې وځغلولې او پراخ شو. ټول اړخونه او گوټونه مې يې وسنجول. اغېز ته يې ډېر هيله من شوم. دا پلان دوې برخې لرلې. لومړۍ يې د تورو او لفظونو په بڼه وه او دويمه يې د عمل پړاو وو. د دويمې برخې کاميابي د لومړۍ هغې په بريالي کېدو پورې تړلې وه.

مرزوک چوپتيا ماته کړه او په داسې حال کې چې په لاس يې کيږديو ته اشاره کوله، له مونتيف څخه يې وپوښتل: هغه غټه کيږدۍ د چا ده؟

مونتيف وويل: د سرقومندان!

ومې پوښتل: څه نومېږي؟

هغه وويل: قاسم بن احمد.

مرزوک يوه احمقانه او ناسنجول شوې پوښتنه ور وويشته: دا قاسم ابن احمد عرب دی؟

مونتيف وخندل او ويې ويل: هو، ولې تا چې ويل فرانسوی دی؟

د مرزوک پر سر مې لاس ورتېر کړ او په خندا مې وويل: ملامت نه دی لمر پازاب کړی دی.

مونتيف وخندل او څه يې ونه ويل... کيږديو ته ورسېدو... مونتيف وويل: تاسې همدلته ودرېږئ، زه بېرته دستي راځم.

هغه راڅخه بېل او يوې وړې کيږدۍ ته ننووت... مرزوک ته مې وويل: هلکه په دا وروستۍ پوښتنه دې خپله بېعقلي په ثبوت ورسوله.

ويې ويل: زما هم ولاکه سر خلاصېږي چې ولې مې وکړه. خدای دې وکړي چې د مونتيف نه وي ورته پام شوي.

- راتلونکي کې پام کوه.

- بيا داسې کار نه کوم.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: که د خپل تازه پلان په زور د هغوی پر غولولو وتوانېدم، نو کیسه پر بل مخ اوړي او هغه مهال نو....

مرزوک په خوله کې راولوېد او ویې ویل: ما هم باید په خپل دغه پلان خبر کړې. خپل نوی پلان و نقشه مې ډېره په لنډ ډول ورته وویله.

- ستا په خیال هغوی به دې خبرې ومني؟

- که یې وهم نه مني، تر دې مو حال نه خرابېږي.

مرزوک غوښتل یو څه ووايي، خو هماغه شېبه مونتیف له یوه بل عرب وسلوال سره له کیږدۍ څخه راووت. موږ ته چې راورسېدل، مونتیف وپوښتل: وسله لرئ؟

ومې ویل: نه، موږ یو هم وسله نه لرو.

وسلوال عرب تلاښي کړو او وروسته یې په فرانسوي راته وویل: د شېخ کیږدۍ ته له ننوتلو سره سم هغه ته سلام واچوئ او تر څو یې پوښتنه نه وي درڅخه کړې، خبرې مه کوئ.

او پر دې سربېره یې د شېخ د درښت پر ځای کولو چل هم راوښود. وروسته یې د قاسم بن احمد خېمې ته بوتلو. هغه مخکې او موږ تر شا په کیږدۍ ننوتو. هلته مو لاسونه پر ځيګر کښېښودل، پر ملا چوغ شوو او وروسته هماغسې تړلي لاسونه ودرېدو. ما شاوخوا سترګې وغړولې. ټول شیان یې په زړه پورې راته وبرېښېدل. ما چې ویل د کنفرانس په یوه سالون کې ولاړ یم. د کیږدۍ نس په یوه ډېره ګران بیه تخته پوښلی وو او شاوخوا خورا د لوړ کیفیت قیمتي سوفې پرتې وې.

شپږ نور کسان هم لیدل کېدل. شېخ قاسم بن احمد یې ترمنځ ډېر څرګند وو. له ځېرې څخه تر شپېته کلنی اوښتی برېښېد. ډېرې له اغېزه ډکې سترګې یې لرلې. دواړو اړخونو ته یې دوه قبیلوي مشران ناست ول او درې نور ناست کسان بهرنیان

Download from: www.aghalibrary.com

ول. د خارجيانو مخونو ته مې ډېر پام ونکړ، ځکه د هغو لپاره مې کافي وخت درلود.

شېخ په عربي ژبه يو څه وويل. زما څنګ ته ولاړ عرب په فرانسوي راته وويل: شېخ وايي لږ رانژدې شئ.

وروسته هم خپله هغه او هم زه و مرزوک دوه ګامه وړاندې ورغلو. دغه وخت زموږ سره راغلی عرب بېرته شا ته ولاړ. اوس مو هغوی ډېر ښه ليدلای شول. همدا چې د شېخ کيڼې خوا ته له ناستو درېيو سپين پوستانو څخه يوه له هغه سره خبرې شروع کړې، زه يې څېرې ته ځير شوم... خپله هغه وو، هماغه کس چې زه پسې ګرځېدم يانې د جرمني زبردست او بلا څارګر مکس پفلونک. نوموړي په خپله څېره کې له واړه بدلون راوستلو پرته هلته له قاسم بن احمد سره ناست وو. په ښکاره يې ګواکې د شېخ د سلاکار دنده لرله. په تېره د زنې پر چاک مې بيا بېخي ښه وپېژاند. بل دا چې په قاهره کې د هغه راښودل شوی تصوير مې هم ډېر دقيق په ياد وو او تېروتنې امکان نه درلود.

د پفلونک کيڼ لاس ته په ناستو دوو نورو بهرنيانو کې يو دوريه وو او درېيم مې يې ونه پېژاند. پفلونک له قاسم بن احمد سره په عربي خبرې کولې.

داسې مې انګېرله چې هلته يې د وسلو په باب د ځينو پوښتنو لپاره ورغوښتي يو. کله چې د پفلونک او شېخ خپلمنځي باندار ختم شو، پفلونک راته مخ کړ او په فرانسوي يې راځخه وپوښتل: نوم دې څه دی؟

ومې ويل: دالمار ژيلوم.

ورو يې سر وښوراوه. بيا يې وپوښتل: د وسلو په شوې سودا خوښ يې؟

موسکی شوم او ومې ويل: مالومداره چې خوښ يم، هېڅکله دومره نه وم شتمن شوی لکه اوس.

پفلونک يوه نرۍ موسکا وکړه او وروسته يې وپوښتل: څنګه دې يودم پوځي

Download from: www.aghalibrary.com

جامو اغوستلو ته خیال شو؟

ومې ویل: که هغې ښځې پر نیمه لار نه وای خوشې کړی، نو غوښتل مې په ترلاسه شویو پیسو واده ورسره وکړم، خو....

په لوی لاس مې خبرې پر نیمایي پرېښودې او داسې مې وښوده چې گنې د مینې احساساتو راگیر کړم.

پفلونک لاس اخیستونکی نه وو. ویې پوښتل: هغه ښځه فرانسوی وه؟

ومې ویل: زموږ ژبه یې زده وه، مگر فکر کوم اصلاً انگرېزه وه. د هغې له لاسه مې له ټولو انگرېزانو کرکه وشوه او بېرته خپل پخواني کار ته راوگرځېدم.

- ژرژ ولې نه درسره راغی؟

- هغه غوښتل له خپلې میینې (معشوقې) سره واده وکړي.

پفلونک پاڅېد، زما خوا ته راغی او راته ویې ویل: زما مامورینو راته وویل چې تا په بن غازي کې له یو چا سره ټلیفوني خبرې کولې، هغه څه کاره دی؟

د دغه سوال وړاندوینه مې کړې وه. پر دې مې هېڅ حیرانتیا ونښوده چې ولې د ده مامورینو زما ټلیفوني خبرې اورېدلې وې. ومې خندل او ومې ویل: ډارسي ښیې؟ هغه زموږ لپاره د پیسو په بدل کې دلالي کوله.

- دا سړی چیرې دی؟

- ډېری وختونه په بن غازي کې وي.

- څنگه دې ورسره وپېژندل؟

د پلان د لومړۍ برخې چې ژبنۍ وه، د پلې کولو وخت رارسېدلی وو او دغه فرصت هغه خپله په لاس راکړی وو. ومې ویل: د هغه درپېژندلو ته اړتیا نشته، کوم کار چې هغه کولای شي، زه یې هم کولای شم.

په حیرانتیا یې وپوښتل: له دې خبرې دې مطلب څه دی؟

ومې ویل: ما او ډارسي پلان درلود بن غازي کې د انگرېزانو له سلاکوټونو وسلې

Download from: www.aghalibrary.com

او مرمۍ غلا کړو.

پفلونک وپوښتل: دې ته مو څه فکر شو؟

ومې ویل: دې ته ډارسي وهڅولم، خو د غلا پلان بیا ما جوړ کړ. ستونزه دا وه چې د عملیاتو تر پیلولو تیک څلیرویشت ساعته وړاندې د سلاکوټ مسوول او څارونکی چې یو نیوزلنډی تورن وو، قاهرې ته تبدیل شو. زموږ ټوله نقشه ګډه وډه شوه. ډارسي له هغه سره لار جوړه کړې وه او د پلان د بریالیتوب په صورت کې یې د پنځوس سلنه ونډې ورکولو ژمنه ورسره کړې وه.

پفلونک په چورت کې ولاړ. څرګنده وه چې له سلاکوټونو څخه د وسلو پټولو خبرې اغېزمن کړی وو. ګواکې پر نبض مې یې ګوته ور ایښې وه. ده مهماتو ته سخته اړتیا درلوده او ما یې د دغه ضرورت د ورپوره کولو هیله مخې ته ورته ایښې وه. له بلې خوا یې د باور ترلاسه کول هم ډېر اړین کار وو.

وروسته یې سترګې راپکې وګنډلې او ویې پوښتل: ایا کولای شې دغه پلان راته انځور کړې؟

په ځواب کې مې یې وویل: مالومداره چې کولای شم، مګر نه یې کوم.

د دغه ځواب هېڅ تمه یې نه درلوده. څېره یې سره ننوته او ویې ویل: خپلې خولې ته دې پام دی چې څه وایې؟

په ډېر ارام انداز مې ورته وویل: فکر کوم دواړه د یو و بل په ژبه ډېر ښه سره پوهېږو. تاسې د پلان د انځورولو غوښتنه راڅخه وکړه او ما ونه منله.

په ډېره غوسه یې په لوړ اوز وپوښتل: ولې یې نه کوې؟

په نرمۍ مې ورته وویل: په دې خاطر چې نه غواړم حق مې تر پښو لاندې شي.

د دې خبرې په اورېدو یې څېره لږ وغوړېده او ویې ویل: ستا ونډه به په هېڅ وجه بېځایه نشي، دا مې درسره ژمنه ده. لس سلنه یې ستا.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: پنځه ویشت سلنه هغه هم په هغه صورت چې د

Download from: www.aghalibrary.com

غلا پلان په خپله عملي کړم. البته ستاسې څو وسلوال کسان مې هم په کار دي.
له دې پرته دا موضوع بومخ له یاده وباسه.
دوریه زموږ خوا ته راغی او راته ویې ویل: الکه ژیلومه ډېر سرتمبه انسان یې.
هسې نه دې ته دې ببخي پام نه وي چې چیرې او په کوم حالت کې یې. له عقله
کار واخله او زموږ سره همکاري وکړه.
ومې ویل: هر څه ته مې پام دی. موږ ټول د ازادي غوښتونکو د سرقومندان قاسم
بن احمد په کیږدۍ کې یو. همدا ویل دې غوښتل کنه؟
پفلونک وویل: ته یو اجیر سرټېری یې او باید امر ته غاړه کښېږدې.
موسکی شوم او ومې ویل: په اجیرتوب کې مې شک نشته. د مشرانو امرمننه هم
هغه څه دي چې په مخکني پوځي خدمت کې مې زده کړي دي. خو له
سلاکوټونو څخه د وسلو غلا یوه بېخي بېله او شخصي مسله ده چې له دې هر
څه دباندې باید بحث پر وشي. تاسې د دغه کار پلان په زوره نشئ راڅخه
اخیستلای.
پفلونک وګوابنلم چې که غاړه وغړوم، نو په غمچینو د وهلو امر به مې ورکړي. د
ده په خیال ګواکې په دغو ګوابنونو یې زه د ځان تابع کولای شوای. په یوه
ساختګي موسکا مې وویل: ګوابنونه او فزیکي زورزیاتی ستونزه نشي هوارولای.
زه له خپل هوډه په هېڅ وجه نه اوړم.
هغه مرزوک ته مخ کړ او ورته ویې ویل: ستا هم همدا دریځ دی؟
مرزوک وویل: هو ښاغلې، زما او ژیلوم پرېکړه یوه ده.
قاسم بن احمد چې تر هغې شېبې غلی وو، په عربي یو څه وویل... پفلونک زما
او هغه ترمنځ په شویو خبرو د سر ورخلاصولو لپاره د شېخ خوا ته ورغی.
په مکس پفلونک کې مې هغه ارامي او سره سینه ونه لیده چې د تکره څارګرانو
ځانګړنه ده. ښایي په شمالي افریقا کې د جرمنیانو د پلان پلي کولو پروسې یې

Download from: www.aghalibrary.com

زغم سره‌مو ته ور رسولی او په دغسې خوشک سرې اړولی وو. ده غوښتل تر وسه-وسه ځان ژر موخې ته ورسوي. په داسې یوه حالت کې راګیر وو چې باید زورزیاتی، ګواښ او د پیسو زور یې سره ګډولای او ځان یې تر ځایه رسولای.
وسلو او مهماتو ته یې دومره سخته اړتیا درلوده چې د خپل پوځ د سمبالولو لپاره یې هر کار ته په هره بیه لاس وراچاوه. پفلونک غوندې سړي چې ډېر خطرناک او حساس مسوولیت ورترغاړې وو، باید په دغسې حالاتو کې په تېره بیا د وسلو رانیولو پر برابر چې د نقشو بنسټ یې بلل کېدی، ډېرې ګړندۍ پرېکړې کولای.
ځکه دی، ماموران یې او په دغه دښته کې روان ټول کش و پش یې له خپل مرکز څخه زرګونه کیلومتره لیرې د دوښمنانو په منځ کې پروت وو.
که ووایم چې مکس پفلونک او ځارګره شبکه یې په بن غازي کې د انګرېزانو له شته سلاکوټونو خبر نه ول، نو درواغ به مې ویلي وي. هغوی په دې اړه پوره-پوره مالومات لرل، ځکه د شمالي افریقا ډېرې برخې اوږده کلونه د جرمنیانو تر ولکه لاندې وې. پر دې هر څه سربېره هم پفلونک په بن غازي کې د مېشتو انګرېزي ځواکونو د موقعیت په اړه هېڅ ونه ویل. یا یې ښایي غوښتل چې ځان یوې ټولیزې پایلې ته ورسوي او یا یې هم ممکن داسې انګېرلې وه چې دا سلاکوټونه له هغې پوځي چونۍ او سلاکوټونو څخه بېل او نور دي چې ده او ماموړانو ته یې ورمالوم ول.
مرزوک(طارق) او زه هماغسې غلي ولاړ وو. پفلونک له قاسم بن احمد سره په خبرو اخته وو او موږ ورته کتل. هغه شېبه مې یوازنۍ اندېښنه دا وه چې هسې نه پفلونک مې وړاندیز را رد کړي. که یې همداسې کولای، نو باید د وژلو یو بل پلان مې یې جوړولای چې په غالب ګومان هم باید همالته د ده په پوځي چونۍ کې ترسره کېدای.
له دې هر څه سره-سره بیا هم هیله من وم او د دې امیدوارۍ لامل د هغو حالاتو

Download from: www.aghalibrary.com

ارزونه وه چې پفلونک ورسره لاس و گرېوان وو. زما پورتنی وړاندیز له هره اړخه د ده او قاسم بن احمد له غوښتنو سره جوړ راتلی او له همدې امله یې د ردېدو احتمال ډېر کمزوری راته ایسېد.

پفلونک له شیخ سره خپلې خبرې پای ته ورسولې او زموږ خوا ته راغی. په څېره کې یې نه هو لوستل کېده او نه، نه. مخامخ راته ودرېد، سترگې یې راپکې ښخې کړې او ویې ویل:

- تر هغو دباندې ودرېږئ چې زه مو بېرته راغواړم.

ومې ویل: چې هر څنگه مو خوښه وي.

وروسته مې قاسم بن احمد ته وکتل او درنښت مې یې وکړ. مرزوک هم زما پېښې وکړې او هماغسې لاسونه پر څیگر پر شا شا دباندې ووتلو... د کېږدۍ په څو مترۍ کې د خرما تر یوې سوروري ونې لاندې ودرېدو.

مرزوک کرار راته وویل: یاره زړه ته مې نه لوېږي چې درسره ودې یې مني.

ومې ویل: هیله باید له لاسه ورنکړو.

- ډارسي څوک دی، زه یې پېژنم؟

- دا د ډگروال لاکستېر مستعار نوم دی.

مونتیف خوا ته راغی او ویې پوښتل: ډگروال بوروسکي څه کار درسره درلود؟

مالومه شوه چې هلته د مکس پفلونک نوم بوروسکي وو او ټولو په ډگروال بوروسکي پېژاند.

ومې ویل: ډگروال و هغو نورو غوښتل زموږ د مخونو ننداره وکړي!

مونتیف وویل: بوروسکي مو باید په هیڅ وجه نه وای غوسه کړی.

ومې پوښتل: دا بوروسکي د کوم ځای دی؟

اوږې یې وخنډلې او ویې ویل:

- خدای خبر، فکر کوم یا به روسی وي یا هم پولنډی.

Download from: www.aghalibrary.com

مرزوک مونتيف ته مخ کړ او ورته ويې ويل: ډګروال ډېر زيړ طبيعته دی.
مونتيف وويل: هغه او نور ټول افسران يې همداسې زيړ دي.
مرزوک وويل: موږ له ډېرو دغسې خلکو سره مخامخ شوي يو.
مونتيف وپوښتل: ډګروال د څښي په اړه پوښتني درڅخه وکړې؟
ومې ويل: ښه به دا وي چې خپله يې له هغه څخه وپوښتې.
ويې ويل: زما په خيال نورې خبرې يې هم درسره پاته دي، کنه؟
ومې ويل: موږ ته يې ويلي چې دلته ورته منتظر شو.
مونتيف اوږې پورته واچولې او بېله څه ويلو راڅخه تېر شو. مرزوک وويل: دا هم انتيک شی دی طاهره!
ومې ويل: هلکه له خولې سره دې پام کوه ما ته په خپل نامه مه وايه!
- شی نشته، چورت مه خرابوه.
- لکه چې غواړې دواړه په مرميو غلبېل کړې.
ويې پوښتل: ستا په خيال لوييز به څه پرېکړه وکړي؟
له لوييز څخه د مرزوک موخه پفلونک وو. ورته ومې ويل: يا به زما وړانديز ومني او يا به هم له سلاکوټه د مهماتو له غلا کولو تېر شي. خو د هوکړې په صورت کې ممکن زما يا هم دواړو د وژلو پلان هم جوړ کړي.
- دا خبره په کوم دليل کوې؟
- په دې دليل چې د هغه له مشروط وړانديز څخه ښه نه راځي.
- که ستا پلان عملي شو، نو هغوی به څنګه په لومه بند کړې؟
موسکی شوم او ومې ويل: چې هلته ورسېدو، وبه يې وينې. دا ګړی دواړه د دوی په لاس کې يو.
زموږ لاربښود وسلوال عرب مو خوا ته راغی او راته ويې ويل چې ډګروال بوروسکي غوښتي يو.

Download from: www.aghalibrary.com

زه او مرزوک دواړه خېمې ته ننوتو او يو ځل بيا مو درنښت پر ځای کړ... پفلونک يا په بله ژبه ډګروال بوروسکي د خېمې په منځ کې ولاړ وو. راته مخ يې کړ او ويې پوښتل: پوځ ته تر داخلېدو وړاندې څه کاره وې؟

موسکی شوم او ومې ويل: له ملګرو سره مې غټې غلاوې کولې. يانې په دې کارونو کې مې تجربه زياته ده.

- او اوس دې د سلاکوټ لوټلو ته نيت دی.

- البته که ستاسې راسره خوښه وي.

پفلونک وويل: دا ډول لوټنې مې خوښېږي، مګر په دې شرط چې ستا له پلانه خبر شم.

ومې ويل: دا کار د جګړن دوريه او تورن اګوست پر غاړه ورواچوئ. بن غازي ته چې ورسېدو، په ټول پلان به يې وپوهوم.

پفلونک په ټينګار سره وويل: دا پرېکړه بايد زه همدلته وکړم. ښايي ستا پلان ډېر خطرناک وي او د عملي کولو پر مهال يې له ډېرو ستونزو سره مخ شو.

ومې ويل: بخښنه غواړم صاحبه. منزل ته تر رسېدو مخکې د پلان پر جزياتو نشم درسره بږغېدلای. تاسې بايد پر ما باور ولرئ. کنه ښه به دا وي چې دا کيسه بېخي هېره کړئ. زما پلان له هره اړخه ډاډمن دی بېغمه اوسه. يو غټ دليل يې دا دی چې زه خپله برخه پکې لرم. البته د وړانديز د منلو ټينګار هم نه دربانديې کوم.

لږ خند مې وکړ، وروسته مې په موسکا زياته کړه: بل دا چې تر پوځي چوپړ وړاندې زما کاروبار همدا غلا وه. تل به مې غټې-غټې غلاوې کولې. کله چې له پوځه راووتم، سملاسي مې بيا ملا ورته وتړله. پر تاسې پلورلې وسلې هم د غلا وې. البته په يوازې سر نه، بلکې مرزوک او ژرژ هم راسره ملګري ول. له همدې امله تر تاسې ټولو زه د دغه کار په چل ډېر ښه پوهېږم. بل دې، دې ته هم پام وي چې دا د غلا پلان دی، نه د جګړې.

Download from: www.aghalibrary.com

پفلونک سره له دې چې زما خبرو سخت غوسه کړی وو، بیا یې هم د خپلې خندا مخه ونه نیولای شوه... ویې ویل: چې داسې ده، نو موږ یو تکړه غل راسره لګولی دی، نه یو سرتېری.

لنډ مې وخندل او ومې ویل: تاسې داسې یو څوک درسره لګولی دی چې هم غلا کولای شي او هم ستاسې له دوښمنانو سره جنګ. او اوس دغه دوه مخي سړي ستاسې د ځواکمن پوځ لپاره د یوه لوی خدمت کولو پرېکړه کړې ده.

قاسم بن احمد چې مجسمې غوندې غلی ناست وو، خپله چوپتیا ماته کړه او په عربي یې یو څه وویل... مخاطب یې پفلونک وو. هغه یې سملاسې خوا ته ور روان شو... دواړه سره په خبرو شول. داسې ښکارېده چې شیخ د وسلو د غلا د پلان پر ژر عملي کولو ټینګار کوي او غواړي پفلونک له خپل هوډه واړوي.

انګېرنه مې سهي راووته. کله چې مکس راغی، راڅخه ویې پوښتل: څو کسانو ته اړتیا لرې؟

یو پلا مې دوریه ته وکتل، بیا مې پفلونک ته مخ کړ او ومې ویل: زما او مرزوک په ګډون ټولټال اتو کسانو او څلورو ټرک موټرانو ته. دغه راز باید جګړن دوریه زموږ د ډلې قومنداني پر غاړه واخلي. پاته پنځه کسان خپله وټاکئ.

پفلونک په فکر کې ډوب شو... له څېرې یې ښکارېده چې د جګړن دوریه په اړه زما وړاندیز راسره مني. د دوریه په ټاکلو کې مې دوې متضادې موخې لرلې. یوه دا چې غوښتل مې پر ځان او زما د غلا پر پلان د پفلونک باور زیات کړم او بله دا چې دوریه د پفلونک ډېر نژدې سړی وو او نیول کېدل یې غته لاسته راوړنه وه.

پفلونک مې خوا ته راغی، مخامخ راته ودرېد او ویې ویل: ما خپله هم غوښتل دوریه د دغو عملیاتو مشر او اګوست مرستیال کړم، ځکه نوموړي هم په بن غازي ښار کې بلد دي او هم په دغسې عملیاتو کې کافي تجربه لري.

وروسته یې دوریه ته مخ کړ او ورته ویې ویل: پاته څلور کسان ته وټاکه.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: وبخښئ ډګروال صاحب د دغو څلورو کسانو بايد موټروانې هم زده وي.
دوريه وويل: زموږ ټول کسان موټروانې کولای شي.
پفلونک راڅخه وپوښتل: کله حرکت کوئ؟
ومې ويل: دا عمليات بايد له پيله تر پايه يوازې يو ساعت وخت ونيسي. زما په اند تر تيارې خپرېدو وړاندې بايد وخوځو. د بېرته راتلو پر مهال د هوا روښانتيا دومره ارزښت نه لري، ځکه هڅه کوو تر سپېده چاود وړاندې له بن غازي څخه راووزو.
پفلونک وويل: د کار چټکوالی او د ډلې د غړو ترمنځ د اړيکو ساتل د بريا تر ټولو مهم شرط دی.
ومې ويل: د عملياتو تر ټولو مهمه برخه د سلاکوټ د څوکيدارانو نيونه او بې وسلې کول دي.
- دا کار دوريه او اګوست ته ورپرېږده.
- پام دې وي چې دا يو جنګي پلان نه دی.
- خو څوکيداران بايد ونيسئ.
موسکی شوم او ومې ويل: هو پوهېږم، خو په دې عملياتو کې بايد ان يوه مرمۍ هم وار نشي. ټول کار بايد په پټه خوله ترسره شي. يو ډز مو ټول کار راکړوپولای شي.
پفلونک يو ډول متفکرانه څېره خپله کړه....
دوريه وويل: زه د ژيلوم تګلار تاييدوم.
ومې ويل: هيله ده د ډګروال صاحب هم زما په مطلب سر خلاص شوی وي.
پفلونک هماغسې چې سترګې يې په ما کې وې، وويل: په خپل کار کې ډېر تکړه ښکارې.
لنډ مې وخندل او ومې ويل: کله چې مې په وسلو بار ټرکونه درته راوستل، بيا به

Download from: www.aghalibrary.com

دا خبره درته زباته شي.
مکس ورو سر وخوځاوه او ويې ويل: ډېر ښه، درسره منم يې.
دوريه خپل بادار ته مخ کړ او ورته ويې ويل: زما په نظر نن بايد تر لمرلوېدو مخکې روان شو.
پفلونک وروکتل او ورته ويې ويل: د حرکت د ټاکلي وخت په اړه به سره وږغېږو.
وروسته يې ما ته وکتل او ويې ويل: د اوس لپاره ستاسې دوو سره کار نه لرم، درته اجازه ده.
ومې ويل: د غلا د دغه پلان عملي کول يو بل شرط هم لري.
په حيرانتيا يې وپوښتل: څنګه شرط؟
په موسکا مې ورته وويل: جګړن دوريه د افسرۍ د رتبې راکولو ژمنه راسره کړې ده. اوس دغه ژمنه ستاسې له خولې څخه هم اورېدل غواړم تر څو پر خپل روښان راتلونکي ډاډمن شم.
د تکړه جرمني څارګر شونډې په يوه نرۍ موسکا سره بېرته شوې او ويې ويل: د افسرۍ د رتبې درکولو شرط دا دی چې له په وسلو بار ټرکونو سره راستون شې. له هغه وروسته به دې ټول په دويم افسر وپېژني.
پزه کې مې وخندل او ومې ويل: ډېر ځيرک يې ډګروال صاحب. د ټرکونو له خوا ښېخي ښېغمه اوسۍ ډک به يې درته راوړم.
وروسته مې لاسونه پر ځيګر ونيول او د قاسم بن احمد درنښت مې وکړ، مرزوک هم همداسې وکړل. دواړه د سرقومندان له خېمې په رېورس راووتو او له هغه ځايه ليرې شوو. د خرما تر ونو لاندې د تېرېدو پر مهال د دښتې هوا دومره ګرمه وه چې ټول بدن يې په خولو رالوند خيشت کړ.
مرزوک وويل: ولا د قرارګاه حالت سره مبهم غوندې دی.
ورته ومې ويل: د دې ځای حالت زموږ لپاره هيڅ ارزښت نه لري، ټول پام دې

Download from: www.aghalibrary.com

زموږ خپل پټ پلان ته واړوه.
- ستا دې ساختګي پلان هغوی ګنګس کړي دي.
- تر ټولو مهم د اصلي پلان عملي کول دي.
ويې پوښتل: په بن غازي کې دې کومې دوکې ته خيال دی؟ بل دې دا هم په پام کې وي چې که يې يوه ذره په دوکه سد ورسېد، زما و ستا خير بيا نشته.
ومې ويل: مخکې تر دې چې هغوی ته دا سوچ ورلوېږي، موږ به کار تمام کړی وي. اوس مې خبرې ډېر په غور سره واوره.
وروسته مې په ذهن کې پرته نقشه ټکي په ټکي ورته وويله... مرزوک (طارق) زموږ د څارګر سازمان ځيرک او تکړه مامور وو. کله چې مې يې د دغو عملياتو په اړه نظر وپوښت، ويې ويل: هر څه ډېر په ځير پلان شوي دي، خو يو دا بريدګر اړخ يې بايد د ډګروال لاکسټر له پامه تېر شي.
ومې ويل: د دغو عملياتو برياليتوب پر همدې بريدګر اړخ ولاړ دی.
ويې ويل: ستا پلان يوه ذره کمزوري هم نه لري.
موسکی شوم او ومې ويل: يوازنۍ کمزوري يې البته دا ده چې هغوی يې له عملي کولو تېر شي.
ويې ويل: د سلاکوټ د وهلو په اړه ستا نظر داسې وو چې هغوی په هېڅ وجه سترګې نشوای ترې اړولای. که يې کوچنوټی شک هم کړی وای، زه و ته به داسې خپل سر ته نه خوشې کولو.
- بالکل، که داسې نه وای د جلاد اګوست څخه مو ځان نشوای خلاصولای.
- کوښښ وکړه په دې مسله ډېر چورت بند نکړې.
وروسته يې يو سګرېټ ما او يو ځان ته ولګاوه، پر څمکه کښېناستو او بوې سوروړې خرما ونې ته مو ډډې ووهلې. سره له دې چې پر سر مو سيوری او له لمره خوندي وو، بيا هم د دښتې تودوخه پوره-پوره حسېده. بدنونه مو په خولو کې

Download from: www.aghalibrary.com

ډوب ول. زما ټول فکر و ذکر په خپل پلان کې وو. کوښښ مې کاوه ښه مغزن یې وشاربم، له هره اړخه یې وسنجوم او هېڅ د خو ځای پکې پرې نږدم.
د مکس پفلونک د څارګرې شبکې او شېخ قاسم بن احمد د سوست پوځ پر وړاندې د عملیاتو نقشه له دوو نه بېلېدونکو برخو جوړه وه. هغه څه چې زموږ بریا ورپورې تړلې او د دغه پلان د زړه ارزښت یې درلود، د عملیاتو ګرنډیټوب وو.
د جرمنیانو د څارګر سازمان پر وړاندې د عملیاتو لومړۍ برخه د دوښمن د راسره ملګرو افرادو له چټکې نیونې پیل او د همدوی پر بې وسلې کولو پای ته رسېده. دغه کار باید ما، مرزوک او ډګروال لاکسټر کولای، خو تر ټولو درنه برخه یې زما پر غاړه وه.
دویمه برخه چې هم نیونه پکې داخله وه او هم یې بریدګر اړخ درلود، زموږ د پوځي چونۍ د جنګیالیو په مرسته عملي کېده او له اره یې یوه جګړه ییزه بڼه لرله. د پلان دواړې برخې مې داسې جوړې کړې وې چې خپله پکې مرکزي او خطرناک رول ولرم، ځکه له سره تر پایه یې زما له ماموریت سره نېغه اړیکه لرله او د چارو واګې هم باید زما په لاس کې وای. زما موخه څرګنده او د پفلونک وژنه یا ژوندۍ نیونه وه او همدې موخې ته رسېدنه مې د ماموریت د پای ته رسېدو په مانا وه.
د نقشې په لومړۍ برخه کې د ناکامۍ په صورت کې نو بیا کیسه یومخ پر بله خوا سر کېده؛ په دې مانا چې ډګروال لاکسټر او کسانو یې زما د مالوماتو په رڼا کې د پفلونک او قاسم بن احمد پر پوځ هوایي او ځمکنی برید کاوه. له دې پرته بله هېڅ لار نه وه.
زه خپل پلان ته ډېر هیله من او نژدې ډاډه وم چې د غلا لپاره راسره تللي کسان به په ټاکلي وخت کې نیول کېږي او وروسته به سملاسي د عملیاتو دویم پړاو ته ننوزو.

Download from: www.aghalibrary.com

●●●

د مازیګر څه باندې پنځه بجې شاوخوا مخ پر بن غازي وخوځېدو. ډګروال بوروسکي زما له خوا پر ټاکل شویو کسانو څلور نور کسان هم ورزیات کړي ول، اوس ټولټال دوولس نفره وو. له قرارګاه څخه تر بن غازي پورې د تلونکو افرادو لارښوونه، د تر ټولو لنډې لارې ټاکنه، د عملیاتو په اوږدو کې زموږ ترمنځ د اړیکو ساتنه او له بن غازي څخه بېرته راستنېدنه دا هر څه د جګړن دوریه پر غاړه ول.

دغه راز ډګروال بوروسکي (مکس پفلونک) جګړن دوریه او د ډلې نورو ټولو غړو ته دا هم ویلي ول چې د سلاکوټ د لوټلو د عملیاتو قومانده بیا زما پر غاړه ده او هر امر مې باید ومنل شي. دا په دې مانا وه چې د ټولو چارو نبض زما تر ګوتو لاندې وو. دا هم باید ووایم چې له دغو دوولسو کسانو څخه پنځه تنه چې یو یې دوریه او بل یې اګوست وو، په ښکاره د پفلونک د څارګر سازمان غړي ول. پاته یې هم اجیر سپین پوستي سرتېري ول. ډګروال بوروسکي تر وسه-وسه په بدن ډېر غټ او غښتلي کسان چاڼ کړي ول.

په دې حساب نو زه او مرزوک له پنځو جرمني جاسوسانو او پنځو خورا زورورو سپین پوستو سرتېرو سره مخامخ وو. دا ټول کسان باید دومره چټک نیول او بې وسلې کېدای چې نه یې د ډزو کولو او نه هم تښتېدو وخت پیدا کولای. پفلونک زما د لارښوونې خلاف ټول په وسلو سمبال کړي ول. ما و مرزوک ته یې توپنچې او نورو ټولو ته اتومات ماشینداران ورکړي ول.

جګړن دوریه، تورن اګوست، مرزوک او زه په یوه جرمني موټر کې چې په ځانګړې توګه د دښتي عملیاتو لپاره جوړ شوی وو، ناست وو. مرزوک موټر چلاوه، دوره یې اړخ ته او زه و اګوست شا ته ناست وو.

Download from: www.aghalibrary.com

تر شا څلور ټرکونه راپسې او هره يوه کې دوه-دوه نفره ناست ول. تر بن غازي پورې تللې دغه لار مخکې له مخکې د ډګروال بوروسکي تر نظر تېره شوې او ټاکل شوې وه.

دا لار د ليبيا په دښته کې تېرېده او د سيرنايک بندر شمال ختيځ خوا ته په سل کېلومترۍ کې په يوه پنځه څلوېښت درجه يي زاويه مخ پر بن غازي بندر ورتاوېده. هغوی يانې جرمني څارګرو-چې ټول يې د دښتي عملياتو کارپوهان ول-داسې يوه لار انتخاب کړې وه چې له سره تر پايه ان پر يوه ډېر کوچني کلي هم نه تېرېده. له سخت احتياطه يې کار اخيست. د لارې کار و کتار د دوريه په لاس کې وو. هغه هم جرمنی او د دښتو او ناپېژاندو لارو په پيدا کولو کې دومره بلا وو چې ان په تکه توره تياره کې يې هم کاروان ته لاربښوونه کولای شوه. نوموړی يوازې يو څارګر نه، بلکې په اغلب ګومان د نازي پوځ يو لوړپوړی پوځي هم وو چې وروسته يې څارګريزې زدکړې کړې وې او اوس يې د دواړو ډګرونو له مهارتونو هم مهاله کار اخيست. ان اګوست هم چې تر دوريه ځوان وو، په ځراکت کې تر ده کم نه وو.

پفلونک د دوريه او اګوست په شان له پوځي پوهو ډکو څارګريزو مغزونو په کارولو سره د دغو عملياتو برياليتوب ته ډېر هيله من وو.

د شپې شاوخوا لس بجې مهال د سيرنايک بندر د شمال ختيځ سل کېلومترۍ ته ورسېدو. دلته د لارې تګلوری په يوه پنځه څلوېښت درجه يي زاويه د بن غازي پر خوا ګرځېد. زه د مرزوک پر ځای شتړنګ ته کښېناستم. له خوځېدلو سره سم دوريه راڅخه وپوښتل: سوچ دې کړی چې د بن غازي په کوم ځای کې بايد ودرېږو؟

ومې ويل: مالومداره چې چورت مې پکې وهلی او د درېدو ځای مې په نښه کړی دی.

Download from: www.aghalibrary.com

ویې پوښتل: ایا پوښتلای شم چې دا ځای بن غازي کې چیرې پروت دی؟

ومې یل: تا او تورن اګوست ته مالوم دی؛ هماغه زړه هدیره ده.

اګوست وویل: زما په خیال همدا ډېر ډاډمن ځای دی.

دوریه مخاطب کړم او ویې ویل: هلته څومره وخت درېږو؟

د سترګو تر ګوټو مې ورروکتل او ومې ویل: هلته د د ډارسي تر راتګه درېږو. د سلاکوټونو په باب د هغه مالومات زما تر هغو ښځي زیات دي.

اګوست وپوښتل: ډارسي هلته څنګه راغواړې؟

ومې ویل: ټلیفون ورکوم.

ویې ویل: ولې یې کور ته نه ورځې؟

ومې ویل: کور یې نه دی رامالوم. اکثره به مو یا په مخکې له مخکې ټاکلو ځایونو کې سره لیدل یا به مې هم ټلیفون ورکاوه او راغوښت به مې. بل دا چې مجرد دی او له همدې امله چنداني ځرګند کور و ژوند نه لري. هم بې حده ځیرک او هم سخت زیات احتیاطکاره دی. بېله پیسو ټولولو بله هېڅ موخه نه لري او هېڅکله تر اوبو مخکې ګاولې [1] نه کاږي. همدا یې د بریا او شتمنېدو راز هم دی.

دوریه وویل: نو پام دې وي چې ټلیفون کې زموږ یادونه ورته ونکړې.

ومې ویل: یوازې دومره ورته وایم چې هدیرې ته راشي او زما سره ووینې.

اګوست وویل: دا هم ورسره ترلې ده چې ډارسي یو بل ځای وټاکي.

ومې خندل او ومې ویل: ما او هغه پر دغه هدیره د زیارت نوم ایښی دی، زه یوازې دومره ورته وایم چې زیارت ته راشه غواړم د چرګوړو په اړه درسره وږغېږم، نور د هغه خپله سر خلاصېږي.

دوریه وخندل او ویې ویل: ښه نو چرګوړي یانې توپکان؟

---

(۱) ګاولې - خپلې.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: هو. پر ټليفون خو سرې توپک يا ماشيندار نشي يادولای، هغه هم اوسمهال چې بن غازي ټول د متحدينو تر ولکې لاندې دی.
دوريه وپوښتل: نو چې هديرې ته ورسېدو، ته يوازې ښار ته ځې؟
ومې ويل: تا و اگوست کې بايد يو راسره ولاړ شي.
اگوست چې شا ته مې ناست وو، ورو يې پر اوږه وټپولم او ويې ويل: بس زه درسره ځم.
دوريه وويل: برنيس هوټل ته ولاړ شئ او له هغه ځايه ډارسي ته ټليفون وکړئ.
دوريه په خپله دغه بيداري. غوښتل دوې نښې وولي؛ يوه دا چې د هوټلچي په وسيله چې خپل نفر يې وو، د ډارسي (ډگروال لاکسټر) شمېره ترلاسه کړي او بله دا چې زما و د هغه ترمنځ د شويو خبرو راپور ورته راورسېږي.
زما هر څه ته پام وو. د سترگو تر گوټو مې وروکتل او ومې ويل: هوټل ته زموږ يودم ورتگ، له هغه ځايه ټليفون کول او بيا همداسې تلواري راوتل ښايي انگرېز ماموران چې نن سبا هر ځای خپاره دي، راباندې شکمن کړي. ما ته خپله هوټل ته تگ يو ډول بې احتياطي ايسي. له يو بل ځايه هم ټليفون کولای شو.
اگوست وپوښتل: مثلاً له کومه ځايه؟
ډېر په ارامی مې ځواب ورکړ: له يوه عمومي ټليفون څخه.
دوريه وويل: ژيلوم سمه خبره کوي. بې احتياطي بايد ونکړو.
اگوست وويل: اوس راياد شول، له برنيس هوټل سره نژدې پر الحمرا څلورلاري د ټليفون يوه غورفه شته، له هغه ځايه زنگ ورته وهو. مرزوک چې تر دې شيبې غلی وو، وويل: تر الحمرا څلورلارې را دې خوا ته هم ټليفون پيدا کولای شو.
اگوست وويل: مرزوک هم راسره بيايو.
دوريه وويل: سهي ده.
څه باندې يوولس بجې مهال د بن غازي له څنډې تېر او هديرې ته ورسېدو. د يوه

Download from: www.aghalibrary.com

نیمه نړېدلي دېوال بغل ته مې موټر ودراوه. تر شا راپسې ټرکونه هم ودرېدل.
دوریه وویل: وخت باید بېځایه تېر نکړو، زه همدلته پاتېږم تاسې موټر واخلئ او ښار ته ولاړ شئ. که له هر ډول خنډ سره مخامخېدئ، پر مخابره تماس راسره نیسئ او هېڅکله اړیکه مه غوڅوئ.
ومې ویل: ډاډه اوسه هېڅ کیسه نه پېښېږي.
دوریه په خپلو پښو کې پرته یوه مخابره راپورته کړه او ویې ویل: که یو کیسه پېښېدله، د موټر له مخابرې هم کار اخیستلای شئ.
وروسته یې دروازه خلاصه کړه او کښته شو... ما موټر سملاسې چالان کړ او وخوځېدم. اګوست مې اړخ ته راواوښت او ویې ویل:
- نن شپه به روښانه شي چې د افسرۍ وړتیا لرې کنه.
ومې ویل: زما لپاره یوازې و یوازې د وسلو په پیسو کې پنځه ویشت سلنه ونډه مهمه ده، نور دې د شي پروا هم نه لرم.
ویې ویل: اوس لږ ښه پسې ټینګه کړه چې همدا نن شپه هم باید کار وکړو او هم له بن غازي څخه ووزو.
مرزوک وویل: تر سپېده چاود مخکې به تر سیرنایک لا تېر شوي یو.
اګوست وپوښتل: ستا په خیال د سلاکوټ وهل به څومره وخت واخلي؟
ورومې کتل او ومې ویل: شاوخوا درې څلور ساعته.
ویې ویل: په دې حساب نو د سهار تر پنځو بجو مخکې له ښاره نشو وتلای.
ومې ویل: زما پلان او د ډارسي مالوماتو ته په پام سره د سهار تر څلورو بجو مخکې له ښاره وزو. زموږ یوازنۍ ستونزه چې له وینو تویولو پرته باید هواره شي، د سلاکوټ د څوکیدارانو نیول دي. تر هغه وروسته خو بل شی نه پاتېږي یوازې باید ټرکونو ته سندوخونه ولېږدوو.
اګوست وویل: هلکه ژیلومه ډېر ځیرک یې!

Download from: www.aghalibrary.com

ومې خندل او ومې ویل: څه پوه شوې؟

ویې ویل: له کارونو دې همداسې ښکاري.

ومې ویل: زه یوازې د قانون خلاف کارونه کوم. په پوځ کې مې هم له سزا څخه د تېښتې په خاطر څلور کاله تېر کړل.

اگوست وویل: په دغسې کارونو کې بلا وړتیا لرې.

ومې ویل: که مې خپله وړتیا پر سمه لار لگولې وای، اوس به غټ سړی وای.

مرزوک مخاطب کړم او ویې ویل: په راتلونکې څلورلارې کې ښي لاس ته تاو شه. دومره مې یادېږي چې د هغه واټ پر منځ د عمومي ټلیفون یوه غرفه شته.

څو دقیقې وروسته مې له یوې کوچنۍ ټلیفوني غرفې سره موټر ودراوه. په جېبونو کې مې ماتې پیسې نه لرلې. له مرزوکه مې یوه سیکه واخیسته او اگوست ته مې وویل: ته هم زما سره راځه.

ویې ویل: یوازې ولاړ شه.

له موټره کښته شوم... او غرفگۍ ته ننوتم. غوږۍ مې راپورته کړه، سیکه مې ورواچوله او بیا مې د لاکستر له خوا راکړل شوې شمېره ووهله... څو ډېنگه وروسته غوږۍ پورته شوه، یوه ښځینه اواز وویل: څوک مو په کار دی؟

ومې ویل: لطفاً ډارسي ته ووایه چې راسره وږغېږي.

ښځې وویل: یوه دقیقه ودرېږئ چې درخبر یې کړم.

لنډه شېبه وروسته د ډگروال لاکستر ږغ پورته شو چې ویې ویل: هلو....

ومې ویل: زه یم، دالمار ژیلوم!

په لوړ اواز یې وخندل او ویې ویل: ته دلته څه کوې؟

- غوږ ونیسه ډارسي، د ډېرو خبرو وخت نه لرم.

- خیریت خو دی؟

- همدااوس هغې هدیرې ته ځان راورسوه؟

Download from: www.aghalibrary.com

- بیا دې څه پلان جوړ کړی دی؟

ومې ویل: یوه غټه گله [1] ښکار په خپلو پښو لومې ته راغلی دی. دلته مې د پوځي چوڼۍ د سلاکوټ د لوټلو په پلمه راوستلي دي. په خبره خو دې سر خلاصېږي؟ ټوله کیسه باید یومخ طبیعي وبرېښي.

ویې ویل: هو، سر مې خلاص شو. ښه، زه باید څه وکړم؟

ومې ویل: هماغه رول کې راڅرگند شه چې سره ټاکلی مو دی. باید داسې وښیې چې د وسلې پلورنې دلال یې او د پوځي چوڼۍ د سلاکوټ په اړه ډېر مالومات لرې او نقشه هم درسره راوړه.

- کومه نقشه؟

- عجیب سربداله سړی یې ډگرواله، د سلاکوټ ساختگي نقشه درښیم.

- بل شی خو به دې نه وي په کار؟

- یو ماشیندار هم درسره راوړه.

- سمه ده، څو دقیقې وروسته در روانېږم.

ومې ویل: کوښښ وکړه یوازې راشې. کله چې هدیرې ته راورسېدې د موټر په څراغونو دوه واره اشاره وکړه او د لومړي ترک بغل ته موټر ودروه. بیا چې ما اشاره درکړه مخ ته به راشې او زموږ په څو متري کې به ودرېږې. وروسته ته راکښته شه او نقشه و ماشیندار موټر کې پرېږده.

ډگروال لاکسټر وویل: اوس خو ته خبر هم یې چې زه له هدیرې څخه داربږم، خو بیا مې هم په لوی لاس درغواړې!

په ټوکو مې ورته وویل: چورت مه خرابوه هلته اوس تر مړو د ژوندیو شمېر زیات دی.

---

(۱) گله Gala – ډله چې معمولاً د ښکارویو لپاره کارېږي.

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته مې غوږې کښېښوده، بېرته د ګاډي خوا ته ولاړم او شېرنګ ته کښېناستم.
اګوست وپوښتل: له ډارسي سره ورغېدې؟
ومې ويل: هو، هديرې ته مې راوغوښت او دا مې هم ورته وويل چې د سلاکوټ نقشه ورسره راوړي.
- ويې منله؟
- د پيسو نوم چې مې ورته واخيست، ځای پر ځای يې ومنله.
اګوست وخندل او ويې ويل: پيسې زړه و غيرت دواړه غټوي.
وروسته يې وپوښتل: ډارسي نورې پوښتنې درڅخه ونکړې؟
موټر مې چالان کړ، وخوځېدم او ومې ويل: ولې نه، خو ورته ومې ويل چې ټول ځوابونه به يې مخامخ ورکړم او ورته وبه وايم چې دقيقاً څومره پيسې کېږي.
مرزوک وويل: پنځه پسې تينګوه، تر ډارسي مخکې بايد هديرې ته ځان ورسوو.
اګوست ته مې وويل: جګړن دوريه خبر کړه چې ډارسي څو دقيقې وروسته هلته رارسېږي. که هديرې ته نژدې کوم موټر په څراغونو اشارې ورته وکړې، نو ډزې پر ونکړي، ځکه همدا زموږ و ډارسي ترمنځ شفر دی.
اګوست د موټر د مخابرې له لارې له جګړن دوريه سره ورغېد او له حاله يې خبر کړ. موټر مې ډېر ګړندی ځغلاوه، د پلان له پرمختګه خوښ وم، ځکه لومړنې پړاوونه يې په برياليتوب سره وهل شوي ول او د اندېښنې لپاره هېڅ ځای نه وو پاته. ان په وروستي پړاو چې د هغوی نيول ول او بايد ډېر چټک ترسره کېدای، هم چندانې نه وم ګرومجن [1]. ځکه د حالت له اوښتلو سره سم هغو دوو جرمني ځارګرو نه پټنځای درلود او نه هم کومه د تېښتې لار، يوازې يې شايد په مقاومت لاس پورې کړی وای، په دې صورت کې يې له وژلو پرته په بل څه مخه نشوه

---

(۱) ګرومجن - خواشينی، پرېشان.

Download from: www.aghalibrary.com

نیول کېدای. زما هڅه دا وه چې هر څنګه چې کېدای باید د مقاومت لارې مو پر ترلای.
له ځان سره مې ویل چې وسلوال کس باید لومړی راالاندې او د سترګو په رپ کې بې وسلې کړم.
هدیرې ته له رسېدو سره سم مې موټر د لومړي ترک ارخ ته چې دوریه پکې ناست وو، ودراوه. اګوست کښته شو. مرزوک ته مې وویل: در کښته شه!
وروسته مې د موټر مخ راتاو کړ، ومې دراوه او ترې راکوز شوم. دوریه او اګوست د ترک ارخ ته په خبرو سره بوخت ول... دوریه راڅخه وپوښتل: د موټر مخ دې ولې وګرځاوه؟
ومې ویل: کله چې ډارسي د موټر په څراغونو اشاره راکړي، نو باید زه هم د څراغونو په ګلولو او لګولو ځواب ورکړم.
اګوست دوریه ته مخ کړ او ورته ویې ویل: دا ژیلوم خورا بلا او د کار سړی دی، پر داسې ایله-بېله څیزونو یې باید ورتیا خاورې نکړل شي.
ومې خندل او ومې ویل: زه ستاسې په خدمت کې یم، هر امر مو پر سر سترګو.
دوریه وویل: قرارګاه ته چې ولاړو، کار دې درسموم. ډګروال بوروسکي مجبوروم چې ما ته دې راوسپاري.
ومې ویل: مننه. خدای دې وکړي چې ستاسې په درد وخوړل شم.
اګوست وویل: ډارسي وځنډېد.
ومې ویل: اوس نو باید نور راپیدا شي.
دوریه راڅخه وپوښتل: ایا داډه یې چې پر ژمنه به ودرېږي؟
پزه کې مې وخندل او ومې ویل: که څه هم پیسې یې خوښې دي، خو بیا هم ډېر احتیاطکاره دی. په تېره بیا د پیسو په معامله کې ډېر په پام سره ګام اوچتوي او د جېب له ډکېدو سره جوخت زړور کېږي او یومخ بدلېږي.

Download from: www.aghalibrary.com

دوریه وویل: ښایي د هوا تر روښانېدو مخکې له ښاره پر وتلو ونه توانېږو.
هغه او اګوست ته مې وویل چې موږ دوولس تنه یو، په هرو پنځو دقیقو کې شپږ سندوخه وسله ټرکونو ته وړلای او په درې ساعته کې څلور واړه ټرکونه بارولای شو. وروسته مې زیاته کړه: په دې حساب نو باید تر سپېده چاود مخکې له ښاره ووزو.
اګوست وپوښتل: ډارسي ته د سلاکوټ د ساتونکو شمېر مالوم دی کنه؟
ومې ویل: هغه ډېره بده اشا ده! ان د وسلو د سندوخونو شمېر هم ورمالوم دی.
دوریه وویل: چې داسې ده نو د ډارسي له راتلو سره سم مو کارونه سُر نیسي په خیر.
دوریه ته مې وویل: زما په اند د دې وخت رارسېدلی چې د چارو واګې ما ته راوسپارل شي.
دوریه وویل: دا کار د ډارسي تر راتګ وروسته کوم.
ومې ویل: قومنداني بیا هم ستا په لاس کې ده، زه یوازې د لوټلو عملیات مخ ته بیایم.
اګوست وویل: زما په خیال یو موټر دې خوا ته راروان دی.
سرک ته مې وکتل، تپه تیاره وه... لږ وروسته د تاریکې له زړه څخه د یوه موټر څراغونه راووتل.
ومې ویل: باید ډارسي وي.
دوریه وویل: مالومه به شي!
موټر وار په وار هدیرې ته رانژدې کېدی او اخیر د ټرکونو په شاوخوا سل متري کې ودرېد. څراغونه یې دوه واره مړه او ولګېدل.
زه بېله ځنډه خپل موټر ته وختم او د څراغونو دوې اشارې مې ورکړې. ډارسي هم سملاسي موټر راروان کړ... د پای له خوا لومړي ټرک ته چې راورسېد، ودرېد او

Download from: www.aghalibrary.com

بیا یې اشاره راکړه.

دوریه رانه وویل: ورته ووایه چې وړاندې راشي.

په منډه مې ځان ور ورساوه، ورروختم او ورته ومې ویل: درځه هلته د لومړي ټرک مخې ته موټر ودروه. هغوی درته منتظر دي.

موټر یې وخوځاوه او ویې ویل: هسې نه کوم یو مې وپېژني.

ومې ویل: هڅه وکړه چې پر مخ دې رڼا برابره نشي.

د ولاړو ټرکونو له څنګ سره تېر، تر لومړي ټرک څو متره لوړ پلې شوو او د دوریه و اګوست خوا ته ورغلو. ډارسي مې ورروپېژاند، خو د هغوی نومونه مې نه واخیستل. ډارسي رانه مخ کړ او په فرانسوي یې راڅخه وپوښتل: دا ښاغلي څه کاره دي؟

ومې ویل: دا ښاغلي د هر ډول ډېرو وسلو پېرودونکي دي او پیسې هم نغدې-چغدې ورکوي.

- له زړه مې واورېدل چې ستا څخه اجیر سرتېري جوړ شوي دي.

- سم دې اورېدلي دي.

- نو دا ښاغلي هماغه کسان دي چې ته یې لګولې یې؟

ومې ویل: دوی ستا غونډې د وسلو د کاروبار دلالان دي او زه هم یو منځګړی.

ویې ویل: ډېر بدمرغه انسان یې چې بیا دې توپک ته لاس کړ!

په یوه ساختګي خلق تنګۍ مې وویل: بیا دې داسې خبرو ته ملا وتړله چې په تا هېڅ اړه نه لري.

ډارسي وویل: هو په ما اړه نه لري، موږ دواړو په ګډه ډېر خوندور کار کولای شوای. ما شتمن درڅخه جوړاوه او تا هم همدا غوښتل.

ډارسي په داسې انداز د یوه خواخوږي ملګري رول لوباوه چې زما اصلاً زړه ته نه لوېده او خوله وازې کړې یې وم، ځکه نوموړی نه د استخباراتو کارکوونکی وو او

Download from: www.aghalibrary.com

نه يې هم کومه اړونده زدکړه کړې وه.
ومې ويل: په دې معامله کې مې هم جېب ډکېږي.
ويې پوښتل: زما ونډه څومره ده؟
ومې ويل: لس سلنه.
دوريه چې زموږ خبرو ته غوږ وو، وويل: نه د خبرو وخت لرو او نه هم دا ستاسې دوو د جنجال ځاى دى.
له ډارسي څخه مې وپوښتل: نقشه دې راوړې ده؟
ويې ويل: هو، موټر کې ده.
ومې ويل: درځه ستا په موټر کې به پر وړغېږو.
دوريه وويل: زموږ خپل موټر هم شته.
په يارانه انداز مې ورته وويل: هو، مګر سر له همدې شېبې د عملياتو او کسانو لارښوونه زما پر غاړه ده!
اګوست دوريه ته وويل: د دې وخت رارسېدلى چې ژيلوم نورو کسانو ته د قومندان په توګه وروپېژنو.
دوريه مرزوک ته مخ کړ او ورته ويې ويل: کسانو ته ورږغ کړه چې دلته راشي!
څو شېبې وروسته اته واړه وسلوال راغلل... دوريه ورته مخ کړ او ويې ويل:
- له اوس څخه بيا د لوټلو د عملياتو تر پايه دالمار ژيلوم ستاسې قومندان دى، هر امر يې بايد ومنئ. اوس بېرته خپلو-خپلو ټرکونو ته ولاړ شئ!
د هغوى تر تګ وروسته دوريه راته مخ کړ او ويې ويل: اوس راضي شوې؟
ومې ويل: مننه. بس د ډارسي په مرسته به د سلاکوټ د نقشې، موقعيت او ځاى تر دقيقې ارزونې وروسته عمليات پيل کړو.
ډارسي وويل: راځئ!
ټول د ډارسي د موټر خوا ته وخوځېدو. دا موټر مو د جرمني څواکونو له پرشاتګ

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته ولکي ته لوېدلی او د خدای یوه زړه غرازه [۱] وه. دوریه او اګوست شا ته کښېناستل او زه و ډارسي مخ ته. ډارسي سملاسي له سویچ بورډ څخه یوه نقشه راوایسته، دوریه ته یې ورکړه او ورته ویې ویل: ویې غوړوه!

له دې سره جوخت یې لاسي څراغ ولګاوه او رڼا یې پر نقشه برابره کړه. ما ورو خپله توپنچه راوکښله. دوریه نقشه پرانیسته. د هغه او اګوست دواړو سترګې په هغه ساختګي نقشه کې وې. ما خپل وسلوال لاس را اوچت کړ، د توپنچې خوله مې د هغوی خوا ته نېغه کړه او ږغ مې پر وکړ: دواړه ښور ونخورئ!

دوریه او اګوست یودم له نقشې څخه سرونه راپورته کړل. همدا چې زما توپنچه یې خوا ته سیخ ولیده، خوله وازې شول او وپوهېدل چې پښې یې ښوېبدلي دي.

ډارسي لاسي څراغ لږ راپورته کړ، په دا بل لاس یې توپنچه راوایسته، د هغوی خوا ته یې ونیوله او ویې ویل: چل-ول هېڅ ګټه نه لري!

دوریه یوه له اضطرابه ډکه موسکا وکړه او ویې ویل: خبره څه ده، توپنچې مو ولې راباندې نیولي دي؟

ومې ویل: خبره دا ده چې تاسې جرمني څارګران په لومه کې بند شوي یاست او دا توپنچې مو هم ستاسې د وژلو لپاره درباندې نیولي دي.

اګوست ناړې تېرې کړې او ویې ویل: نو ته اصلاً د متحدینو د استخباراتو مامور یې؟

ومې ویل: همداسې ده. دالمار ژیلوم زما اصلي نوم نه دی. دا بل ښاغلی ډارسي هم په بن غازي کې د متحدینو د پوځي مرکز قومندان ډګروال لاکستر دی. نوم به دې یې هم خامخا اورېدلی وي. اوس مو توپنچې راوباسئ او موږ ته یې راکړئ.

دوریه وویل: سخت انتیک دې وغولولو!

---

(۱) غرازه – اصطلاحاً ډېر زوړ موټر ته وایي.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: د زور وهلو يا چلبازۍ کولو هڅه ونکړئ، ځکه زما او ډګروال ګوتې پر ماشه پرتې دي. که مو دا مازې غلط حرکت وکړ، پر دا سر-سر مو ولو. بل بايد دا هم درته ووايم چې هديره د ډګروال کسانو محاصره کړې ده. مطلب ستاسې د تېښتې ټولې لارې تړلې دي.

د هغوی دوو مخانو په هغه شېبه کې خورا خندوونکې بڼه خپله کړې وه. داسې پسات په شوی وو چې په ټول ژوند يې تصور هم نه وو کړی. څېرې يې تکې سپينې اوښتې وې او له هر ځومره بيدارۍ سره-سره يې خپله نارامي نشوای پټولای.

دوريه وويل: ښه اخير دې دوکه کړو!

ومې ويل: متل يې کړی چې کله ادې لاندې کله بابا راچپه کړی، بالاخره بايد يوه غاړه بريالۍ شي.

دوريه خپله توپنچه راوايسته. ورته ومې ويل: د توپنچې خوله دې د ځان خوا ته ونيسه او بيا يې موږ ته راايسته کړه.

ډارسي يې توپنچه ځنې واخيسته. د اګوست سترګې لا په ما کې يخې وې. يو څه ورنيغ شوم، پر زنه مې په سوک وواهه او ورته ومې ويل: ولې لا ګورې؟ له دې ځايه دې سيده زندان ته بيايم!

په خنبسم يې وويل: له هماغه پيله مې ولاکه ښه درڅخه راتلل!

وروسته يې توپنچه خلاصه کړه او په داسې حال کې چې خوله يې د ځان لوري ته نيولې وه، ما ته يې را وړاندې کړه. ترې وامې خيسته. وروسته مې ډګروال ته مخ کړ او ومې ويل: ته پر دوی پام کوه، زه به د هغو نورو اتو نفرو کار وروکړم.

ډګروال وويل: د دوی هم سر خلاصېږي چې که يې مازې کونه سره وښورولە، وژنم يې!

ومې ويل: دواړه شکر هوښيار خلک دي!

Download from: www.aghalibrary.com

له موټره کښته شوم، ماشیندار مې راسره واخیست او د ټرکونو خوا ته ورغلم.
مرزوک له یوه ټرک سره نژدې ولاړ وو، ورو یې وپوښتل: کار شروع شو؟
ومې ویل: هو، اوس د هغو اتو نفرو وار دی!
- شیطان دې زوی لا ولاکه دی طاهره!
- اوس د دې ټوکو وخت نه دی.
وروسته مې د ټرک په سیټ کې ناستو دوو کسانو ته وویل: راکښته شئ!
دواړه چټک راکوز شول. یوه یې وپوښتل: څه وخت حرکت کوو؟
ومې ویل: څو دقیقې وروسته د نقشې کتنه پای ته رسېږي. تر حرکت وړاندې غواړم ستاسې او ستاسې له ټولو همکارانو سره لږ وږغېږم. لطفاً په تاسې دوو کې یو هغه نور ملګري راغونډ کړئ!
هغه یو چې جرمنی څارګر وو، په منډه د هغو نورو ټرکونو خوا ته ولاړ. لنډه شېبه وروسته اته واړه وسلوال مخامخ کتار راته ولاړ او زما څخه د اړینو لارښوونو د اورېدو په تمه ول. اته سره مې د دوریه د موټر مخې ته ودرول، وروسته موټر ته ننوتم او څراغونه مې پر ولګول.
د هغوی انتظار مې ډېر ژر پای ته ورساوه. له موټره راکښته شوم، نژدې ورغلم او ورته ومې ویل:
- لږ مخکې جګړن دوریه درته وویل چې د عملیاتو قوماندان زه یم او زما په خوله باید وکړئ. مګر دا د دې مانا نه لري چې ګنې دوریه نو زموږ مشر نه دی، بلکې زه یوازې د سلاکوټ د لوټلو عملیات پر مخ بیایم. زموږ تاسې همکاري باید پر ملګرتیا ولاړه وي، خو که په تاسې کې هر یوه زما له امره غاړه وغړوله، بیا یې نو خیر نشته. دا عملیات باید په ګډه بریالي کړو!
یوه شېبه چوپ شوم، بېرته مې ادامه ورکړه: سلاکوټ ته نژدې پرته لار داسې ده چې باید تقریباً دوه سوه متره پر سینه په ځکېدو ولاړ شو. تر خوځېدو وړاندې

Download from: www.aghalibrary.com

غواړم وپوښتم چې ایا تاسې پر سینه د څکېدو تمرین لرئ کنه؟ دغه راز مو باید په دې هم سر خلاص وي چې دغه عملیات لوی قومندان ډګروال بوروسکي ته زښت لوی ارزښت لري.

له هغو اتو کسانو څخه یوه یې چې د پفلونک د څارګرې شبکې غړی هم وو، وویل: موږ ټول په سینه څکېدنه کې تمرین لرو!

ومې ویل: اوس به څرګنده شي چې لرئ یې کنه!

لږ شا ته ولاړم او زیاته مې کړه: اوس مو وسلې په لاسونو کې ونیسئ او پړمخې پر ځمکه وغځېږئ!

اتو واړو بېله کوم شک و دوه زړي، وسلې په لاسونو کې ونیولې او پړمخې پرېوتل.

بیا یې یوه وویل: زما په خیال ټول په دې حرکت کې تکړه یو!

ومې ویل: ازمایل یې تاوان نه لري. زه باید ډاډه شم. کوم کسان چې یا پر سینه نشي تللای او یا هم ورو ځي، په نورو عملیاتو کې کار ځنې اخلو.

ټول غلي ول. پښو ته یې ودرېدم او ورته ومې ویل: اوس مو ټوپکان اوچت ونیسئ. هڅه وکړئ د څکېدو پر مهال مو وسلې له ځمکې سره ونه لګېږي او ږغ ونکړي. دا ډېر-ډېر اړین تمرین دی.

ټولو وسلې لږ لوړې ونیولې او زما امر ته سترګې پر لار شول. مرزوک ته مې چې لږ ها پلو ولاړ وو، سر وښوراوه او ومې پوهاوه چې ځان بیدار کړي. وروسته مې هغوی ته مخ کړ او ومې ویل:

- ښاغلو! له بده مرغه یو ډېر بد خبر درته لرم؛ تاسې ټول د متحدینو د وسلوالو له خوا محاصره یاست. مقاومت هم نشئ کولای!

هغوی د دې خبرې په اورېدو-چې په حقیقت کې د خطر زنګ وو-ټکان وخوړ. ما په هماغه ګواښونکي انداز پسې زیاته کړه: ښور ونه خورئ، زما او مرزوک د

Download from: www.aghalibrary.com

ماشیندارانو خولې تاسې ته سیخ دي. مقاومت هېڅ ګټه نه لري، همداسې په پروتې خپلې وسلې پر ځمکه کېښېږدئ او پر سینه لږ شا ته وځکېږئ.

داسې برېښېده لکه یو ډول ګنګس شوي چې وي. فکر یې کاوه چې یا زه توکې ورسره کوم او یا دا هم له دوښمن سره د مخامخېدو یو تمرین دی.

اتو وارو وسلې پر ځمکه کېښېښودې او پر سینو شا ته وځکېدل.

ورته ومې ویل: اوس مو لاسونه پر څټانو کېښېږدئ!

یوه یې په داسې انداز چې شک پکې ځرګند وو، وویل: له دې خبرو دې مطلب څه دی ژیلومه؟

ومې ویل: تاسې ټول بې وسلې شوي او زما بندیان یاست. هر چا که ښور وخوړ او یا یې هم کوم چل-ول ته خیال شو، په مرمیو به سوری-سوری کړل شي.

بل یوه یې په کرکجنه لهجه وویل: تا زموږ سره دوکه وکړه، هغه هم داسې سپې دوکه.

ومې ویل: خوله دې بنده کړه، ډېر مه ږغېږه!

وروسته مې مرزوک ته مخ کړ او ورته ومې ویل:

- توپکان یې راټول کړه!

درېیم یې پر خبرو راغی او ویې ویل: ژیلومه تا ته وایم! په وچه ناځوانۍ دې وسلې راڅخه واخیستې!

ومې ویل: ته او ستا ملګري یې همداسې وانګېرئ!

بل یوه یې وویل: زموږ سره څه کول غواړې؟

ومې ویل: که هوښیاران واست او بیعقلي مو ونکړه، نو زما په خیال ژوندي به پاته شئ!

یو بل یوه یې وپوښتل: دوریه او اګوست دې هم بې وسلې کړل؟

ومې ویل: هو، خو هغوی ستاسې غوندې بېځایه ونه ږغېدل، چوپ شئ نور!

Download from: www.aghalibrary.com

مرزوک يې وسلې راغونډې کړې او يوه ټرک کې يې کښېښودې. هغه مې پر هغو اتو نفرو پيره کړ او زه خپله ډګروال لاکسټر ته ورغلم....
لاکسټر وپوښتل: د افرادو کار هم وشو؟
ومې ويل: هو، اوس له مرکزه يو څو تنه وسلوال راوغواړه چې دا خلک ورسره بوزي.
لاکسټر وويل: يوه ډله سرتېري د بريدمل ارنولډ په مشرۍ دې خوا ته د راغلي سړک په سر کې زموږ امر ته منتظر ناست دي.
ومې ويل: ما ويل چې خامخا به دې يو غم خوړلی وي.
لاکسټر په موټر کې د يوې پرتې وړې مخابرې له لارې له بريدمل ارنولډ سره وږغېد او د راتلو امر يې ورته وکړ....
دوريه ما ته په خطاب کې وويل: په چل-ول دې افراد هم بې وسلې کړل؟
په ملنډو مې ورته وويل:
- سلاکوټ په تش لاس ډېر ښه لوټېدای شي!
اګوست وويل: ياره سخت دوکه باز انسان يې!
په لغاز مې ورته وويل: مګر ستا او ستاسې د بادار مکس پفلونک غوندې اوړپکی بيا نه يم.
اګوست په داسې لهجه چې زما پر وړاندې کرکه پکې په څپو وه، وويل: پفلونک يوازنی کس دی چې تا به له خپلو هيلو سره يوځای په ځمکه ومنډي.
ومې ويل: زما پر هغو تور و سپين پوستانو باندې زړه سوځي چې ستاسې د بادار په منځنشو ژمنو غولېدلي دي، ځکه د هيڅ لپاره بايد ځانونه قربان کړي. ډګروال لاکسټر د پفلونک پر کيږدۍ د بريد نيت لري، مالومداره چې ډېر کسان به سرونه پکې وخوري چې يو به يې خپله مکس پفلونک وي.
يوه شېبه چوپ شوم، وروسته مې زياته کړه: زه خپله هڅه کوم ژوندی يې ونيسم،

Download from: www.aghalibrary.com

مگر که ونشوه بیا یې نو وژنم.
اگوست وویل: ډېر پر ځان داډه یې!
پزه کې مې وخندل او ومې ویل: ولې باید ونه اوسم. ستاسې په بې وسلې کولو سره د راتلونکو پړاوونو پلي کولو ته لار هواره شوه. یو بل ټکی؛ ستاسې له مرکز څخه د حرکت کولو تر شیبې مې د خپل پلان بریالیتوب چنداني زړه ته نه لوېد، خو اوس بشپړ ډاډمن یم.
وروسته مې ډگروال ته مخ کړ او ورته ومې ویل: ډېر وخت نه لرو، باید د هوا تر روښانېدو وړاندې د عملیاتو دویم پړاو پیل کړو. سر له همدې شیبې باید لاس په کار شو. د پفلونک دوی د پوځ د نابودولو لپاره دوې درې ټولۍ له هره اړخه سمبال سرتېري په کار دي.
دوریه په یوه ساختگي خندا وویل: له هغوی سره په هېڅ وجه جگړه نشئ کولای.
ومې ویل: ته یوازې د خپل برخلیک غم وژاړه!
لاکستر وویل: همدااوس یې سرښته کوم.
ډگروال لاکستر په پوځي چوڼۍ کې له خپل مرستیال سره مخابره کې وږغېد او ورته ویې ویل چې دوې ټولۍ په سپکو او درنو وسلو سمبال سرتېري د دښتي عملیاتو لپاره چټک چمتو کړي او قومنداني یې هم تورن کارډیف ته وسپاري.
ډگروال د خبرو تر پای ته رسولو وروسته راته وویل: دا کار هم وشو!
ومې ویل: ته پر دوی پام کوه، زه بېرته دستي راځم.
مرزوک لا هماغسې پر هغو اتو کسانو پیره وو... څو شیبې وروسته له سرتېرو ډک درې موټره راورسېدل. بریدمل ارنولډ د ډگروال لاکستر پوښتنه وکړه... ورمې وست. دوریه او اگوست مې له موټره راکښته کړل. لاکستر ارنولډ ته وویل چې هغه لس تنه ورسره واخلي او د پوځي مرکز زندان ته یې وسپاري.
لاکستر ته مې وویل: د دغو لسو پوځیانو جامې مو په کار دي.

Download from: www.aghalibrary.com

په خندا یې وویل: مشر ته یې، هر څه چې دې زړه غواړي ویې کړه.
دوریه، اگوست او هغه اته تنه مو په زوره جامو ایستلو ته اړ کړل. څو دقیقې وروسته مو لس واړه په یوه زیرپراهني انگیا او یوه لنډ نېکر کې دوو موټرونو ته وخېژول. ارنولډ راته مخ کړ او ویې ویل: بل کار خو به دې نه وو؟
ومې ویل: دوه تنه سرتېري دې راپرېږده.
لاکستر پر غوږ راپرېووت او ویې ویل: هیڅ مې سر نه خلاصېږي چې پلان دې څه دی.
ومې ویل: د دوی تر تگ وروسته به سره پر ورډغېږو.
لاکستر ارنولډ ته مخ کړ او ورته ویې ویل: د بندیانو تر سپارلو وروسته بېرته له سرتېرو سره یوځای دلته راشئ. تورن کارډیف هم له دوو ټولیو عسکرو سره راروان دی. اوس ژر کوئ.
د هغوی تر روانېدو وروسته مې مرزوک ته وویل چې د جرمني څارگرو او اجیرو سرتېرو جامې زموږ سرتېرو ته ورکړي.
لاکستر د خپل موټر خوا ته بوتلم او ویې ویل: د بل پړاو تر پیلېدو وړاندې غواړم یوه نازکه مبارکي درکړم.
تر بازو مې ونیو او ورته ومې ویل: زموږ دواړو دې مبارک شي، ځکه ستا له مرستې پرته کیسه پر بل مخ اوښته او په هغه صورت کې نو زه و مرزوک مجبور وو هغوی ووژنو.
لاکستر وخندل او ویې ویل: بیا هم همدا اوسنۍ پایله ترلاسه کېده!
ومې ویل: فکر نه کوې چې موږ هسې بېځایه وخت تېروو؟
- ډېر ښه، د پغلونک په اړه راته ورډغېږه.
- د هغه پر ځای باید د خپل ماموریت اصلي تگلوری درته روښانه کړم.
- مخکې خو دې په دې اړه له څه ویلو ډډه کوله.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: هغه مهال چې تا زما د ماموريت په اړه د مالوماتو اورېدلو تمه راڅخه لرله، ما نشوای کولای اوسنۍ خبرې درته وکړم. مگر کله چې مې د پلانونو مخ پر بله خوا سيخ شو، نو مې ستا مرسته اړينه وبلله او همدا بدلون مې په خپل ماموريت ستا راگېدولو ته اړباسي.

ډگروال وويل: د ماموريت د اصلي پلان د بيانولو اړتيا نشته.

ومې ويل: زما د ماموريت اره موخه د مکس پفلونک وژنه ده. نوموړی غواړي د جرمني خطرناک پلان پلی کړي او اوسمهال يې د بې خرته پيسو په زور قاسم بن احمد او د هغه قبيله د ځان گرځولې او جگړې ته تياره کړې ده.

ډگروال وويل: د قاسم بن احمد نوم مې ډېر اورېدلی دی. زما په خيال د ليبيا په سهېل کې مېشت دی.

ومې ويل: زه، طارق او هغه لس واړه نيول شوي کسان له هماغه ځايه راروان شوي وو.

- مکس پفلونک دې هم وليد؟

- هو، مستعار نوم يې ډگروال بوروسکي دی.

- د اورپکو قومندان ډگروال بوروسکي!

ومې ويل: دوی نيت لري د ليبيا پر ساحلي ښارونو بريدونه وکړي او د عامو وگړو د وژلو او لوټلو له لارې يوه لويه گډوډي جوړه کړي. لومړنۍ موخې يې هم په غالب گومان بن غازي او ترېپولي دي.

وروسته مې په سکنا ښار کې له دوريه او اگوست سره زما او طارق د ملگري کېدو له وخته بيا د بن غازي د سلاکوټ د لوټلو، په پفلونک د دغه پلان منلو او له هغه ځايه تر هديرې پورې د راتلو کيسه ورته وکړه. په پای کې مې ورته وويل: اوس نو گواکې زما له ټول ماموريته خبر شوې.

ډگروال په انديښمن انداز وويل: له دې څخه ښکاري چې له هغوی سره جگړې

Download from: www.aghalibrary.com

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: د مکس پفلونک غوندې بلاوې تر سبا شپې پورې په تیاره کې نشي ساتل کېدای. هغه هره شېبه له مخابرې ځخه د دوربه یا اگوست د ږغ اورېدو تمه لري.

ډگروال لاکسټر وویل: خیر خپل تلاښ به وکړو، که ونه توانېدو، نو سبا شپه به بیا لاس په کار شو.

کرار-کرار مې اندېښنه زیاته شوه. د شپې څه باندې دوولس بجې وې او چې هر څومره گړندي هم تلای، بیا هم تر سپېده چاود مخکې د رسېدو امکان ډېر کمزوره وو. زما ټوله اندېښنه د مکس پفلونک په اړه وه. زموږ له خوا د خبر نه ترلاسه کولو له امله بېله شکه سخت اندېښمن کېدی، ان ښایي پر ما شکمن شوی او ځینې احتیاطي گامونه یې پورته کړي وای.

ورو-ورو مې پر خپل پلان د ډاډ کچه کمېده او په بدل کې یې د نهیلۍ پله درنېده. ډگروال لاکسټر له پوځي چونۍ سره مخابروي اړیکه ونیوله... ورته وویل شول چې تورن کارډیف او ارنولډ له سرتېرو سره یوځای مخ پر هدیره رااروان شوي دي.

د اړیکې تر پرې کولو وروسته یې راته کړل: بس پر رارسېدو دي!

ومې ویل: یاره ستا نظر پر ځای وو. که نن شپه وخوځو، نو زړه ته مې نه لوېږي چې د پفلونک ځای ته دې تر سپېده چاود مخکې ورسېږو. خو ځنډ هم ښایي زموږ په زیان تمام شي.

ډگروال لاکسټر وویل: زه ډاډه یم چې مکس پفلونک به هېڅ هم ونکړي.

- خو انتظار به یې له بدگومانۍ هم نه وي خلاص.

- او د څلورو تېرکونو تر لیدلو وروسته به یې بدگوماني هم ختمه شي.

ومې ویل: زما په خپل ماموریت چورت بند دی. وېرېږم هسې نه پر پفلونک د خطر بوی ولاړ شي او ځان ورک کړي. هغه لکه گیدړه په دښته کې د غیبېدو چلونه یې خورا ښه زده دي.

Download from: www.aghalibrary.com

لاکسټر وويل: تر سبا شپې لا ګوري او که يې بيا هم د نفرو درک ونه لګېد، نو بيا شک ورلوېږي او وړاندې تر دې چې له خپلو ورکو شويو کسانو سره د اړيکو نيولو لار وسنجوي، موږ به بيا وخته لا هورې يو.

يوه لنډه خندا مې وکړه او ومې ويل: ته يو پوځي يې او دغې پېښې ته له همدې اړخه ګورې، خو زه يې بيا له خپل ليدلوري ارزوم. زما يوازنۍ موخه مکس پفلونک دی، مګر ته بيا غواړې د نوموړي ټول کار و کتار له خاورو سره سم کړې.

په خندا يې وويل: زه په ډاډ سره درته وايم چې له پفلونک سره به بيا هم ووينې.

ومې ويل: او زما يوازنۍ هيله همدا ده.

د تورن کارډيف په مشرۍ په وسلوالو بار ټرکونه هديرې ته راورسېدل. زما و د کارډيف تر پېژندنې وروسته ډګروال لاکسټر راته مخ کړ او ويې ويل:

- که دې خوښه وي سرټېري به ببرته پوځي چونۍ ته واستوو.

ومې ويل: له تورن کارډيف او بريدمل ارنولډ سره په ګډه د عملياتو د پلان تر ارزولو وروسته به پرېکړه وکړو.

کارډيف وپوښتل: کيسه څه ده؟

لاکسټر په لنډ ډول له موضوع څخه خبر کړ. کارډيف راته مخ کړ او ويې ويل: په بن غازي کې زموږ د ګومارلو له لامله به ښايي خبر يې.

ومې ويل: ډګروال په دې ټراو ستا او بريدمل ارنولډ په اړه سر راخلاص کړی دی او راته ويلي يې دي چې تاسې دواړه د دښتي جګړې ماهران ياست.

کارډيف په خندا وويل: ډګروال او موږ دوه نه يوازې دا چې په صحرايي جګړو کې اوږده تجربه لرو، بلکې له ټولو غونډيو او موټ-موټ ريګه يې هم خبر يو. ان د نقشې تر کتلو مخکې هم پرېکړه کولای شو. تاسې يوازې دومره راته وواياست چې د دوښمن مرکز له دې ځايه څو کېلومتره ليرې دی؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: څلور سوه او شل کېلومتره.
لاکستر وپوښتل: تخمیناً که دقیقاً؟
ومې ویل: نه دقیقاً!
کارډیف وویل: له بده مرغه چې دومره واټن تر سپېده چاود وړاندې نشو وهلای. بېله دې چې تر سبا شپې صبر وکړو، بله هېڅ چاره نشته.
لنډ مې وخندل او ومې ویل: لکه چې ستاسې درېیو وړاندیز منلو ته اړ شوم!
ډګروال ارنولډ ته مخ کړ او ورته ویې ویل: سرتېري پوځي چونۍ ته درستانه کړه!
له سرتېرو د ډکو ټرکونو تر خوځېدو لږ وروسته ډګروال لاکستر راته مخ کړ او ویې ویل:
- دلته زموږ پاتېدنه بې ګټې ده، په تېره بیا تا ته چې ارام ته سخته اړتیا لرې. درځه چې مرکز ته ولاړ شو. هلته د عملیاتو پر نقشه لا ښه غور کولای شو.
ومې ویل: تاسې ولاړ شئ، زه او طارق همدلته پاتېږو او هڅه به وکړو چې ستاسې سره په اړیکه کې واوسو.
ډګروال وویل: ټوکې مه کوه!
بریدمل ارنولډ وویل: دا ځای وګوره پاتېدل وګوره، توره هدیره ده.
په خندا مې وویل: وېرېږې هسې نه مړي وسلې راڅخه واخلې؟
ټولو وخندل... کارډیف وویل: ستا څخه وسلې اخیستل د ژوندیو هم په وسه نه ده پوره.
ومې ویل: خبره دا ده چې مکس پفلونک له شک پرته بن غازي کې د خپلې شبکې نور کرایي مخبران هم لري او سبا په هر صورت د خپلو څلورو ټرکونو څرک لګوي.
ارنولډ وپوښتل: له کومه درکه په دومره ډاډ وږغېږې؟
پزه کې مې وخندل او ومې ویل: جګړن دوریه وروستی ځل له مکس پفلونک سره

Download from: www.aghalibrary.com

بن غازي ته ډېر نژدې د مخابرې له لارې ورغښد او ورته ويې ويل چې بل تماس به د سلاکوټ تر لوټلو وروسته ورسره ونيسي.
يوه شېبه چوپ شوم، وروسته مې زياته کړه: همدااوس اوس چې موږ دلته ولاړ يو او ږغېږو، پفلونک لګيا دی مخابره کې پرله پسې د جګړن دوريه ږغونه کوي او له لاوډسپيکر څخه د نوموړي د اواز اورېدو ته غوږ-غوږ دی.
کارډيف وويل: خو هغه به په غالب ګومان داسې وانګېري چې د دوريه مخابره له کاره لوېدلې ده.
ومې ويل: او بالاخره دا فکر ورلوېږي چې پر دوريه او کسانو يې يوه ټکه رالوېدلې ده. دا چورت يې هغه مهال سر ته لار کوي چې لمر راوخېژي، خو د کاروان او کاروانيانو درک ونه لګېږي.
تر يوه لنډکي څنډ وروسته مې وويل: مکس پفلونک غوندې سړی چې ټول عمر يې په ماجراجويي کې تېر شوی، مالومداره لاس تر زنه نه کښېني. نوموړی ډېر سرټمبه او ډېره سړی دی. په هره لار چې کېږي بن غازي کې له خپلو مامورانو سره اړيکه نيسي او په ښار و شاوخوا سيمو کې د کاروان د لټولو امر ورته کوي.
لاکسټر وويل: ستا استدلال بېخي پر ځای دی.
کارډيف وويل: فکر نه کوم مکس پفلونک دې بن غازي کې کوم څارګر ولري.
ومې ويل: د برنيس هوټل چلوونکی د پفلونک تالی څټی دی.
ډګروال لاکسټر په حيرانتيا وپوښتل: ته څه خبر شوې؟
ومې خندل او ومې ويل: دوريه او اګوست ته هماغه زما څرک ورکړی وو، کنه هغوی څه خبر ول چې مستعفي پوځي دالمار ژيلوم هلته دېره دی؟ پر دې موضوع مې هلته تله تېره [1] کړه، څکه نه مې غوښتل ځان ډېر پلټونکی وښيم.

(۱) تله تېرول - ځان ناګومانه اچول.

Download from: www.aghalibrary.com

کارډيف وويل: همدا نن شپه هغه هوټلچي نيسو.

ومې ويل: هغه او ټليفونچي دواړه به بيا پر خپل وخت ونيسو. اوس لا وختي دی.

ارنولډ وويل: زه هم له طاهر دوی سره پاتېږم.

ومې ويل: تاسې درې سره بايد مرکز ته ستانه شئ. دلته مو شتون زيانمنوونکی دی، کولای شو د مخابرې له لارې خبر سره واخلو.

ډگروال وويل: طاهر سم وايي. موږ بايد مرکز ته ترې ستانه شو.

وروسته يې خپله د لنډو څپو لرونکې مخابره راکړه او ويې ويل: که له کوم بېړني حالت سره مخامخ شوې، دغه سره تنۍ کښېکاږه، په دې سره له درېيو تورو جوړې راډيويي نښې له مخابرې څخه خپرېږي او موږ به تر وسه-وسه ژر ځانونه درته راورسوو.

ومې ويل: د حالاتو د بېړني کېدو امکان بېخي ډېر دی. په هر صورت، ستاسې له همکارۍ څخه مننه.

هغوی د شپه په خير ويلو سره موټر ته وختل او مخ پر پوځي چونۍ روان شول....

په هغه متروکه هديره کې پر ما او طارق سربېره زموږ لس تنه سرتېري هم ول چې د دوښمن په څلورو ټرکونو کې ناست ول. هغوی ټول مې يوه ټرک ته وخېژول. دوه تنه يې په خپله خوښه پر پيره ودرېدل او پاته اته کسان ويده شول.

طارق راته وويل: ونيسه ته پرېوزه، زه به پيره شم.

يوازنی وراندېز وو چې بېله پنج و پروسه [1] مې ومانه. د موټر پر شاتنۍ څوکۍ وغځېدم. ماشيندار مې ارخ ته پروت وو. طارق شاوخوا گرځېد. تر هغو چې سترگې مې درنېدې لا مې يې د قدمونو ښکالو اورېده....

---

(۱) پنج و پروس ويل - بېځايه دلايل ويل، مخالفت کول.

Download from: www.aghalibrary.com

●●●

لږ و ډېر راسره خواږه مو د سهارنۍ په نامه سره وسړپول. لمر راختلی وو. طارق ته مې وویل چې یوه ټرک ته وخېژي او لږ ارام وکړي. له سترګو یې سترړیا او بېخوبۍ چیغې وهلې. تر یوازې کېدو وروسته مې د سرتېرو د چارو پر سمبالولو راواچول. ټول مې یوه ټرک ته پورته کړل او ورته ومې ویل چې زما له اجازې پرته دباندې راونوزي. هم تودوخه زیاته وه او هم زموږ ځای ډېر ناموزه [1] وو. په تېره د ټرک پر باډۍ هوار ټاټ خو بیا سم سور اور باداوه. مګر چاره نه وه او باید ځانونه مو ورته ټینګولای.

د سهار پر شاوخوا نهه بجې مې له ډګروال لاکسټر سره اړیکه ونیوله او ترې ومې پوښتل: څه کیسې دي؟

وېې ویل: موږ د عملیاتو د نقشې پر ارزونه بوخت یو.

- له دوریه او اګوست څخه به مو پوښتنې-ګرویږنې نه وي کړي؟

- فکر نه کوم چې د عملیاتو تر پای ته رسېدو وړاندې دې د دې وخت پیدا کړو.

- بل دا چې هغوی مو پوښتنې راځوابوي هم نه.

وېې ویل: په تماس کې راسره اوسه!

ومې ویل: حتماً.

وروسته له دوریه څخه راپاته مخابرې ته ورغلم او یو دننۍ لین مې یې داسې ورغوځ کړ چې قصدي کار ونه برېښي. زما حدس دا وو چې ممکن د پفلونک پټ ماموران د ټرکونو ځرک ومومي او راپسې راشي. په دې صورت کې نو باید زموږ مخابره هم خرابه وي.

---

(۱) ناموزه – بې باوره، ناخوندي.

Download from: www.aghalibrary.com

نژدې د غرمې یوولس بجې وې. هوا سمه دوږخې شوې وه. طارق له ډېرې تودوخې راوېښ او له تړکه راکښته شو. دواړه د یوه گاډي تر سیوري لاندې ودرېدو. راځخه ویې پوښتل: څه نوې پېښه خو به نه وي شوې؟

ومې ویل: اوس خو لا خیر و خیریت دی.

ویې ویل: کاشکې موږ هم له ډگروال دوی سره مرکز ته تللي وای.

ومې ویل: زما په خیال لمر دې ماغزه درخراب کړي دي!

- لمر ته نه یم درېدلی، مگر دا تودوخه سم په سرېي مخ لگوي.

- بله چاره نشته، زغمو به یې.

- د سرتېرو یو غم وخوره!

ومې ویل: ورشه ورته ووایه چې زیارت ته ولاړ شي او هلته د ونو تر سیورو لاندې دمه شي.

ویې خندل او ویې ویل: له دوږخه دې خلاص کړل!

ومې ویل: د دې او هغه ځای تودوخه تر دوې درې درجې زیات توپیر نه سره لري. لږ وروسته سرتېرو ټرک مخ پر زیارت روان کړ. هغه ځای دومره راځخه لیرې نه وو او هر څه مو په سترگو روښانه لیدلای شول.

طارق وپوښتل: ته څه چم کوې؟

له سگرېټه مې لوخړه پورته کړه او ومې ویل: که دې له دې پوښتنې څخه موخه ځان وي، نو درته اجازه ده چې پوځي چونې ته ولاړ شې.

یوه تته موسکا یې وکړه او ویې ویل: همدا سور اهاړ مې پر خوښ دی. غواړم د ماموریت تر پایه ستا تر څنگ واوسم.

ومې ویل: اوس ورشه هغه د اوبو کوزه راوړه چې لږ دا مرۍ په لنده کړو.

د کوزې پر څوښکه مې خوله کښېښوده، همدغه شېبه مې د هدیرې په لر سر کې پر غځېدلې سړک یوه موټر ته پام شو چې یودم ودرېد.

Download from: www.aghalibrary.com

طارق وپوښتل: څشي ته گورې؟

کوزه مې راکښته کړه او ومې ویل: زما په خیال چا ته چې په تمه وو، راورسېد.

طارق هم له دې سره سم هغه موټر ته وکتل او ویې پوښتل: هغه موټر ښیې؟ پېژنې یې؟

ومې ویل: ما چې ویل په مطلب به مې ورسېږي. ما ته د پفلونک څارگر ښکاري.

طارق وویل: نو د هرکلي لپاره یې باید ځانونه چمتو کړو.

ومې ویل: هغه دی مخ یې راتاو کړ او زموږ پر خوا راروان شو. ته سرتېرو ته ورشه او پام دې زموږ خوا ته وساته.

- زه به هم همدلته ودرېږم.

- هغه څه وکړه چې درته ومې وویل.

طارق روان شو... ومې ویل: مخابره هم درسره یوسه.

ویې پوښتل: کومه یوه یې؟

ومې ویل: هغه ډگروال چې راپرې ایښې ده. د موټر پر شاتنۍ څوکۍ پرته ده. هله ژر کوه.

طارق د موټر خوا ته ورغی، مخابره یې ځنې راواخیسته او په داسې حال کې چې د اوبو کوزه یې هم په لاس کې وه، مخ پر زیارت روان شو.

زما سترگې په هغه راروان موټر او لاس پر توپنچه پروت وو... موټر راورسېد او د وروستي ترک اړخ ته ودرېد... یو سړی چې سپینه شپو خولۍ یې پر سر وه، راکښته شو او په لوړ اواز یې په فرانسوي وپوښتل: اې ښاغلې ایا دا موټران د خرڅلاو دي؟

پر بږغ مې وپېژاند، ویکتور ډاسن وو... ورته ومې ویل: نه ویکتور صاحب. د خرڅلاو نه دي.

ویکتور لمرینې عینکې له سترگو ایسته کړې. یو څو شېبې یې په خیر-خیر راته

Download from: www.aghalibrary.com

وکتل. وروسته راراوان شو. بیا ودرېد او هماغسې چې راته څیر وو، په لوړ بږغ یې وویل: ته رښتیا دالمار ژیلوم یې؟

ومې ویل: خپله هغه یم. لږ راوړاندې شه چې سم سره ووینو.

هغه وړاندې راغی. لاسونه مو سره ورکړل. په یوه ساختګي حیرانتیا یې وپوښتل: ته دلته څه کوې؟

ومې ویل: دا پېټی ستا خوښینې تروږې پر اوږو رابار کړ.

- تروږي؟

- هو، که یې پرې اینښی نه وای، اوس به ځانته یو سړی وای.

- اوس دا راته ووایه چې ته دلته کوې څه؟

د خپلې ګومارنې کیسه مې ورته وکړه. وروسته مې ترې وپوښتل: تروږي اوس چیرې ده؟

ویې ویل: له بده مرغه ما له هغې سره ستا مینه هېڅ جدي نه ګڼله.

- پرېږده یې ببخي پر بږغېږو لا نه. اوس دا راته ووایه چې دې خوا دې څنګه پېښه راوکړه؟

- تریپولي ته روان وم چې پر دغو ټرکونو مې سترګې ولګېدې، ما چې ویل د خرڅلاو به وي.

ومې ویل: دا ټرکونه د چاد هیواد مال دی. زما په خیال له هماغه ډول څخه به وي چې تا پر هغوی وپلورل، کیسه یې اوږده ده.

ویې پوښتل: یوازې یې؟

ومې ویل: نه، اته نور کسان هم راسره دي چې اوس د زیارت تر ونو لاندې دمه دي. درې تنه مو له تېرې شپې راهیسې ورک دي او هېڅ درک یې نه دی لګېدلی. مخابره مو هم له کاره لوېدلې ده. لنډه دا چې په ډېر بد حالت کې یو. له دې وېرېږم چې هسې نه یودم د انګرېزانو کوم ګښت راباندې پېښ شي او ټول لاس

ترلي بوزي.
- تا ویل درې تنه مو ورک دي؟
- هو، دوه يې ته هم پېژنې.
- رښتيا؟! څوک دي؟
ومې ویل: دوریه او اگوست هماغه دوه چې تا راوپېژندل.
ويې ويل: مگر هغوی خو ډېر بيداره خلک ول.
ومې ويل: تېره شپه دلته له رارسېدو سره سم نابېره دوریه ته سرخرخي او خواگرځی ورولوېد. سخت يې اندېښمن کړو.
وروسته مې زموږ ولاړ گرندي موټر ته اشاره وکړه او زیاته مې کړه: په هغه موټر کې مو ښار ته روان کړ. ښار ته چې ننوتو، دوريه له خپلې سختې ناسازۍ سره-سره اگوست ته وويل چې ما بېرته په موټر کې مخ پر دې خوا راواستوي. هر څومره ټينگار چې مې پر وکړ، گټه يې ونکړه. دا چې اگوست يوازې وو نو زما ملگری مرزوک هم ورسره کښېنته شو.
تر لنډې چوپتيا وروسته بېرته پر خبرو راغلم: له برايي شپې راهيسې ورته سترگې پر لار يم، خو د هغوی درک و خرک ورک دی. زه هم په داسې يوه حالت کې راگير يم چې نشم کولای ښار ته ولاړ او پسې وگرځم. بل دا چې که پسې ولاړ هم شم، نو هېڅ نه پوهېږم چيرې يې ولټوم. مخابره خرابه ده او له ډگروال بوروسکي سره اړيکه نشم ټينگولای تر څو د دوريه له حاله يې خبر کړم. لنډه دا چې له هرې خوا کيسه کړوپه ده.
ويکټور وېوښتل: بن غازي ته د څه لپاره راغلي واست؟
موسکی شوم او ومې ويل: له بده مرغه دا پوښتنه دې نشم ځوابولای.
- ايا زه کومه مرسته درسره کولای شم؟
- نه، ته د موټرانو يو سوداگر يې. فکر نه کوم چې مرسته دې له وسه وشي.

Download from: www.aghalibrary.com

- څنگه ده چې ښار ته ولاړ او په دوريه او اگوست پسې وگرځم؟
ومې ويل: که خبر وای چې هغه يې کوم ډاکټر ته بېولی، بيا يې موندنه هم سخته نه وه.
ويکټور وپوښتل: له هغوی سره وسلې وې؟
- هو، درې واړه وسلوال ول.
- دا کار يې بايد نه وای کړی.
په يوه ساختگي انديښنه مې وپوښتل: ستا په خيال کومه ټکه-مکه به پر رالوېدلې وي؟
اوږدې يې وخندل او ويې ويل: نه پوهېږم، واقعاً نه پوهېږم.
ومې پوښتل: ايا کولای شې يو څه اوبه او خواړه راته راوړې؟ ځکه له دې اړخه بېخي کار خراب دی.
ويې ويل: په اوبو او خوړو پسې دې خپل يو دوه کسان واستوه.
ومې ويل: دا کار نه کوم. هسې نه په ښار کې د انگرېزانو په کوم گښت-مښت (۱) کې وخېژي. وي دې، همدا لوږه و تنده مې قبوله ده.
- نو غواړې څه وکړې؟
- دا پوښتنه دې هم نشم درځوابولای.
ويکټور وخندل او ويې ويل: ډېر ځيرک او باور وړ سړی يې ژيلومه.
ومې پوښتل: مطلب دې څه دی؟
ويې ويل: زه هم له ډگروال بوروسکي سره کار کوم. نن سهار يې مخابره کې راته وويل چې بن غازي ته د سلاکوټ په لوټلو پسې د خپل لېږلي کاروان له حاله ناخبره او زښت انديښمن دی. نو ما ته يې ستاسې د موندلو دنده راوسپارله.

---

(۱) گښت – هغه موظف سرتېري يا پوليس چې په لارو کوڅو کې څار کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

ځان مې حيران وښود او ومې ويل: ته هم د ډګروال بوروسکي سړی یې؟
ويکتور په موسکا وويل: هو، زه هم د هغه تر لاس لاندې د تورن په رتبه کار کوم. پخوا مې د فرانسې په پوځ کې خدمت کاوه. د فرانسې تر لاندې کېدو وروسته افريقا ته راغلم. دلته مې له بوروسکي سره وپېژندل او د خپلې پخوانۍ دندې په دوه برابره معاش مې کار ورسره پيل کړ.
ومې پوښتل: نو پر تا باور کولای شم؟
ويې ويل: ستا په ماموريت زما دومره زيات مالومات هم تا له شکه نشي راايستلای؟
- ولې نه، سخت دې خوشحاله کړم.
- ډګروال راته وويل چې د عملياتو قومنداني هم ستا پر غاړه ده.
- څه فايده، تېره شپه بايد لاس په کار شوي وای.
ډاسن وويل: زما په خيال ټاکلې وه دلته بن غازي کې له خپل يوه ملګري سره هم اړيکه ونيسې.
ومې ويل: تر اوسه لا له ډارسي سره پر تماس نيولو نه يم توانېدلی. وينې مې چې يووزرى [1] يم.
- اوس څه کول غواړې؟
- تر هر څه لومړی غواړم له ډګروال بوروسکي سره اړيکه ونيسم.
- دا ستونزه به دې زه درهواره کړم.
يوځای د هغه د موټر خوا ته ولاړو... هلته يې تر څوکۍ لاندې يوه پټه کړې مخابره راوايسته. انتن يې ورپورته کړ. د پفلونک د مرکز رخېدو څو دقيقې وخت واخيست. د پفلونک اواز مو واورېد چې پر ويکتور ډاسن يې بږغ وکړ....

(۱) يووزرى - بې مرستې، يوازې پاته، بېکسه.

Download from: www.aghalibrary.com

ډاسن په خوب کې ورته وویل چې زه یې موندلی یم او د رالېږلي ډلې حالت چندانې خوښوونکی نه دی. وروسته زه ورسره ورغېدم او د دوریه د ساختګي ناسازۍ داستان مې ورته تېر کړ.

پفلونک په درد وپوښتل: اوس دې پلان څه دی؟

ومې ویل: نن شپه د ډارسي په مرسته لاس په کار کېږم او له بن غازي څخه تر روانېدو وروسته به سملاسي تماس درسره ونیسم. دغه راز د ویکټور ډاسن مرستې ته هم اړتیا لرم.

پفلونک یا په بله ژبه ډګروال بوروسکي په هماغسې غوسناک انداز وویل: نه پوهېږم چې تا احمق ولې دا نه ده مالومه کړې چې هغوی چیرې تللي دي!

ومې ویل: ښاغلې ستاسې غوسه بېځایه ده. د دوریه حالت ډېر خراب وو او حتماً مو باید یوه ډاکټر ته بېولی وای. دغه راز اګوست هم راته ونه ویل چې چیرې او کوم ډاکټر ته یې بیایي. مرزوک هم ورسره دی.

- هغوی تر تا لا غټ احمقان دي!

- زما هم یوې خوا ته مخ نه اوړي کنه پسې ګرځېدم.

- نه، سرتېري باید یوازې پرې نږدې.

- پوهېږم. اوس منتظر یم چې ژر تیاره شي او موږ لاس په کار شو.

- نو پلان دې څه دی؟

ومې ویل: پلان دا دی چې د چرګوړو کوډلې ته سر ورایسته کوم. ستاسې څخه مې هیله دا ده چې ویکټور ته ووایاست زما سره مرسته وکړي.

پفلونک وویل: نوموړی ستا په واک کې دی، خو د چرګوړو له کوډلې څخه تر راستنېدو وروسته د کاروان قوماندان ویکټور دی. زه ستاسې بل تماس ته سترګې پر لار یم.

ومې ویل: بل تماس د چرګوړو له کوډلې څخه تر راوتلو وروسته درسره نیسم.

Download from: www.aghalibrary.com

پفلونک وویل: که حالات برابر نه ول، چټک بېرته راستانه شئ.
- همداسې کوو.
- بل دا چې د دوریه او اګوست په حال خبرېدو ته هم منتظر یم.
- موږ خپله هڅه کوو.
همدلته پفلونک له کربښې ووت او اړیکه یې غوڅه کړه. ویکټور چې د خپل بادار خبرو ته غوږ وو، په خندا وویل: سر له اوسه نو باید ستا امرونه ومنم ها!
ومې ویل: زه و ته ملګري یو او موخه مو یوه ده.
- ایا د سلاکوټ د لوټلو پلان څه ناڅه راته بیانولای شې؟
- د هغه ځای نقشه له ډارسي سره ده. د تیارۍ تر خپرېدو وروسته هغه دلته راځي.
- د دوریه او اګوست په اړه څه نظر لرې؟
ومې ویل: داسې یې وانګېره چې د جګړې پر ډګر ولاړ یو، هغوی د دوښمن په لومړي برید کې له منځه تللي او اوس هر څه ما و تا ته راترغاړې دي.
یوه شېبه چوپ شوم او وروسته بیا پر خبرو راغلم: ښه، ته څه فکر کوې؟
اوږې یې وخنډلې او ویې وویل: زما لپاره خو دا یوه معما ده!
- هغه هم داسې یوه معما چې حل یې زما و ستا تر توان لوړ دی.
- زما په خیال نیول شوي دي.
- زه هم همداسې انګېرم.
- دې ته نو بدمرغي وایي.
موسکی شوم او ومې ویل: د ترودي په اړه لږ مالومات راکړه، زه تل د هغې د بیا لیدو په تمه یم.
ویکټور وخندل او ویې ویل: عجیب سړی یې ژېلومه په دې اهاړ کې د ترودي غم اخیستی یې. لکه چې ببخي دې زیاته خوښېږي.
ومې ویل: ته یې اصلاً تصور هم نشې کولای یارو!

Download from: www.aghalibrary.com

ویې ویل: اوس چې له هغې سره ستا پر مینه ډاډه شوم نو باید درته ووایم چې هغه او بلانکا دواړه همدااوس په برنیس هوټل کې دېره دي.
په یوه هوسناکه خندا مې وویل: ټوکې کوې!
په یوه دوسمال یې د مخ، غاړې او څټ خولې وچې کړې او ویې ویل:
- که په داسې بد حالت کې نه وای، همدااوس مې برنیس هوټل ته بېولې او غرمنۍ مې له بلانکا او ترودي سره درباندې وهله. په دې ډول به دې سترگې هم خوږې شوي وای.
پر اوږه مې لاس ورکښېښود او ومې ویل: کاشکې زه هم ستا په شان ځیرک او له ځانه پوره وای. په لومړۍ لیدنه کې دې ځان د ترکونو سوداگر راوپېژاند او اوس څرگنده شوه چې د ډگروال بوروسکي سړی یې. لنډه دا چې ستا غوندې انسانانو په کار و کتار د هېڅا سد نه رسېږي.
خدای دې وکړي چې په پوځي قرارگاه کې ستا تر لاس لاندې شم. ستا په شان خلکو سره کار کول ډېره لویه لاسته راوړنه ده.
یوه نرۍ موسکا یې پر شونډه کښېناسته او ویې ویل: که د سلاکوټ عملیات بریالي شول، خپلې ځانگې ته دې تبدیلوم.
ومې پوښتل: سرتېري یو ځل تر نظر نه تېروې؟
په لغازي انداز یې وویل: قومندان ته یې!
ومې ویل: گوره ټوکې مه کوه، موږ سره ملگري یو.
د هغه موټر ته وروختو او د زیارت پر خوا وخوځېدو... پر لارې ویکتور راته کړل:
- فکر کوم ډېرې سرتېري به وپېژندلای شم.
ومې ویل: یوازې اته تنه دي.
ویکتور ډاسن وپوښتل: ستا په خیال دومره کسان به د سلاکوټ لوټلو تر عهده ووتلای شي؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: د عملیاتو بنستیزه برخه د سلاکوټ د څوکیدارانو بې وسلې کول دي او د ډارسي په نظر باید کم کسان پکې وکارول شي، څکه طراح هغه دی.
ویکتور وویل: خدای دې وکړي چې له کوم خطر سره مخ نشو.
موسکی شوم او ومې ویل: بریالي کېږو له خیره، چورت مه خرابوه.
- سخت ډاډمن ږغېږې!
- دا په دې چې پلان په ډېر غور جوړ شوی دی.
زیارت ته ورسېدو. موټر مې تر یوه سپېدار لاندې ودراوه. دواړه ترې راکښته شوو او همالته د ولاړ ټرک شا ته ورغلو... سرتېرو باډۍ کې ډډې وهلې وې. زموږ په لیدو سره وښوریدل. ویکتور ورته ځیر شو. ډېر ژر یې پر څېره د شک او بدګومانۍ نښې راڅرګندې شوې. زه سملاسي لږ راشا ته شوم. ویکتور لږ رامخ ته شو او په شکمنه لهجه یې وپوښتل: په دې کې خو مې یو هم ونه پېژاند!
شونډې مې په موسکا سره ولاړې او په سړه سینه مې ورته وویل: دا ځکه چې هغوی انګرېزان دي. هیله ده سر دې خلاص شوی وي!
د دې خبرو په اورېدو یې چې هېڅ تمه یې نه درلوده، ټکان وخوړ او په یوه ساختګي او نارامۍ لړلې موسکا یې وویل:
- ستا په خبرو مې سد ونه رسېد، کیسه څه ده؟
ومې ویل: یو ځل بیا هغوی ته وګوره، دا پلا مې ښایي په مطلب وپوهېږې.
ویکتور کرار د سرتېرو خوا ته مخ ور تاو کړ. هغوی سملاسي د ورسره ماشیندارانو خولې نېغې ورته ونیولې... ومې ویل: اوس به دې نو خامخا سر خلاص شوی وي!
ویکتور بېرته ما ته وکتل. څو شېبې یې همداسې سترګې راپکې ګنډلې وې. وروسته یې د زړه له زوره وخندل او ویې ویل: لکه چې نور مقاومت بې ګټې دی!
ومې ویل: که دې مازې یو ناسم حرکت وکړ، سورۍ-سورۍ به دې کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته مې طارق ته مخ کړ او ومې ويل:

- له ښاغلي ويکتور ډاسن څخه توپنچه واخله!

ويکتور ببله خنده د خپلې توپنچې پوښ پرانيست، توپنچه يې ترې راوايسته، طارق ته يې ورکړه او په داسې حال کې چې سترګې يې په ما کې وې، ويې ويل:

- اوس بايد زه ووايم چې کاشکې زه ستا غوندې ځيرک او تکړه وای. د دوريه په باب جوړه شوې کيسه دې په رښتيا زبردسته وه. ان ډګروال بوروسکي هم په وغولېد.

ومې ويل: له ډګروال بوروسکي څخه دې هدف مکس پفلونک دی، کنه؟

- ښه نو ته د متحدينو استخباراتي مامور يې؟

- او ته هم يو جرمنی څارګر.

- هغه نور دې څه کړل؟

ومې ويل: هغوی ښه وو هوښياران ول بېعقلي يې ونکړه. ډېر ژر يې وسلې راوسپارلې او اوس زموږ د پوځي مرکز په زندان کې پراته دي.

ويې ويل: نو لکه چې د مکس پفلونک نيولو ته دې هم خيال دی.

موسکی شوم او ومې ويل: د هغه تر نيولو مخکې غواړم يو ځل برنيس هوټل ته سر ورايسته کړم او ستا د دروازګو مېرمن او خوښينه هم راسره راواخلم. بس ده ډېر انتظار يې درنه وکړ.

ويکتور وويل: بلانکا او تروډي به ونيسې، مګر دا وړې-وړې برياوې په هېڅ وجه د پفلونک نيولو ته لار نشي هوارولای. د هغه کار و کتار له ټولو سره توپير لري. هيله ده ستاسې په محبس کې ستا د وژلو خبر واورم. همدا مې يوازنی ارمان دی.

په ملنډو مې ورته وويل:

- څومره لوی ارمان!

په لغاز يې وويل: ته هېڅکله د پفلونک سيال کېدای نشې!

Download from: www.aghalibrary.com

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: دوریه او اگوست هم همدا خبرې کولې.
ویکټور یودم راباندې راوغورځېد. په یوه لاس یې تر مرۍ ونیولم او دا بل یې تر
څټ راتاو کړ. برید یې ډېر گړندی وو... یو ټینگ سوک مې پر مخ ورحواله کړ.
سره له دې چې سخت خوږ شو، خو بیا یې هم مرۍ راخوشې نکړه. که څه هم
سر یې خلاص وو چې د پروتې لغتې وهي، مگر غوښتل یې په دې سره د خپلې
کینې او کرکې اور څه ناڅه کښېنوي.
دویم سوک چې پر گېډه مې ورسره کړ، گته وکړه او لاس یې سوست شو. اوس
نو زما وار وو چې غوږونه یې ورتاو کړم. د شا له خوا مې تر یخنکاک او کمربند
ونیو، لږ مې شا ته راکش کړ او وروسته مې په زوره مخ ته پورې واهه، پر خوله-
خوله څو گامه وړاندې ولاړ او وروسته پړمخې پر ځمکه پلن شو... پښو ته یې
ودرېدم او همدا چې پر گونډو شو یوه درنه لغته مې پر ملا ووهه، پر خوله ونړېد
او بیا یې ښور ونخوړ.
طارق ته مې وویل: زه او یو سرتېری په گډه ویکټور مرکز ته راسره بیایو، ته همدلته
بیدار اوسه. هر څوک چې ټرکونو ته رانژدې شو، دربړ یې کړئ او که یې ونه منله
ویې وژنه.
وروسته مې یوه سرتېري ته وویل چې له ټرکه راکښته شي. هغه او طارق ویکټور له
ځمکې راپورته کړ او د موټر پر شاتنۍ څوکۍ یې واچاوه. زه خپله شټرنگ ته او
هغه وسلوال سرتېری د ویکټور څنگ ته کښېناست. موټر مې روان کړ. هوا
سخته گرمه وه، سر تر نوکه په خولو لوند خیشت وم دومره چې ان موټرچلونه لا
راباندې غمېدله....
د بن غازي پر سهیلي واټ راتاو او پر جنوب ختیځ سړک پوځي مرکز ته ننوتو....
ډگروال لاکسټر ویکټور ډاسن ته وکتل. وروسته یې ما ته مخ کړ او ویې پوښتل:
دا په خاورو لړلی څناور دې چیرې ښکار کړ؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: تېره شپه مې درته وويل چې ښايي د پفلونک کوم مامور پل راپسې راواخلي، مګر دا مې نو زړه ته نه لوېده چې هغه به يوه اشنا څېره وي. دا سړی ويکتور ډاسن نومېږي. پفلونک زموږ د موندلو او درک مالومولو دنده ورسپارلې وه.

وروسته مې له ويکتور سره د شناخت، هديره کې ورسره مخامخېدو او نورو پېښو لنډه کيسه ډګروال ته تېره کړه او پسې زياته مې کړه: بايد په برنيس هوټل کې د ويکتور ساختګي ماينه او خوښينه هم ونيسم.

لاکسټر وويل: د سټريا او بېخوبۍ نښې دې په څېره کې له ورايه ښکاري. د بلانکا او ترودي نيول يې پر موږ.

ومې ويل: د هغوی تر نيولو وروسته بيا هوسايي کوم.

لاکسټر يو کس په تورن کارډيف او بريدمل ارنولډ پسې ولېږی.

شېبه وروسته دواړه د ډګروال کوټې ته رانوتل. لاکسټر د ويکتور ډاسن د نيول کېدو کيسه ورته وکړه. کارډيف د ويکتور خوا ته ورغی او د رښتيني نامه پوښتنه يې ځنې وکړه. هغه ورته وويل: زما اصلي نوم هانس ګروبر دی.

کارډيف ما ته مخ کړ او ويې ويل: بايد له ټولو جرمني څارګرو څخه سم تحقيقات وکړو او نور مالومات هم ځنې واخلو.

ومې ويل: يو دا چې له هغوی څخه د تحقيقاتو واک د څارګرۍ ضد شبکې په لاس کې دی او بل حالاتو ته په کتلو سره يوازې يوه عادي پوښتنه ګروېږنه ځنې کولای شو چې دا په هېڅ وجه د هغوی خولې نشي خلاصولای. زما هدف دا دی چې له هغوی څخه د تحقيقاتو کولو لپاره بايد له ځانګړو تګلارو کار واخيستل شي. زموږ سره دومره وخت نشته، نو اوس دې وي.

لاکسټر وويل: طاهر سهي وايي. له هغوی څخه تحقيقات مو هسې وخت راضايع کوي.

ډګروال ته مې وويل: ورته ووايه چې ويکتور خپلو ملګرو ته بوزي او په هديره کې

Download from: www.aghalibrary.com

مېشتو سرتېرو ته خواره او اوبه ورووړي.
ویکتور له خونې څخه د ایستل کېدو پر مهال راته مخ کړ او ویې ویل: تاسې د پفلونک د سیالۍ نه یاست!
ومې ویل: یوه نوې خبره به دې کولای، دا دې مخکې هم کړې وه.
دوو سرتېرو هغه دباندې وایست. ډګروال ته مې وویل: څښې ته ګورې؟... باید لاس په کار شو.
ویې پوښتل: ایا د هوټل چلوونکی او ټلیفونچۍ هم نیول غواړې؟
ومې ویل: که اړتیا شوه هغوی هم باید ونیسو، ځکه په غالب ګومان دا هوټل د جرمني څارګرو او مخبرانو ځاله ده.
کارډیف وویل: دا دنده ما ته راوسپارئ.
موسکی شوم او ومې ویل: زه، ته، ارنولډ او یو څو سرتېري په ګډه پر ورځو.
برنیس هوټل کې د مېشتو جرمني څارګرو د نیولو نقشه مو جوړه کړه. پلان داسې وو چې راسره افراد باید عادي جامې واغوندي. د کسانو د چاڼولو دنده ارنولډ ته وسپارل شوه. ما او کارډیف هم کالي الیش کړل. بل مهم ټکی دا وو چې ټوله کیسه باید خپ و چوپه تېرېدای او هوټل کې د هېچا هم نه ورته پامېدای.
د ماپښین شاوخوا یوه بجه مهال زه په عادي جامو کې له یوه بیک سره هوټل ته ننوتم. کارډیف او ارنولډ هم باید په ترتیب سره د لسو دقیقو په واټن راتلای او هوټل کې یې خونې نیولای. سره له دې چې بن غازي د متحدینو په لاس کې وو او د جرمني څارګرو نیولو کوم ځانګړی پلان نه غوښت، بیا هم باید دا کار د خلکو له سترګو پټ ترسره کېدای. له دې پرته ښایي پفلونک ته د خپل کوم مخبر له خوا ټول حال مخابره شوی وای.
د هوټل چلوونکي وپېژندم، موسکی شو او ویې ویل: چیرې تللي واست ژیلوم صاحب؟

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: ډېر ليرې نه وم تللی.

وروسته يې د ثبت کتابچه راته کښېښوده چې خپل نوم پکې وليکم. هلته مې د ويکتور ډاسن پر نامه سترګې ولګېدې، ۴۵مه شمېره خونه يې نيولې وه. نوموړي په خپل لاس له نوم سره ليکلي ول: له دوو نورو کسانو سره يوځای.

له هوټلچي څخه مې وپوښتل: ډاسن صاحب هم همدلته دی؟

ويې ويل: هو، پرون راغی. خو خپله ډاسن صاحب اوس هوټل کې نشته.

په موسکا مې وويل: ډېر ښه، هغه او ماينه يې زما نژدې ملګري دي. فکر مې نه کاوه چې هغوی به هم دلته وي.

هوټلچي وويل: همدااوس د ډاسن مېرمنې ته زنګ وهم او ستاسې له راتګه يې خبروم.

ومې ويل: نه، اړتيا يې نشته. خپله يې ليدنې ته ورځم.

وروسته مې نوم وليکی، د ۴۲م نمبر کوټې کيلۍ مې راسره واخيستې او مخ پر ليفټ روان شوم. پوهېدم چې هوټلچي خامخا بلانکا او ترودي زما له راتګه خبروي.

خونې ته ننوتم... پنځه دقيقې وروسته ټليفون وکړنګېد. غوږۍ مې پورته کړه... کارډيف وو. زما د ږغ له اورېدو سره جوخت يې وويل: وبخښئ شمېره مې غلطه کړې ده.

لږ وروسته ارنولډ زنګ را وواهه. (وبخښئ شمېره مې غلطه کړې ده) شفر هوټل ته د هغوی د راننوتلو او په شخصي جامو کې زموږ د وسلوالو کسانو د ځای پر ځای کېدو په مانا وو. ګواکې هوټل زموږ واک ته لوېدلی وو.

ګړی وروسته له خونې څخه راووتم. کارډيف او ارنولډ په دالېز کې راته منتظر ول. درې واړه د ۴۵مې شمېرې کوټې خوا ته ور روان شوو. هغوی د دروازې دوو خواوو ته له سترګو نهام ودرېدل. ما ور وټکاوه. ترودي راته پرانيست. په يوه

Download from: www.aghalibrary.com

ساختګي حيرانتيا يې سترګې راپکې وګنډلې او زما نوم يې واخيست.
ترې ومې پوښتل: اجازه ده درننوزم؟
ويې ويل: ويکتور نشته.
- له هغه سره مې نن سهار وليدل.
- چيرې؟
- ته خو ما دننه درپرېږده چې کيسه يې درته وکړم.
ارخ ته شوه. خونې ته ننوتم. په ما پسې ارنولډ او کارډيف هم راننوتل. ترودي وپوښتل: دا څوک دي؟
ورو مې ورته وويل: د ډګروال بوروسکي کسان دي. حالات لږ کړکېچن شوي دي.
ويې ويل: ستا په خبرو مې هېڅ سر خلاص نشو!
کارډيف ورته وويل: کرار-کرار به دې سر خلاص شي.
ومې پوښتل: بلانکا چيرې ده؟
ويې ويل: په هغه بله خونه کې.
د بلانکا اواز مې واورېد چې ويې پوښتل: ترودي له چا سره ږغېږې؟
د هغې خونې دروازه په همدې کوټه کې راخلاصه وه. زه هم بېله ځنډه ور روان شوم. بلانکا پر کټ پرته وه. ومې ويل: زه دالمار ژيلوم....
هغه راوغورځېده، له کټه راکښېنته شوه او په داسې حال کې چې سترګې يې پر ما يخې وې، ويې ويل: ژيلومه ته دلته څه کوې؟
موسکی شوم او ومې ويل: په ليدو مې حيرانه شوې؟
په موسکا يې وويل: مالومداره حيرانه شوم.
ومې ويل: مګر ته او ترودي خو خبرې واست چې زه د ډګروال بوروسکي له سرتېرو سره بن غازي ته راغلی يم.

Download from: www.aghalibrary.com

یوه شېبه غلې شوه، وروسته یې وویل: دا خبره ویکټور راته وکړه. له هغه سره دې ولیدل؟

- هو، نن سهار.

- هغه اوس چیرې دی؟

- زموږ د پوځي مرکز په محبس کې!

خوله یې وازه پاتې شوه. په اندېښمن انداز یې وپوښتل: په محبس کې؟

په سړه سینه مې ورته وویل: هو، ته او تروډي به هم ډېر ژر ورسره یوځای شئ.

ویې ویل: نه پوهېږم چې دا ته اوس په څه اوتو-بوتو سر یې. لکه چې لمر دې ماغزه درخراب کړي دي!

ومې ویل: ونیسه جامې دې واغونده.

ویې ویل: نو ته...

په خبرو کې یې ورولوېدم او ورته ومې ویل: هو، زه د متحدینو استخباراتي مامور یم.

چوپ شوه. اندېښمنه او نارامه وه. ومې ویل: ولې ګورې؟

ورو د جامو یوې دېوالي الماری ته ور روانه شوه، دروازه یې ورپرانیسته. ورته ومې ویل: د توپنچې کارولو خیال درولاړ نشي، زه یوازې نه یم. دوه نور کسان په هغه بله خونه کې د تروډي څارنه کوي. داسې کار مه کوه چې له هوټله دې د جنازې ایستلو اړتیا پېښه شي.

ورنژدې شوم او شا ته یې ودرېدم. له الماری څخه یې یو روڼ شین رنګه کمیس راوایست. هغه مې یوه اړخ ته پورې وهله او خپله مې له الماری څخه د هغې دسکول راواخیست، خلاص مې کړ، یوه وړه توپنچه مې ځنې راوایسته او ومې ویل: اوس کولای شې جامې دې واغوندې!

ویې ویل: هیله کوم ما یوازې پرېږده چې کالي بدل کړم.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: یوه څارګره ګوره او د نارینه پر وړاندې له بربنډېدو شرمېدل ګوره.

اغوستې نرۍ چپنه یې وکښله، کمیس یې واغوست او ویې پوښتل: نور کالي راسره وړلای شم؟

ومې ویل: اوس نه!

- د دسکول د وړلو اجازه خو به وي؟

- هو!

دسکول یې ورواخیست، څپلۍ یې په پښو کړې او ویې ویل: نور تیاره یم!

هغې بلې خونې ته مې بوتله... ترودي بلانکا ته مخ کړ او ورته ویې ویل: په لومه یې بند کړو!

بلانکا په جرمني ژبه ورته وویل: هره خبره یې ومنه، خو یوازې خوله مه ورته خلاصوه.

ترودي ته مې وویل: هوټلچي یوسف لطیف ته زنګ ووهه او ورته ووایه چې چټک دلته راشي.

ویې پوښتل: هغه بیا څه کوي؟

په خندا مې ورته وویل: غواړم د مکس پفلونک یو پیغام ور ورسوم.

بلانکا وویل: له هر څه خبر ښکارې!

ومې ویل: که له هر څه خبر هم نه یم، تاسې به مې خبر کړئ.

بلانکا وویل: زموږ څخه د هېڅ شي تمه مه کوه.

ومې ویل: شکنجه او زورزیاتی د ډېرو ټینګو انسانانو خولې هم ورخلاصولای شي.

وروسته مې ارنولډ ته مخ کړ او ورته ومې ویل: یوسف لطیف ته زنګ ووهه او غوږ‌ې ترودي ته ورکړه.

ارنولډ همداسې وکړل... ترودي ورته وویل چې چابک لوړ راوخېژي ډېر اړین یې

Download from: www.aghalibrary.com

په کار دی.
له دې سره سم ارنولډ غوږۍ ترې واخيسته او پر خپل ځای يې کښېښوده. بلانکا او ترودې ته مې مخ کړ او ومې ويل: رښتيا د دغو ښاغلو درپېژندل مې هېر شول؛ تورن کارډيف او بريدمل ارنولډ په بن غازي کې د متحدينو د پوځي چوڼۍ افسران دي.
ترودې سترګې راپکې وګنډلې او ويې ويل:
- عجيبه خو دا ده چې هغوی تر پايه درونه پوهېدل.
پزه کې مې وخندل او ومې ويل: يوه ډېر خطرناک قمار ته مې لاس اچولی وو. په پيل کې مې تر ډېره د بايلات په اړه فکر کاوه، خو همدا چې لوبه زما د تمې پړاو ته ننوته، نو بريا ته مې هيله هم زياته شوه.
همدا شېبه دروازه وټکېده... ومې ويل: ور زه پرانيزم!
يوسف لطيف مې په ليدو ټکان وخوړ. موسکی شوم او ومې ويل: راځه دننه، زه هم ستاسې د ملګرو له ډلې څخه يم.
دوه زړی وو، ويې ويل: مېرمن ترودې زنګ راوواهه!
ومې ويل: هو، هغه او بلانکا دواړې همدلته دي. ولې پښه نيولی يې؟
کله چې مې وليدل د هغه شک نه خېژي، نو مې يودم تر لاس ونيو او په يوه ګړندي حرکت مې خونې ته راکش کړ، دروازه مې وتړله او ومې ويل: زنګ يې دروواهه او دلته يې راوغوښتلې، نور نو بايد شکمن نشې!
په نارامۍ يې وويل: خبره څه ده؟
د خونې منځ ته مې ټېله کړ او ومې ويل: خبره دا ده چې ته نور د جرمنيانو لپاره کار نشې کولای.
ويې ويل: ستا په خبرو مې سر نشو خلاص.
پر څوکۍ مې کښېناوه، پر مخ مې يو ټينګ سوک وواهه او ورته ومې ويل: اوس

Download from: www.aghalibrary.com

ځنګه، بیا دې هم سر نشو خلاص؟
ویې ویل: ولې مې وهې؟
ومې ویل: دلته دې وژلای هم شم. اوس زما د پوښتنې سم ځواب راکړه.
ویې ویل: زه په هېڅ نه یم خبر.
ارنولډ وویل: غوره به دا وي چې د دې ښاغلي کار په یوه مرمۍ ګوتې ورتمام کړو.
وروسته یې د توپنچې خوله د لطیف پر تنده کښېښوده او ورته ویې ویل: تر درېیو پورې حساب کوم، خوښه دې خپله چې حال وایې کنه!
لطیف په ترهېدلي انداز وویل: نه، ما مه وژنئ. زه خو څه غټ سړی نه وم.
بلانکا وویل: لطیفه خوله دې بنده ونیسه، وژني دې نه!
کارډیف بلانکا ته وکتل او ورته ویې ویل: کولای شې ویې ازمایې!
یوسف لطیف په زحمت نارې تېرې کړې او ویې ویل: نه، نه، زه نه غواړم مړ شم!
ورځخه ومې پوښتل: د هوټل له کارکوونکو څخه نور څوک-څوک د جرمنیانو څارګري کوي؟
ویې ویل: د ګارسونانو مشر منصور خلف او ټلیفونچی.
ارنولډ ته مې وویل: هله ژر ورکښته شه او منصور خلف په پټه خوله له هوټله وباسه. ګوره پام دې وي چې د هېچا درېکې سترګه نشي. دغه راز ټلیفونخونې ته هم دوه تنه ورولېږه او ورته ووایه چې تر بل امره یې همالته تر څار لاندې ونیسي.
ارنولډ په یوه منډه په خپل کار پسې ووت....
کارډیف راته مخ کړ او ویې ویل: زما په فکر کولای شو له دغو درېیو کسانو څخه تحقیقات وکړو.
یوسف لطیف په نارامۍ وویل: زه چې په څه خبر وم، هغه مې درته ویل.
ومې ویل: ډېر نور شیان هم شته چې باید راته ویې وایې.

Download from: www.aghalibrary.com

بلانکا وویل: زما څخه خو منېکه یوه خبره هم وباسې.
ترودې ته مې مخ کړ او ومې ویل: ستا هم همدا دریځ دی؟
ویې ویل: زه که د خپل سازمان په اړه مالومات وهم لرم، نه یې درته وایم لاس دې خلاص چې شکنجه کوې مې که بله هره بلا.
ومې ویل: چې لږ زور درباندې راشي، خپله به نظر بدل کړې، غم یې مه کوه.
وروسته مې یوسف ته مخ کړ او ترې ومې پوښتل: د هوټل چلوونکی هم له جرمنیانو سره کار کوي؟
ویې ویل: نه، هغه خپل ځان ته کار کوي.
کارډیف سګرېټ راته ونیو او ویې ویل: سخت ستړی ښکارې.
سګرېټ مې کش کړ او ومې ویل: ټوله شپه مې ویښه تېره کړې، باید ستړی ښکاره شم.
له دې سره مې پر یوه څرمینه سوفه ځان واچاوه. څو دقیقې وروسته ټلیفون وکرنګېد. کارډیف غوږۍ پورته کړه... او پر کرښه کس ته د غوږ نیولو په ترڅ کې یې ما ته کړل: ارنولډ دی، کار یې کړی او اوس پوښتي چې بل څه وکړي؟
ومې ویل: ورته ووایه دلته راشه!
کارډیف زما پیغام ور ورساوه او غوږۍ یې کېښېښوده. د ارنولډ له راستنېدو سره سم مې هغه او کارډیف ته وویل چې هر یو دې په نوبت سره له یوه-یوه څارګر سره له هوټله دباندې ووزي.
کارډیف له بلانکا سره له خونې ووت. درې دقیقې وروسته ارنولډ ترودې بوتله. درې نورې دقیقې بعد ما یوسف راوایست... د کارډیف او بلانکا تر وتلو لس دقیقې وروسته موږ ټول په سرپټو ګاډو کې مخ د متحدینو پر پوځي چونۍ روان وو. منصور خلف او ټلیفونچی چې یوه ځوانه ښځه وه، په هغه بل موټر کې ناست ول....

Download from: www.aghalibrary.com

●●●

ارنولډ داسې وخت له خوبه راکښېښولم چې هوا يومخ تياره شوې وه. ساعت ته مې وکتل د شپې شاوخوا اته بجې وې. پنځه ساعته خوب ښه سم تازه او ځواکمن کړی وم. د ډګروال له خوبخونې ځخه راووتم.

لاکستر مې په ليدو وويل: شپه په خير!

ومې ويل: خوندور استراحت وو.

کارډيف وويل: راځه ماښامنۍ تياره ده.

د مېز دا بل اړخ ته پرته څوکۍ تشه وه، پر کښېناستم او د ډوډۍ خوړلو پر مهال مې له لاکستر ځخه وپوښتل: په طارق او هديره کې پرتو کسانو حال لرې؟

لاکستر وويل: هغوی لا هم همالته دي.

ومې ويل: بايد دلته دې راغوښتي وای.

کارډيف په خندا وويل: قومندان ته يې. دا امر بايد تا کړی وای.

لاکستر وخندل او ويې ويل: دوه ساعته مخکې ټول دلته راغلل.

کارډيف ته مې مخ کړ او په موسکا مې ورته وويل: اوس خو به پوه شوی يې چې قومندان زه نه يم؟

لاکستر مخاطب کړم او ويې ويل: ته چې ويده وې موږ د پغلونک پر پوځي مرکز د بريد نقشه جوړه کړه. فکر کوم ستا به هم خوښه شي.

ومې ويل: تاسې به دغه نقشه طبعاً له پوځي ليدلوري جوړه کړې وي، زه يې ګورم که يې زما له استخباراتي پلان سره اړخ نه لګاوه، نو بايد پر بل مخ واړول شي.

کارډيف وويل: تر ماښامنۍ خوړلو وروسته به يې په ګډه تر نظر تېره کړو.

ومې ويل: ډېر وختي بايد روان شو.

لاکستر وويل: همداسې کوو، چورت مه خرابوه.

Download from: www.aghalibrary.com

کارډيف راته مخ کړ او ويې ويل: بله ارزښتناکه خبره دا ده چې تروډي زموږ سره همکارۍ ته غاړه ايښې ده.

پزه کې مې وخندل او ومې ويل: بيا دې شروع په وکړه؟

لاکسټر وويل: له بلانکا او تروډي دواړو څخه مو تحقيقات وکړل او ومو گواښلې. تروډي ډېره ژر تسليم شوه. مالومات يې د پفلونک په کمبله تولولو کې په ښه راځي.

ومې پوښتل: شکنجه کړي خو به مو نه وي؟

کارډيف وويل: نه، يوازې مو وگواښله.

ومې ويل: ډېره خوندوره کيسه شوه. له تروډي څخه د پفلونک په نيولو کې کار اخلو.

لاکسټر پاڅېد او ويې ويل: زه څم خونې ته مې او هلته درته منتظر کېږم.

څو دقيقې وروسته موږ هم پسې ورغلو... لاکسټر پر مېز د ليبيا پر غوړېدلې جغرافيايي نقشه ورکروپ شو. ومې وويل: ښه اوس مې نو له پلانه خبر کړئ!

کله چې ډگروال لاکسټر پر خپل جوړ کړي پلان خبرې خلاصې کړې، ورته ومې ويل: که څه هم زه پوځي نه يم، خو په ډاډ سره ويلای شم چې دغه نقشه مو برياليتوب ته نشي رسولای. استخباراتي اړخ هډو لري نه. تاسې غواړئ موټرونه له سرتېرو ډک کړو، ورشو د پفلونک پر پوځي اډه راوڅرخو او توپونه و مرمۍ ورته بندي کړو.

تر لنډې چوپتيا وروسته مې زياته کړه: پفلونک د دوښمنانو يو بېساری ځارگر او هغه کس دی چې د جرمنيانو ځارگريز سازمان ته يې تر دې دمه بې شمېره برياوې ورپه برخه کړي دي. د هغه ځراکت او بيداري بايد بابېزه ونه گڼئ. زموږ د لومړۍ مرمۍ له وارېدو سره سم به ژوندی ژړانده ورک شي.

لاکسټر وويل: په ترپيولي کې زموږ له هوايي اډې سره ږغېدلي يو، هغوی چمتو

Download from: www.aghalibrary.com

دي چې زموږ له خوا د شفر په ترلاسه کولو سره د دوښمن مورچې ناتار بمبار کړي.

موسکی شوم او ومې ویل: تاسې یو پلا پفلونک ما ته مړ یا ژوندی راوسپارئ، وروسته چې مو خوښه وي هغه وکړئ. بیا هم درته وایم چې ستاسې دغه نقشه ښکار له ګوتو راځخه باسي.

کارډیف راځخه وپوښتل: ته تر دې غوره نظر لرې؟

ومې ویل: هو، که مو خوښه وي درسره شریک به یې کړم.

لاکسټر وویل: قومندان ته یې او هره نقشه چې جوړوې موږ یې درسره پلې کوو. راځه پر!

ومې ویل: زما استخباراتي پلان باید ستاسې تر پوځي هغه مخکې پلی شي. په دې مانا چې زه صحنې ته په چل-ول، تاسې په ښکاره او وسله په لاس ننوزئ.

وروسته مې د لیبیا پر نقشه د خطکش او پنسل په مرسته یو متساوی الساقین مثلث وکیښ. د دغه مثلث د راس (سر) خوا ته د بن غازي پوځي چونۍ راغله او قاعدې (بېخ) ته یې د پفلونک قرارګاه چې د یاد ښار په څلور سوه کېلومترۍ او ۱۵ و ۱۸ جغرافیایي طول و عرض البلد درجو کې پرته وه.

د پفلونک او قاسم بن احمد ګډوله پوځ د مثلث د قاعدې په پای کې او ختیځ لور ته پروت وو. د هغه ځای جغرافیایي موقعیت مې هلته د خپلې ځلیرویشت ساعته اوسېدنې پر مهال ښه بېخچن [1] ذهن ته سپارلی وو.

خپله نقشه مې د عملیاتو پر دغه تازه انځور کړي مثلث داسې پلې کړه: د پفلونک له قرارګاه ځخه راوستې څلور ټرکونه او یو ګرندی موټر د مثلث پر ختیځ ښاخ او زموږ د خپل پوځي مرکز د ټرکونو کتار پر لوېدیځ هغه حرکت کاوه، د مثلث په

---

(۱) بېخچن – په ژوره توګه.

Download from: www.aghalibrary.com

بېځ (قاعده) کې د دواړو کتارونو تګلوری بېرته یو کېدی او د پنځه کېلومتره په واټن په یو و بل پسې کېدل.
کارډیف لنډ وخندل او ویې ویل: د طاهر پوځي پوهې ته چې ګورم په قوماندانۍ ارزي.
ومې ویل: زه د عملیاتو پر هغه نقشه درته رږغېږم چې ما خپله جوړه کړې ده.
لاکسټر وویل: ادامه ورکړه!
ومې ویل: د عملیاتو په مثلث کې زموږ د دوو کتارونو ترمنځ ژوندۍ او نه شلېدونکې اړیکې بېځي زیاتې مهمې دي.
د مثلث په قاعده کې د دغو ډلګیو ترمنځ واټن باید راکم شي. د عملیاتو پیل اوله ډلګۍ کوي. زه و ډګروال هم له همدغې ډلګۍ سره ملګري کېږو او تورن کارډیف او بریدمل ارنولډ له دویمې سره.
کارډیف موسکی شو او ویې ویل: په لومړۍ ډلګۍ کې دې یو کس هېر شو.
ومې ویل: ترودي هم موږ راسره بیایو.
وروسته مې د نقشې عملي اړخ تکي په تکي ورته بیان کړ. لاکسټر کارډیف او ارنولډ ته مخ کړ او ورته ویې ویل: سرتېري چمتو کړئ!
ومې ویل: د سرتېرو تر چمتو کېدو وړاندې غواړم ستاسې په شتون کې له ترودي سره وږغېږم.
کارډیف وویل: موږ له هغوی دواړو څخه تحقیقات کړي دي، بلانکا غاړه وغړوله، مګر ترودي د خپلو مالوماتو شریکولو ته تیاره شوه.
موسکی شوم او ومې ویل: خو دا څرګنده نه ده چې هغې څه مالومات درکړي دي!
لاکسټر وویل: کله چې تا د ترودي د راسره بېولو خبره وکړه، نو ما له ځان سره وویل چې مالومات به پر لارې ځنې واخلو.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: نه، تر حرکت وړاندې باید پر دې ډاډه شو چې هغه ربښتیا هم مرسته راسره کوي، که هسې یې غولولو ته خیال دی.
کارډیف وویل: فکر نه کوم داسې کوم نیت دې ولري.
ومې پوښتل: دا خبره له کومه درکه کوې؟
ویې ویل: هسې، زړه مې همداسې راته وایي.
موسکی شوم او ومې ویل: زموږ موخه د لیبیا په سهېل کې د غلیم ملا ماتول دي. یوه ډېره وړه دوکه مو هم ښایي پلانونه په اوبو لاهو کړي او هم زموږ خولې له خاورو راډکې کړي.
لاکسټر ارنولډ ته مخ کړ او ورته ویې ویل: ورته ووایه چې تروډي دلته راولي.
کارډیف راڅخه وپوښتل: ستا په خیال تروډي زموږ د تېرایستلو هڅه کوي؟
ومې ویل: تر هغو باید په همدې فکر واوسو، تر څو د دې سرچپه پایله ترلاسه کوو.
لاکسټر وویل: کله چې مو له تروډي څخه زموږ سره د همکارۍ کولو لامل وپوښت ویې ویل چې دا کار له خپل ژوند سره د مینې په خاطر کوي.
پزه کې مې وخندل او ومې ویل: هم ستاسې پوښتنه بېځایه وه او هم د هغې ځواب. داسې سوال ته له سره هېڅ اړتیا نه وه. ډېر ژر به د تور و سپین پته ولګېږي.
کارډیف وپوښتل: ولې ته نه غواړې په همدې اړه پوښتنه ځنې وکړې؟
ومې ویل: زه داسې پوښتنې ځنې کوم چې تاسې باید وختي لا ترې کړې وای.
کارډیف وویل: یوه بله خبره چې هېره مې وه دا ده چې کله مو له تروډي د مالوماتو راسپارلو غوښتنه وکړه، نو ډېر ژر یې وویل چې دا سوال باید دالمار ژیلوم وکړي. البته هدف یې ته وې.
ومې ویل: علت یې هم روښانه او دا دی چې هغه راخبره ده زه د متحدینو

Download from: www.aghalibrary.com

استخباراتي مامور یم.
لاکسټر وویل: ما ته خپله د ترودي په نیت کې کومه خرابي نه ښکاري.
ومې ویل: دا هم ورسره تړلې ده چې د زړه له تله یې دغه پرېکړه کړې وي.
لږ وروسته ور واز شو او ارنولډ و ترودي رانوتل. هغه لږ رنګ الوتې برېښېده.
ورته ومې ویل: مهرباني وکړه کښېنه!
کښېناسته او ویې پوښتل: بیا د څشي په اړه تحقیق راڅخه کوئ؟
ومې ویل: تحقیق نه درڅخه کوو. ته مو دلته د دې لپاره راوستې یې چې د پفلونک د پوځي مرکز موقعیت، تجهیزاتو او نورو اړینو شیانو په اړه مالومات راکړې.
ترودي وویل: زه کولای شم تر هغه ځایه درسره ولاړه شم او لار دروښیم.
ومې ویل: لار موږ ته هم مالومه ده، ستا لارښوونې ته اړتیا نشته.
ویې پوښتل: نو زما څخه بیا د څشي مالومات غواړئ؟
په یوه سپکه موسکا مې ورته وویل: ښه تمثیل ته دې ملا تړلې ده، مګر دا چلونه نور ډېر زاړه شوي دي.
په جدي او پرېکنده لهجه یې وویل: زه نه ممثله یم او نه هم ستاسې د تېرایستلو نیت لرم، بلکې ستاسې په شان یوه استخباراتي ماموره یم. یوه ماته خوړلې ماموره چې تر ځان د ډېر څېرک سیال په لومه کې ولوېدم.
ومې ویل: له موضوع څخه دباندې مه وزه. په تحقیقاتو کې دې ویلي چې د خپلو پټو مالوماتو راسپارلو ته چمتو یې، همداسې ده؟
- هو، همداسې ده.
- نو ستا دا مالومات د څشي په اړه دي؟
ترودي وویل: زه خپل پټ مالومات یوازې تا ته چې د متحدینو یو استخباراتي مامور یې، درکوم هغه هم په دې شرط چې یوازې به زه و ته یو سره.

Download from: www.aghalibrary.com

ورته ومې ویل: لاکستر د دغه مرکز قومندان دی، زما و ستا یوازېوالي ته اړتیا نشته، خبرې دې کوه!

ویې ویل: مالومات هله درکوم چې سره یوازې شو.

ډګروال راته مخ کړ او ویې ویل: موږ درځخه وزو او تاسې یوازې پرېږدو.

ومې ویل: د سرتېرو د چمتو کولو ښه فرصت دی.

کارډیف وویل: سمه ده، همداسې به وکړو.

له خونې څخه د هغوی له وتلو سره سم مې ترودې ته مخ کړ او ورته ومې ویل: اوس وږغېږه!

ویې ویل: دا پوښتنه نه راڅخه کوې چې ولې مې د پفلونک د ځارګرې شبکې راز پاشلو ته غاړه کښېښوده؟

ومې ویل: زما لپاره ستا مالومات تر دغه لامل مالومولو ډېر ارزښتناک دي.

ویې ویل: زه د او.اس.اس سازمان خفیه ماموره یم.

- دومره اسانه؟

- شک لرې؟

ومې ویل: زه په دې نه یم خبر چې د مکس پفلونک د سازمان په اړه ستا مالومات په کومه کچه دي، مګر دا باید درته په ډاګه کړم چې د او.اس.اس سازمان د یوې مامورې په توګه ستا پېژندنه تر هغو مالوماتو ډېر لوی ارزښت راته لري.

ویې ویل: له خپلې ادارې سره په اړیکه کې شه او ترې وغواړه چې په لندن کې زموږ له سازمان څخه زما په اړه پوښتنه وکړي، له شک پرته به دې د هغوی ځواب پوره-پوره ډاډمن کړي.

ومې پوښتل: د چا په اړه باید پوښتنه وکړي؟

ویې ویل: زما اصلي نوم الینور مډیسن دی.

- شفرې شمېره دې؟

Download from: www.aghalibrary.com

- بي.وي.۸٦۰

- د افریقا په شمال کې دې ماموریت څه دی؟

ویې ویل: په العلمین کې د متحدینو تر برید وړاندې موږ درې تنه وو چې ځانونه مو تر نورو مخکې د رومل د جګړه ییزي کربښې شا ته ورسول. زه او دوه نور نارینه ماموران په کاناري جزیرو کې له یوې الوتکوړونکې بېړۍ څخه والوتو او د تونس په سهېل کې د پراشوټ په وسیله راکښته شوو. زموږ پر لار لومړي پراته ښار ته له رسېدو سره سم پر درېیو بېلو لارو سره ولاړو او د بېرته یوځای کېدو ځای مو طبرق وټاکی.

تر یوې لنډې چوپتیا وروسته یې زیاته کړه: طبرق کې یو فرانسوی هم راته منتظر وو. هغه زموږ ترمنځ د اړیکو ټینګولو دنده پر غاړه لرله. هغه نور دوه ماموران په بندر کې په خپل ورسپارل شوي کار لګیا شول. ما هم د هغه فرانسوي په مرسته په داسې یوه کافه کې دنده ونیوله چې د جرمني افسرانو د راټولېدو ځای وو. پر العلمین د متحدینو تر برید یوه اوونۍ وړاندې د جرمني څارګري ضد ماموران چې د رومل د دویمې ډلګۍ غړي ول، زما پر هغو دوو نورو ملګرو شکمن شول. هغوی داسې وخت ځان ته متوجې ګواښ حس کړ چې نور یې د تېښتې ټولې لارې پر مخ تړل شوي او هره سوړه کې جرمنیانو کمین ورته نیولی وو.

- نو د تېښتې پر مهال ووژل شول؟

- نه، د تحقیقاتو پر وخت یې تر شکنجو لاندې ساه ورکړه.

ومې پوښتل: هغه وخت ته چیرې وې؟

ویې ویل: هغوی په خطر له پوهېدو سره سم زما سره له اړیکو نیولو لاس مینځلی وو.

ومې پوښتل: هغوی ته د پېښ شوي ګواښ او بیا نیول کېدو کیسه دې له چا واورېده؟

Download from: www.aghalibrary.com

وېې ویل: زموږ ارتباطي کس ترې خبره کړم.

ومې ویل: او له همدې وجې دې په لندن کې له خپل مرکز سره اړیکې غوڅې شوې.

وېې ویل: هو، ځکه زموږ ارتباطي سړي هم نور تماس راسره ونه نیو.

- ولې؟ هغه ته هم کومه پېښه وشوه؟

- نابېره ورک شو.

ومې پوښتل: دا ارتباطي کس د هغو دوو مامورانو تر نیول کېدو څومره وخت وروسته تری تم شو؟

ترودي وویل: هغه یې له هغو دوو نورو مامورانو سره یوځای ونیو.

ومې ویل: نو بیا؟

وېې ویل: کله چې یوازې شوم، نو په لندن کې مې زموږ له مرکز سره د تماس نیولو یا هم پیغام ورلېږلو هڅه ونکړه. راسره مخابره مې بېخي له منځه یووړه، ځکه وېرېدم هسې نه د رومل د ډلې څارګري ضد ماموران مې څرک پیدا کړي او د خپلو هغو نورو همکارانو په برخلیک واوړم.

ترې ومې پوښتل: د مکس پفلونک پر څارګره شبکه څنګه وربرابره شوې؟... باید یوه په زړه پورې پېښه وي.

ترودي وویل: د مارشال رومل د ډلګۍ یو لوړپوړی افسر به اکثره هغې کافې ته راتلی چې ما کار پکې کاوه. زړه یې راباندې وبایلود او بالاخره یې هغې لارې ته ورکش کړم چې ته ډېر ښه ترې خبر یې.

موسکی شوم او ومې ویل: دا جرمنی افسر ډېر باذوقه سړی وو!

یوه تته موسکا یې پر شونډو راڅرګنده شوه او وېې ویل: پاته دې نه وي چې د هغه افسر مینې یوه ځانګړې موخه درلوده، ځکه په العلمین کې د متحدینو د برید له پیلېدو سره سم یې زه خپل یوه بل ملګري ته وسپارلم. هغه بیا بن غازي ته راوستم

Download from: www.aghalibrary.com

او زدکړې یې راکړې.
- مطلب دې څارګریزي زدکړې دي؟
- هو.
- هغه افسر همدا ویکتور ډاسن وو؟
- څه پوه شوې؟
- همداسې، پوښتنه راغله.
- هو، همدا وو.
- نو ویکتور بیا پفلونک ته وروپېژندلې؟
ویې ویل: کله چې جرمني ځواکونه له بن غازي څخه ووتل او یومخ کراري شوه، نو ویکتور د لیبیا په سهېل کې مېشتې د قاسم بن احمد قبیلې ته بوتلم. ګواکې د هغه په واک کې یې ورکړم تر څو هم د قاسم بن احمد تر لاس لاندې واوسم او هم د ویکتور له خوا له راکړل شویو زدکړو سره سم فعالیت وکړم.
ومې ویل: په بله ژبه قاسم بن احمد دربانډې مبین شو.
شرم یې څېره ورتکه سره کړه. ورو یې وویل: بله چاره مې نه لرله، باید همداسې مې کولای. په اصل کې مې دوې متضادې موخې پر مخ وړلې؛ یوه دا چې قاسم بن احمد له مکس پفلونک سره اندېوالی او د هغه د نقشو پلي کولو ته رامات کړم. بل دا چې د خپل پخواني نیمګړي ماموریت په اړه مالومات ترلاسه کړم. دا دویمه موخه تر لومړۍ هغې مهمه وه.
- خو په پای کې دې یوازې و یوازې د جرمنۍ څارګرې شبکې غوښتنې پوره کړې.
- هو، له بده مرغه، له خپل مرکز سره د اړیکو ټینګولو هېڅ وسیله مې نه لرله.
- که دې درلودای هم، باید ډېره دې ترې کولای، ځکه په ډېر خطرناک حالت کې وې.

Download from: www.aghalibrary.com

ترودي وويل: بله خبره دا وه چې د پفلونک د شبکې غوښتنو ته مې نه هم نشواى ويلاى، ځکه گوانښ يې راته کړى وو چې که ناکامه شوم، وبه مې وژني.
ومې ويل: او تا د خپل سر د سلامتى لپاره د هغوى له خوا درکړل شوې دنده په برياليتوب سره ترسره کړه.
تر يوې لنډې چوپتيا وروسته مې ځنې وپوښتل:
- وروسته څه وشول؟
ويې ويل: له مکس پفلونک سره مې د قاسم بن احمد په قبيله کې وليدل. هغه د قبيلې د مشر له حرمسراى څخه راوايستم او د نورو ماموريتونو د ترسره کولو لپاره يې ويکتور ډاسن ته په لاس ورکړم. له دغسې ماموريتونو څخه مې يو هم بن غازي ته ستا د راتگ موخه مالومول وو.
ومې خندل او ومې ويل: او اخير دې مالومه هم کړه!
ورو يې سر وښوراوه او ويې ويل:
- هو، مالومه مې کړه.
ومې پوښتل: څنگه پوه شوې چې هغه پر تا مېين شوى جرمنى افسر د مارشال رومل د ډلگى کس وو؟
ويې ويل: کله چې زموږ هغه دوه ماموران تر شک لاندې شول، نو زموږ ارتباطي کس په دې راز خبره کړم.
ومې ويل: ستا اوسنى وضعيت له تېر څخه د غچ اخيستنې خورا ښه موقع ده.
ويې ويل: دا کار يوازې و يوازې ستاسې سره د همکارى له لارې کېداى شي.
- زما موخه هم همدا وه.
- مثلاً څنگه همکاري درسره کولاى شم؟
ومې ويل: هماغسې چې خپله دې ويلي ول د مکس پفلونک او قاسم بن احمد د پوځي مرکز په اړه خپل ټول مالومات راسره شريک کړه.

Download from: www.aghalibrary.com

ويې ويل: په دې اړه ښه غوښن مالومات لرم.
پاڅېدم، دروازه مې پرانیسته او په دالېز کې ولاړ وسلوال سرتېري ته مې وویل چې ډگروال لاکستېر او کارډيف ته ووايي چې ژر تر ژره دلته راشي.
الینور(ترودي) وویل: ډاډه یم چې بریا ستاسې ده.
اوږې مې وخنډلې او ومې ویل: زموږ د بریا وړاندوینه ستونزمن کار دی.
ویې پوښتل: له لندن څخه زما په اړه پوښتنه نه کوې؟
موسکی شوم او ومې ویل: او.اس.اس سازمان ستا نوم وخته لا د مړو په لیست کې اچولی دی، ورسره په اړیکه کې کېدل گټه نه لري.
- نو تا زما په باب مالومات درلودل؟
- هو، ان قاهره کې یې لا ستا او هغو دوو نورو مامورانو په هکله مالومات راکړل.
الینور(ترودي) وویل: ډېر بیداره یې، ځکه کله چې مې خپل ریښتینی نوم درته واخیست ودې نه ویل چې اورېدلی دې دی.
لنډه خندا مې وکړه او ومې ویل: ځکه غوښتل مې په خپله خوله ټوله کیسه راته وکړې چې ډاډه شم ریښتیا هم همدا ته د او.اس.اس استخباراتي ماموره الینور مډیسن یې کنه. او اوس مې زړه ته ولوېده چې خپله ورکه مې موندلې ده.
- د یوه سگرېټ غوښتنه کولای شم؟
- نور ته زموږ په ډله کې شمار یې، غوښتنې کولو ته اړتیا نشته.
وروسته مې لومړی یو دانه سگرېټ وروړلگاوه او بیا مې یو ډک ډبی ورکړ.
ډگروال لاکستېر او کارډيف خونې ته راننوتل. ډگروال راته مخ کړ او ویې پوښتل:
- روانېږو؟
ومې ویل: تر څواب درکولو مخکې له ترودي سره چې اصلي نوم یې الینور مډیسن دی، وپېژنه. نوموړې د او.اس.اس سازمان څارگره ده چې تر یو لړ ماجراوو وروسته د مکس پفلونک څارگرې شبکې ته لار کوي او اوس غواړي د

Download from: www.aghalibrary.com

خپلو تېرو کارونو د جبرانولو لپاره موږ ته د پفلونک د پوځي مرکز په هکله خپل ټول مالومات راکړي.

ډگروال او تورن کارډیف الینور ته لاسونه ورکړل... ډگروال وویل:

- زموږ سره د الینور د همکارۍ منلو په لامل مې اوس سر خلاص شو!

کاډریف وویل: ډېر وخت نه لرو، ښه به دا وي چې همدااوس د پفلونک د پوځي قرارگاه په اړه خپل ټول مالومات راته ووايې.

الینور پر یوه پاڼه د یاد پوځي مرکز نقشه وکښله او حساس ځایونه لکه سلاکوټ او... یې پکې په نښه کړل.

ترې ومې پوښتل: د پفلونک او قاسم بن احمد استوگنځایونه هم ډېر مهم دي.

هغې د خپلې کښل شوې نقشې پر دوو ځایونو چلیپا راکش کړه او ویې ویل: مکس او قاسم بن احمد دلته اوسي.

ډگروال د وسلوالو کسانو د شمېر په اړه ځنې وپوښتل، هغې وویل:

- ټولټال یونیم زر کسان دي. زر تنه د قاسم بن احمد د قبیلې او پاته یې سپین پوست اجیر سرتېري دي.

ومې پوښتل: له دغو کسانو سره کوم ډول وسلې دي؟

الینور وویل: ډېری یې په جرمني ماشیندارانو سمبال دي. په ټولیز ډول پنځه میله صحرايي توپونه او یو شمېر نورې درنې وسلې هم لري.

ومې پوښتل: قاسم بن احمد چیرې اوسي؟ موخه مې د قبیلې د مشر په توگه د ده همېشنی استوگنځای دی؟

ویې ویل: د اوسني مرکز د خرما ونو په یو کیلومترۍ کې د رېگو یوه لویه غونډۍ ده، د هغې شا ته د خرما ونو یو بل غټ بڼ پروت دی، د ده قبیله همالته مېشته ده.

ډگروال ته مې مخ کړ او ورته کړل مې:

- اوس حرکت ته چمتو یو....

Download from: www.aghalibrary.com

تورن کارډیف وویل: سرتېري هم تیار دي!

ومې ویل: له جوړ شوي پلان سره سم روانېږو!

ټول په ګډه د ډګروال له کوټې څخه راووتو. کارډیف ته مې وویل: ته او الینور همدلته ودرېږئ، زه او ډګروال به د سرتېرو ټرکونه یو ځل وګورو.

زه و ډګروال روان شوو. پر لارې مې یوه ډېره اړینه خبره ورته وکړه او ترې ومې غوښتل چې کارډیف او ارنولډ هم ترې خبر کړي.

د سرتېرو ټرکونو ته ورسېدو. طارق هم همالته وو، ویې پوښتل: کله روانېږو؟

ومې ویل: څو دقیقې وروسته!

وروسته له طارق سره د ترودې په باب چې ځان یې په الینور مډیسن راپېژندلی وو، ورږغېدم....

ډګروال وویل: ژر کوئ!

هغه ته مې وویل: سرتېري باید ټول په ماشیندارانو سمبال وي.

بریدمل ارنولډ وویل: د دې کار غم خوړل شوی دی.

د ټرکونو دویم کتار ته چې د سرتېرو دوې ډلګۍ یې لېږدولې، ورغلو او هر څه مو تر نظر تېر کړل. زه بېرته د الینور او کارډیف خوا ته ورغلم. کارډیف وپوښتل: نظر دې څه دی؟

ومې ویل: سرتېري له هره اړخه سمبال دي، اوس ډګروال ته ورشه په کار یې یې.

کارډیف مخه ښه راسره وکړه او د موټرانو د کتار خوا ته ورغی....

څو دقیقې وروسته پنځلس ټرکونه چې دوې ډلګۍ په ماشیندارانو، لاسي بمونو او توپونو سمبال سرتېري پکې سپاره ول، له پوځي چونۍ څخه ووتل. هغوی باید له پلان سره سم د عملیاتي مثلث ختیځ ښاخ په خوله ورکولای. د دغو دوو ډلګیو قومندانې د تورن کارډیف پر غاړه وه. بریدمل ارنولډ یې هم د مرستیال په توګه ګومارل شوی وو. کارډیف ته ویل شوي ول چې ټرکونه باید ډېر ګړندي ولاړ

Download from: www.aghalibrary.com

شي. پنځه دقيقې وروسته پنځه نور ګاډي چې څلور يې په وسلوالو سرتېرو بار ټرکونه او يو ګرڼدی موټر وو، وخوځېدل. د دغه کتار قومندان ډګروال لاکسټر وو. په ګرڼدي موټر کې پر ډګروال سربېره الينور، طارق او زه هم ناست وم.
ما موټرواني کوله. هغه دوه نور کسان مې شا ته ناست ول... زموږ تګلوری هماغه وو چې له هغې خوا له دوښمنو سرتېرو سره يوځای پر راغلی وم.
له بن غازي څخه له وتلو سره جوخت طارق په ورسره مخابره کې لومړی له اول کتار موټرانو او بيا له پوځي چونۍ سره اړيکه ونيوله. د اړيکو کرښه ډېره خوندي وه. ان په تريپولي کې مو له خپلې هوايي اډې سره هم تماس ټينګولای شوای.
لومړی کتار هم په همدې سيستم سمبال وو.
موږ په ډېر لوړ سرعت روان وو... له بن غازي څخه چې يونيم سل کېلومتره ليرې شوو، لاکسټر ته مې وويل: اوس بايد ډګروال بوروسکي د ناخبرۍ له تيارو څخه راوباسم.
په حيرانتيا يې وويل: ډګروال بوروسکي؟
ومې ويل: مکس پفلونک ښنيم!
لنډ يې وخندل او ويې ويل: فکر مې بل ځای وو. هو بايد خپله ورسره وږغېږې.
ومې ويل: دا کار به الينور وکړي.
هغې وويل: هر کار چې راته وايې، کوم يې.
موټر مې لږ کرار کړ او طارق ته مې وويل چې زما سره ځای بدل کړي. همداسې په رفتار کې سره واوښتو. زه د الينور څنګ ته کښېناستم او ورته ومې ويل: سره له دې چې د او.اس.اس ماموره يې، بيا مې هم خبرو ته ښه کلک غوږ ونيسه؛ ته به اوس له پفلونک سره په مخابره کې وږغېږې، که يې د ويکټور ډاسن په باب درڅخه وپوښتل ورته ووايه چې هغه د سلاکوټ د لوټلو پر مهال دوې مرمۍ لګېدلې، اوس په يوه موټر کې پروت دی او بلانکا يې څارنه کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

الینور وپوښتل: زموږ په اړه څه ورته ووایم؟

ومې ویل: ورته ووایه چې موږ د وسلو او مهماتو له بار ټرکونو سره یوځای در روان یو.

وروسته مې یوه مخابره چې په لندو څپو او ایچ.اف فرېکونسۍ یې کار کاوه، چالانه کړه... دوې درې دقیقې وروسته د پفلونک له پوځي مرکز سره رخ شوو. ځان مې د مرکز د مخابراتو چلوونکي ته وروپېژاند او ترې ومې غوښتل چې له ډګروال بوروسکي سره مې وږغوي....

هغه راته وویل: همدا څو دقیقې مخکې ډګروال صاحب همدلته وو. پیغام مو راته ووایاست چې زه یې ور ورسوم.

ومې ویل: ډګروال صاحب ته ووایاست چې موږ بریالي شوو!

- مخابره مو لطفاً مه بندوئ!

- د ډګروال امر ته سترګې پر لار یم.

د مخابراتو چلوونکي مخابره بنده کړه... پوهېدم چې ډګروال بوروسکي (مکس پفلونک) به زما د پیغام له ترلاسه کولو سملاسي وروسته د مخابراتو څانګې ته راشي او راسره وبه ږغېږي، ځکه هغه په اصل کې دغه پیغام د ویکټور ډاسن له خولې اورېدل غوښتل.

طارق وویل: مکس به خامخا داسې وانګېري چې پر ویکټور ډاسن هم یوه تکه رالوېدلې ده.

ومې ویل: تکه خو پر رالوېدلې هم ده.

طارق وویل: ښایي پفلونک نبغ زموږ سره په اړیکه کې شي.

ومې ویل: زه هم همداسې انګېرم.

ډګروال لاکستر وویل: په دې صورت کې نو بیا د الینور وار دی چې د ساختګي ډګروال بوروسکي پوښتنو ته ځوابونه ووایي.

Download from: www.aghalibrary.com

الینور وویل: د مکس د پوښتنو ځوابونه مخکې له مخکې چمتو شوي دي.
مخابره مې بیا ولګوله... پنځه دقیقې وروسته د مخابراتو مسوول بړغ راباندې وکړ
او زما له ځواب سره سم یې وویل: له ډګروال بوروسکي سره وږغېږئ!
د مکس پفلونک اواز مې واورېد چې ویې پوښتل: ژیلومه ته یې؟
- هو، ډګروال صاحب زه یم، موږ بریالي شوو.
- خوشحاله دې کړم، ډاسن چیرې دی؟
- هغه سخت ژوبل شوی دی.
- حالت خو به یې ډېر خطرناک نه وي؟
- دوه ځایه لګېدلی او زیاته وینه ترې تللې ده.
- نو ته یوازې یې؟
ومې ویل: نه ښاغلې، ترودي هم همدلته ده.
پفلونک وویل: ورکړه ترودي ته چې خبرې راسره وکړي.
مخابره مې ترودي ته ورکړه او د لاس په اشاره مې وپوهوله چې کټمټ هماغه څه
ورته ووایي چې ما ورښودلي ول....
- زما بږغ اورئ ډګروال صاحب؟
- ژیلوم وایي موږ بریالي شوو.
- همداسې ده ډګروال صاحب.
- بلانکا چیرې ده؟
- هغه له ډاسن سره ده.
پفلونک وویل: ته او ژیلوم باید پر موټرانو پام وکړئ.
ترودي وویل: ډېر ژر به مرکز ته در ورسېږو.
ومې پوښتل: کومه بله خبره خو به نه لرئ ډګروال صاحب؟
پفلونک وویل: نه، بله خبره نشته. زموږ سره اړیکه کې اوسئ او که کومه پېښه

Download from: www.aghalibrary.com

وشوه بېله ځنډه خبر راکړئ.
ومې ویل: د خطر له ځایه راتېر او له بن غازي څخه شاوخوا دوه سوه کېلومتره رالیرې شوي یو.
مخابره مې بنده کړه. له ډګروال لاکستېره مې وغوښتل چې د تورن کارډیف پر حال پوښتنه وکړي. ډګروال له هغه سره پر ځانګړو څپو په اړیکه کې شو... د هغوی وضعیت ډاډمنوونکی وو.
ترودي وویل: موږ بریالي یو!
ومې ویل: تر اوسه لا مالومه نه ده.
لاکستېر رانېغ شو، ما ته یې مخ کړ او ویې ویل: که ستا د ماموریت لحاظ نه وای، د عملیاتو پیل مې له هوایي بریده کاوه او په څو ساعتونو کې مې د پفلونک پوځ ور تس نس کاوه، خو اوس باید مجبوراً استخباراتي او جګړه ییز عملیات اوږه پر اوږه ترسره شي.
ومې ویل: که کیسه له پلان سره سمه مخ ته ولاړه، مکس پفلونک په پټه خوله نیول کېږي او تر هغه وروسته بیا ته پوه شه او جګړه دې.
ډګروال لاکستېر وویل: خدای دې وکړي چې همداسې شي.
الینور وویل: په هر حال، زما لپاره د خپل تېر د بېرته رغولو ښه فرصت دی.
هغې ته مې مخ کړ او ومې ویل: له بریالي کېدو سره جوخت به تر هر څه مخکې لندن خبر کړم چې ته ژوندۍ یې.
تر دې وروسته مو ترمنځ درنه چوپتیا خپره شوه... زموږ موټر او تر شا راپسې له سرتېرو ډک ټرکونه خورا ګړندي روان ول. زما ټول فکر و ذکر د پفلونک په نیولو کې وو، ځکه نیت مې وو چې ژوندی یې ونیسم.

Download from: www.aghalibrary.com

●●●

د شپې شاوخوا دوې بجې وې. څه باندې سل کېلومتره د غلیم له مورچو څخه لیرې وو. لومړی کتار لا همداسې د مثلث د قاعدې پر خوا روان وو. موږ، لومړی کتار او د بن غازي پوځي چونۍ په پرله پسې توګه سره په اړیکه کې وو. ان هوايي اډه هم په لین کې وه، تر څو د اړتیا پر مهال پر وخت الوتکې راولېږي.

یو ځل بیا مې له ډګروال بوروسکي (مکس پفلونک) سره اړیکه ونیوله، د وضعیت ډاډ مې ورکړ او دغه راز مې ورته وویل چې موږ ټول روغ و جوړ او له هېڅ ډول پېښې سره نه یو مخ شوي.

ویې پوښتل: ډاسن څنګه دی؟

ومې ویل: نه پوهېږم، ځکه دربدلي نه یو چې پوښتنه پر وکړم. که یې بخت بیداره وو، ژوندی به پاته شي.

- ترودي ستا سره ده؟

- هو، غواړې ورسره وږغېږې؟

- نه، د مرکز څو کېلومترۍ ته چې راورسېدئ، رږغ راباندې وکړئ.

کربنه مې غوڅه کړه... ډګروال لاکسټر وپوښتل: لومړنۍ موخې ته ډېر ورنږدې شوي یو.

ومې ویل: نقشه وګوره.

ډګروال د لاسي څراغ په رڼا کې د لیبیا د سهېلي دښتې جغرافیایي نقشې ته وکتل او ویې ویل:

- انګېرنه مې پر ځای وه. زموږ ټاکلی ځای د المیت په نوم یو کوچنوتی کلی دی.

ومې ویل: دغه کلی مې خورا ټینګ په یاد دی، یو څو د خرما ونې پکې ولاړې دي.

Download from: www.aghalibrary.com

الینور وویل: دغه ځای د مرکز په پنځوس کېلومترۍ کې پروت دی.
طارق وویل: له کارډیف سره نه ږغېږئ؟
ومې ویل: المیت ته چې ورسېدو، ورسره وبه ږغېږو.
د شپې پر درې بجې المیت کلي ته ورسېدو... طارق موټر ودراوه. ټرکونه هم ودرېدل او څراغونه یې گل کړل. یاد کلی په داسې یوه زاویه کې پروت وو چې د مثلث ختیځ ښاخ او قاعده یې قطع کوله. زموږ د محاسبې له مخې لومړی کتار باید المیت ته زموږ تر رارسېدو لس دقیقې وروسته دغه ځای ته رارسېدلای.
زه او ډگروال له موټره کوز شوو او ټرکونه مو یو په یو وکتل. ډگروال وویل: تر خوځېدو وړاندې باید استخباراتي او جگړه ییزې نقشې تر نظر تېرې کړو.
یوه لنډه خندا مې وکړه او ومې ویل: وېرېږې چې هسې نه کومه تېروتنه مو کړې وي؟
- یوازې د ډاډمنتیا په خاطر.
- همداسې به وکړو.
دوې دقیقې وروسته د لومړي کتار د مشرتابه د گړندي موټر څراغونه د تیارې له زړه څخه راښکاره شول. ما په لاسي څراغ اشاره ورکړه. د کارډیف د موټر څراغونه هم یو پلا مړه او بیا روښانه شول.
د هغوی ټرکونه راغلل او زموږ د ولاړو هغو تر شا ودرېدل. کارډیف او ارنولډ له موټره راکښته شول. ارنولډ وویل: تر دې ځایه مو پلان په خیر شو.
ډگروال وویل: وخت باید بېځایه تېر نکړو او سملاسې د عملیاتو نقشې وڅیرو.
د کارډیف موټر ته وختو او د لاسي څراغ په رڼا کې مو د جگړې نقشه وکتله. هر څه ټیک ټاک ول او د اندېښنې ځای پکې نه وو.
د شپې شل باندې درې بجې د موټرانو دویم کتار چې ټولټال څلور ټرکونه او یو گړندی موټر وو، د دوښمن د پوځي قرارگاه پر خوا روان شول. تر موږ پنځه د

Download from: www.aghalibrary.com

ټيڼې وروسته لومړی کتار راپسې راوخوځېد. د يو و بل له حاله د ځان خبرولو لپاره مو ځانګړې راډيويي څپې ټاکلې وې. دغو څپو يوازې په لس کېلومتره واټن کې دننه کار کاوه. سيستم داسې وو چې لېږدوونکې دستګاه يو ډېر کمزوره بړغ خپراوه، همدغه بړغ د اخيستونکې دستګاه پر سکرين د يوه رانه ټکي په بڼه راڅرګندېد او وروسته په دايرو بدلېد. د دغو څپو تر ټولو غوره ځانګړنه دا وه چې د پفلونک د پوځي مرکز مخابراتي دستګاوو نشوای موندلای.

د اړيکو د همدې جوړښت له برکته دواړه کتارونه پر خپل ټاکلي تګلوري سيده روان ول. د کارډيف د کتار د موټرانو څراغونه مړه ول او يوازې يې زموږ له مخابروي دستګاه څخه په خپرېدونکو څپو خپله لار موندله.

هر څه له پلان سره سم روان ول، شېبه په شېبه د عملياتو پيل ته ورلنډ او پر خپله بريا ډاډمنېدو.

ډګروال لاکستر وويل: ډېره خونړۍ جګړه مو په مخ کې ده!

ومې ويل: دا خونړۍ جګړه بايد د پفلونک تر نيول کېدو وروسته ونښلي.

ډګروال وويل: د پفلونک غوندې لېونی انسان بايد له منځه يووړل شي.

ومې ويل: تر پفلونک بيا بيعقله د جرمني ځارګره شبکه ده چې په شمالي افريقا کې د جنګ بيانښلولو خيال ورولاړ شوی دی.

لاکستر وويل: زما په خيال د جنګ پر ځای به د بلوا اصطلاح غوره وي.

ومې ويل: زما هم همدا مطلب وو.

وروسته مو ترمنځ چوپتيا خپره شوه... د پفلونک د پوځي مرکز په دوه کېلومترۍ کې د الجبل په نوم يو وړوکی کلی وو، نيم ساعت وروسته هلته ورسېدو. سره له دې چې پفلونک په خپل دويم تماس کې پر مخابروي اړيکه ټينګار کړی وو، بيا مې هم دا کار ونکړ. غوښتل مې همداسې يې په انتظار کې پرېږدم.

کيسې ته تر ننوتلو وړاندې بايد يادونه وکړم چې د پفلونک مرکز يو پنځه سوه

Download from: www.aghalibrary.com

کېلوواټه برېښنا توليدوونکی ماشين هم درلود.

تر الجبل کلي هم تېر شوو. د قرارگاه گروپونه راښکاره شول. د کارډيف کتار لا هم تر شا په پنځه کېلومترۍ کې راپسې وو. له ياد کلي څخه تر تېرېدو وروسته مو ترمنځ واټن درېيو کېلومترو ته رالنډ شو.

بالاخره قرارگاه ته ورسېدو. طارق موټر ودراوه، ټرکونه هم ودرېدل. زه و طارق راکوز شوو. د قرارگاه په دروازه کې ولاړ څوکيدار راوړاندې شو او ويې پوښتل: تاسې دالمار ژيلوم ياست؟

ومې ويل: هو، ژيلوم يم. ډگروال بوروسکي زما په اړه کومه لارښونه درته نه ده کړې؟

ويې ويل: ولې نه. هغه امر کړی چې د موټرانو تر تلاښۍ وروسته مو دننه ورپرېږدم.

ومې ويل: موټران له وسلو ډک دي، راځه ويې گوره.

څوکيدار چې يو سپين پوستی اجير سرتېری وو، پر خپل يوه ملگري بږغ وکړ او له هغه سره يوځای زموږ د ټرکونو د تلاښۍ په نيت روان شو.

همدا چې د لومړي ټرک شا ته ورتاو شوو، طارق مې پر بازو وچيخاوه [1] او ومې پوهاوه چې وخت يې دی. له دې سره جوخت مې يو څوکيدار د راسره ماشيندار په کونداغ پر دا څټ وواهه. همدغه شېبه طارق د دويم څوکيدار کار ور وکړ. بريدونه مو دومره کاري و چټک ول چې د سترگو په رپ کې دواړه ساتونکي پر ځمکه بېخوده ولوېدل. طارق ته مې وويل چې لاکستر ته ووايي چابک دلته راشي....

د ډگروال لاکستر په لارښوونه زموږ دوو سرتېرو د هغو دوو ساتونکو ځای ونيو.

---

(۱) چيخول(اصطلاحاً) - نوکاري کول، کرار کښېکښل.

Download from: www.aghalibrary.com

همدا ګواکې د مکس پفلونک د پوځ د نسکورولو د جګړې پیل وو.
پر ځمکه د پړتو دوو بېهوښه ساتونکو وسلې مو واخیستې او هغوی مو د لارې غاړې ته کش کړل.
ډګروال لاکستېر ژر-ژر څلورو ډلګۍ مشرانو ته چې هر یوه یې د یوه یوه ټرک قومانده پر غاړه لرله، یو لړ اړینې لارښوونې وکړې. تر خوځېدو وړاندې مو زموږ په درې کېلومترۍ کې ولاړ کارډیف ته یو پیغام مخابره کړ او ورته ومو ویل چې له پلان سره سم لاس پر کار شي.
موږ درې بېرته خپل ګرندي موټر ته وختو او روان شوو. ټرکونه هم راپسې وخوځېدل. طارق شتېرنګ ته ناست وو. د قرارګاه په دروازه له ننوتلو سره سم مې طارق ته وویل: د قرارګاه د مخابرې د مرکز خوا ته درځه. په غالب ګومان پفلونک همالته زموږ پیغام ته سترګې پر لار دی.
لاکستېر وویل: ښایي بېرته خپلې کیبړدۍ ته تللی وي.
ومې ویل: په هر حال، تښتېدلای نشي.
ټرکونه پر مخکې له مخکې ټاکل شویو لوریو سره ولاړل. موږ ډېر ژر مخابراتي مرکز ته چې د قرارګاه په سهېل لوېدیځ کې پروت وو، ورسېدو. سرتېري له ټرکه راکښته او پر هغه ځای راچاپېر شول. زه و طارق خونې ته ورننوتو. هلته د مخابراتو له مسوول پرته بل څوک نه وو. ترې ومې وپوښتل:
- ډګروال بوروسکي چېرې دی؟
هغه په وارخطایۍ سره وویل: نیم ساعت مخکې خپلې کیبړدۍ ته ولاړ.
طارق ته مې وویل: دا سړی ونیسه!
له هغه ځایه راووتم. خپله شتېرنګ ته کښېناستم او ډګروال ته مې وویل: ستا حدس پر ځای وو مکس خپلې کیبړدۍ ته تللی دی.
موټر مې په تېزۍ وخوځاوه. د خرما ونو ته تر رسېدو وړاندې مې ډګروال لاکستېر

Download from: www.aghalibrary.com

ته وويل: له کارډيف سره تماس ونيسه او د وضعيت پوښتنه يې وکړه.
ويې ويل: فکر کوم قرارګاه ته راننوتی دی.
ومې ويل: ته قومندان يې او بايد په دې ځان خبر کړې چې کارډيف او کسانو يې په عملياتو لاس پورې کړی کنه. که په ټاکلي وخت کې د دوښمن د افرادو پر بې وسلې کولو ونه توانېږو، نو په يوه ډېره خونړۍ جګړه کې به ښکېل شو.
لاکسټر وويل: که وغواړو که نه، دا خونړۍ جګړه راته ګوري. په هر حال کې بايد له دوښمن سره لاس و ګرېوان شو.
لاکسټر له کارډيف سره په اړيکه کې شو... د کارډيف اواز مې اورېد چې ويل يې: درې دقيقې کېږي قرارګاه ته راننوتي يو. سرتېري په چټکۍ سره ځايونه لاندې کوي.
ډګروال ورته وويل: د دوښمن هر ډول مقاومت بايد شنډ کړل شي.
کارډيف وويل: پوره-پوره هڅه کوو.
وروسته يې وپوښتل: ستاسې څه حال دی؟
ډګروال زموږ د وضعيت په اړه مالومات ورکړل. ما په داسې حال کې چې موټر مې چلاوه، کارډيف ته وويل چې د ارنولډ او طارق په مشرۍ يوه ډله سرتېري د خرما د ونو خوا ته واستوي.
ډګروال يو لږ نورې لارښوونې هم ورته وکړې... ظاهراً قرارګاه په چوپتيا کې ډوبه وه، خو د دغې ارامۍ په شور و زوږ د بدلېدو شېبې ډېرې رانژدې شوې وې. د خرما د ونو ساحې ته ورننوتو او يو څه مخ ته پکې ولاړو. داسې يوه ځای ته ورسېدو چې نور موټر وړاندې نشوای تلای. ټول کښته شوو. لاکسټر ته مې وويل: ته او الينور همدلته اوسئ، زه او دوه تنه وسلوال د کيږدۍ خوا ته ورځو.
لاکسټر وويل: مکس بايد د قرارګاه د حالت تر خرابېدو مخکې ونيسې. په عين حال کې پر ځان هم پام کوه.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: د مکس له نیولو پرته مې بل هېڅ شي ته هم پام نه دی.
روان شوم. دوه وسلوال سرتېري هم راپسې شول... ډېر په احتیاط مو گامونه اخیستل. ماشیندار مې په لاس کې نیولی وو. هڅه مې کوله له لاسي څراغ څخه کار وانخلم. ډاډه وم چې مکس به خپله خېمه کې راته سترگې پر لار وي. د شپې په تیاره کې کېږدۍ د ویدو بلاوو غونډې ښکارېدې. څو مترۍ ته یې ور ورسېدو. یودم د خېمو له خوا څخه یو چا په فرانسوي ژبه چیغه کړه:
- پر موږ برید شوی دی!
د هغه کس دغې نارې د قرارگاه حالت پر بل مخ واړاوه او ورسره جوخت د ماشیندارانو بې هدفه ضربې پیل شوې. ډزې لا هماغسې روانې وې چې د خطر د زنگ چیغې هم پورته شوې. دې پېښې وابښ و غوزی کړم. دغه زنگ په اصل کې د هغې خونړۍ جگړې د پیل په مانا وو چې ما یې وېره لرله. نابېره د قرارگاه له هر گوټ او سوړې څخه د زوږ ځپې راپورته شوې. راپارېدلې هله گوله په تېره بیا د کېږدیو په خوا کې تر نورو تولو ځایونو په زور کې وه. د ماشیندارانو ډزې په پرله پسې توگه روانې وې. له ورایه ښکارېده چې په تیاره کې بې هدفه گولۍ ولې. لنډه شېبه وروسته زموږ د افرادو ماشینداران هم پر ډزېدو راغلل. له دې سره د دواړو غاړو له خوا د یو و بل د راځملولو لېوني تلاښونه شروع شول.
زړه مې راته وویل چې نور نو د پغلونک ژوندۍ نیونه باید له ذهنه وباسم او په یو نه یو ډول یې باید ووژنم. پر راسره سرتېرو مې ږغ وکړ: هلئ ژر کوئ!
له کېږدیو سره نژدې مو یو ځای مورچه ونیوله. د کېږدیو له دننه څخه اوازونه راتلل. تولې خېمې مو ډېرې ښې لیدلې. دومره په ځیر-ځیر مو ورته کتل چې ان که یو څوک له کومې کېږدۍ څخه راوتلای، هم مو لیدلای شوای؛ البته د سیوري په بڼه.
د راسره سرتېرو سر مې ورخلاص کړی وو چې څه باید وکړي. څو شېبې وروسته

Download from: www.aghalibrary.com

له کيږديو څخه يوه ډله خلک په منډه راووتل. همدغه شېبه موږ د گوليو باران پر جوړ کړ. زموږ د ماشينداړانو له خولو بادېدونکو اوروونو سم رېبل کول.
نښې نيولو ته له سره اړتيا نه وه يوازې مو ماشينداران ښې او کينې خوا ته ښورول. ان کيږدۍ هم سورۍ-سورۍ شوې. ما غوښتل کيږديو کې دننه هم څوک ژوندی پاته نشي.
له هغې خوا هم پر موږ ډزې کېدې. موږ پړمخې پراته او گوتې مو پر ماشو ټينگې نيولي وې. زما د ماشيندار مرمۍ خلاصې شوې. د سترگو په رپ کې مې شاجور وربدل کړ. ټوله هيله مې دا وه چې گوندې خدای يوه مرمۍ پر مکس پفلونک هم ونښلي.
نابېره د قرارگاه له ختيځ لوري څخه يوې ډېرې ځواکمنې رڼا سره غرمه جوړه کړه. رڼا خوځنده وه، له کيږديو څخه تېره او د خرما پر ونو ودرېده. له خپمو څخه ډزې لا شديدې شوې. د دوښمن موخه دا وه چې د هغه زورور څراغ د روښنايي په مرسته به موږ د خرما په ونو کې يا ووژني او يا به مو هم لږ تر لږه ځنې پر شا کړي.
بل همدومره زورور څراغ هم ولگېد، خو ډېر ژر زموږ د کسانو له خوا په نښه او گل کړل شو. لومړی څراغ يو څه ليرې نصب او د مرميو وس نه په رسېد.
خپلو دوو سرتېرو ته مې د ډزو درېدو وويل. يوه يې وويل: لاسي بمونه به وروغورځوو.
له ورسره دوو لاسي بمونو څخه يې يو ما ته راکړ او ويې ويل: اول دانه ته ور وغورځوه!
ما هم بله ونکړه د بم کيلۍ مې خطا او د خپمو خوا ته مې ور ارتاو [1] کړ. لويه

(۱) ارتاو کول/ارتاوول – په ډېر زور سره غورځول.

Download from: www.aghalibrary.com

چاودنه وشوه او يوې کېږدۍ اور واخيست. زموږ د يوه سرتېري له خوا د دويم بم له ور غورځولو سره جوخت مقابلې دزې هم ودرېدې. داسې برېښېده لکه نور چې پر موږ د ټکانو کولو سرې ژوندی نه وي پاته. دويم بم اور ونه لګاوه، مګر د لومړني هغه بل شوی اور نورو کيږديو ته هم خپور شو. هغه تېزه رڼا لا هماغسې د خرما پر ونو بله وه. د دوښمن د دزو بندېدنه پوره ډاډمنوونکې نه وه. يوه سرتېري وويل: بايد ځانونه د کيږدۍ هغې خوا ته ورسوو!

ومې ويل: زما هم همداسې نيت دی، مګر لږ ودرېږه چې يو څه مرسته خو راورسېږي.

زما ښی خوا ته پروت سرتېری يودم او بېله څه ويلو وغورځېد او په چوغه ملا يې مخ پر خېمو ور منډه کړه. ما پسې نارې کړې: مه کوه، راوګرځه بېرته!

نيمايي لار يې لا نه وه وهلې چې د کيږديو له خوا په مرميو غلبېل شو. په هغه ځواکمنه رڼا کې مې وليد چې سره وڅرخېد او پر ځمکه ولوېد. همدغه شېبه ما او ژوندي سرتېري هغه ځای تر اور لاندې ونيو چې ټکان ترې شوي ول. د سرتېري وژل کېدو مې پر سترګو د وينو پرده راوسته. ډېر يې وځورولم.

کينې خوا ته پروت سرتېري ته مې وويل: درځه چې بېرته ډګروال ته ورشو!

ويې ويل: زه بايد په هر ډول چې وي دغه څراغ له منځه يوسم.

ومې ويل: د کيږدۍ شا ته ممکن د دوښمن کسان پټ وي.

په يو ډول غملړلې غوسه يې وويل: نه وينې چې زما ډېر نژدې ملګری يې راوواژه؟!

ومې ويل: چاره نشته بايد ويې زغمو. په دې جګړه کې به ډېر نور ملګري هم له لاسه ورکړو.

غلی شو. يوې له کينې او کرکې ډکې خواشينۍ يې پر مخ سيوری غوړولی وو. که څه هم ژړل يې نه، خو دننه يې د غوسې او نفرت سمندر غورې وهلې. سترګې

Download from: www.aghalibrary.com

يې په تس-نس شويو کيږديو کې وې او په منګولو يې ماشيندار نوکاري کاوه. که يوازې واى، له شک پرته به يې د خپل ملګري په شان د لنډې لارې وهلو هڅه کړې واى.

نه ما او نه هم هغه د ډار احساس کاوه. دواړه په يو ډول ناځرګند او ځورونکي حالت کې راګير وو. زه بيا په خپل پلان کې راغلي خنډ و بدلون سخت غوسه کړی وم. هېڅ مالومه نه وه چې مکس پفلونک به د خېمې دننه مړ شوی وي. د خپل شک د ليرې کولو لپاره بايد هلته ورتلای، مګر هلته د خپرې رڼا له وجې مې له ځايه ښور هم نشوای خوړلای.

سرتېري وپوښتل: څه کوو؟

ومې ويل: صبر کوو.

له لاوډسپيکر څخه د کارډيف اواز واورېدل شو چې د دوښمن افرادو ته يې د وسلې غورځولو او تسليمېدو خبرداری ورکاوه. مګر هرې خوا ته د درنو او سپکو ماشيندارانو ډزې اورېدل کېدې. پلانونه مو له تمې سره سم نه ول روان. دوښمن زموږ تر وړاندوينې ډېر وختي راويښ شوی او غوښتل يې په بې هدفو ډزو سره خپل ګډوډ حالت بېرته سره سم کړي.

د شا له خوا مې د ارنولډ اواز واورېد چې ما ته يې راږغ کول... سرتېري ته مې وويل: په احتياط سره شا ته ځو!

ارنولډ زه مخاطب کړم او ويې ويل: ډېر په احتياط را شا ته شئ!

هماغسې پرمخې پر شا وخکېدو. د دوښمن د احتمالي ډزو له ساحې چې ليرې شوو، پر پښو ودرېدو. ارنولډ په ځانګړې تلوار وپوښتل: ژوبل شوي خو به نه ياست؟

ومې ويل: له بده مرغه يو کس مو مړ شو.

ارنولډ په اغېزمن انداز وويل: جنګ دی سری هېڅ هم نشي کولای.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې پوښتل: طارق چیرې دی؟

- له الینور سره.

- څو نفره دې له ځان سره راوستلي دي؟

- یوه ډلگۍ.

لاس مې د خېمو خوا ته ونیو او ومې ویل: ښایي دوښمن هلته خزه وي. ستاسې برید باید دومره چټک او ملاماتوونکی وي چې ژوندي پاته کسان د ټک کولو وخت ونه مومي.

ارنولډ وویل: په لاسي بمونو او درنو ماشیندارانو برید پر کوو.

ومې ویل: نو هلئ ژر کوئ، د پفلونک د ژوندي یا مړي پته باید ولگېږي دا ډېره اړینه موضوع ده.

په گډه هغه ځای ته ستانه شوو چې سرتېري پکې ځای پر ځای شوي ول. طارق وپوښتل: ژوبل خو نشوې؟

ومې ویل: اوس خو لا روغ یم. وروسته به خدای خبر چې ژوندی ووزم که به مړ شم.

طارق وویل: ته همدلته اوسه، زه له سرتېرو سره پر ورخوځم.

لنډه خندا مې وکړه او ومې ویل: ته ما دلته د دې لپاره راوغوښتې چې په گډه پفلونک ژوندی یا مړ پیدا کړو. په هر صورت، باید له تلواره کار واخلو.

وروسته مې ارنولډ ته مخ کړ او ترې ومې پوښتل: ډگروال چیرې دی؟ په سترگه مې نشو.

ویې ویل: هغه له کارډیف سره یوځای له نژدې څخه د عملیاتو پر څارنه بوخت دی.

ومې ویل: د دوښمن د لاندې کولو نقشه لکه څنگه چې پلان شوې وه، هغسې پلې نشوه.

Download from: www.aghalibrary.com

ارنولډ وویل: بخت مو کار کوي چې ژر یې د خطر زنګ وواهه او ډزې یې پیل کړې. په دې کار سره یې وښوده چې پوځي پوهه یې ډېره کمه ده. په مطلب خو به مې پوهېدلی یې؟

ومې ویل: هو، وپوهېدم. هغوی باید د دې کار پر ځای په پټه خوله موږ ته کمین نیولای او نابېره یې برید راباندې کولای. بیداري یې ګواکې زموږ په درد وخوړه.

ارنولډ وویل: په شپنیو بریدونو کې باید مقابل لوری چوپ پاته شي او له ځانګړي څراکته کار واخلي.

ومې خندل او ومې ویل: خو زموږ هدف پر دوی برید نه، بلکې غافلګیر کول وو. اوس به ښه دا وي چې د پوځي درس پر ځای عملیات پیل کړې، ځکه سپېده چاود ته ډېر لږ وخت پاته دی.

ارنولډ وویل: ته، طارق او الینور د سرتېرو تر شا روان شئ.

الینور وویل: زه همدلته پاتېږم.

ومې ویل: ته د دې لپاره دلته راسره راغلې یې چې ما د قاسم بن احمد قبیلې ته بوزې.

هغې وویل: اوس هم دغه کار ته چمتو یم، مګر نه په دغسې حالاتو کې. له جنګ و وینې تویېدنې مې کرکه کېږي.

تر بازو مې ونیوله او په توکو مې ورته وویل: زما په اند ته باید د جګړې لومړۍ کرښې ته واستول شې.

الینور وویل: نو ته غواړې چې په لوی لاس مې ووژنې.

ارنولډ وویل: داسې ښکاري چې ستاسې دوو مجلس پای نه لري.

ومې ویل: تاسې برید شروع کړئ، موږ هم تر شا درپسې کېږو.

ارنولډ په لاسي بمونو او ماشیندارانو سمبالو سرتېرو ته د حرکت امر وکړ. دا ګړی د هغه څراغ رڼا پر خوځېدو راغلې او شاوخوا تاوېده راتاوېده. په دې سره غلیم

Download from: www.aghalibrary.com

غوښتل زموږ افراد په نښنه کړي. کله چې به رڼا د خرما له ونو څخه ایسته شوه، سرتېرو به منډه کړه او چې بېرته به پر راغله یودم به ټولو پر ځمکه پروت وکړ... موږ هم د یو څو تنو سرتېرو په ملتیا په هغوی پسې وو.

زموږ د لاسي بمونو په وسیله پر کیږدیو بل شوی اور د دوښمن له خوا په خورا حیرانوونکي او ماهرانه ډول گل کړل شوی وو. له دې څخه دا زباتېده چې هغوی همالته کمین نیولی او زموږ د وررسېدو شېبې شماري.

الینور مې طارق ته وسپارله او ځان مې ارنولډ ته ورساوه. هغه راباندې غوسه شو او د نیوکې په انداز یې وویل:

- ستا دغه کار زړورتیا نه، بلکې یو ډول بیعقلي ده.

ومې ویل: هسې لگیا یې.

څه یې ونه ویل، مگر په کمین کې د راته ناست گوابښ له امله اندېښمن وو. هغه ځای ته چې زموږ د سرتېري مړی پر پروت وو، ورسېدو. ورو مې ارنولډ ته وویل: سرتېرو ته ووایه چې همدلته سره ځای پر ځای شي.

ویې ویل: یو څه نور هم ورمخ ته کېږو.

څو گامه چې وړاندې ولاړو، ارنولډ سرتېرو ته د درېدو اشاره وکړه. زموږ بریدگرو سرتېرو د یوې لښتې په بڼه حرکت کاوه. څو شېبې مو وکتل او همدا چې د خرما له ونو څخه د څراغ رڼا ایسته شوه، د اور امر ورکړه شو. شل ماشینداران په یوه پلا په غوربدو شول. ضربې دومره شدیدې وې چې زړه ته مې نه لوېده دوښمن دې ځوابیه ډزې وکړای شي. له دې سره هم د کیږدیو له خوا ټکان شروع شول، مگر ډېر ژر په ټپه ودرېدل.

رڼا د خرما پر ونو ودرېده، خو بې گټې وه، ځکه نور موږ برلاسي شوي وو. فکر نه کېدی چې په کیږدیو کې دې څوک ژوندي پاته شوي وي.

موږ هم ډزې ودرولې او لاسي بمونه مو ورمرش کړل. له هر بم سره به خېمې او

Download from: www.aghalibrary.com

یو عالم خاورې و رېگ هوا ته باد شول. دا کیسه شاوخوا لس دقیقې روانه وه. وروسته د وړاندې تګ امر وشو.
زه له ارنولډ سره اوږه پر اوږه روان وم... کېږدیو ته له رسېدو سر سم مې د مکس پفلونک د جسد لټون پيل کړ. مړي ډېر په ګرانه پېژندل کېدل. د اکثرو يې لاسونه و پښې غوڅ شوي ول. لنډه دا چې د پفلونک د لاش درک نه وو.
ارنولډ وویل: ستا ښکار د خطر د زنګ له وهل کېدو سره سم تښتېدلی، باید پل پسې واخلې.
غوښتل مې یو څه ووایم چې یودم زموږ یوه سرتېري ډزې وکړې. ما و ارنولډ په تلوار وروکتل. له دې سره سم نابېره د دوښمن افرادو پر موږ د ماشیندارانو خولې راخلاصې کړې... د ارنولډږغ مې واورېد چې ويې ویل: طاهره زه ولګېدم.
ما ورمنډه کړه چې ويې نيسم، خو هغه پر ځمکه ولوېد. چيغه مې کړه: برید وکړئ!
وروسته د ارنولډ څنګ ته کښېناستم. پر ګېډه لګېدلی وو. یوه لږ ژور کدې [1] ته مې کش کړ. ورو يې وویل: ما پرېږده او ورشه په خپل ماموریت پسې شه.
ومې ویل: ته تر مکس پفلونک ډېر راته مهم يې. هر څنګه چې کېږي باید له دې ځایه دې وباسم.
په زحمت يې وویل: زما کار خلاص دی، ته دې په خپل کار پسې ورځه.
سره له دې چې د دوښمن ډزې روانې او زما د ویشتل کېدو ډېر امکان وو، بیا مې هم زړه راغټ کړ، ارنولډ مې پر اوږه واخیست، له هغه کدې راووتم او په منډه د جبهې د شا خوا ته روان شوم... پر لارې زموږ له خپلو افرادو سره مخامخ شوم. دوو کسانو ارنولډ راځخه واخیست تر څو وروسته يې په موټر کې زموږ خپلې

(۱) کدی – دب، پراخ غار.

Download from: www.aghalibrary.com

روغتیایي ځانګې ته ورسوي.
طارق وېږوښتل: د پفلونک مړی دې وموند؟
ومې ویل: هغه ډېر عجیبه موجود دی، ان مړی یې هم تښتي!
الینور په خندا شوه او ویې ویل: دا هم نوموړې ته له منسوبو اوازو څخه یوه اوازه ده.
ومې ویل: ته یې تر موږ ښه پېژنې.
ویې ویل: ما ډېر کم ورسره لیدلي دي، یوازې دوه درې ځله.
طارق وویل: مخکې تر دې چې ناوخته شي، باید ځانونه د قاسم بن احمد قبیلې ته ورسوو.
الینور وویل: زه مو هلته بیایم.
طارق راته مخ کړ او ویې پوښتل: ډګروال خبروې چې موږ چیرې ځو؟
ومې ویل: مخابره کې به ورته ووایم.
الینور وویل: سرتېري مو اوس هم په جګړه اخته دي.
ومې ویل: زموږ او د هغوی وضعیت توپیر سره لري.
څنګ ته مې بریدمل ګیبسن ولاړ وو، هغه ته مې وویل چې مخابره کې پر ډګروال بږغ وکړي. څو شېبې وروسته له ډګروال لاکستر سره چې د قرارګاه په هغه بله خوا کې پر جګړه بوخت وو، رخ شوو. د ارنولډ په اړه مې ترې وپوښتل. ډګروال وویل چې د هغه حالت چندانې ښه نه دی. وروسته مو د خپل وضعیت په اړه مالومات ورکړل.
ویې ویل: یو څو سرتېري هم درسره بوزه. دغه راز مې ګیبسن ته هم ستا د ساتنې لارښوونه کړې ده.
ومې ویل: کله چې ارنولډ ولګېد او زه یې څنګ ته ولاړ وم، د ګیبسن درک لا نه وو.

Download from: www.aghalibrary.com

لاکستر وویل: ستا تېروتنه همدا وه چې په عملیاتو ورګډ شوې.
ومې ویل: هڅه کوم دا تېروتنه بیا تکرار نشي.
- یاد دې وي چې زموږ ترمنځ دوامداره اړیکې د بریالیتوب راز دی.
- اړیکې نه غوڅوم. بل مې دا درته ویل غوښتل چې زموږ لاربښوده الینور ده.
وروسته مې مخابره ګیبسن ته ورکړه او ورته ومې ویل چې له ډګروال سره د اړیکو ساتل ستا دنده ده.
ګیبسن وپوښتل: څو تنه راسره بیایو؟
ومې ویل: درې تنه بس دي. که مو نور په کار شول، له ډګروال څخه به یې مخابره کې وغواړو.
ګیبسن درې سرتېري رابېل او نور یې په جګړه کې د ښکېلو هغو مرستې ته ولېږل.
له الینور څخه مې وپوښتل: پر کومه خوا ځو؟
ویې ویل: د خرما د ونو د پای پر لور.
وخوځېدو... لا د ونو اخیر ته نه وو رسېدلي چې د څو کسانو د پښو ښکالو واورېدل شوه، سملاسي ودرېدو. طارق پر غوږ خوله راکښېښوده او ویې ویل: باید دوښمنان وي!
ومې ویل: ښایي.
او بیا مې ورو وویل: پر ځمکه پرېوزئ!
ټول پر ځمکه ځملاستو. ښکالو لا هم اورېدل کېده... چې ښه رانژدې شوه، ما نابیره لاسي څراغ پر ولګاوه، په لوړ اواز مې په فرانسوي ورته وویل: وسلې مو وغورځوئ!
هغوی درې تنه اجیر سپین پوستي سرتېري ول. ورسره ماشینداران یې د سرونو له پاسه ونیول او په وارخطایۍ او حیرانۍ یې سترګې راپکې وګنډلې. یودم یې یو کس پر ځان واکمن او د چالاکۍ کولو په هڅه کې شو. زموږ د په نښه کولو لپاره

Download from: www.aghalibrary.com

يې خورا چټک خپله وسله راکښته کړه، مګر ګيبسن وار لومړی کړ او درې واره يې په ګوليو سوري-سوري کړل... د هغوی درولو او وژلو يوازې يو څو لحظې وخت ونيو.

لاسي څراغ مې ګل کړ... الينور په اندېښمن انداز وويل:

- هغوی مو بايد نه وای وژلي.

ومې ويل: که مو داسې نه وای کړي، نو تا به د دغې خبرې فرصت هم نه وای موندلی.

ګيبسن په خندا وويل: اغلې الينور ته بايد کرار-کرار ځان له انسانوژنې سره روږدې کړې.

الينور په درد ورته وويل: هېڅکله نه غواړم دا کار وکړم.

ومې ويل: درځۍ چې ځو. پام مو وي ښايي له نورو ورته پېښو سره هم مخ شو.

وخوځېدو... سپېدو تازه د شپې د تيارو له ګرېوانه سر را ايستلی وو چې د قرارګاه پای ته ورسېدو. په هغه تته هوا کې مو پر يوه کوچنۍ دروازه سترګې ولګېدې. خو جالبه دا وه چې د هغې شا ته هېڅ کومه ودانۍ يا خونه نه ليدل کېده. ما چې پوښتنې ته خوله جوړوله، الينور په لاس اشاره ورته وکړه او ويې ويل:

- قبيلې ته د پټې لارې دروازه هغه ده.

طارق وويل: جرمنيان هم بلاوې دي.

له الينور څخه مې وپوښتل: د دغې پټې لارې اوږدوالی څومره دی؟

ويې ويل: شاوخوا پنځه متره.

هغې ترلې دروازې ته ور ورسېدو. چوکاټ يې چارچاپېر په پنډو سيميټي بيمونو کې ښخ وو، د شا خوا يې د بامبوټي غوندې بوک جوړښت درلود او له سيميټو جوړه وه.

طارق وويل: ما ته دا سمه نه ښکاري چې يوازې موږ اووه تنه پر دغه پټه لار تېر

Download from: www.aghalibrary.com

شو. ښه به دا وي چې له ډګروال سره وړغېږو او یو څو نور کسان هم راوغواړو.
ومې ویل: ما هم همدا سوچ کاوه.
وروسته مې الینور ته مخ کړ او ومې پوښتل: ولې دې وختي د دغې پټې لارې یادونه ونکړه؟
ویې ویل: لومړی مې غوښتل د ربګو د غونډۍ له څنګه مو تېر کړم، خو اوس چې هوا مخ پر روښانېدو ده، نو پر دغه پټه لار تګ مو په خیر دی.
ګیبسن ته مې وویل: له ډګروال سره تماس ونیسه.
الینور وویل: فکر نه کوم ډېرو کسانو ته دې اړتیا وي.
ومې ویل: په یوه تونل کې له دوښمن سره مخامخېدنه تر پرانیستې فضا ډېره خطرناکه ده.
له مخابرې څخه د ډګروال اواز واورېدل شو، ویې پوښتل: خیریت دی؟
له ټول حاله مې تکي په تکي خبر کړ... ډګروال وویل: زما نظر دا دی چې د قاسم بن احمد قبیلې ته له ورتګه ښخي تېر شه. الوتکې پر رارسېدو دي او د هوا له روښانېدو سره حالات یومخ بدلېږي. له بده مرغه نور کسان نشم درکولای.
ومې پوښتل: ارنولډ څنګه دی؟
ویې ویل: چنداني خوند یې نشته.
- موږ پر ورځو.
- بیا درته وایم چې راوګرځه، د تونل لار ډېره خطرناکه ده.
ومې ویل: زه دومره زغم نشم کولای.
ویې ویل: که پر یوه بله لار ولاړ شې، بهتره به وي.
- نه ما ته همدا پټه لار غوره ښکاري.
- ته نو لېونی یې.
- بله چاره نشته.

Download from: www.aghalibrary.com

- ژوندی نشي راتلای.
- زموږ د بل تماس په تمه اوسه.
مخابره مې بنده او بېرته ګيبسن ته ورکړه. وروسته مې ورته وويل چې درې واړه سرتېري پر دغه پټ تونل پيره کړي او ورته ووايي چې د دوښمن هر ورننوتونکی او ترې راوتونکی کس وولي.
په ځانګړې توګه د نيوزيلنډي سرتېرو په څېرو کې ځناورتوب او بېرحمي غورې وهلې. ګيبسن هغو درېيو سرتېرو ته تر اړينو لارښوونو کولو وروسته د هغوی خولې موږ ته راوپښلې. سرتېري د دروازې په شاوخوا پنځوس متری کې سره ځای پر ځای او څارو شول.
الينور د پټې لارې پر دروازه لاس کېښېښود، هغه بېرته شوه. ما تونل ته سر ورايسته کړ، وروسته مې وپوښتل: څو زينې کښته شوي دي؟
الينور وويل: سم مې نه يادېږي، فکر کوم لس زينې به وي.
دروازه مې وتړله او ومې ويل: د غونډۍ پر لار ځو.
الينور وويل: ولې دې نيت واوښت؟
پزه کې مې وخندل او ومې ويل: ولې د ډګروال خبرې دې نه واورېدې؟... نور کسان نشي راکولای، ځکه نو پر دغه لار زموږ تګ هم په خير نه دی.
ګيبسن وويل: زما هم همداسې خوښه ده. بل دا چې پر دې لار بلد هم نه يو. که يو پلا ورننوتو بيا نو ګواکې د دوښمن په لاس ورغلو او ډېر اسانه مو د مرګ تر کومې تېرولای شي.
الينور ته مې وويل: څه ته ګورې در روانېږه، زموږ لارښوده ته يې.
څلور سره روان شوو... دا مهال هوا يومخ روښانه شوې وه او لمرخاته ته چندانې وخت نه وو پاته.
زموږ لار د رېګو له يوې لويې غونډۍ تېرېده. له هر ګام سره مو پښې تر بيجلکو

Download from: www.aghalibrary.com

په رېگو ننوتې. طارق وويل: په غالب گومان مکس پفلونک وخته لا تر دښتې تېر شوی دی.
الینور وويل: زه هم ورو-ورو دې پايلې ته رسېږم چې پفلونک تښتېدلی دی.
ومې ويل: هر څنگه چې وي موږ د قاسم بن احمد قبيلې ته ورځو، هلته د هغه يو نفر پټ نيسو او دننی حال ځنې پوښتو.
پر غونډۍ لا نه وو راخرخېدلي چې د يوې درنې چاودنې ږغ پورته شو. درز دومره زورور وو چې تر پښو لاندې ځمکه او غونډۍ ټوله ولړزېده او رېگ په هوا شول. موږ هماغه شېبه پرمخې پروت وکړ. له پاسه رېگ راباندې راولوېدل. کله چې له رېگو راووتو، غونډۍ بله بڼه اخيستې وه.
الينور په ترهېدلي انداز وويل: له دې ځايه ژوندي ولاکه ووزو.
ومې ويل: که مو تونل اخيستی وای، په دې چاودنه کې به وخته لا له منځه تللي وای.
په حيرانتيا يې وويل: ياني ته وايې چې چاودنه په هغه تونل کې وشوه؟
ورو مې سر وښوراوه او ومې ويل: دوښمن په دې گومان چې موږ ورننوتلي يو، هغه ځای له منځه يووړ. حقيقت دا دی چې د تونل له چاودلو څخه د هغوی موخه زما له منځه وړنه وه.
درې واړه وازه خوله شول. گيبسن وپوښتل: هغوی څه پوهېدل چې موږ په تونل ننوتلي يو؟
پزه کې مې وخندل او ومې ويل: ډېر اسانه، زما و ډگروال مکالمه يې اورېدلې وه. زه پوهېدم چې هغوی به خامخا زموږ د مخابروي څپو د کشفولو هڅه وکړي، نو په ښکاره مې د ډگروال لارښوونه ونه منله او قصداً مې ورته وويل چې موږ د تونل لار اخلو.
طارق وويل: زما خو دې موضوع ته هډو پام نه وو. هېڅ مې دا په ذهن کې هم

Download from: www.aghalibrary.com

راونه ګرځېده چې ښايي دوښمن مو خبرې واوري. اوس نو بايد دا ومنو چې هغوی ښه پوره سمبال دي.
ومې ويل: ما هم يوازې حدس وواهه.
الينور وويل: داسې حدس چې يقين ته ډېر نژدې وو.
ګيبسن ته مې مخ کړ او ورته ومې ويل: که د مخابرې ګروپ ولګېد، څواب مه ورکوه. دوښمن بايد زموږ له ژوندي پاتېدنې خبر نشي.
الينور راته مخ کړ او ويې ويل: ته له شکه خلاص شيطان يې او همدا وجه ده چې تر اوسه ژوندی ګرځې!
يوه لنډه خندا مې وکړه او ومې ويل: زما د ژوندي پاتېدو وجه بل څه دي، هغه دا چې د عمر کاسه مې تر اوسه نه ده ډکه شوې.
بېرته روان شوو... لمر راختلی او هوا ښه پوره توده شوې وه. پر غونډۍ راتاو شوو. په شاوخوا پنځه سوه مترۍ کې مو د خرما د ونو يو لوی بڼ ليدل کېدی. هلته ګڼې کېږدۍ لګې وې.
الينور وويل: همدا د قاسم بن احمد قبيله ده.
ترې ومې پوښتل: د هغه پټ تونل خوله چېرې راوتلې ده؟
ويې ويل: د خرما د ونو د دغه بڼ په بر سر کې، له دې ځايه نه ښکاري.
طارق ته مې وويل: ته له الينور او زه له ګيبسن سره روانېږم. د خرما د ونو په لوړ سر کې به سره غواړو.
طارق وپوښتل: هلته څه کوې؟
ومې ويل: ته خپله ورته وګوره چې څه کيسه ده. هغه څو نفره چې وينې، زما په خيال له تونله راوتلي دي. زموږ د مړو د پيدا کولو لپاره ورننوتلي ول.
ګيبسن وويل: دا خو پنځه تنه دي!
ومې ويل: نو يو بل پلان ورته جوړوو.

Download from: www.aghalibrary.com

طارق وپوښتل: د بېلګې په توګه څنګه پلان؟

ومې ویل: مثلاً داسې یو پلان چې زه یې په یوازې ځان پلې کړم. تاسې پر خپلو ځانو، ما او هغو پنځو کسانو پام ساتئ. اوس مې خبرو ته ښه په غور غوږ ونیسئ....

هغه نقشه چې ډېره چټکه مې له ځان سره کښلې وه، ورته تشریح کړه....

الینور وویل: زړه ته مې نه لوېږي چې بریالی دې شې.

ومې ویل: ازمایم یې چې څه کېږي. دغه راز که زه ووژل شوم، تاسې باید سملاسي له ډګروال سره اړیکه ونیسئ، کیسه ورته وکړئ او له دې ځایه پښې سپکې کړئ.

طارق وویل: که ته ووژل شوې، موږ قبیلې ته ورځو او تر وروستۍ ګولۍ ورسره جنګېږو، خو تښتو نه.

ومې ویل: باید ژمنه راسره وکړئ چې داسې بېعقلي به نه کوئ.

طارق په کرکجن انداز وویل: سهي ده ژمنه ده.

ګیسبن وویل: خو زه عسکر یم او باید وجنګېږم.

ومې ویل: تر ما وروسته ستاسې مشر طارق دی او باید هر امر یې ومنئ. اوس د نقشې د عملي کېدو وخت دی. زما له روانېدو سره سم تاسې د غونډۍ په لمنه کې خزه کېږئ او هغه پنځه کسان تر څار لاندې نیسئ.

وخوځېدم... هوا زښته زیاته توده وه. له سر و مخه مې خولې روانې وې او کمیس مې لوند خیشت وو. سور اور بادېد. د غونډۍ په لمنه کې مې د هغې شمالي خوا ته ځان ورساوه. هلته مې یو څل تر شا وکتل، ملګري مې ولیدل چې پر ټاکلو ځایونو سره ځای پر ځای شوي ول.

د خرما ونې تر غونډۍ لاندې وې. سر ته یې وروختم. هغه پنځه تنه چې ټول قبیلوي خلک ول، لا هماغسې د پټ تونل په خوله کې تر یوې سوروړې ونې

Download from: www.aghalibrary.com

لاندې دمه ول. زه په داسې يوه ځای کې وم چې هم هغوی او هم خپلو ملګرو لېدلای شوای.

له غونډۍ څخه چې مخ پر کښته راروان شوم، طارق مې ولید چې د خپل ماشيندار خوله يې زما خوا ته ونيوله او ډزې يې راباندې وکړې. دا د نقشې دويمه برخه وه. د ډزو د ږغ له اوچتېدو سره سم مې ځان د يوه ويشتل شوي کس په شان وغورځاوه. له غونډۍ څخه د راګېلېدو پر مهال مې هغه پنځه کسان وليدل چې ما ته يې راوکتل. زه پر رېګو د غونډۍ تر لمنې پورې ولغړېدم.

دوو نفرو يې رامنډه کړه چې لګېدلی سړی وپېژني. دغه راز بايد ووايم چې د لوېدو پر مهال مې په لوی لاس خپل ماشيندار له ځانه لرې لېرې وغورځاوه. دا شېبه ستونې ستخ او داسې پروت وم چې هغوی مې ليدلای شول. هغه دوه عربان د غونډۍ لمنې ته راپورته شول. همدا چې ما ته راورسېدل، ډېر چټک مې توپنچه پر راوايسته، د دوی خوا ته مې ونيوله او په فرانسوي مې ورته وويل: که مو ښور وخوړ، دواړه وژنم!

د هغوی سترګې رډې-رډې راوختلې او حيران-دريان شول. مالومېده چې په فرانسوي يې سر نه خلاصېږي، مګر زما په لاس کې توپنچې وپوهول چې په بده لومه کې نښتي دي... د دواړو توپکان په غاړه او درې کتاره مرمۍ يې وهلې وې.

په احتياط له رېګو څخه راولاړ شوم او د لاس په اشاره مې وپوهول چې روان شي. همدغه شېبه طارق او ګيبسن د پټ تونل په خوله کې ناست درې کسان تر اور لاندې ونيول. راسره دوه يرغمل مې سيده خپلو ملګرو ته بوتلل.

ګيبسن ته مې وويل: وسلې ځنې واخله!

ګيبسن هم خورا تکړه عسکر وو، د سترګو په رپ کې يې د هغوی د توپکانو ځرمين بندونه غوڅ کړل او ويې ويل:

- توپکان يې جرمني دي!

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: د مرمیو کتارونه او په ملا پورې تړلي خنجرونه دې یې هېر نشي.
دواړه عربان چې د نیول کېدو له شېبې یې پر خولو د چوپتیا کولپونه ځړېدل، مجسمو غوندې پر خپلو ځایونو مېخ ولاړ ول. په لمروهلو تورو څېرو کې یې کرکې او غوسې غورې وهلې، په تېره له سترګو خو یې بیا اورونه بادېدل.
طارق ته مې وویل: له خپلې ژبې پرته یې بله ژبه نه ده زده. ته ځنې وپوښته چې ډګروال بوروسکي او قاسم بن احمد چیرې پټ شوي دي؟
طارق په عربي پوښتنې ترې وکړې... لږ په عمر پوخ کس یې پر خبرو راغی او ځوابونه یې ورکړل.
ومې پوښتل: څه وایي؟
طارق وویل: دی وایي چې په ډګروال بوروسکي حال نه لري، مګر قاسم بن احمد تېره شپه د ډزو د ږغونو له اورېدو سره قبیلې ته راستون شوی او همدلته کوم ځای پټ دی.
ومې ویل: د قبیلو د افرادو او وسلو د شمېر په اړه سوال ځنې وکړه.
طارق بیا په عربي ورسره وګړېد... وروسته یې ما ته مخ کړ او ویې ویل: دوی وایي قاسم بن احمد پرېکړه کړې چې که زموږ ځواکونه پر قبیله برید وکړي، نو ورسره وبه جنګېږي. دغه راز وایي چې د نفرو شمېر شاوخوا پنځه سوه تنه دی.
طارق ته مې وویل: ځنې وپوښته چې ایا ډاډه دي چې ډګروال بوروسکي په قبیله کې نشته؟
هغوی د طارق په ځواب کې وویل چې د ډګروال بوروسکي د پټنځای په اړه هېڅ مالومات نه لري. یوازې دومره خبر دي چې قاسم بن احمد او زامن یې د جنګېدو پلان لري.
هغوی مو وګواښل چې که رښتیا ونه وایي وبه یې وژنو.. طارق یې د خبرو ژباړه داسې وکړه: موږ تول رښتیا رښتیا ویلي او دغه راز له وژلو هم نه ډارېږو.

Download from: www.aghalibrary.com

الينور راته مخ کړ او ويې ويل: زما کيسه مخ پر خرابېدو ده، نور د دغه اهاړ تاب نشم راوړلای.

ومې ويل: بېرته قرارګاه ته ستنېږو او دا دوه کسان هم راسره بيايو.

هغوی دوه مو مخکې او موږ تر شا ورپسې شوو. هوا تر وروستي بريده توده او سوځوونکې وه. د درنو او سپکو وسلو پرله پسې ږغونو د يوې خونړۍ جګړې د دوام خبرداری ورکاوه. د سهار شاوخوا اته نيمې بجې وې چې له ترېپولي څخه زموږ د را الوتو جنګي الوتکو غوړمبا مو د خپلو سرونو له پاسه واورېده. د الوتکو د ليدلو په نيت مې لوړ وکتل، خو د لمر سوځوونکي تودوخې مې سترګې سختې رانارامه کړې.

طارق وويل: دوښمن له تسليمۍ پرته بله لار نه لري.

ومې ويل: د لومړي بم له لوېدو سره سم به وسلې پر ځمکه کښېږدي.

په دې کې هېڅ شک نه وو چې د جنګي الوتکو راتګ د دوښمن خانه ورخرابوله او لار و ګودر يې ترې ورکول.

پر لارې ګيبسن راته وويل: که مې د دغو عربو د هغو درېيو ملګرو په ويشتلو کې يوه شېبه ځنډ هم کولای، نو ستا کار يې در کړوپاوه.

ومې ويل: زما هم ټوله هيله تا او طارق ته وه.

ګيبسن وويل: کله چې مې په دوربين کې ورته وکتل، دوی د خپلو ټوپکونو خولې ستا خوا ته سيخې کړې وې، نو ما هم بله ونکړه او لومړنی کس مې يې د دوربين په منځ کې راوست او ماشه مې پر کش کړه. طارق هم بېله ځنډه د ماشيندار خوله پر ورخلاصه کړه او ته له حتمي مرګه وژغورل شوې.

ومې ويل: ستا او طارق څخه مننه!

الينور چې تودوخې تقريباً له پښو غورځولې او ان خبرې يې لا له وسه نه کېدې، وويل: ستا برياليتوب مې هېڅ زړه ته نه لوېد.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې وخندل او ومې ویل: چې رښتیا شي زه خپله هم ډېر هیله من نه وم.
د غونډۍ پای ته له رسېدو سره سم د څو بمونو د لوېدو درانه اوازونه پورته شول.
گیبسن وویل: ژر باید ځانونه یوه خوندي ځای ته ورسوو، کنه الوتکې مو ولي.
ومې ویل: د خرما ونې رانژدې شوي دي، هلته چې ورسېدو له ډگروال لاکستر سره به تماس ونیسو.
الینور وویل: زما نور کار خلاص دی پر پښو نشم تلای. یو غم مې وخورئ.
پر اوږه مې لاس ورکښېښود او ورته ومې ویل: له دې څخه څرگندېږي چې او.اس.اس سازمان ستا په ټاکنه کې غټه تېروتنه کړې ده. دلته یې باید په هېڅ وجه داسې مامور نه رالېږلای چې له تودوخې سره روږدی نه وي.
ویې ویل: موږ یې اصلاً پاریس ته استولو!
ومې خندل او ومې ویل: خو ناڅاپه په شمالي افریقا کې راولوېدې!
ځان یې پر اوږه راځوړند کړ او ویې ویل: او له هماغې شپې د بدمرغیو راته مخه شوه.
ومې ویل: خو ډېر دوام یې ونکړ.
- البته که د خپل تېر جبران وکړای شم.
- بېشکه به یې جبران کړې.
پر غونډۍ ور تاو شوو او د خرما د ونو پر لوري وخوځېدو... هغه ځای ته ورسېدو چې هغه درې سرتېري مو پکې کښېنولي ول. طارق راته کړل: د تونل خولې ته گوره، هېڅ نښه یې نشته.
وروم کتل. هغه ځای د تونل دننه چاودنې پر بل مخ اړولی وو. له سرتېرو څخه مو وپوښتل چې کوم څوک خو به یې په سترگه شوی نه وي... یوه یې وویل: نه، یوازې مو چاودنه ولیده.
ورته ومې ویل چې پر هغو دوو عربانو پام وساتي... د خرما ونو ته له رسېدو سره

Download from: www.aghalibrary.com

سم الینور پر څمکه پرېوته. بڼه يې الوتې وه. ګیبسن د ورسره کوزې اوبه پر مخ وروشیندلې او ویې ویل: څو دقیقې وروسته بېرته سمېږي.
له ګیبسنه مې مخابره واخیسته او له ډګروال لاکستر سره د اړیکې نیولو هڅه مې پیل کړه... زموږ د مخابراتو ځانګې چلوونکي راته وویل چې ډګروال لاکستر ته نبغ لاسرسی نه لري، خو کولای شي پیغام مې ور ورسوي.
ورته ومې ویل چې ډګروال ته ووایي موږ ټول روغ و جوړ یو او بل دا چې قاسم بن احمد جګړې ته چمتو دی.
د مخابراتو چلوونکي وویل: الوتکو ته د قبیلې د شاوخوا بمبارولو امر شوی دی.
- د لومړنیو بمونو د چاودلو ږغ مې واورېد.
- تاسې چیرې یاست؟
- د خرما د ونو په شمال ختیځه څنډه کې. هڅه کوو د قرارګاه لوېدیځ ته ځانونه ورسوو.
ویې ویل: یو ګړی وروسته بیا راسره په تماس کې شئ، ښایي ډګروال کوم پیغام درته ولري.
ومې ویل: لس دقیقې وروسته درسره په اړیکه کې کېږم.
مخابره مې بنده کړه، بېرته مې ګیبسن ته ورکړه او ومې ویل: درځئ!
طارق وویل: ما ته همدا ځای خوندي ښکاري.
ومې ویل: هره شیبه ممکن د جګړې اور دلته راورسېږي. نو مخکې تر دې چې ناوخته شي باید ځانونه د قرارګاه لوېدیځ ته ورسوو.
الینور وویل: زه د تګ نه یم، تاسې ورځئ ما همدلته پرېږدئ.
لمروهلې څېرې ته یې ځیر شوم او ورته ومې ویل: که غواړې ژوندی پاته شې نو باید راسره ولاړه شې. طارق به مرسته درسره وکړي.
طارق د الینور تر تخرګ لاس ور لاندې کړ او له ځمکې یې راولاړه کړه.

Download from: www.aghalibrary.com

روان شوو... د قرارګاه لوېديځ ته تللې لنډه لار د خرما د ونو په منځ کې تېره شوې وه. لږ چې ولاړو طارق الينور په شا کړه.

د جګړې له ډګره-د قرارګاه له سهېل ختيځې غاړې-ډېر ليرې وو. د ماشينداړانو، توپونو او بمونو له پرله پسې ږغونو ښکارېده چې دواړې خواوې خورا تېنګې سره اخته دي.

بمباري ډېرې اغېزناکې وې. د قاسم بن احمد د قبيلې چارچاپېر او د دوښمن د مورچو شا ته بمونه غورځول يوازې د غليم د روحيې کمزوره کولو يو مانور وو. په اسمان کې د الوتکو کش و پش دوښمن ته ويل چې له تسليمۍ پرته بله چاره نه لري او له لاندنيو دوو لارو څخه بايد يوه انتخاب کړي:

ډله ييزه وژنه يا ژغورنه او د ژوند بياپيلونه!

څو دقيقې وروسته ډګروال راسره په تماس کې شو... ګيبسن مخابره ما ته راکړه.

څنې ومې پوښتل: زما پيغام در ورسېد؟

ويې ويل: هو. اوس پر کوم حال ياست؟

زموږ له وضعيته مې خبر کړ او ورته ومې ويل چې ټول جوړ و روغ يو. ډګروال وويل: ستا تر پيغام وړاندې مې ته او درسره ټول کسان مړه بللي واست، ځکه څو واره مې ږغ درباندې وکړ، خو هېڅ ځواب مې وانورېد.

ومې ويل: هغه وخت بايد غلي پاته شوي واى.

وروسته مې ترې وپوښتل: ستاسې وضعيت څنګه دى؟

ويې ويل: دوښمن ته درنه مرګ ژوبله اوښتې او پر شا روان دى.

ومې ويل: قاسم بن احمد په خپله قبيله کې سنګر نيولى او جګړه کول غواړي.

ويې ويل: غواړم همالته په خپل سنګر کې يې ښخ کړم. رښتيا د مکس مړى دې وموند؟

- هغه په غالب ګومان تښتېدلى دى.

Download from: www.aghalibrary.com

- زما په خيال بايد قبيله کې وي.

- فکر نه کوم.

- خير اخير به يې پيدا کړو.

ومې پوښتل: ارنولډ څنګه دی؟

لاکسټر څو شېبې غلی شو. وروسته يې په اغېزمن انداز وويل:

- هغه مو له بده مرغه ونشوای ژغورلای.

د دې خبر په اورېدو سخت خواشينی شوم. ومې ويل: ډېره ستره ضايعه ده.

- بس نو سرې څه وکړي.

- هېڅ، بايد د ملګرو بېلتون ته ځان ټينګ کړو.

- د قرارګاه لوېديځ ته چې ورسېدې يو ږغ راباندې وکړه.

له دې سره له کربښې ووت... طارق وويل: ارنولډ خورا زړور افسر وو!

ګيبسن په داسې حال کې چې پر اننګو يې اوښکې رغړېدې، وويل: ډېر-ډېر د افسوس ځای دی!

الينور وويل: ژر يا وروسته به موږ هم ورسره يوځای شو.

طارق په خندا وويل: الينور چنداني پر سُر نه ده برابره.

الينور وويل: د جګړې ډګر ته ډېر ور لنډ يو، دا بايد ومنو چې هره شېبه ښايي د غليم يوه مرمۍ دې خوا راغلطه شي.

په غوسه مې ورته وويل: په دې صورت کې به نو تر ټولو مخکې ته وژل کېږې.

غلې شوه... په هماغه لهجه مې زياته کړه: درځه!

وخوځېدو... زه او ګيبسن د ټولو تر شا روان وو.

د پفلونک ټښتېدو او د هغه د نيولو د پلان ناکامۍ سخت ځورولم. هېڅ مې سر نه خلاصېد چې کومې خوا ته پل پسې واخلم. نوموړی د جرمنيانو يو ډېر پياوړی او باتجربه څارګر وو. په خپل مسلک کې يې ساری نه درلود. سره له دې چې زښت

Download from: www.aghalibrary.com

احتیاطکاره او لیرې لیدونکی وو، بیا هم د خپلې ادارې د نقشې په پلې کولو کې تېروتنه ځنې شوې وه او د بلې دغسې اشتباه د نه کولو له امله تبنتېدلی وو، ځکه قرارگاه کې پاتېدنه یې له شکه خلاصه یوه غټه غلطي وه.

د مکس موقعیت او له قاسم بن احمد سره یې اړیکو ته په کتلو سره دې پایلې ته ورسېدم چې نوموړي د خطر د زنګ او له کېږدیو سره د ولاړ کس د چیغې له اورېدو سره سم په غالب گومان ځان په منډه د هغه پټ تونل له لارې قبیلې ته رسولی او له هغه ځایه د خپلو باوري یارانو په مرسته تښتېدلی دی.

یو بل حدس چې لږ کمزوره برېښېږي، دا وو چې ښایي نوموړی اوس هم په قبیله کې پټ وي تر څو د متحدینو پر وړاندې خپل پوځ رهبري کړای شي.

دا انگېرنه ځکه کمزوره راته ایسېده چې هغه پوهېدی که همالته پاته شي، نو اخیر به یا نیول کېږي او یا هم وژل کېږي.

دا گړی تر ټولو مهمه پوښتنه دا وه چې مکس له هغه ځایه تر تښتېدو وروسته چېرې تللی او څه به وکړي؟ ایا د افریقا په شمال کې به پاته شي، بېرته به جرمني ته ستون شي او که به د خپلې دغې ماتې د جبران لپاره د بل گوزار تابیا ونیسي.

زما لپاره هلته پاتېدنه او زموږ د سرتېرو د جگړه ییز بهیر څارنه بې گټې وه. باید بېرته خپلې اصلي دندې ته چې د پفلونک وژنه وه، ستنېدای. د ښکار تېښته زما لپاره څه نوې پېښه نه وه، وړاندې هم ورسره مخ شوی وم. یو وخت د ایران په سهېل کې د همدغسې یوه ماموریت پر مهال فن شلینگر له گوتو راڅخه ووت.

د خرما ونو پای ته ورسېدو. د جگړې له کربښې سره مو ښه پوره ډېر واټن درلود. طارق الینور له شا راکښته او پر ځمکه کښېنوله. گیبسن په ځانگړې خوښۍ وویل: هلته وگورئ د اوبو څاه ده!

وروسته یې هغې خوا ته ورمنډه کړه. سلواغه یې څاه ته ورواچوله، ډکه یې راوایسته او پر سر یې چپه کړه. په داسې حال کې چې پر سر و مخ یې لاسونه

Download from: www.aghalibrary.com

تېږول، ويې ويل:

- ولې گورئ، راشئ پر ځانونو اوبه واچوئ هسې نه جل مو ووهي. سختې يخې اوبه دي.

ټولو پر ځان يوه يوه له يخو اوبو ډکه سلواغه واچوله. له راسره دوو عربانو څخه يې يوه وويل: نورې ځاگانې هم شته چې بربېښنايي ماشينونه پر پراته دي.

کله چې مې بدن لږ يخ او راپرخود شوم، طارق ته مې وويل: له دغو عربانو وپوښته چې د قبيلې سلاکوټ چيرې دی؟

يوه يې په ځواب کې وويل چې وسلې او مهمات په تر ځمکه لاندې نغمونو (۱) کې ځای پر ځای شوي دي. دغه راز يې هغه سيمه هم راوښوده. له گيبسن څخه مې مخابره واخيسته او پر ډگروال لاکستر مې ږغ وکړ... د ځان له خوا تر ډاډ ورکولو وروسته مې د سلاکوټ موقعيت وروښود. لاکستر وخندل او ويې ويل: څو دقيقې مخکې مو پيدا کړ.

ومې پوښتل: حالات څنگه دي؟

ويې ويل: دوښمن پر شا روان دی او پر مورچو او د قبيلې پر شاوخوا لا هم بمباري روانه ده. ډېر ژر به وسلې کښېږدي.

ومې پوښتل: زه کله بېرته بن غازي ته د تلو اجازه لرم؟

ويې ويل: تگ دې اړين دی؟

ومې ويل: حالاتو ته په کتو داسې ښکاري چې له لومې غورځېدلی ښکار بايد همالته ولټوم.

- په دې هکله خواشينی يم.

- زه تر تا لا زيات خواشينی يم.

---

(۱) نغمونه ــ سوړې، غارونه.

Download from: www.aghalibrary.com

- ماښام مهال چې هوا لږ سړه شي، ولاړ شه.
- همدا راسره ملګري کسان هم بیایم.
لاکسټر وویل: که د ورځې تر پایه دوښمن تسلیم شو، یو څو نور کسان به هم درکړم.
ومې پوښتل: ستا په خیال تر لمرلوېدو مخکې به تسلیم شي؟
ویې ویل: که نه غواړي چې تر دې زیاته مرګ ژوبله ورواوړي، نو باید وسله کښېږدي. په هر صورت، ماته یې حتمي ده. لږ وروسته د جګړې د ژر پای ته رسولو لپاره یو ځل بیا خبرداری ورکوم که تسلیم نشول، بیا نو اړ یم بل کار ته لاس ورواچوم. بیا نو باید نور زموږ د الوتکو بمونه هم بېځایه ولاړ نشي.
- همدااوس همدا کار وکړه.
- د اوس لپاره لا دې ته اړتیا نشته چې الوتکې په جګړه راګډې کړم.
- زموږ د مرګ ژوبلې شمېر خو به لوړ نه وي؟
ویې ویل: دقیقي شمېرې نه لرم، مګر دومره خبر یم چې د دوښمن تلفات ډېر زیات دي. زما په اند ستاسې لپاره همدا اوسنی ځای خوندي دی. همالته اوسئ.
ومې ویل: همداسې ده. فکر کوم یو څه ارام به هم وکړای شو.
- وروسته بیا هم تماس درسره نیسم.
- موږ ټول د جګړې د پای ته رسېدو خبر ته په تمه یو.
له ډګروال سره تر خبرو غوڅولو وروسته د خرما تر یوې سوروړې ونې لاندې وغځېدم او طارق ته مې وویل چې پر شاوخوا پام وساتي....
ګیبسن یوه ډکه سلواغه اوبه راوړې، راباندې ویې شیندلې او په موسکا یې وویل: اوس به ښه ارام خوب درشي.
الینور هم لږ ها خوا ته پرېوته. له دوو عربانو څخه یوه طارق ته مخ کړ او یو څه یې ورته وویل....

Download from: www.aghalibrary.com

له طارقه مې وپوښتل: څه وايي؟

ويې ويل: پر ځمکه د کښېناستو اجازه غواړي.

ومې ويل: ورته اجازه ده. هغو درېيو سرتېرو ته ووايه چې پام پر کوي.

ورو-ورو مې سترګې درنې شوې، سر مې نرى-نرى درد کاوه. سخت ستړى وم. د دې لپاره چې راروانه شپه په سم ډول ويښه تېره کړاى شم، يو ساعت دوه بايد ويده شوى واى.

● ● ●

الوتکو ته امر وشو چې له ځيرتيا کار واخلي او بې هدفه بمونه ونه غورځوي. دې لارښوونې د جګړې حالت يومخ واړاوه.

د ماپښين شاوخوا څلور بجې وې چې الوتکې په پوره او اغېزناک ډول جنګ ته راګډې شوې. له ټيټې ارتفاع څخه د دوښمن د مورچو بمبار او د ګوليو باران اجير سپين پوستي سرتېري او قبيلوي جګړه مار پر چيغو او واويلاوو راوستل. مرګ ژوبله يې څو برابره لوړه شوه. د ډګروال لاکسټر په امر د قاسم بن احمد پر قبيله هم بمبار پيل شو.

پر څلورنيمې بجې د دوښمن ځواکونه له قرارګاه څخه پر شا شول او د جګړې لوړې کرښه د قبيلې او قرارګاه ترمنځ پرتې سيمې ته وځکېده. له پاسه بمبار او له کښته د ځمکنيو ځواکونو مرګوني بريدونه روان ول.

د مازيګر نژدې پنځه بجې وې چې ډګروال لاکسټر په مخابره کې بړغ راباندې وکړ او د يوه لنډ پيغام په ترڅ کې يې راته وويل چې مخالفينو سپين بيرغ ورپاوه او تسليم شول. څو دقيقې وروسته بيا راسره په تماس کې شو او ويې ويل چې قاسم بن احمد او زامن يې نيولي دي.

ورته ومې ويل: همالته راته منتظر اوسه زه درځم.

Download from: www.aghalibrary.com

ویې ویل: له قاسم بن احمد څخه مې لومړنۍ پوښتنه د مکس پفلونک په اړه وه. ستا انګېرنه بېخي پر ځای وه. ډګروال بوروسکي یا زموږ تاسې مکس پفلونک هماغه تېره شپه یوه ناڅرګند ځای ته غورځېدلی دی.

ومې ویل: زه بیا هم غواړم له قاسم بن احمد سره همالته د نیول کېدو په ځای کې ووینم.

- ډېر ښه، درته سترګې پر لار یم.

- څو دقیقې وروسته در روانېږم.

مخابره مې ګیبسن ته ورکړه او ومې ویل: تاسې واورېدل چې قاسم بن احمد نیول شوی او جګړه پای ته رسېدلې ده.

الینور وویل: نن زما د ژوند تر ټولو بده ورځ وه.

طارق ته مې وویل: تاسې همدلته اوسئ زه بېرته راځم.

د خرما له ونو څخه په منډه راووتم... د کارډیف موټر یو څه لیرې ولاړ وو. په چټکۍ ورغلم، پکې کښېناستم او مخ پر قبیله مې وسغاوه....

د قرارګاه ودانۍ بمباریو او توپونو په کنډوالو بدلې کړې وې او څمکه مړو پر سر اخیستې وه.

قبیلې ته ورغلې لار د قرارګاه په سهېل ختیځه غاړه کې پرته وه. هلته چې ور ورسېدم ډګروال لاکستر مې د یوې کیږدۍ مخې ته ولاړ ولید. ترې ومې پوښتل: له قاسم بن احمده دې نور مالومات هم واخیستل؟

ویې ویل: له هغه څخه مې د پوره تحقیق وخت نه درلود.

ومې ویل: بله لویه ستونزه دا ده چې نوموړی له عربي پرته په بله ژبې ګړېدای نشي.

ډګروال وویل: د یوې یا دوو پوښتنو د ژباړې مرسته درسره کولای شم.

لږ فکر مې وکړ او وروسته مې وویل: له قاسم بن احمد څخه پوښتنه نه لرم.

Download from: www.aghalibrary.com

ډګروال حیران شو او ویې ویل: تا خو د همدې لپاره دلته دومره په تلوار ځان راورساوه اوس بیا څه وشول؟

- همداسې ده، مګر دلته دې پایلې ته ورسېدم چې له هغه ځخه پوښتنې ګټه نه کوي.

- نو بیا باید له هماغې لارې په مکس پسې پل واخلې چې تا خپله سنجولې ده.

موسکی شوم او ومې ویل: یوازې له هماغې لارې خپلې موخې ته رسېدای شم.

ډګروال په موسکا وویل: هیله ده همداسې وي.

ومې ویل: اوس د دې وخت رارسېدلی چې د دې ځای چارې سمبال کړې.

لاکسټر وویل: دا کار تورن کارډیف ته ورسپارم او زه ستا سره بېرته بن غازي ته ځم چې لندن ته د عملیاتو ګزارش ولېږم.

ومې ویل: فکر کوم سر له همدې شېبې روانېدای شو، ځکه هوا هم مخ پر سړېدو ده.

تر یوې لنډې چوپتیا وروسته مې وپوښتل: قاسم بن احمد څه په کوې؟

- دا پرېکړه باید لندن وکړي.

- له جرمني جاسوسانو ځخه ځوک نه دی نیول شوی؟

لاکسټر وویل: ډېره ښه پوښتنه وه. له اجیرو سپین پوستو سرتېرو او قبیلوي وګړو پرته بل هېڅوک هم نه وو. مالومه ده چې له مکس سره تښتېدلي دي.

ومې ویل: دا هم کېدای شي چې په قبایلي وګړو کې یې ځانونه پټ کړي وي.

ډګروال وویل: زړه ته مې نه لوېږي. بیا مې هم تورن کارډیف ته لارښوونه کړې چې هره کیږدۍ ښېله-ښېله تلاښي کړي. ان دا مې هم ورته وویل چې ښايي جرمني څارګرو د قبایلو جامې اغوستې وي.

ومې ویل: ما هم همدا خبره کول غوښتل، ښايي ښه یې اړولې وي.

- کارډیف په دې کارونو کې خورا پالوان دی.

Download from: www.aghalibrary.com

- نو زه بېرته طارق ته ورستنېږم.
ډګروال وویل: همالته راته منتظر شه. هغه دوه عربان هم د سرتېرو تر څارنه لاندې دلته راولېږه.
ومې ویل: د نیول شوي سلاکوټ غم هم باید وخوړل شي.
ډګروال وویل: داسې غم به یې وخورم چې ان یو توپک به هم دلته راڅخه پاته نشي.
- د قاسم بن احمد قبیله باید تر ناڅرګند وخته بې وسلې شي.
- هو، لږ تر لږه د جګړې تر پایه پورې.
موټر مې بېرته مخ د خرما د ونو پر خوا راخوشې کړ. هلته مې ګیبسن ته وویل چې هغه دوه عربان قبیلې ته واستوي.
نوموړي هغه دواړه د درېیو وسلوالو سرتېرو په بدرګه موټر کې قبیلې ته ولېږل.
الینور راڅخه وپوښتل: تر څه وخته همدلته یو؟
ومې ویل: د ډګروال لاکسټر تر راتګه.
طارق وپوښتل: لاکسټر هم راسره ځي؟
ومې ویل: هو، د وسلوالو ځواکونو مشري تورن کارډیف ته سپارل کېږي.
الینور وپوښتل: له جرمني څارګرو څخه څوک نه دی نیول شوی؟
ومې ویل: تر اوسه نه، خو کارډیف د خپمو په تلاښی اخته دی. په غالب ګومان مکس د خپلې شبکې له غړو سره یوځای تښتېدلی او هېڅ ډول نښه یې هم تر شا نه ده پرې ایښې.
ویې ویل: مکس د جرمني د ډېرو ځیرکو جاسوسانو څخه دی. وژل یا نیول یې دومره هم ساده نه دي لکه موږ چې فکر کوو. مګر یوه معجزه وشي.
یوه سپکه موسکا مې وکړه او ومې ویل: دا معجزه ډېر ژر پېښېدونکې ده.
الینور په خندا وویل: ډېر ډاډمن ږغېږې، خامخا یو شی شته.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: یو شی خو خود شته.
- مثلاً؟
- بن غازي ته چې ورسېدو، وبه یې وینې.
طارق وویل: زما په خیال طاهر د مکس د نیولو یوه نوې نقشه جوړه کړې ده.
ومې ویل: همداسې ده. په بن غازي کې به مو د دې نوې نقشې په الفبې وپوهوم.
د خرما له ونو څخه لږ ها پلو یوې چادري خونې ته ننوتو چې یو څه غاړې تازه کړو....
تباره خپره شوې وه چې ډگروال لاکستر راپیدا شو. څو دقیقې وروسته مو مخ پر بن غازي ور هڅ کړل. یو په شلو تنو وسلوالو سرتېرو بار ترک هم راپسې شو.
له قرارگاه څخه چې لږ لیرې شوو، ډگروال د بن غازي له پوځي چونۍ سره مخابروي اړیکه ټینگه کړه او خپل مرستیال جگړن شیفیلډ ته یې زموږ د حرکت خبر ورکړ. هغه وویل: لندن ستاسې راپور ته سترگې پر لار دی.
ډگروال ورته وویل: لندن ته ووایه چې د دوښمن او قاسم بن احمد د قبیلې پر وړاندې مو عملیات په بریالیتوب سره پای ته ورسېدل.
وروسته یې وپوښتل: بن غازي کې حالات څنگه دي؟
شیفیلډ وویل: ښېخې خیر و خیریت دی.
ډگروال ورته وویل: د بن غازي ښار واټونه او شاوخوا لږ ډېرې څارنې ته اړتیا لري. ممکن مکس پفلونک او ملگري یې هلته یا یوه بل ساحلي ښار ته تښتېدلي وي. د ساحلي ښارونو ټولو پوځي مرکزونو ته د تیارسۍ او بیدارۍ امر وکړه. پر هر چا چې شکمن شول، سملاسې دې یې ونیسي او که یې مقاومت کاوه ودې یې ولي.
زه بیا هم درسره په اړیکه کې کېږم.
د مخابرې له بندولو سره سم الینور وویل: مکس ښایي اروپا ته تښتېدلی وي.
ومې ویل: هغه د تباهکارانو د پاچا فن پاپن د ښوونځي زدکوونکی دی. ښېشکه به

Download from: www.aghalibrary.com

د غچ اخیستنې لپاره لستوني رابډ وهي.
ډگروال راته کړل: د مکس څارنه او د هغه د ورانوونکو پلانونو موندنه پر تا ده.
تر یوې لنډې خندا وروسته مې وویل: هغه هم په ما پسې دی.
الینور وویل: نو ستا و د مکس سیالي به هم ډېره په زړه پورې وي.
نومورې مې اړخ ته ناسته وه، پر اوږه مې وټپوله او ورته ومې ویل: همداسې ده گرانې ترودي جانې!
ویې ویل: ترودي زما مستعار نوم وو، ما ته یوازې په الینور وایه.
ومې ویل: ترودي زما لپاره ډېر په زړه پورې دی، ځکه په لومړۍ لیدنه کې دې ځان په همدې نامه راوپېژاند.
ویې ویل: بس چې خوښه دې وي.
د شپې پر نژدې اته بجې د دوښمن له نیول شوې قرارگاه څخه رابهر شوو. که پر لارې کومه ناڅاپي بده پېښه نه راته کېدای، نو باید نیمه شپه مهال بن غازي ته رسېدلای.
پر څه باندې یوولس بجې جگړن شیفیلډ یو ټکان ورکوونکی خبر راکړ. نومورې وویل چې پر تریپولي بندر زموږ یوه ولاړه جنگي بېړۍ کې زوروره چاودنه شوې ده. همدغه بېړۍ ډوبه شوې او یوې بلې ته درانه زیانونه اوښتي دي.
دې خبر د ځو شېبو لپاره ټول وارخطا او حیران-دریان کړو. مکس ډېر ژر لاس په کار شوی او په خپل فکر یې موږ ته یوه ډېره لویه ضربه راکړې وه. هغه له دې لارې غوښتل غچ واخلي.
ډگروال له شیفیلډ څخه وپوښتل: د تریپولي پوځي چونۍ په دې اړه کوم بل خبر نه دی درکړی؟ په دې مانا چې پر کوم چا شکمن شوي یا یې یو څوک نیولی نه دی؟
شیفیلډ وویل: د پېښې بشپړ راپور لا نه دی رارسېدلی. تر اوسه پر چا شکمن

Download from: www.aghalibrary.com

شوي نه دي، خو زموږ د دې ځای ماموران په دې اند دي چې دا د نازيانو کار دی.
ډگروال وويل: موږ يو ساعت وروسته بن غازي ته در رسېږو. همدااوس د ساحل د څارونکو شمېر زيات کړه او هېڅوک ان زموږ خپلو ماڼوگانو ته هم هلته پر لنگرونو د تگ راتگ اجازه مه ورکوه. دا امر د ساحلي ښارونو ټولو پوځي مرکزونو او قومندانيو ته مخابره کړه.
- اړيکې به نه سره غوڅوو.
- د نويو خبرونو اورېدو ته دې په تمه يم.
ډگروال مخابره بنده کړه او يوازې يې سترگک وهونکې غمې چالان وربرېښنود. هر کله چې شيفيلډ زموږ سره د اړيکو نيولو هڅه کولای، دغه شين رنگه غمې په سترگکونو شروع کوله.
الينور وويل: مکس اخير خپل غچ واخيست.
ډگروال چې د بېړۍ ډوبېدو طبيعت ورختګه کړی وو، وويل: داسې ښکاري چې مکس او بدماش ملگري يې په ترېپولي کې لاس په کار شوي دي. بايد له منځه يووړل شي.
ومې ويل: د مکس په فکر د يوې جنگي بېړۍ په ډوبولو سره يې موږ ته ډېر دروند زيان رااړولی دی، مگر دا ان يوازې د ده د وروستۍ ماتې جبران هم نشي بلل کېدای.
لاکستر نيغ کښېناست، ما ته يې مخ کړ او ويې ويل: که د مکس او هغه د مامورانو مخه ژر ونه نيول شي، نو يوه بېړۍ به دوې او همداسې پسې ډېرې شي. د هغه د لاس پرې کول ستا دنده ده او که دا کار نشې کولای، نو اوس لا راته ووايه چې له لندن څخه مرسته وغواړم.
تر يو څو شېبې چوپتيا وروسته مې وويل: دا ځواب به بن غازي کې درکړم.
الينور راته مخ کړ او ويې ويل:

Download from: www.aghalibrary.com

هېڅ مې سر نه خلاصېږي چې تا اوس څه پلان جوړ کړی دی، خو وېرېږم چې هسې نه دا هم د لومړي هغه غونډې ناکام شي. ښه به دا وي چې دا وار په ډېر احتیاط گام اوچت کړې.

په سړه سینه مې ورته وویل: هڅه کوم دا پلا ډېر دقیق او سنجیده پلان وترم.

طارق وویل: په غالب گومان مکس به خپل دویم گوزار یو بل ځای وکړي.

لاکسټر وویل: او هغه ځای له شکه خلاص بن غازي دی.

ومې ویل: که انگېرنې او وړاندوینې سمې وختې، نو مکس به له خپلو مامورانو سره یوځای په هماغه متروکه هدیره کې ښخ کړم.

لاکسټر وویل: هیله ده همداسې وشي.

طارق موټر ډېر گړندی ځغلاوه... کله چې د بن غازي څراغونه له لیرې څخه راښکاره شول، شیفیلډ راسره په اړیکه کې شو او ویې ویل چې د بن غازي د پوځي چوڼۍ ماموران لا پر کوم چا شکمن شوي نه دي.

لاکسټر راته مخ کړ او ویې ویل: ته باید همدا نن شپه تریپولي ته والوزې.

ومې ویل: په دې اړه به وروسته سره وږغېږو.

لس باندې دوولس بجې د بن غازي پوځي چوڼۍ ته ننوتو... ډگروال په تلوار له موټره کښېنته او د مخابراتو څانگې ته ولاړ... ما طارق او الینور د ډگروال دفتر ته ولېږل او خپله په لاکسټر پسې ورغلم.

د مخابراتو څانگې ته زما د ورننوتلو پر مهال د تریپولي پوځي مرکز په مخابره کې خبرې کولې او دا خبر یې ورکاوه: «... ساحلي څارونکو یو ځوان چې د دوی په دریږ! نه دی درېدلی، ویشتلی دی. د وژل شوي هویت ناڅرگند دی خو په ښکاره جرمنی څارگر برېښي....»

ډگروال راته مخ کړ او ویې ویل:

جرمني څارگرو تریپولي د خپلو بریدونو مرکز گرځولی دی.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ویل: زه تر تا ډېر اندېښمن یم، مګر له تلواره باید کار وانخیستل شي. مکس څه عادي او نوچک [1] مامور نه دی چې په اسانۍ په دام کښېوزي. دا کار ما ته راپرېږده.

یوځای د مخابراتو له ځانګې راووتو او د ده کارځای ته ولاړو... طارق او الینور پر یوه سوفه ناست ول. طارق وپوښتل:

- نوی خبر-مبر؟

ومې ویل: یو جرمنی څارګر وژل شوی دی.

الینور وپوښتل: چیرې؟

په داسې حال کې چې په ځیر-ځیر مې ورته کتل، ومې ویل: د تریپولي بندر پر یوه لنګر باندې.

ډګروال پر یوه سوفه ځان واچاوه او ویې ویل:

- هغوی باید له منځه یوسو.

الینور ته مې مخ کړ او ومې ویل: له دې ځایه تر روانېدو وړاندې مې د پفلونک د قرارګاه په اړه مالومات درڅخه وغوښتل، خو تا رانکړل.

ویې ویل: دا څه وایې؟

ومې ویل: خبرې مې نه دي خلاصې شوي؛ ما د سلاکوټ د موقعیت پوښتنه درڅخه وکړه تا د نقشې پر یوه ټکي ګوته کښېښوده او په ډېر ډاډ دې راته وویل چې همدغه ځای دی، مګر درواغ دې وویل. تا غوښتل موږ ګمراه کړې، ځکه سلاکوټ یو بل ځای وموندل شو.

الینور په غوسه وویل: ما ته د درواغجنې ویلو حق نه لرې.

ومې ویل: درواغجنه پرېږده، ته د دوښمن جاسوسه یې.

---

(۱) نَوچک – تازه کار، نوی.

Download from: www.aghalibrary.com

په هماغه انداز يې وويل:

- د دوښمن جاسوسه؟ لېونی شوی يې. خپل دا تور بايد زبات کړې.

- بالکل به يې زبات کړم.

- هسې لگيا يې.

په سره سينه مې ورته وويل: ستا غوسه بېځايه ده، ځکه ته د او.اس.اس استخباراتي کارکوونکې الينور مډيسن نه يې. اصلي مډيسن د پفلونک د سازمان مامورانو چې ته هم پکې داخله وې، ووژله. د هغې د وژل کېدو خبر مې قاهره کې واورېد، ان تصوير مې يې هم وليد، ستا څېره د هغه عکس له ځښتنې سره نه خوري. ما بيا هم داسې درته وښوده چې ته الينور يې. ان ستا د هغو دوو خيالي نارينه ملگرو داستان هم يومخ دړی او له ځانه جوړې شوې خبرې وې چې هېڅ پېښې يې له بلې سره سر نه خوري.

الينور په درد وويل: دا يوازې تش تورونه دي.

په تونده لهجه مې ورته وويل: غلې شه! اوس يې درته زباتوم هم. ستا د هغې ساختگي کيسې پر مهال مې درڅخه وپوښتل چې د هغو دوو مامورانو له وژل کېدو چا خبره کړې، تا راته وويل چې هغه ارتباطي کس درته وويل. خو يو بل ځای دې بيا وويل چې د هغو دوو مامورانو د نيول کېدو او وژل کېدو په شپه ستاسې ارتباطي کس هم ووژل شو.

الينور چوپ شوه. له څېرې يې رنگ والوت....

ومې ويل: د يو څه وخت لپاره مې په دې خاطر ستا دغه درواغجنه کيسه درسره ومنله چې غوښتل مې د ډگروال بوروسکي پر وړاندې دې وکاروم. ان وسله مې هم درنکړه او طارق مې درباندې څارو کړی وو. دا هم بايد ووايم چې د پفلونک د قرارگاه په اړه ستا ټول مالومات ناسم ول، خو موږ تله پر تېره کړه.

له الينور څخه ورخ اوبو وړی وو. پوهېدلې وه چې يوه ډېره لويه تېروتنه ترې شوې

Download from: www.aghalibrary.com

ده. سخته اندېښمنه ایسېده. سترګې یې راپکې وګنډلې او په داسې حال کې چې له ډېر اضطرابه یې مرۍ وچه کلکه وه، ویې ویل: منم چې لوبه مې وبایلله.

ومې پوښتل: رښتینې الینور مډیسن چا او چیرې ووژله؟

ورو یې وویل: ویکټور ډاسن.

ومې ویل: خپل نوم او شمېره دې راوښیه.

ویې ویل: زما نوم ایرم ګارد او شفري شمېره مې ۲۵-A ده.

ومې پوښتل: څو کاله کېږي له جرمنۍ څارګرې ادارې سره کار کوې؟

- یو کال.

- نو همدا لامل وو چې تېروتنه درڅخه وشوه.

ویې ویل: زه د هغو مامورانو په ډله کې وم چې تر فراغت سملاسې وروسته یې له جرمني څخه دباندې راولېږلو.

ومې پوښتل: مکس پفلونک به چیرې وي؟

- نه پوهېږم، باور وکړه.

- زما څواب دا نه وو.

- تاسې خو پوهېږئ چې هغه چیرې دی، خو پسې ورشئ.

- مګر تا ته یې پټنځای درمالوم دی. وو‌ایه چې په بن غازي، تریپولي او که کوم بل ښار کې دی؟

ایرم ګارد په داسې حال کې چې له ډېرې نارامۍ څخه یې لاسونه سره مروړل، وویل: زه یوه ذره حال هم نه په لرم. پفلونک تر یوه عادي څارګر ډېر لوړ او مرموز انسان دی. ان دا هم په ډاډ سره درته ویلای شم چې تر ټولو ورنژدې کس ته یې لا پټنځای او راتلونکي پلانونه نه دي مالوم.

ومې ویل: په دې بې سر و بېخه ځوابونو له سوالونو ځان نشې خلاصولای.

- ما ټول رښتیا-رښتیا درته وویل.

Download from: www.aghalibrary.com

- اصلي رښتيا په يوه بله بڼه هم درباندې ويلای شم.
- يانې غواړې له زورزياتي کار واخلې؟
- په زورزياتي کې مې لاس سم نه څرخي.
وروسته مې طارق ته مخ کړ او ورته ومې ويل: ورشه يو سرتېرى راوله.
طارق له خونې څخه ووت. ډګروال پاڅېد، د ايرم ګارد خوا ته ورغى او ورته ويې ويل: ستا دا احمقانه سرزوري يې نه ګټي. اوس لا سر وخت دى د پڼلونک پټنځاى راوښيه.
ايرم ګارد په داسې حال کې چې خپله ژړا يې کابو کوله، ويې ويل: ولې په دې اړه زما خبرې زړه ته نه اچوئ!؟
ومې ويل: ستا دا ژړا يومخ بې اغېزې ده. غواړم ښېله زورزياتي رښتيا درباندې ووايم.
همدغه شېبه طارق له يوه سرباز سره راغى... ايرم ګارد مې هغې خونې ته ننه ايسته چې يوه دروازه يې د ډګروال دفتر ته راخلاصه وه. هغه سرتېرى مې هم راوغوښت. ډګروال لاکستر هم هلته راغى. يو ځل بيا مې له ايرم ګارد (ترودي) څخه د رښتيا ويلو غوښتنه وکړه، خو هغې هماغه زوړ ډهول وډنګاوه.
سرتېري ته مې مخ کړ، لاس مې ايرم ګارد ته ونيو او ومې ويل: دغه ښځه د دوښمنانو څارګره ده، پنځه دقيقې وخت ورکوم چې زما پوښتنې ته سم ځواب راکړي، وروسته يې ووله!
ايرم ګارد په لوړ اواز وويل:
- دا ظلم دى!
سرتېري ته مې وويل: پنځه دقيقې وخت زموږ له وتلو سره سم پيلېږي.
له هغې خونې څخه راووتو... ډګروال لاکستر راته مخ کړ او ويې ويل: زړه ته مې نه لوېده چې تر دې بريده دې بېرحمه يې.

Download from: www.aghalibrary.com

موسکی شوم او ومې ویل: جګړه له سړي رحم مينځي. يوازې زه بېرحمه نه يم، ته هم پر خپل ځای همدومره بېرحمه يې. زموږ وارو انسانان خشن او بې زړه سوي وي. زموږ تاسې شعار بايد «که غواړې چې ونه وژل شې، نو ووژنه!» وي.
ډګروال وویل: ربښتيا هم جګړه انسان يومخ بدلوي، عاطفه ځنې تروړي او بېرحمي و له انسانوژنې سره مينه پکې راشنه کوي.
طارق وویل: د ايرم ګارد زړه ته نه لوېده چې داسې بده به راګير شي.
ډګروال راځخه وپوښتل: ستا په خيال مرګ ته به غېږه ورکړي؟
ومې ویل: که سابقه داره او باتجربه وای، نو ښايي يو څه پر شکمن شوی وای. خو هغه نوچکه او بې تجربې ده. همدا وجه وه چې په خپله ساختګي کيسه کې يې هغسې بربنډې تېروتنې وکړې او خپل لاسونه يې پخپله وتړل.
ډګروال وویل: نو ته خبر وې چې د او.اس.اس ماموره الينور مډيسن په شمالي افريقا کې وژل شوې ده؟
ومې خندل او ومې ویل: نه په دې خبر شکمن نه وم، خو د ايرم ګارد د اصليت څرګندولو لپاره مې بايد يو څه ويلای.
طارق وپوښتل: يو ګيلاس قهوه څنګه ده؟
لاکسټر په موسکا وویل: دا پوښتنه بايد ما کړې وای.
ومې ویل: قهوه يا چای به درې دقيقې وروسته وڅښو.
ډګروال لاکسټر راته مخ کړ او ويې ويل: څه باندې يوه دقيقه پاته ده. ډېر وحشتناک کار دی. خير دی يوه بله چاره يې وسنجوه.
په سړه سينه مې وویل: د هغې د خولې خلاصولو يوازنی لار همدا ده، چورت مه خرابوه ډګرواله.
طارق وویل: دا لار خپله هغې ځان ته غوره کړه.
ومې ویل: اوس هم نه دی ناوخته شوی. که ربښتيا هم له خپل ژوند سره مينه

Download from: www.aghalibrary.com

ولري، پر دويمه لار به ولاړه شي.
ناڅاپه مې د ايرم گارد اواز واورېد چې په ترهېدلي انداز يې چيغه کړه:
- ما مه وژنئ، زه حال وايم، هلئ د خدای روی دی ما وژغورئ. حال درته وايم ډگروال صاحب، هر څه چې غواړئ درته وايم يې!
لاکستېر وويل: ژر شئ هسې نه سرتېرى ډزې پر وکړي.
په منډه هغې خونې ته ورغلو. د سرتېري پر ماشيندار مې لاس کېښېښود او کرار مې کښته ټېله کړ.
ډگروال سرتېري ته د وتلو وويل. د ايرم گارد مخ لکه د مړي داسې ژړ اوښتى وو. په سترگو کې يې وېرې ځاله کړې وه. د سرتېري له وتلو سره سم يې يودم پر ژړا لرگی کښېښود او ويې ويل: تاسې ښځي بېرحمه انسانان ياست!
د ډگروال دفتر ته مې راوسته او ورته ومې ويل: دغه د وحشت لار تا خپله انتخاب کړه.
کرار پر څوکۍ کښېناسته، راته ځير شوه او ويې ويل: هېڅ مې زړه ته نه لوېده چې تر دې حده دې بېرحمه او خشن يې. زورزياتى هم بريد لري.
ومې ويل: د جگړې پر مهال زورزياتى او بېرحمي بريد-مريد نه لري. ستا د خولې پرانيستلو يوازنۍ لار همدا وه.
ډگروال ورته وويل: خوښ يم چې له سرزورۍ لاس پر سر شوې. ته ځوانه يې او بايد له ژوند سره مينه ولرې. دا جگړه اخير خلاصېږي، سوله راځي او هر څه پر بل مخ اوړي.
ايرم گارد وپوښتل: تاسې اوس څشي راڅخه غواړئ؟
ومې ويل: ته خپله ښه پوهېږې.
ويې ويل: تاسې غواړئ د پفلونک پټنځای دروښيم. يانې له خپل هيواد سره بايد خيانت وکړم.

Download from: www.aghalibrary.com

ډگروال وویل: دا کار خیانت نشي نومول کېدای.

ومې ویل: ستا مالومات د گڼ شمېر بېگناهانو ژوند ژغوري، خپله هم پوهېږې چې پفلونک څومره لوی ځناور دی. د همدغو بېگناه او بې دفاع وگړو لپاره لا همکاري راسره وکړه، کنه نو مجبور یم ودې وژنم. بله لار هم نشته.

وېې ویل: مکس پفلونک دوه پټنځایونه لري.

ومې ویل: یوه دقیقه صبر وکړه.

وروسته مې طارق ته مخ کړ او ورته ومې ویل: خبرې یې یاداښت کړه!

ایرم گارد وویل: زما مالومات ډېر کم دي.

ومې ویل: ته دې خبرې کوه!

وېې ویل: په ترېپولي بندر کې د مکس پټنځای د ناقوس په نامه سیمې یوه کوڅه کې چې تل بسطه نومېږي، پروت دی. هلته یو کور دی چې څښتن یې محمد نامق نومیږي.

ومې پوښتل: محمد نامق څه کار دی؟

وېې ویل: هغه یو دانه دوې بېړۍ لري.

ومې پوښتل: دا سړی ماینه او اولادونه هم لري؟

وېې ویل: نه، یوازې اوسي او کور یې د مکس په واک کې ورکړی دی. مکس ان د نامق له کښتیو هم کار اخلي.

ومې ویل: ښه نور؟ د بن غازي په اړه دې لا څه نه دي ویلي.

وېې ویل: مکس باید په ترېپولي کې وي.

ومې ویل: ته هغه پرېږده، د ده د بن غازي د پټنځای په اړه خبرې وکړه.

تر یوه لنډ ځنډ وروسته یې وویل: زقازین سیمه، اورطه کوڅه د مارون کور.

طارق وویل: مارون یو آموري نوم دی!

ایرم گارد وویل: هو، له ورایه همداسې ښکاري، مگر د دغه کور څښتن یو ایتالوی

Download from: www.aghalibrary.com

دی چې د مارون په نامه پېژندل کېږي او کور یې د مکس د مامورانو په واک کې ورکړی دی.
ترې ومې پوښتل: ته دغه کور ته دننه ورغلې یې؟
ویې ویل: هو، په دواړو کورونو کې د لنډ وخت لپاره اوسېدلې یم.
ومې ویل: نو هلته د پرتو وسایلو په اړه راته ویلای شې؟
ویې ویل: تر ټولو مهم شیان یې مخابرې او ویرانوونکي وسایل دي.
ډګروال وپوښتل: د مارون اصلي نوم څشي دی؟
دې وویل: تروپاني مارسالا.
ومې پوښتل: دا تروپاني مارسالا یا مارون څه کاره دی؟
ویې ویل: کب پلورونکی.
ومې ویل: لکه چې دی هم د نامق په شان مجرد دی.
ایرم ګارد وویل: هو، دی هم یوازې اوسي.
بیا مې ورته وویل چې د دواړو کورونو د خونو د بڼې په اړه مالومات راکړي. ایرم ګارد هر څه ان د خونو نقشې یې هم پر یوه پاڼه راته انځور کړې.
ورته ومې ویل: خدای دې وکړي چې دغه مالومات ناسم نه وي، ځکه دا پلا دې ژوندی نه پرېږدم.
ویې ویل: ورشه پخپله یې وازمایه. د مارون کور په همدې ښار کې دی.
ډګروال وویل: ډېر ژر به یې پته ولګېږي.
ایرم ګارد راڅخه وپوښتل: ستاسې سره زما دغه همکاري ما ته څه ګټه لري؟
ومې ویل: له مرګه دې ژغوري، نور څه غواړې؟
ویې پوښتل: که همدغه درکړل شوي مالومات سم ول، نو بیا؟
ومې ویل: د جګړې تر پایه به بندي یې. همدا یو ډېر لوی چانس دی.
په اغېزمن انداز یې وویل: ما چې ویل خوشې به مې کړئ.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: ان که سوله واي، هم مو نه خوشې کولې. همکاري دې يوازې د سزا په کمولو کې مرسته درسره کوي. خير سبا ته به څرګنده شي چې تا رښتيا هم همکاري راسره کړې ده کنه.

غلې شوه... طارق ته مې وويل: مېرمن ايرم ګارد د زندان يوې پاکې او سمې خونې ته بوزه او ورته ووايه چې ښه خيال يې وساتي.

له خونې څخه د دوی تر وتلو وروسته ډګروال وپوښتل: کله لاس په کار کېږې؟

ومې ويل: نه پوهېږم. دا په دې چې سخت ستړی يم، خوب راځي او ته هم بايد ارام وکړې.

د ډګروال له دفتره راووتو او هغې ودانۍ ته چې د ده استوګنځای وو، ولاړو. دا ګړی د شپې نژدې دوې بجې وې.

●●●

زه او طارق د سهارنۍ پر خوړلو بوخت وو چې ډګروال لاکستر خونې ته راننووت. څېره يې نيولې او رنګ الوتې وه. سر مې خلاص شو چې خامخا بې يو بد خبر اورېدلی دی.

په داسې حال کې چې سترګې مې پکې ګنډلې وې، ترې ومې پوښتل: څه خبره ده؟

د مېز بلې غاړې ته کښېناست او ويې ويل: په تريپولي کې يوه بله چاودنه شوې ده!

طارق وويل: مکس او يارانو يې سخت کش اخيستی دی.

ومې پوښتل: دا چاودنه پر څو بجې شوې ده؟

ډګروال وويل: د شپې پر څلور بجې يې له خوبه راپاڅولم او له دې پېښې يې خبر کړم. اول مې وغوښتل تا هم راويښ کړم، خو بېرته مې وويل چې دومره ناوخته نه

Download from: www.aghalibrary.com

زه او نه هم ته څه کولای شې.

په ګیلاس کې پاته چای مې وڅښلې او ومې ویل: باید سر دې خلاص وای چې مکس او اندیوالان یې لاس اخیستونکي نه دي او غواړي په ډېره چټکی سره په مدیترانه کې زموږ سمندري ځواک را معیوب کړي او په دې ډول د شمالي افریقا غچ واخلي.

ډګروال په غوسه وویل: دا حالت د زغملو نه دی. د هغوی لاسونه باید غوڅ کړل شي. د شمالي افریقا د ساحلونو د ساتنې دنده زما ده او د هغوی دغو ورانکاریو ته د پای ټکی باید ته کېښېږدې.

پزه کې مې وخندل او ومې ویل: درد مه دروله ډګرواله! سر له همدا اوسه لاس په کار کېږو.

ویې پوښتل: زه څه مرسته درسره کولای شم؟

ومې ویل: همدا نن یوځای تریپولي ته الوزو. طارق هم راسره بیایو.

بیا موسکی شوم او زیاته مې کړه: دا ګړی کوم پلان هم نه لرم، خو چې هلته ورسېدو، بیا به یې یوه چاره وسنجوو.

طارق وویل: کب پلورونکی مارون او کور یې هم باید تر څار لاندې ونیول شي.

ومې ویل: همداسې کوو.

همدغه شپبه یو سرتېری خونې ته راننووت، یو ټلګرام یې راکړ او ویې ویل: له قاهرې څخه راورسېد.

د هغه تر وتلو وروسته ډګروال وویل: خامخا یې د دوښمن د پرله پسې بریدونو په اړه پوښتنه کړې ده.

ورو مې سر وخوځاوه او مې ویل: زه هم همداسې انګېرم.

سټراتفورډ په دغه شفري عبارت ټلګرام پیل کړی وو: «سږ کال د خرما حاصلات څنګه دي؟» وروسته یې په پای کې پر تریپولي بندر د جرمني څارګرو د بریدونو

Download from: www.aghalibrary.com

راپور غوښتی وو او پوښتلي يې ول چې ولې يې تر اوسه مخنيوی نه دی شوی؟
پورتني شفري عبارت زما له ماموريت سره اړه لرله. په قاهره کې مو سره ويلي ول چې که بريالی شوم، نو به ورته ليکم: «سږ کال د خرما حاصلات خوښوونکي دي.»
زما د ماموريت له حاله ناخبرتيا سټراټفورډ اړايستی وو چې همدا عبارت په پوښتنه واړوي. په اصل کې د دواړو عبارتونو مانا يوه وه.
طارق وپوښتل: ولې چوپ يې؟
ومې ويل: سټراټفورډ په تريپولي کې د دوښمنو جاسوسانو د ورانکاريو په اړه پوښتنه کړې ده.
ډګروال وويل: بايد له حاله يې خبر کړې.
ومې ويل: لندن ته ستا لېږل شويو راپورونو څارګري ضد اداره دې ته مجبوره کړې چې پر سټراټفورډ زور واچوي او د دوښمنو جاسوسانو د وروستيو ورانکاريو په اړه مالومات ترې وغواړي. سټراټفورډ بيا پر خپل وار پر ما د زور راوړلو هڅه کوي. اوس بايد لږ ځانونه تکړه کړو او مخکې تر دې چې مکس يوه بله بده بېرانه [۱] وکړي، بايد لاسونه يې ورلنډ کړو.
طارق وويل: لومړی بايد مارون تر څار لاندې ونيسو.
ومې ويل: دا دنده د ښار د پوليسو قومندان مکس هرفورډ ته ورسپارو.
ډګروال وويل: نو بايد دلته يې راوغواړو.
ومې ويل: ټليفون وروکړه!
وبې ويل: له خپل دفتره به زنګ ورته ووهم.
درې واړه مخ د ډګروال د دفتر پر خوا روان شوو... شاوخوا نيم ساعت وروسته د

(۱) بده بېرانه ـــ چل ول، دوکه، ګوزار، زيان اړوونکی کار.

Download from: www.aghalibrary.com

بن غازي د پولیسو مشر مکس د ډګروال کارځای ته راننووت. ما د مارون او هغه د کور د څارنې جوړ کړی پلان ورسره شریک کړ.

ماپښین ته نژدې مهال مکس هرفورډ په خپل ماموریت پسې ولاړ... پر دوې بجې زه، ډګروال او طارق د جامو له یوه بکس او نورو اړینو شیانو سره یوځای په یوه ځانګړې پوځي الوتکه کې تریپولي ته والوتو.

تر الوتو وړاندې مو د یاد بندر د پولیسو رییس میلټن مالبي ته یو ټلګرام مخابره کړ او ورته ومو ولیکل چې خپل کور کې راته منتظر شي.

له هوايي ډګره په یوه پوځي موټر کې سیده د نوموړي کور ته ولاړو... ډګروال زه او طارق وروپېژندو. میلټن راته مخ کړ او ویې ویل: تاسې باید وختي لا راغلي وای.

ومې ویل: مالومات مو نیمګړي ول.

ویې ویل: نو اوس مو لکه چې دخیل کسان پېژندلي دي.

موسکی شوم او ومې ویل: له هماغه پیله هم پوهېدو چې د دې ورانکاریو تر شا څوک دي.

میلټن وپوښتل: زه څه مرسته کولای شم؟

ورته ومې ویل: تر ځواب درکولو وړاندې غواړم وپوهېږم چې د جرمني څارګرو په اړه مو مالومات څومره دي.

ویې ویل: تر لومړي برید وروسته چې یوه جنګي بېړۍ یې ډوبه کړه، زموږ ماموړانو یو جرمنی څارګر وویشت. تر هغه وروسته بیا تر دې ګړیه بل هېڅ څرک په لاس نه دی راغلی. له دې کیسې مې د پوځي چونۍ قومندان هم خبر کړ او ورته ومې ویل چې له لندن څخه مرسته وغواړي، ځکه د هغوی څارنه د څارګري ضد سازمان دنده ده.

ومې ویل: هیله ده ستاسې په مرسته د هغوی پټنځای وموندلای شو.

Download from: www.aghalibrary.com

میلتېن وویل: زما د پوښتنې ځواب مو رانکړ.
ومې ویل: تر یوه یخ څښاک وروسته یې درکوم.
ویې خندل او ویې ویل: ورته پام مې وو.
شېبه وروسته یو تورپوستی هلک د ګیلاسونو له یوه ډک پتنوس سره خونې ته راننووت. د مالټو یخ جوس سخته مزه وکړه... د ګیلاس تر نیمایي کولو وروسته مې میلتېن ته مخ کړ او ترې ومې پوښتل: تاسې د نامق په نامه یو کس پېژنئ؟
میلتېن تر یو څه فکر کولو وروسته وویل: فکر کوم پېژنم یې. زما په خیال په کښتیو کې مسافر او بارونه وړي راوړي. یوه کوچنۍ د کب نیونې بېړۍ هم لري.
لږ چوپ شو بیا یې وپوښتل: تاسې یې له کومه پېژنئ؟
ومې ویل: دا ګړی یې یوازې نوم رامالوم دی بس.
میلتېن وویل: او اوس غواړې چې مخامخ هم ورسره ووینې؟
لږ جوس مې وڅښی او ومې ویل: اوس نه، چې وخت یې راورسېږي.
ډګروال راته مخ کړ او ویې ویل: زما په فکر د نامق له نیولو یې باید پیل کړو.
ومې ویل: نه، له یوه بله ځایه یې راشروع کوو.
وروسته مې خپل پلان ورته بیان کړ. میلتېن وپوښتل: همدااوس یې پیلوې که د هوا تیاره کېدو ته ګورې؟
ومې ویل: د هوا تر تیاره کېدو وړاندې غواړم له داسې یوه کس سره ووږغېږم چې باروړونکې یا هم د کب نیونې بېړۍ ولري او دغه راز خپل همسلکان هم ورته مالوم وي.
میلتېن لږ په سوچ کې شو بیا یې وویل: زرق الله حسون په دې ډګر کې ډېر پخوانی او تجربکاره دی.
ومې پوښتل: څنګه سړی دی؟
ویې ویل: له پولیسو سره کومه جرمي سابقه نه لري.

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته يې کړه وړه او نښې نښانې هم راته وويلې. لنډ مې وخندل او ومې ويل:
نامق هم ستاسې په اداره کې بد نوم نه لري!
ميلټن ووېل: مګر پر زرق الله مې د هغه تر همکارانو باور زيات دی.
ومې پوښتل: دا زرق الله او همکاران يې چيرې سره راټولېږي؟
ويې ويل: له بندر سره نژدې د کمال بېګ په نوم يوه قهوه خانه کې، خو اوس
ښايي هلته نه وي.
ومې ويل: دا مهمه نه ده چې هغه هلته شته کنه، مهمه دا ده چې د هوا تر تياره
کېدو وړاندې يې بايد پيدا کړو.
ميلټن ووېل: دا کار زما کسانو ته ورسپارئ.
ومې ويل: ستا کسان ټول خلک پېژني. د هغوی له ورتګ سره سم به د زرق الله
همکاران وپوهېږي چې پوليس پسې ګرځي او دا خبر به خامخا د نامق تر غوږه
هم ورسېږي. په دې سره به مو ټول پلانونه اوبه يوسي. دا کار به طارق وکړي.
طارق ووېل: ما پېژني.
ورته ومې ويل: يوازې دې پفلونک پېژني او هغه اوس پټ دی. ژر ژر جامې بدلې
کړه او په زرق الله پسې ورشه. که دې په کمال بېګ قهوه خانه کې ونه موند، بندر
ته پسې ورشه ښايي په خپله بېړۍ کې وي. هر څنګه چې وي بايد پيدا يې کړې.
ان کور ته يې هم ورشه. کله چې ورسره مخامخ شوې، نو په ډېر احتياط بانډار
ورسره ونښلوه. ورته ووايه چې غواړې له سيرنايک بندر څخه ترېپولي ته ډېر
سامانونه راوړې.
تر يوه لنډ څنډ وروسته مې زياته کړه: د خبرو پر مهال دې مخابره چالانه پرېږده
چې هم دې موږ ته موقعيت مالوم شي او هم دې خبرې واورو.
ميلټن ووېل: زه طارق تر کمال بېګ قهوه خانې پورې په موټر کې رسوم.
په خندا مې ووېل: پر لارې يو ځل بيا د زرق الله نښې نښانې ورته تکرار کړه،

Download from: www.aghalibrary.com

څکه هسې نه له یاده یې وتلي وي.

میلټین وېووښتل: تاسې دوه څه کوئ؟

ومې ویل: زه او ډګروال هم د کمال بېګ قهوه خانې شاوخوا ته ځان رسوو، مګر ته د طارق تر کښته کولو وروسته د پولیسو ماموریت ته ولاړ شه او د ډګروال تماس ته منتظر شه.

طارق ته مې د تګ پر وخت وویل چې پیسې او وسله یې هېره نشي. ویې خندل او ویې ویل: بېخي سمبال یم، چورت مه خرابوه!

د دوی تر تګ څو دقیقې وروسته ما او ډګروال جامې بدلې کړې او څېرې مو هم لږ واړولې. داسې شیان مو له ځانه جوړ کړل چې میلټن په لومړي نظر نشوای پېژندلای.

د میلټین له کوره راووتو. لاکسټر ته ښار لوېشت په لوېشت ورمالوم وو. تر لږ پلي تګ وروسته په لومړي تمځای کې بس ته وختو او د ښار زړه ته ولاړو. له هغه ځایه مو تر بندره یوه اس بګۍ ونیوله.

●●●

پر لارې لاکسټر وپوښتل: له بندر سره چې کښته شوو، بیا چیرې ځو؟

ومې ویل: کمال بېګ قهوه خانې ته!

- خو طارق ته دې ونه ویل چې موږ هم هلته ورځو!

- اړتیا یې نه وه.

- غوښتل دې چې هغه یوازې دا کار وکړي؟

ومې ویل: هم مې همدا هدف وو او هم مې نه غوښتل پر موږ تکیه وکړي.

ویې خندل او ویې ویل: زه ان ستا د دغه اوسني پلان پر پلي کولو لا شکمن یم، څکه ښایي بېرته یې واړوې.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: نه داده اوسه دا پلان نه بدلېږي.
بندر ته ورنژدې شوو، بګيوان وپوښتل: چيرې کښته کېږئ؟
ډګروال ورته وويل: کمال بېګ قهوه خانې ته درځه.
څو دقيقې وروسته د يادې قهوه خانې پر يوه اوږده څوکۍ ناست او د قهوې راوړل کېدو ته په تمه وو. ډګروال ورو غوندې وپوښتل: طارق وينې؟
ومې ويل: هو، هلته مخامخ يوازې ناست دی.
- زرق الله يې نه دی پيدا کړی.
- خير اخير به يې پيدا کړي.
د قهوه خانې شاګرد دوه ګيلاسه قهوه راته راوړه... لاکستر وويل: په دې خرتموښ [1] کې به قهوه څنګه څښو؟
ومې ويل: خو تا يې سپارښت ورکړ!
تازه مو د قهوې په څښلو شروع کړې وه چې طارق پاڅېد، د يو ګيلاس قهوې پيسې يې ورکړې او دباندې ووت....
لاکستر ته مې کړل: هله ژر درځه کنه راڅخه ورکېږي.
موږ هم پسې راووتو... هغه مخ پر بندر روان وو او موږ تر شا ورپسې وو... پر لارې يې يو هلک راوګرځاوه، د يو شي پوښتنه يې څنې وکړه او بېرته روان شو.
ډګروال وپوښتل: طارق له هغه هلکه څه وپوښتل؟
ومې ويل: لکه چې د زرق الله د کښتۍ د نامه او ځای پوښتنه يې څنې وکړه.
طارق تر څو ځلونو [2] تېر او وروسته د يوې کب نيوونکې بېړۍ پر ژۍ ورواوښت. لاکستر وويل:

(۱) خرتموښ - ډېره زياته ګرمي.
(۲) ځل - اسکله.

Download from: www.aghalibrary.com

- لکه چې د زرق الله بېړۍ يې پيدا کړه.

ومې ويل: وګورو چې د بېړۍ څښتن هم همالته پيدا کوي کنه.

- مخابره ولګوه!

- لګېږي!

لږ وروسته له مخابرې څخه د طارق اواز راپورته شو چې له يو چا سره په عربي ګړېده.

د ډګروال لږ عربي زده وه. ورته ومې ويل: ښه ورته غوږ شه چې څه سره وايي.

څو شېبې وروسته لاکستر وويل:

- زموږ سره په اړيکه کې اوسه. طارق له زرق الله سره ږغېږي.

ومې ويل: نو زه و ته همدلته سره بېلېږو. ته کمال بېګ قهوه خانې ته ولاړ شه او زه له طارق سره ملګرى کېږم.

- ما هم غوښتل همدا درته ووايم.

- بريالى اوسې.

ومې ويل: تر هغه ځل پورې چې د زرق الله بېړۍ لنګر پر اچولى، يوځاى سره څو، هلته بيا ته پر خپله مخه ولاړ شه. زه بېړۍ ته ورننوزم. تر هغو همالته اوسه چې زما پيغام در رسېږي.

تاکلي ځل ته له رسېدو سره سم تاو شوم او سيده د زرق الله کښتۍ ته ورواوښتم.

طارق او زرق الله د کښتۍ د کابين مخې ته ناست او سره ږغېدل.

زرق الله مې د ميلتن د راکړل شويو نښو نښانو له مخې وپېژاند... زما په ليدو يې په عربي ژبه يو څه وويل. ورنژدې شوم او په فرانسوي مې له طارق څخه وپوښتل: زرق الله د سامانونو وړلو ته چمتو دى؟

زرق الله راته مخ کړ او په فرانسوي يې راته وويل: ته د دې ښاغلي ملګرى يې؟

ومې ويل: خوشحاله شوم چې زموږ ژبه دې زده ده.

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته مې ترې وپوښتل: تاسې څو تنه کارگران لرئ؟
ویې ویل: دوه تنه، دواړه ښار ته تللي دي.
- کله راستنېږي؟
- سبا سهار.
ومې ویل: نو کولای شو سره ورغږېږو؟
زرق الله وخندل او ویې ویل: زه ستاسې د سامانونو وړلو ته چمتو یم، یوازې باید پر بیه لږ سره ورغږېږو.
ومې ویل: سامان-مامان نشته.
- دغه ښاغلي خو له دې ځایه سیرنایک ته د غنمو وړلو راته وویل!
- د غنمو وړل ستا سره د یوه بل څه په اړه د خبرو کولو لپاره یوه پلمه وه.
په حیرانتیا یې وپوښتل: د څشي په اړه؟
ومې ویل: میلتن مالبي پېژنې؟
ویې ویل: د پولیسو قوماندان؟... هو، پېژنم یې.
ومې ویل: ته هغه راپېژندلی یې او راته ویلي یې دي چې باوري سړی یې.
په اندېښمن انداز یې وویل: ما خو هېڅ کوم خلاف کار نه دی کړی.
موسکی شوم او ومې ویل: ته د پولیسو د قوماندان اعتباري سړی یې، هېڅ خلاف کار دې هم نه دی کړی. موږ یوازې دومره درڅخه غواړو چې همکاري راسره وکړې. له دې ځایه تر سیرنایکه د بار وړلو کرایه هم درکوو.
نارې یې تېرې کړې او ویې پوښتل: څنگه همکاري؟
ومې پوښتل: د محمد نامق کښتۍ چېرې ده؟
ویې ویل: هلته په اوبو کې یې لنگر اچولی دی.
ومې پوښتل: هر وخت همالته لنگر اچوي؟
زرق الله وویل: نه، مخکې به یې پر ځل لنگر اچاوه، خو دا څو ورځې کېږي هلته

Download from: www.aghalibrary.com

بې درولې ده.

- پوښتنه دې نه ده څنې کرې چې ولې ځل ته نه راځي؟

- نن سبا يې ډېر کم وينم.

- څو تنه کارگر لري؟

زرق الله ووېل: دوه تنه کارگر يې لرل، خو هغه دواړه يې وشړل.

طارق راوکتل او ويې ويل: د مکس پټنځای پيدا شو.

ومې ويل: د هوا تر تياره کېدو گورو.

زرق الله وپوښتل: دا شيان خو به ما ته کوم زيان نه رسوي؟

پر اوږه مې لاس ورکښېښود او ورته ومې ويل: په تا هېڅوک کار نه لري. انديښنه مه کوه.

وروسته مې دوه سوه ليرې په لاس کې ورکښېښودې او ورته ومې ويل: که برياليي شوو دوه سوه نورې هم درکوم.

د لوتونو په ليدو يې سترگې وځلېدې او په موسکو شونډو يې کرار ووېل: اوس مې زړه پر پښتي شو او ډاډه شوم چې مجرم زه نه يم.

ومې وپوښتل: په دې څو ورځو کې چې د نامق کښتۍ د اوبو په منځ کې لنگر وهلی، پام شوي دې نه دي چې کښتۍ ته يې څنگه کسان تگ راتگ کوي؟

ويې ويل: نه ښاغلې، هېڅوک مې نه دی په سترگه شوی.

طارق ووېل: تگ راتگ د شپې له خوا کوي.

ومې ويل: پوهېږم. هسې ويل مې که يې کوم څوک ليدلی وي.

لمرلوېده مهال مې طارق کمال بېگ قهوه خانې ته واستاوه او د ډگروال لپاره مې يو پيغام په لاس ورکړ.

د شپې شاوخوا نهه بجې وې چې لاکستر راپيدا شو. يوه دوه کسيزه بادي بېړۍ يې هم ورسره راخيستې وه. بېړۍ مو همالته وپرسوله او د زرق الله د کب نيونې

Download from: www.aghalibrary.com

کښتۍ په شا پسې مو په یوه رسۍ وتړله.
له لاکستر څخه مې وپوښتل: نور کارونه دې هم سره سم کړي دي؟
ویې ویل: میلتن زموږ مخابروي پیغام ته سترګې پر لار دی.
طارق ته مې وویل: زرق الله ته ووایه چې حرکت وکړي.
د بېړۍ ماشین چالانه شو. زرق الله ته مې ویلي ول چې پر کومه خوا باید ولاړ شي. د نامق په بېړۍ کې تکه توره تیاره وه او یوه ذره رڼا هم نه پکې لیدل کېده. له ورنژدې کېدو سره سم زه او طارق بادي کښتۍ ته ورواوښتو او لږ وروسته طارق زموږ او زرق الله د کښتۍ ترمنځ غوټه رسۍ په چاکو غوڅه کړه. زرق الله خپلې لارې ته ادامه ورکړه او موږ یې د څپو په ګوتو ورکړو. څپو وار په وار د نامق کښتۍ ته ورنژدې کولو. زموږ کار دا وو چې خپله کښتۍ د نامق د هغې شا ته بوزو.
په ډېره خواري مو بېړۍ د نامق د کښتۍ شا ته ورسوله. ټوله هڅه مو دا وه چې د اوبو د چړپې اواز پورته نشي. د کښتۍ شاتنی دېوال لږ ټیټ وو او سړی په اسانه ورپورته کېدای شوای. لاسونه مو یې پر ژۍ ټینګ کړل او پر سینه مو ځانونه لوړې خوا ته کش کړل. د کښتۍ له دننه څخه د یوه تن د پښو ښکالو واورېدل شوه... ښکالو ورو-ورو رانژدې شوه. څرګنده وه چې هغه د بېړۍ د شا خوا ته راروان دی... په تیاره کې مو د یوه سړي سیوری ولید. وسلوال ښکارېده. څو شېبې ودرېد. همدا چې وخوځېد، ما خپل راسره ماشیندار د کښتۍ پر څمکه کرار کښېښود، پر ګونډو شوم، له ملا څخه مې خنجر راخلاص کړ او په یوه ټوپ مې ځان ور ورساوه. د خنجر تېره څوکه مې تر مرۍ ورلاندې کړه او په ټیټ ږغ مې په فرانسوي ورته وویل: که دې تس وایست، حلالوم دې!
سړي اول یو څه زورونه ووهل، خو پر مرۍ د خنجر له احساسولو سره سم ارام شو... پر څمکه مې څملاوه. طارق راوړاندې شو. ورته ومې ویل: څراغ ولګوه!

Download from: www.aghalibrary.com

طارق ورسره ځانګړی لاسي څراغ چې رڼا يې شاوخوا نه خپرېده، ولګاوه او د سرې پر مخ يې ورواچاوه. دواړو وپېژاند؛ د مکس پفلونک مامور وو او د قاسم بن احمد په کېږدۍ کې مو ليدلی وو. سړي په ځير-ځير راوکتل او ويې پوښتل: ناسې څوک ياست؟

طارق ته مې وويل: څراغ ګل کړه!

وروسته مې له هغه سړي څخه وپوښتل: مکس چيرې دی؟

ويې ويل: مکس نه پېژنم.

په تشي کې مې په سوک وواهه. اه يې وخوت. ومې ويل: اوس څنګه، لا يې هم نه پېژنې؟

دويم سوک طارق پر تشي ورحواله کړ. طارق ته مې وويل: وخت راڅخه تېرېږي. ملګري يې بايد دننه وي. خوله يې وروتړه او راپسې راځه.

طارق پر ګېډه او تشيو څو پرله پسې ګوزارونه ورکړل او وروسته يې خوله په دوسمال وروتړله.

ماشيندار مې له ځمکې راواخيست او په ډېر احتياط د کښتۍ د کابين خوا ته ور روان شوم. طارق هم د شا له خوا راپسې وو. کابين کې دننه رڼا د دروازې له چولو څخه ليدل کېده. پر وره مې غوږ کښېښود. د څو کسانو ږغونه مې واورېدل چې په جرمني سره ګړېدل... سر مې را ايسته کړ او طارق ته مې وويل:

- هغوی همدلته پټ دي.

- ستا په خيال مکس به هم همدلته وي؟

- نه پوهېږم، ښايي وي.

- وخت مه تېروه!

ورو مې د کابين دروازه پورته کړه، يوه کس په دې ګومان چې ګنې ملګری يې دی، وويل: راکښته شه ګونتره په کار مو يې!

Download from: www.aghalibrary.com

دروازه مې پر شا وغورځوله او ورسره سم مو د خپلو ماشیندارانو خولې لاندې ورسیخې کړې. ما په لوړ اواز وویل: د گونتر کار مو ورخلاص کړ، تاسې هم ښور ونخورئ!
لکه یوه اسماني تکه چې پر رالوېدلې وي، ځلور واړه پر خپلو ځایونو مېخ شول. ټول یو ډول حیران او وارخطا ښکارېدل. سترگې یې لوړ په موړ کې گنډلې وې. یوه رگ یې هم نه ویل چې دوښمن به یې پټنځای ته پسې راغلی شي.
ورته ومې ویل: لاسونه مو د سر له پاسه ونیسئ او پر پښو ودرېږئ!
یوه یې په یوه چټک حرکت د یوه کوچني شي خوا ته لاس وراوږد کړ، موړ د سترگو په رپ کې غلبېل کړ. د نورو سر خلاص شو، لاسونه یې پر سرونو ونیول او پاڅېدل.
ومې ویل: اوس یو یو په زینو کې راوخېژئ!
وروسته مې طارق ته وویل: یو څه شا ته شه او سترگې دې په دوی کې اوسه!
هغوی له پټنځای څخه راوختل. سره له دې چې لاندې مې یې د گروپ رڼا ته څېرې لیدلې وې، بیا مې هم غوښتل یو یو له نژدې څخه وگورم.
درې سره مې څنگ پر څنگ کتار ودرول او د هر یوه پر مخ مې بېل بېل د لاسي څراغ رڼا واچوله. یو یې تورپوستی وو او څرگنده وه چې نامق دی، مگر پاته دوه یې سپین پوستان ول. یو یې په عمر ډېر پوخ او ټول مخ یې گونځو نیولی وو. بل یې ما و طارق دواړو د قاسم بن احمد په کیږدۍ کې لیدلی وو. هغه هم وپېژندو.
طارق ورو وویل: مکس خو پکې نشته!
ومې ویل: هغه هم نن شپه پیدا کوم.
له هغوی څخه مې وپوښتل: مکس پفلونک چیرې دی؟
هغه ځوان سپین پوستي وویل:
- په یوه شرط یې ځای درښیم.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې پوښتل: په کوم شرط؟

ویې ویل: شرط دا دی چې یو به ما نه وژنې او بل به نامق او دغه بوډا خوشې کوې. دوی د مکس له پلانونو سره هېڅ غرض نه درلود. دواړو په پیسو کار راسره کاوه.

ومې ویل: له بده مرغه شرط دې نشم منلای.

ویې ویل: نو بیا ډاډه اوسه چې ان د شکنجو په زور به هم اقرار رابانديې ونکړای شې.

طارق ورو راته وویل: شرط یې ورسره ومنه، مکس زموږ لپاره تر دغو دوو کسانو ډېر ارزښتناک دی.

له هغه جرمني څارګره مې وپوښتل:

- ما پېژنې؟

ویې ویل: ته د متحدینو استخباراتي مامور یې چې مستعار نوم دې دالمار ژیلوم دی... سهي مې وویل؟

ومې ویل: هو سهي دې وویل.

ویې پوښتل: دغه دوه کسان نه خوشې کوې؟

- یو ځل مې درته وویل چې له دې امله بخښنه غواړم.

- زه هم بخښنه غواړم چې د مکس ځای نشم درښودلای.

نامق وویل: ما یوازې خپله کښتۍ دوی ته په کرایه ورکړې وه.

بوډا ته مې مخ کړ او ومې ویل: ته هم وړغېږه او ووایه چې بېګناه یې.

په ماته ګوډه فرانسوي یې وویل: ما د دوی په کارونو کې هېڅ لاس نه درلود.

طارق ته مې وویل: ورشه وګوره چې ګونټر پر څه حال دی.

طارق ولاړ او څو شېبې وروسته یې هغه راووست او د هغوی پښو ته یې پر ځمکه وغورځاوه.

Download from: www.aghalibrary.com

ور وړاندې شوم. د بوډا مخې ته ودرېدم. لاس مې تر زنه لاندې ورکښېښود، سر مې يې را اوچت کړ او ومې ويل: ستا خو فرانسوي ډېره ښه زده وه، هسې نه وېرې دې ژبه در توړۍ کړې وي.

وروسته مې تر اوږه ونيو، راکش مې کړ، د طارق خوا ته مې ورپورې واهه او ومې ويل: دا يې هم د دوښمنانو مکار او خطرناک جاسوس مکس پفلونک چې سرگردانه پسې گرځېدو!

بوډا نابېره اوبو ته د ځان غورځولو په نيت ټوپ کړل. طارق يو ټينگ کونداغ پر دا ملا وواهه. مکس همالته پر ځمکه ولوېد.

ځوان جرمني څارگر ته مې مخ کړ او ورته ومې ويل: که مې مکس نه وای پېژندلی ښايي شرط مې دې منلی وای. اوس تاسې دواړه پړمخې څملۍ!

هغوی دوه هم پر ځمکه پرېوتل... طارق ته مې وويل: ډگروال ته د مخابرې له لارې شفر ولېږه!

وروسته مې خپله د څارگرو د جېبونو تلاښي شروع کړه او ټول شيان مې بې راوايستل....

طارق په مخابره اخته شو. زه پر ځمکه د پروت مکس پفلونک خوا ته ورغلم. د طارق له خوا د کونداغ گوزار دومره درونډ او کاري وو چې مکس ان راپورته کېدای نشوای. ورته ومې ويل:

- لومړی ځل چې مې درسره وليدل، ستا د واک و ځواک تر اغېز لاندې راغلم او دا پوښتنه راسره پيدا شوه چې څنگه به دې نيسم، ځکه له خپلې ادارې سره مې ستا د ژوندي ورسپارلو ژمنه کړې وه.

مکس په زگېروي ووېل:

- ترودې ناځواني راسره وکړه.

ومې ويل: ته بيعقل بايد په دې پوهېدلی وای چې د خپلې ادارې پلانونه نشې پلې

Download from: www.aghalibrary.com

کولای.

بیا یې په زګېروي وویل: په اروپا کې بریا زموږ ده.

ومې ویل: دعاوې کوه چې د خپلو ځواکونو د ماتې تر خبر اورېدو پورې ژوندی پاته شې.

څو دقیقې وروسته د بندري پولیسو دوې ګښتي بېړۍ راورسېدې. یوه یې زموږ د هغې څنګ ته ودرېده. ډګروال لاکستر کښتۍ ته راواوښت، زما خوا ته راغی او په ځانګړې تلوار یې وپوښتل: څه دې وکړل؟

د کښتۍ پر ځمکه پراته بوډا ته مې لاس ونیو او ورته ومې ویل: دا یې هم مکس پفلونک چې د ډګروال بوروسکي په مستعار نامه یې تا ته سرخوږی جوړ کړی وو. په ځیر ورته وګوره، ان په څېره اړولو کې هم استاد دی.

ویې پوښتل: دلته همدا څلور تنه پټ ول؟

ومې ویل: د یوه مړی لاندې په کابین کې پروت دی.

پولیسانو مکس او د هغه ملګري خپلو بېړیو ته ولېږدول. طارق ته مې وویل چې پر مکس پام وکړي او که بېخي اړتیا شوه، نو ودې یې وژني.

زه او لاکستر کابین ته کښته شوو. هلته یو عالم چاودېدونکي توکي او نور ویرانوونکي وسایل موجود ول. پر دې سربېره درې دانې ځانګړې مخابرې هم پرتې وې چې له خورا لیرو سیمو سره یې اړیکې ټینګولای شوې. څو میله توپنچې او ماشینداران مو هم وموندل. یو لرګین سندوخ مو پام واړاوه. سر چې مو ورپرانیست، تر خولې پورې له جرمني مارکونو او سرو زرو ډک وو.

لاکستر وویل: مکس ځان ښه پوره سمبال کړی وو.

ومې ویل: یو خوځنده او ډېر خوندي پټنځای!

ډګروال وویل: مکس پر دې ډېر داده وو چې موږ یې نشو موندلای.

Download from: www.aghalibrary.com

- هو، له دې اړخه يې زړه ببخي پوره [1] وو.
- خو تا پيدا کړ.
- البته ستا په مرسته.
وروسته مې ترې وپوښتل: په ميلټن حال لرې؟
ويې ويل: هغه او ماموران يې په خپل ماموريت اخته دي.
ومې ويل: د نامق په کور کې هېڅ ګټور شی نشي موندلای.
- غواړې همدا نن شپه ولاړ شې؟
- هو، همدا نن شپه غواړم قاهرې ته والوزم.
- ان بن غازي کې هم نه تمېږې؟
موسکی شوم او ومې ويل: يوازې يو څو دقيقې هغه هم ستا د کښته کولو لپاره.
څو دقيقې وروسته د نامق په بېړۍ کې ساحل ته ستانه شوو....
ډګروال لاکسټر د پوليسو رييس ميټلن مالبي ته ټليفون وکړ او ورته ويې ويل چې پوځي هوايي ډګر ته ځان ورسوي.
يو ګړۍ وروسته زه او ډګروال د پوليسو په هغه موټر پسې هوايي ډګر ته روان شوو چې مکس او ملګري يې پکې لېږدول کېدل. طارق هم هماغه موټر کې وو او په ځانګړې توګه يې پر مکس پيره کوله.
ميلټن مالبي تر موږ مخکې رسېدلی وو... کله چې يې جرمني څارګر له موټر څخه راکښته کول او الوتکې ته يې خېژول، ميلټن راته مخ کړ او ويې پوښتل: دا دې چيرې ښکار کړل؟
د مکس پفلونک او هغه د ملګرو د نيول کېدو کيسه مې په لنډو کې ورته وکړه او ورته ومې ويل چې د نامق په بېړۍ کې پراته شيان د پوليسو ماموريت ته يوسي.

---

(۱) پوره زړه – دل جمه، ببغمه، داډمن.

Download from: www.aghalibrary.com

د مخه ښې شېبه راورسېده. میلټن وویل: کاشکې مې ستاسې د مېلمه کولو وخت لرلای.

په خندا مې ورته وویل: دا خبره ځکه کوې چې وینې الوتکه چالانه ولاړه ده!

ویې ویل: لاکسټر ته زما مېلمه پالنه مالومه ده.

لاکسټر په ټوکه وویل: ښه شو چې ودې ویل کنه زما دې مېلمه پالنه هېره وه!

میلټن ته مې لاس ورکړ او د ده و ملګرو د مرستې له امله مې مننه ځنې وکړه.

ویې وویل: دا خلک کاشکې ما نیولي وای.

ومې ویل: په دې کې هېڅ شک نشته چې د هغوی په نیونه کې تر موږ ستاسې ونډه زیاته وه.

لاکسټر هم خدای پاماني ورسره وکړه. دغه شېبه طارق په الوتکه کې وو او د هغه پر ځای ما له میلټن څخه مننه وکړه.

د شپې شاوخوا دوولس بجې وې چې الوتکه د ترېپولي له هوايي ډګره مخ پر بن غازي والوته.

د ترېپولي له اسمان څخه تر وتلو سملاسې وروسته لاکسټر د الوتکې له مخابرې څخه د بن غازي د پولیسو رییس مکس هرفورډ ته پیغام ولېږی او ورته ویې ویل چې ښېله ځنډه د مارون د نیولو او هغه د کور د پلټلو عملیات پیل کړي....

مکس ېفلونک او ملګري یې چوپ و غړپ ول او د خپل شوم برخلیک په اړه یې چورتونه وهل. د تولو لاسونه له یو و بل سره تړل شوي ول.

طارق راته مخ کړ او ویې ویل: په دوو خبرو مې تر اوسه هم سر نه خلاصېږي.

ومې ویل: ته یې راته ووایه ښایي زه دې سر په درخلاص کړای شم.

ویې ویل: یوه دا چې ته څه پوهېدې ممکن مکس ېفلونک د نامق په کښتۍ کې پټ وي؟ بله دا چې هغه دې په دغه څېره کې څنګه وپېژاند؟

لاکسټر وویل: ولا دغه پوښتنې زما په زړه کې هم ګرځېدې.

Download from: www.aghalibrary.com

ومې ويل: کله چې د دوی د قرارګاه لور ته روان وو، پر لارې تروډې له مکس سره په مخابره کې وږغېده، نو د برید له پیل سره سم مکس وپوهېد چې هغې خیانت ورسره کړی دی. همدې ته په پام سره یې سر خلاص وو چې که تروډې موږ ته د قرارګاه په اړه مالومات راکولای شي، نو له شک پرته به د ده پټنځای هم راوښيي. همدا وو چې خپل ټول وسايل يې د نامق له کوره د هغه کښتۍ ته لېږدولي ول چې که احياناً هلته موږ يا د ترېپولي پوليس چاپه واچوو، نو تش لاس ترې راووزو.

تر يوه لنډ ځنډ وروسته مې زياته کړه: همدغه ټکي زما پام د نامق باروړونکي او د کب نيونې بېړيو خوا ته واړاوه.

طارق وويل: د دويمې پوښتنې په اړه دې څه ونه ويل.

ومې ويل: له مکس پفلونک سره په لومړۍ ليدنه کې مې پام شو چې نوموړی د تګ پر مهال خپل کيڼ لاس نه ښوروي. همدا ځانګړنه مې يې په ياد وه او کله چې دوی د کښتۍ له کابين څخه راختل، نو ومې ليدل چې د دغه بوډا هم چپه لاس نه خوځېد. له ځان سره مې وويل چې دا کس بايد هماغه مکس پفلونک وي.

ډګروال وويل: ډېر بلا سړی يې طاهره، سخت تېز او شاهيني نظر لرې.

ومې ويل: دا تېز او شاهيني نظر مې له خپلې دندې سره د بې کچې مينې زېږنده دی.

طارق وويل: نو که مکس خپل کيڼ لاس خوځولای، بيا دې نشوای پېژندلای؟

پزه کې مې وخندل او ومې ويل: ځينې نور دليلونه هم ول چې پر بنسټ مې يې دغه بوډا له پامه نشوای پټېدلای. د بېلګې په توګه په ماته ګوډه فرانسوي ږغېد او داسې يې ښوده چې سمه يې نه ده زده، خو د جملې له سکښت او کليمو له انتخابه داسې برېښېده چې پر دغه ژبه برلاسی دی. البته د ده خپله ورته پام نه وو. بل مهم ټکی دا وو چې د خپل اواز پر بشپړ اړولو هم نه وو توانېدلی.

Download from: www.aghalibrary.com

مکس چې زموږ خبرې یې اورېدې، خپله چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: له انسان څخه کله ناکله تېروتنه کېږي.

ورته ومې ویل: همدا څو ساعته مخکې په دې اند وې چې هېڅکله تېروتنه نه درڅخه کېږي. غلی شو....

د بن غازي پر هوايي ډګر تر کوزېدو مخکې ډګروال لاکستېر له پوځي چوڼۍ سره په اړیکه کې شو او خپل مرستیال ته یې وویل چې جرمني څارګر تر کلکې څارنې لاندې هوايي ډګر ته راولي.

د شپې شاوخوا یوه بجه مهال مو الوتکه د بن غازي پر پوځي هوايي ډګر کېښناسته او له درېدو سره سم وسلوال سرتېري ترې راچاپېر شول. زه او ډګروال لاکستېر کوز شوو. لومړی پنځه تنه عسکر او په هغوی پسې جرمني څارګر چې ایرم ګارد او بلانکا هم پکې وې، الوتکې ته پورته شول. د څوارلسو جرمني څارګرو څارنه لسو سرتېرو ته وسپارل شوه.

د بن غازي د پولیسو رییس مکس هرفورډ مارون د هغه په کور کې له دوو نورو جاسوسانو سره یوځای نیولی وو. نژدې یوه نیمه بجه مهال د قاهرې پر لور والوتو.

طارق وپوښتل: له دوریه څخه د وسلو په بدل کې په اخیستل شویو پیسو څه کوو؟

ومې ویل: په هغو پیسو ځان ته قهوه رانیسه.

ویې ویل: مطلب دې دا دی چې هغه پیسې جعلي دي؟

ومې ویل: ستا داسې خیال وو چې سمې پیسې به یې راکړې وي؟... مالومداره جعلي دي. که دې زړه ته نه لوېږي، هغه دې پوښتنه ځنې وکړه.

دوریه پر خبرو راغی او ویې ویل: هو، هغه پیسې ټولې جعلي دي.

ناڅاپه مکس پفلونک ایرم ګارد ته په غوسه شو او چیغه یې کړه: تا د جرمني له

Download from: www.aghalibrary.com

رهبر او ولس سره خیانت وکړ!
ایرم گارد په سړه سینه او ارامۍ ځواب ورکړ: پر ما خپل ژوند تر هر څه گران دی!
مکس په هماغسې تونده لهجه وویل: خره خاینه یې!
ایرم گارد ورته وویل: او ته بیا یو ځنځیرتړلی لېونی یې!
هغوی مې غلي کړل، وروسته د پیلوټانو کابین ته ورغلم او له هغه ځایه مې ستراټفورډ ته لاندنی پیغام واستاوه:
«سږ کال د خرما محصولات خوښوونکي دي.»
کله چې زموږ الوتکه د قاهرې پر پوځي ډگر راڅرخېده او ځان یې ناستې ته جوړاوه، د مخابرې څانگې مسوول یو پیغام په لاس کې راکښېښود. ستراټفورډ راته لیکلي ول: «ستا لپاره هم یو خوښوونکی زېری لرم.»
حدس مې وواهه چې ښایي زما د ورور طالب څرک یې لگولی وي... انگېرنه مې سهي وه، ځکه کله چې له الوتکې کښته شوم، هلته نژدې ولاړ ستراټفورډ راوړاندې شو، لاس یې راکړ او راته ویې ویل: ستا په خیال کوم زېری به درته لرم؟
ومې پوښتل: طالب دې چیرې وموند؟
- طالب؟ په دې نامه څوک نه پېژنم.
- مالومداره یې نه پېژنې، ځکه تر اوسه دې لیدلی نه دی.
- ښه، نو سد دې په رسېدلی دی.
- خبره مه اوږدوه، ژر ځواب راکړه!
ویې ویل: هغه په سویس کې پیدا شوی دی.
ومې ویل: دا زما لپاره یو بېساری خوندور خبر دی. ان که دې د جگړې د پای ته رسېدو راته ویلي وای هم به دومره نه وای خوشحاله شوی. هغه مې په ژوند کې یوازنی داد دی.
وروسته مې ترې وپوښتل: څنگه یې پیدا کړی دی؟

Download from: www.aghalibrary.com

لومړي موټر پورې وسلوال سرتېري کتار ودرېدل. وروسته په لاسونو سره تړل شوي ځارگر راکوز کړل شول. اول کس يې مکس پفلونک وو. ستراتفورډ ته مې په لاس وروښود.

کله چې په سرتېرو او ځارگرو بار موټران وخوځېدل، ستراتفورډ وويل: اوس نو يو ورځ دوې ښه سم ارام ورته وکړه!

په خندا مې وويل: او تر ارام وروسته هم يو بل نوی ماموريت!

وېې ويل: په دې نه يم خبر، خو ما ته ويل شوي چې تر دغې وقفې وروسته دې لندن يا هم يو بل ځای ته ولېږم. په هر صورت، دغه دوې ورځې د خپل ماموريت د بشپړ راپور ليکلو لپاره ډېر ښه فرصت دی. ډېر هم ځان مه ستړی کوه.

يوځای مو له هوايي ډگره مخ پر ښار حرکت وکړ. د يو ډول وياړمن غرور احساس مې کاوه، ځکه هم مې د جرمنيانو ورانکارانه نقشې ورشنډې کړې وې او هم مې يې لارښودان نيولي ول. په اطلس هوټل کې خپلې کوټې ته له ننوتلو سره سم مې د ارام ساه واخيسته. ماموريت مې په برياليتوب سره پای ته رسېدلی وو.

پای

۴/جون/۲۰۱۸

د روژې نولسمه

الوېستا، سويډن

Download from: www.aghalibrary.com